افغانستان

د دیموکراسي او جمهوریت په کلونو کي

۱۹۶۳ ــ ۱۹۷۸

لیکوال

عبدالغفار فراهي

۱۳۸۲ ــ ــ ۲۰۰۳

Ketabton.com

contact: agfarahi@hotmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالغفار فراهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو

د كتاب په هكله نوري څرګندوني

د محترم ډاكټر فا روق اعظم د ليك يـوه بـرخـه

د ۲۰۰۱ كال د دسمبر د مياشتي ۲۵ ـ لندن ـ انګلستان

د ښاغلي عبدالغفار فراهي كتاب ((افغانستان دديموكراسي او جمهوريت په كلونو كي)) مي ووايه او لاندي نظر پر وړاندي كوم :

پر كتاب ايجمالي نظر:

زما د فراهي صاحب دغه كتاب خوښ سو . زه يي يوه لويه ښيګڼه د ژبي ساده ګي او عام فهمي بولم . دا كار يي نه دی كړی چي د مطالبو د وړاندي كولو تر څنګ خلګو ته د ژبي د سوچه توب يا رموزو درس هم وركړي او په دي ډول لوستونكي مغشوش كړي .

د كتاب بله ښيګڼه داده چي مؤلف يوازي واقعيات نه دي رانقل كړي بلكه خپل نظريي هم پر وركړی دی . سړی پوهيږي چي په هغو واقعياتو كي چي دی حاضر وو خان ته يي يو څوك ويل او كه د نورو منابعو څخه يي څه را اخستي هم دي كوښښ يي كړی دی چي د خپل مطلب لپاره يي استخدام كړي . ده د تاريخ ليكونكي كار ندی كړی چي صرف واقعيات بيانوي او قضاوت نورو ته پريږدي ، بلكه د يوه څيړونكي په شان يي كار كړی دی .

د كتاب د ليكلو ډول يي هم د ډيرو نورو ليكوالانو سره فرق لري . ځای ځای ټوكه او شعر پكښي راغلی چي د كتاب لوستل يي له ستومانيه ژغورلی دی .

څلورم ښه والی يي دادی چي په كتاب كي فراهي صاحب خان ندی پړسولی . زه دا د هر چا يو طبعيي حق ګڼم چي په ټولنه كي خانته سم موقف ولټوي او يا په خپل كتاب كي دا وښيي چي ده ټولني او يا كومي خاصي مسألي ته څه ګټور كار كړی دی . خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيني خلگ په دي کار کي ډير افراط کوی . فراهي صاحب تر ډيره ځايه پخپل طبعيي حدودو کي تللی دی .

او آخر ، آخر د اهميت په لحاظ نه ، ما تر اوسه بل دا ډول کتاب ندی لوستی چي د ولسي جرگي د مهمو مسايلو په باره کي او يا د حکومت سره د دولت ددغه مهم رکن روابط په کوم تفصيل چي فراهي صاحب يي يادونه کړيده بحث سوی‌وي . اميد دی چي دده دغه ابتکار د نورو وکيلانو لپاره ښه پيلامه وي .

مؤلف په عام ډول د ولسي جرگي دفاع کوي او په اجراآتو کي حکومتونه ملامتوي دی پاچا او حکومتونه په ولسي جرگي کي په لاسوهنه متهموي . نوموړي مسايلو ته د يوه وکيل په حيث او د ولسي جرگي له نظره کتلي دي او حق پجانب هم دی دا ځکه خپله وکيل وو ، خو کاشکي د هغه وخت د حکومت يو غړی هم په دي باره کي څه وليکي چي هغوی د ولسي جرگي او وکيلانو سره څه مشکلات درلودل څو مسايل او اړخونه يي روښان سي او راتلونکي ولسي جرگي او حکومتونه گټه ځني واخلي . زه چي وگران هيواد افغانستان ته د ولسي نظام راتگ يو عاجل او مبرم ملي ضرورت گڼم ، دا کتاب ډيموکراسی ته خدمت او په هغه مرحله کي يي د ولسي جرگو او حکومتونو د تعامل په برخه کي يو گټور اثر او مؤخذ بولم .

... مؤلف ليکلي دي چي امريکايانو د ۱۹۵۰ په لسيزي کي له افغانستانه مکرر غوښتي وه چي د سنټو په نظامي تړون کي ورسره شامل سي ، خو سند يي ندی ذکر کړی . زما معلومات دادي چي امريکايانو ته هغه وخت افغانستان نه اقتصادي ، نه ستراتيجکي او نه لوجستيکي اهميت درلود . منزوي موقعيت او د روس سره اوږد سرحد افغانستان د روس د نفوذ په ساحه کي امريکايانو قبول کړی وو او فکر يي کاوه چي که هر وخت روس وغواړي افغانستان په آسانـی نيولای ســي . دوی نه په دننه افغانستان کي د کمونيزم خطر او نه له دباندي څخه د روس د حملي گواښ ليدی نو ځکه يــي هــره نظا مــي مرسته و افغانستان تــه ، د روس بي ځايه پارونه بلل چــي امريکايانو دا نه غوښتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوي ډيري مهمي خو تل له نظره غورځول سوی مسألي ته چي مؤلف اشاره کړيده هغه د پوونده (کوچيانو) مسأله ده . دي ملي موضوع ته بايد جدي توجه وسي او زه دي خبري ته د مؤلف توجه په اخر کي زه مؤلف ددغه ګټور کتاب په ليکلو ستايم او نور توفيق ورته غواړم او ويونکي يي و ويلو ته هڅوم . پـــه درنـــاوي

د محترم عبدالجليل وجدي د ليك يـوه بـرخـه

د ۲۰۰۲ کال د مي د مياشتي ۲۰ ـ ټورنټو ـ کاناډا

يوه کتاب ته کتنه :

((افغانستان ددیموکراسي او جمهوريت په کلونو کي)) د يوه په زړه پوري او ګټور کتاب نوم دی چي د ۱۳۸۰ کال په ژمي کښي خپور شوی او په همدي وختونو کښي زما لاس ته راغلی دی . د کتاب ليکوال محترم عبدالغفار فراهي دی چي په خپله هم په ولسي جرګي کښي د فراه د بالابلوك د خلګو د وکيل او يو فعال پارلماني غړي په توګه ددیموکراسي په منځني بهير کښي د رول خاوند دی . د حقوقو او سياسي علومو په ساحه کښي دليکوال لوړ تحصيلات ، د بهرنيو چارو په وزارت ، همدارنګه په ځينو هيوادو کښي ، په افغاني سفارتونو يا قونسلګريو کښي مهمو ماموريتونو او ديپلوماټيکو تجربو ، د يوه داسي ډير ښه کتاب د ليکلو د پاره د محترم فراهي صلاحيت نور هم زيات کړی دی .

په کتاب کي ځرګنده شوی ده چي د افغانستان د اوسنيو غمجنو حالاتو اصلي عاملينو ددیموکراسي او جمهوريت په دور کي ډيره ګړندی وده کړي وه ، له دي خبري څخه ځرګنديږي چي له ډيموکراسی څخه زموږ تالي ښي نه وي يا دا چي ډيموکراسي له موږ څخه ښي تالي نه درلودلي .

موږ فکر کاوه لا وايو چي ولسواکي د افغانستان په تاريخ او فرهنګ کي ژوري جرړي لري . دا غټه خبره يواز زموږ عقيده نه ده ، بلکي د ختيځ او هم د لويديځ پوهانو او مفکرينو ډير خله دا خبره راسره منلي هم ده . سره له دي هم له نوي راوستل شوي ډيموکراسي څخه موږ ته لږ خوړي ، خو زښتي ترخي تجربي او نتيجي راپاته شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي زمونږ ملي روښانفکرانو (مشروطه غوښتونکو ، ويښو ځلميانو او داسي نورو) د نورو ملتونو د نهضت غوښتونکو په څير د ډيموکراي يا جمهوريت د راوستلو په لاره کي ، سر او مال ښندلی دی ، خو مبارزي يي له بده مرغه پر ځېل وخت دومره بريالی نه وي . وروسته بيا البته د ټولني او زماني د تحول غوښتونکي روحيي غوښته وه چي ډيموکراسي او جمهوريت دواړه په نسبي توګه په کراره کراری کي د پاچهي کورنی له لويو دروازو څخه د خيرات په کاسو کي راووزي ، په کتاب کي دغه ډرامتيك غوندي کيفيت په ښه توګه ښودل شوی دی .

دلته تر ټولو غټه پوښتنه داده ، چي په يوه فطرتا ډيموکراتيکي ټولني کي يوه ډيموکراسي او يو جمهوريت ولي داسي ناکامه سي چي زيانونه يي ډير خله له ګټو څخه زيات شي ؟ ښايي دا پوښتنه ډير جوابونه لري ، خو تر ټولو جامع جواب يي د يوي عنعنوي ټولني له مزاج سره د يوي نوي او په بل ځای کي د راټوکيدلي سيلسي پديدي دډير ګړندي حرکت نه برابريدل وي . په کومه ټولنه کي چي د ((انتقاد))او ((پيغور)) تر منځ پوله ډيره نرمه او نري وي او رقابت پکي ژر د تربوروالي يا تربګني بڼه غوره کړي . نو په داسي يوه ټولنه کي د پرمختګ د ګړندي کولو دوه مهم عوامل ((انتقاد)) او((رقابت)) کله چي په منفي توګه تعبير شي ، د خلګو د ښو زولاني ګرځي .

زمونږ کورونه او بيا زمونږ د ټولو شريك لوی کور (هيواد) ډير خله د تربوروليو بي ځايه او بي ګټي سياليو وران کړی دي . په نولسمه بيا شلمه پيړی کي د هيواد د ډيرو بدبختيو ستر مسؤليت د تربګنيو په غاړه هم پروت دی . همدي تربګنيو د تره زامن ، بلکي وروڼه ، پلرونه او زامن په خطرناکو شخړو کي سره مخامخ کړي دي ، او له بده مرغه د سياسي تربوروليو لمن زمونږ د ژوندانه زماني ته هم راغزيدلي ده . د فراهي صاحب په دي کتاب کي څرګنديږي چي د سوغاتي ډيموکراسي يو مخ د پاچا د تره د زوی محمد داود خان د سياسي فعاليتونو مخ نيوی و ، او هڅه شوي وه چي ده ته د پاچاهي کورنی د خينو امتيازاتو په ورکولو سره ، دی له خينو سياسي حقوقو څخه په احترامانه توګه محروم کړي . خو په مقابل کي محمد داود خان هم د خپلو مټو، ښو او ارادو د آزادولو لپاره د جمهوريت وسله چي د کتاب ليکوال يي بي لزومه کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولي تر لاسه کړه .له دي کبله چي ډيموکراسي او جمهوريت دواړه د لنډي مودي د هدفونو لپاره له لويو ورونو څخه رااېستل شوي او لورل شوي ډالی وي ، دواړه په نيمه ‌ پنخه
لاري کي نيمگړي پاته شوي دي او د يوي مشهوري محاوري له مخي ء هر شی چي نيمگړی شي بلا گرځي ء څکه خو د کتاب ليکوال په څغرده ليکي چي د افغانستان دغه پنځلس کلن تاريخ د هيواد دورستيو پېرو ييښو ننشأ ده .

د کتاب د مطالعي څخه موږ پوهيدلای سو چي له عنعنوي ولسواکي سره د سوغاتي ډيموکراسي مخامخ کيدل د ټکر غوندي يو حالت درلود ، لکه چي فراهي ليکلي دي :د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون د تسويد کميټي د افغانستان عنعنوي لوي جرگي ته په درنه سترگه نه دي کتلي . دوی د لوي جرگي اصالت ته لويه صدمه ورسوله .

... چي د لوي جرگي په شکل او محتوا کي دي تغييراتو هغه له خپل اصلي مقام څخه چي تر دولت هم اوچته وه را ټيټه کړله ، او له بده مرغه هغه په ورستيو سياسي لوبو کي نوره هم د بيلو بيلو ډلو د لاس آله وگرځيدله چي ډيره بي ځايه يي استعمال او استهلاك کړه .

... زه په داسي حال کي چي محترم فراهي ته دداسي په زړه پوري او گټور کتاب د ليکلو له امله مبارکي ورکوم ، له لوستونکو څخه هم هيله کوم چي د افغانستان له اوسنيو او پرونيو مهمو پيښو څخه د ضروري خبرتيا لپاره دا کتاب په غور او څير سره مطالعه کړي . پــه درنــاوی

د محترم محمد علم بڅرکي د ليك يوه برخـه
د ۲۰۰۲ کال د اپريل د مياشتي ۳ ـ فيننډال ـ هالنيډ
محترم عبدالغفار فراهي !

ستاسي د افغانستان کتاب چي د ډيموکراسی او جمهوريت په باب او د پنځلس کلونو تذکر پکښي ځای سوي دی ، يو د هغو کتابو څخه دی چي ما ورته بيخي ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت درلود . ځکه په دي وخت کي د ارواښاد بینوا صاحب نقش په پارلمان کي
ما ته ډیر په کار وو . په دي وخت کي مور وه بینوا صاحب ته ځني مشوري ورکولي
چي په پارلمان کي داسي داسي وه وایه او وکه .

دغه رنګه دا زمانه د افغانستان په ډیموکراتیك نقش کي یو ټاکلی حیثیت لري ، په
ډیره بیا د چپیانو د کړو له نقطه نظره . او هغه د رامپارتس ترجمه چي مي ولوستله نو
د موضوع په اهمیت مي سترګي روڼي سوی ، ما ډیر کوشش درلود چي دا مضمون
پیدا کم خو تر پایه موفق نه سوم ، څو دادی اوس مي ستاسو په کتاب کي ولوستی ،
ددي کتاب یو لوی صفت دادی چي هره موضوع یي تر جز او تام پوري تشریح کړیده
چي دا د ء ډاکومنټ ء د پاره د یوه لیکونکي سره ډیره مرسته کوی ، او یو مراجعوي
کتاب دی ، لکه ډکشنري او یا بل کوم مهم کتاب .

بل ، د محمد هاشم میوندوال په باب ډیر هغه مطالب پکښي ځای سوي دي ، چي زه
په هغو خبر نه وم . څرنګه چي خیال لرم د ء مترقي دیموکراتیك حزب ء په باب هم
څــه ولیکم نو دا نوشته ما ته ډیره غنیمت سوه ، په ډیره بیا چي د کتاب په پای کي د
مهمو پیښو اختصاري پیشلیك راوړل سوی دی .

که مي ډیره ستاینه نه وي کړي نو زه به دا کتاب یوه لنډه انسایکلوپیډیا و
بولم د   افغانستان او ددغه پنځلس کلو د ډیموکراسی او جمهوریت د دوری .
په درناوي

ډیر تفاوت سته په انسان کي د معنا په لحا ظ
واړه مشغول دي ځیني خان ځیني جهان جوړوي
(الفت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان

د دیموکراسي او جمهوریت په کلونو کي

۱۹۶۳ ــ ۱۹۷۸

لیکوال

عبدالغفار فراهي

۱۳۸۲ ــ ــ ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه

نوم : افغانستان ، دديموکراسي او جمهوريت په کلونو کي

ليکونکې : عبدالغفار فراهي

خپرونکې : دانش کتابتون ، قصه خواني بازا ، پېښور

د تليفون نمبر ۲٥٦٤٥١٣

کال : ۲۰۰۳

د چاپ شمير : دريم چاپ

تعداد : زر ټوکه

پر کتاب نوی کتنه سوي ده ، ډير نوي مطالب پر کتاب علاوه سوي دي

د کتاب ټول حقوق له ليکوال سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی

د کتاب د مطالبو لنډیز

حاضر کتاب عبدالغفار فراهي د خپلو خا طراتو په حیث په څه دپاسه دري سوو مخونو کي لیکلې او د لوستلو له پاره يي خپلو هیوادوالو ته وړاندي کوي .

تر سریزي او یادوني وروسته د کتاب په پیل کي هغه مسایل څیړل سوي دي چي په شلمي پیړۍ کي د افغانستان په برخه وو او د افغانستان د خارجي سیا ست په غوره کولو کي يي مؤثر نقش لوبولی دی ، لکه ځیني سیمي چي د افغانستان څخه جلا کړه سوي وي ، دډیورنډ کرښه ، د پښتونستان موضوع ، په سیمي کي نظامي اتحادیي او د عدم انسلاك نهضت .

د محمد داود خان د صدارت دوري ته هم یوه لنډه کتنه شوې ده .

په کتاب کي ددیموکراسۍ دورې پنځه حکومتونه په لازم تفصیل لیکل سوي دي . محمد موسی شفیق چي په ۱۹۷۲ کال د روم په مشورتي غونډې کي د صدر اعظم په حیث وټاکل سو، محمد ظا هر شاه غوښتل چي دده په وسیله دیموکراسي نظام په نوي مجرا کي واچوي ، ولې پاچا خپل دغه هدف ته و نه رسید .

په کتاب کي ددغه پنځلس کلن سیا سي تاریخ هغي پیښي څیړل شوي دي چي لیکوال په خپلو سترگو لیدلي او یا د هغو په واقعیت خبر سوی و . لیکوال په دیارلسمي تقنیني دوري کي د ولسي جرگي وکیل و ، ده د ولسي جرگي ډیري پیښي لکه د محمد ظاهر شاه او صدر اعظمانو سره د وکیلانو کتني ، حکومتونو ته د نه اعتماد رایي ، په ولسي جرگي کي د پښتو ژبي موضوع ، د هلمند د اوبو معاهده ، د صنعتي بانکونو قانون د وکیلانو د حاضرې معضله او داسي نور مطالب په ډیر تفصیل لیکلي دي چي تر اوسه بل لیکوال پر دغو مطالبو باندي کوم اثر نه دې لیکلې .

د کتاب د ضمایمو په برخي کي دډیورنډ د موافقتنامي متن ، د دیارلسمي تقنیني دوري د وکیلانو او سناتورانو نومونه او د رامپارتس د مجلي د هغي مقالي یوه برخه چي د شهید محمد ها شم میوندوال دښمنانو دده پر ضد تبلیغوله ، درج سوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليكوال وايي چي د ۱۹٦٤ كال اساسي قانون او ديموكراسي دوره د محمد ظاهر شاه داسي يو سياسي حركت و چي ده ددغي لاري څخه تر ديرش كاله انزوا وروسته د افغانستان دولتي چاري په خپل لاس كي واخستي او په دغه طريقه يي محمد داود خان د دولت له جرياناتو څخه ليري وساتې . محمد ظا هر شاه په هيواد كي د كاملي ديموكراسۍ مخه هم نيولي وه ، ده د اساسي قانون متمم قوانين لكه د احزابو او اجتماعاتو قوانينو ته د انفاذ اجازه نه وركوله ، ده د ولايتي جرگو او ښاروالیو انتخابات ځنډولي وو . كله چي د ۱۹٦٤ كال د اساسي قانون ۲٤ مه ماده د محمد داود خان پرخلاف په لوي جرگي كي لا پراخه كړه سوه ، نو محمد داود خان دي نتيجي ته ورسيد چي په شاهي دولت كي دده پر ضد دسيسي كيږي او دى د پاچا څخه د دښمني تر سرحده خوابدې سو .

محمد داود خان د شاهي اردو د كښته رتبه صاحبمنصبانو په مرسته د۱۹۷۳ كال د جولاى د مياشتي پر ۱۷ نيټي كودتا وكړه او سلطنتي نظام ته يي خاتمه وركړه . ده تر كودتا يو كال وروسته خپل د كودتا ډير ملگري ددولت څخه و ايستل او د جمهوري دولت په اساسي قانون كي يي پرته له خپل ملي انقلاب د حزب څخه د نورو احزابو فعاليت غيرقانوني اعلان كړ . ده د شوروي اتحاد څخه د ليريوالي پالسي غوره كړه . محمد داود خان د۱۹۷۷ كال د اپريل د مياشتي پر ۱۳ نيټي د برژنيف سره لفظي ټكر وكړ او د عدم انسلاك د نهضت څخه يي د كيوبا د ايستلو هڅي پيل كړي . دى د ايران او عربي هيوادونو له لاري ، غربي نړى ته ورنژدي سو . محمد داود خان دډيورنډ د كرښي او د پښتونستان د موضوع د حل كولو جدي خبري د ذوالفقار علي بوتو او جنرال ضيأ الحق سره پيل كړي ، ولي دده ټول اقدامات نيمگړي پاته سوه ، په دي چي د ۱۹۷۸ كال د اپريل د مياشتي پر ۲۷ نيټي د خلق او پرچم ډلو دده پر ضد كودتا وكړه او محمد داود خان د خپلي كورني د ۱۷ غړو سره په شهادت ورسيد او افغانستان د تباهې كندي ته ولويد .

څرنگه چي په دغه كتاب كي به يي ولولې دافغانستان داوسنيو غمجنو حالاتو اصلي عاملينو دديموكراسي او جمهوريت په دوروو كي ډيره سريع وده كړي وه چي ددغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو دوروو د مسایلو ټول اړخونه پــه دغه کتاب کــي څېړل شوي دي او لوستل يـي ډېر ګټـوردي . په درناوي ــ د کتاب خـپرونــکي مؤسسه

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

کانکورډ ــ امريکا ـ سپتمبر ٢٠٠٠

یو نظر

په دي نژدي وختونو کي د فکر او قلم خاوند افغانانو دوطن ، جامعي او تاريخ د بيلو بيلو اړخونو په اړه خپل تجارب ، افکار او نظريات درسالو او کتابونو په بڼه وړاندي کړي دي دغومره ډېر آثار چي په دغي مودي کي ددوی له دماغونو نه راوتلي دي ، په بلي ورته دوره کي په دغومره شمير راوتلي نه دي . په نتيجه کي زموږ هڅوب يا فرهنګ ډېر شتمن شوی دی .

ددغسي آثارو په لړ کي يو هم د محترم عبدالغفار فراهي دی په نامه د افغانستان دديموکراسي او جمهوريت په کلونو کي . ما دغه اثر پخوا له دي چي خپور شوې وي ولوست . په لوستلو کي يي راته څرګنده شوه چي دا يو ډېر مهم اثر دی . غټ اهميت يي په دي کي دې چي هغه يو رښتينی اثر دی . په هغه کي پيښي يا د پيښو هغي برخي بيان شوي چي د مؤلف په نظر رښتيا او مهمي دي . ده په دي ډول خپل اثر دباور وړ او ارزښناک ګرزولې دی . په دغه اثر کي په عمده ډول په ولسي جرګي کي يعني چيرته چي دې وکيل و دده تجارب بيان شوي ـ يعني هغي پيښي چي ده په خپله حس کړي يايي له خپلو همکارانو نه اوريدلي دي او ده دغه پيښي په احتياط سره بيان کړي دي او خپل ځان يي يکي غټ او مهم ښوولې نه دې ، سره له دي چي ده په ولسي جرګي کي ديوه مخکښ وکيل په شان رول لوبولې دې . ليکونکې په خپل اثر کي په دي باندي لنګر اچوي چي پيښي داسي بيان کړي چي لوستونکي هغسي پري پوه شي لکه چي خپله دی پري پوهيږي . دغه اثر که څه هم د مؤلف له نظره بيان شوي ، په هغه باندي نه څرخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ځرنګه چي ليکونکې په ولسي جرګي کي د فراه د بالابلوك وكيل و ، او څنګه چي ده هلته مځکښه رول لوبولې . او څنګه چي دی يو تعليم کړې شخص او دوطن او جهان له جرياناتو سره علاقمن و او پخوا تر هغه يي ددولتي مامور په حيث دننه په هيواد او دباندي وظايف تر سره کړي دي هغه د خپلي موضوع په اړه مهم معلومات راغونډ کړي او هغه يي په دغي مجموعي کي په روانه ، طبعـي او محاوره يـي پښتـو کـي لوستونكو ته وړاندي کړي دي . په دی ډول دغه ليكنه هر هغه پښتو لوستونكې د هغي لوستلو ته هڅولی شي چي له افغانستان ، افغانانو او دهغو له تاريخ سره علاقه لري . په دغسي روانـه پښتو کـي او ددغسي مهمي موضوع پـه اړه دا لومړنـې اثـر دې چـي مـا لـوستـې دی .

ددغه اثر بل لوی اهميت د هغه په موضوع کي يعني د قانوني پاچايي په اړه دی . د قانون د حكومت له نظره د پاچا محمد ظاهر شاه قانوني پاچايي دوره د پاچا امان الله او د پنځوسمي لسيزي لنډي دموكراسي نه وروسته ډيره مهمه دوره ده . په دغي دوري کي ولسي جرګه او په مجموع کي مقننه قوه تر اجرائيوي قوي يا حکومت نه د بنيادي لوايحو په ايستلو کي دمخه وه . ډير شمير قانوني لايحي يي وايستلي چي د ښاروالیولايحه او د سياسي ګوندونو لايحه يي د نوي نظم د لا دموكرات كيدو او اغيزمن كيدو د پاره بنيادي لايحي دي . خو پاچا د خپلو حکومتي مشاورينو په شپارښتنه د هغو له لاسليك كولو نه ډډه وکړه . دوی ويريدل چي که دغي لايحي قانوني شي ددوی قدرت به کم شي . داسي ښکاري چي پاچا او د هغه مشاورين د هغه اساسي قانون په باب چي په خپله د پاچا په نوښت ايستل شوې و ، رښتني نه وو قانوني حكومت ته د دوی نه رښتين توب د نورو عواملو په ډله کي يو عامل شو چي دموكراسي ورو ورو د انارشي په لور روانه شي . د انارشي د پيدا كيدو بل عمده عامل د ځينو حكومتونو هغه ناتواني وه چي ويي نه شوه كولي نويو مسايلو او نويو غوښتنو ته اغيزمن ځوابونه وركړي كومي چي د قانوني حكومت ، دموكراسي او آزادۍ له بركته پيداكيدلي او غير قانوني مګر پيژندل شويو فعالو ګوندونو په تيره افراطي ګوندونو هغه په زياتيدونكي ډول غښتولي . له همدي امله حكومتونو تر آخره پوري كومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه انارشي چي په تعليمي مؤسيسو په تيره په پوهنتون کي پيدا شوې وه بي اغيزي کولی ونه شوه . صدر اعظم محمد هاشم ميوندوال ته موقع ورکړه نه شوه چي دا او دغسي نوري اساسي کشالي هواري کړي او موسي شفيق ته هغه وخت د صدارت مقام ورکړ شو ، چي وخت له وخت نه تير و . دوی دواړو د خپل اقتدار په لنډو دورونو کي وښودله چي د غټو مسايلو د حل کولو د پاره کفايت او د هيواد او د نظام د آينده لپاره بنيادي فکرونه لري . البته پخواني پاچا بـه چي په دغي دوري کـي په دولتي چارو کـي له خپل واك نه پوره کار اخسته ، د خان د پاره دلايل ولري ، خودی چي هر څومره دلايل هم ولري له دي نه انکار نه شي کيدلې چي ده سلطنت له حکومت نه هغسي چي په اساسي قانون کي منسجل شوی و ، بيل نه کړ . حتي په خپله يي د ولسي جرگي په چارو کي ، چي په دغه اثر کي په کراتو راغلی ، لاسوهني وکړي . او په دي ډول يي خپل خان ته او د خپل سلطنت مقام ته مسؤوليتونه او شکونه متوجه کړل . زه به دلته د بيلگي په ډول د ژبو د پيشنهاد په هکله چي په ۱۹۷۱ کال کي يي د شپږوو مياشتو له پاره ولسي جرگه دوه څايه کړي وه ، دغسي لاسوهنـي تـه اشـاره وکړم . مؤلف ليـکـي ((دولت او حکومت ... د تالار وکيلان هم دي ته نه پريښودل چي خپل نصاب تکميل کړي او دغه موضوع يکجانبه په تصويب ورسوي)) خو هغه وخت چي پاچا او نوي صدراعظم غوښتل له ايران سره د هلمند د اوبو په ا ړه دولسي جرگي موافقت تر لاسه کړي د پخوا پر خلاف يي کوښښ وکړ ، د ژبو موضوع په اتفاق سره حل شي دلته نو ((پاچا او صدر اعظم دواړو دژبو د پيشنهاد مخالفو وکيلانو ته سپارښتنه وکړه چي د ولسي جرگي عمومي غونډي ته حاضر شـي . دوی تـر شپږ مياشتو اعتصاب نه وروسته غونډي ته حاضر شول .... او دغه پيشنهاد درايـو پـه اتفاق پـه تصويب ورسيدی .)) ليري ليدونکي او ربنتني واکمنان او لويان قوانين نه ماتوي په تيره چي په خپله يي ايستي وي . که واکمنان او چارواکي قوانين رعايت نه کړي نور په تيره مخالفان يي هيڅکله رعايت نه کوي . په دغسي فضا کي د قانون حکومت بيخ نه نيسي او جامعه نه مدني کيږي .

لکه چي دمخه مي وويل دغه اثر د هغه چادې چي دولسي جرگي په جرياناتو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ، له خپلي وظيفي سره علاقمن او په پارلماني طرز باندي معتقد و . په دي حال کي دا طبعي ده چي ولسي جرگه به دلته په ښه رڼا کي کتل شوي وي ، يعني د هغي او د وکيلانو په اجراأتو او فعاليتونو باندي به لنگر اچول شوې وي ، او په نيمگړو خواوو باندي به يي څه نه وي ليکل شوي ، خو ليکونکې چي په دي اړه څه ليکي ډير مهم دي . د مثال په ډول دده په فعالي برخي اخستلو سره نږدي څلويښتو وکيلانو د ملي مسايلو په برابر کي گډ دريخ ښولې وو دې ليکي ، ((دا يوه سياسي ډله نه وه . دوی کومه رهبري نه درلوده . د هيواد د هيڅ حزب يا ټولني سره يي اړيکي نه درلودلي . دوی د سلطنت يا بل مقام څخه الهام نه اخستې . دوی په کوم ء واحد ء قوم يا سمت پوري تړلي هم نه وو . بلکه دا دريخ د افغانستان د اکثرو ولايتونو د وکيلانو د مشترك تفاهم څخه جوړ شوې و . دوی يو د بل سره تحريري يا شفاهي تعهد نه درلود . د تصاميمو په وخت کي ددوی شمير ثابت هم نه و په حقيقت کي دا د وکيلانو داسي ټولنه وه چي د تصاميمو په وخت کي به يي ملي گټي په نظر کي نيولي .)) دغه حرکت چي د وکيلانو په خپل نوښت منځ ته راغلی ، او د ليکونکي په وينا مخ په قوي کيدوو ، څرگندوي چي ولسي جرگه د چارواکو له لاسوهنو او نورو نيمگړتياوو سره سره په ملي قوت باندي بدليده او قانوني او پارلماني طرز نضج نيوه . دغه حرکت داسي ښيي چي ملي پيوستون په پارلمان کي مخ په ټينگيدو وو . ددغه حرکت او تمايل يو مظهر شخص مؤلف هم دی . دی وايي چي پخوا له دي چي د وکالت د گټلو د پاره د خپلي سيمي په خلگو وگرزي هغويي دومره ښه نه پيژندل لکه چي تر هغه وروسته يي و پيژندل . د ليکونکي دغه اعتراف څرگندوي چي يو څوك د وکيل په حيث نظر ديته چي د هغه محل خان يا ملك يا مشر او يا تعليميافته متنفذ دولتي مامور وي ، د خپل محل خلگ لا ښه پيژني او په اړتياوو او غوښتنو او دود دستور باندي يي لا ښه پوهيږي . ټول يا زياتره وکيلان به هم همدغسي وي . نو د انتخابي اوږدو مبارزو په نتيجه کي وکيل کيدل ، او بيا په شورا کي په ملي مسايلو کي له همفکره وکيلانو سره گډ دريخ نيول هم د ملي پيوستون تمايل ښيي او هم دغسي وکيلان د ملت او حکومت تر منځ د ښي پوهاوي او نژدي والي واسطه کيدلای شي دغه حال دا هم ښيي چي په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

كي پارلماني طرز عملي او مطلوب دی . خو چي حكومتي چارواكي ددغه تمايل له قوي كيدلو سره مرسته وكړي . كه دوی دغسي وكړي ملي پيوستون او قانوني او پارلماني طرز به ريښي وغزوي او ورو ورو به د كلتور برخه وگرزي . خو حكومتي چارواكو دغسي سلوك غوره نه كړ . په نتيجه كي گڼ دريځه وكيلان د نورو وكيلانو په شان هغسي ناكام شول لكه چي په پنځوسمي لسيزي كي وكيلان او دويښ زلميانو حركت چې هغه ته ورته گوندي معتدل ملي حركت و ناكام شول ، او ددوی په ناكامي سره قانوني حكومت او داسي هم اعتداليون له اعتباره ولويدل او بر عكس د قانوني طرز مخالفان او افراطيان لا فعال شول . ددغو او هم داراز د نورو عواملو له امله قانوني پاچايي د محمد داود په كودتا سره نسكوره شوه او جمهوري نظام يي پر ځای ودرول شو ، چي هغه هم په دغه اثر كي په لنډ ډول بيان شوی دی .

تاسي دي تصادف ته وگورئ چي په معاصر افغانستان كي د عصري كيدو اصلاحي دورې دري ځله په قوت سره راغلي او هر يوه يي له لسو كلونو وروسته ختمه شوه . په دي تفاوت چي د امير شير علي خان دوره د انگريزانو په يرغل سره ختمه شوه ، او د پاچا امان الله خان او پاچا محمد ظاهر شاه قانوني دوره په خپله د افغانانو له خوا ختمه شوه .

په پای كي وايم چي په دغه اثر سره د قانوني پاچايي لس كلنه دوره نوره هم واضحه شوه ، له دي امله يي لوستل د ټولو هغو كسانو د پاره ضروري دي چي غواړي ددغي مهم دوري په واقعيتونو باندي ښه پوه شي . څومره به ښه وي چي كه د مؤلف د ولسي جرگي همكاران او داسي هم د وخت د حكومتونو متصديان ، د هغه په شان خپل تجارب او معلومات را ټول او خپاره كړي . پخواني وكيل محترم محمد علم فيض زاد لا دمخه د جرگه های بزرگ ملي افغانستان په نامه يو غټ اثر كښلې ، داسي هم نوميالي ژورناليست محترم صباح الدين كشككي ددهه قانون اساسي په نامه يو كتاب ليكلي . ددغو او نورو وړو ليكونو له بركته موږ اوس هم ددغي مهمي دوري په اړه يو څه پوهيږو . خو موږ ديته اړيو چي د هغي په ټولو اړخونو باندي په تفصيل سره پوه شو ، تر څو وويلي شو چي څوك ، څنگه ، ولي او چيرته خطا وتل او قانوني پاچايي ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له انکشاف نه ولويده او ختمه شوه . د محترم فراهي دغه اثر په دغي برخي کي له لوستونکو سره مرسته کوي ، له دي امله يي هم د لوستلو سپارښتنه کوم .

پــا ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهــدا

دا کتاب خپل محترم پلار

ارواښاد دیـن محمد خـان

ته اهدا کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

منڼه

لاندي دوستانو او زما د فا میل غړو ددغه کتاب د تکمیلولو په برخي کي زما سره مؤثري مر ستي کړي دي چي زه دلته ددوی څخه د زړه له کومي منڼه کوم .

ـ ښاغلي غلام محي الدین زرملوال ، پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ او کاندید اکادمیسن ظا هر افق دغه کتاب تر خپریدلو دمخه لوستی دی او ماته یي ډیري ښي مشوري راکړي دي .

ـ د ډاکټر ضا من مومند او نورو دوستانو د کتابخانو څخه مي استفاده کړې ده .

ـ زما ورور عبدالواحد فراهي ، زما لور ګلالۍ فراهي د کتاب د لیکلو په ټولو مراحلو کي زما سره لازمي مرستي کړي دي .

ـ زما زامنو عبدالجبار فراهي ، بریالي فراهي ، زما لور توریکۍ فراهي او د ورجینیا د سنترویل د عامه کتابخاني غړي Eric Timpson د کمپیوتر او د کتاب د عکسونو په برخي کي زماسره مرسته کړې ده .

فــراهـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مطالبو فهرست

عنوان	مخ
سریزه	۱
یادونه	٦
لومړۍ برخه	
لومړی فصل	
الف ـ هغه مسایل چي په شلمي پیړي کي د افغانستان په برخه وو	١٤
١ ـ هغه سیمي چي د افغانستان څخه بیلي شوي دي	١٥
٢ ـ دډیورنډ د کرښي موافقتنامه	٢٢
٣ ـ افغانانو دډیورنډ کرښه نه ده منلي	٢٦
٤ ـ د نړۍ د هیوادونو سره د افغانستان سیاسي منا سبات	٣٠
٥ ـ د پښتونستان موضوع	٣٤
٦ ـ د نظا مي اتحادیو په وجه افغانستان ترنور فشار لاندي راغی	٤٣
٧ ـ د عدم انسلاك نهضت	٤٥
دوهم فصل	
ب ـ د محمد داود خان د صدارت دوره	٥١
١ ـ د محمد داود خان حکومت	٥٢
٢ ـ دصدارت څخه د محمد داود خان استعفا	٦١
٣ ـ د محمد داود خان تر استعفا وروسته د پاچا سره دده مناسبات	٦٤
دوهمه برخه	
دریم فصل	
ج ـ دیموکراسي دوره	٦٩
١ ـ ددیموکراسي دوري پیل	٧٠
٢ ـ اسا سي قانون	٧٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣ ـ د تسوید کمیټي افغاني لوي جرګي ته تغییر ورکړی دی ٧٢

عنوان مخ

٤ ـ مطبوعات ٧٦

٥ ـ سیا سي ګوندونه ٧٩

۶ ـ د ډاکټر محمد یوسف حکومت ٨٧

٧ ـ د عقرب ددریمي پیښه ٩١

٨ ـ د محمد هاشم میوندوال حکومت ٩٢

٩ ـ د نور احمد اعتمادي حکومت ٩٨

١٠ ـ د پل خشتي په مسجد کي ددیني علماو غونډي ١٠٢

١١ ـ ډاکټر عبدالظا هر د یوه عبوري حکومت مشر و ١٠٥

١٢ ـ محمد موسي شفیق څنګه صدر اعظم سو ؟ ١٠٩

١٣ ـ ډاکټر عبدالصمد حا مد ولي صدر اعظم نه سو ؟ ١١٥

١٤ ـ د محمد موسي شفیق حکومت ١١٧

١٥ ـ د محمد موسي شفیق د حکومت اجراآت ١٢١

١٦ ـ دیموکراسي دورې ته یوه کتنه ١٢٤

دریمه برخه

څلورم فصل

د ـ تقنینیه ١٣٢

١ ـ ددیموکراسي دوري شورا ١٣٣

٢ ـ دوولسمه تقنیني دوره ١٣٤

٣ ـ د دیارلسمي تقنیني دوري ولسي جرګه ١٣٧

٤ ـ زه څرنګه وکیل سوم ١٤٠

٥ ـ د پاچا سره د وکیلانو دوي کتني ١٤٤

۶ ـ د وکیلانو ګډ دریځ ١٤٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ ـ د نور احمد اعتمادي سره کتنه ۱۵۱

۸ ـ د ولسي جرگي اداري هيأت ۱۵۳

عنوان مخ

۹ ـ د صنعتي بانك د قانون سره د وکيلانو مخالفت ۱۵۵

۱۰ ـ حکومت د احزابو د قانون سره مخالف و ۱۶۱

۱۱ ـ حکومت د وکيلانو د مصونيت حدود ټاکل ۱۶۳

۱۲ ـ د سر آهنگ يوه خبره ۱۶۵

۱۳ ـ د اطلاعاتو او کلتور وزير ته د نه اعتماد رايه ۱۶۷

۱٤ ـ د نور احمد اعتمادي حکومت ته د نه اعتماد رايه ۱۶۹

۱۵ ـ د ډاکټر عبدالظاهر سره د وکيلانو کتنه ۱۷۰

۱۶ ـ زما پارلماني وينا ۱۷۲

۱۷ ـ د محمد موسي شفيق يوه ټوکه ۱۷۵

۱۸ ـ د معا رف او عالي تحصيلاتو قانون ۱۷۷

۱۹ ـ حکومت د وکيلانو په بدنا مولو کي لاس درلود ۱۸۰

۲۰ ـ وکيلانو ته د حج سهميي ۱۸٤

۲۱ ـ د ژبو مسأله پر ولسي جرگي تحميل سوی وه ۱۸۵

۲۲ ـ د وچ کالي په وخت کي ولسي جرگي نصاب نه درلود ۱۹٤

۲۳ ـ د محمد داود خان سره کتنه ۱۹۶

۲٤ ـ حکومت د وکيلانو په حاضريدلو خوشحاله نه و ۱۹۸

۲۵ ـ د ولسي جرگي په ارتباط يوه ټوکه ۲۰۰

۲۶ ـ د سپين ږرو جلبيانو موضوع ۲۰۲

۲۷ ـ د محمد موسي شفيق سره کتنه ۲۰٤

۲۸ ـ د سيستان د سيمي او د هلمند د اوبو تاريخي سوابق ۲۰۷

۲۹ ـ د هلمند د اوبو معاهده په ولسي جرگي کي ۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣٠ ـ زما وينا ٢١٣
٣١ ـ د هلمند داوبو د معاهدي په باب څو خبري ٢١٦
٣٢ ـ د هلمند د اوبو د معاهدي په هکله د ميوندوال وينا ٢١٧

خلورمه برخه

عنوان مخ

پنځم فصل

٥ ـ د جمهوريت دوره ٢٢٠
١ ـ د محمد داود خان کودتا ٢٢١
٢ ـ د شورا منحل کيدل ٢٢٥
٣ ـ پاچا ژر استعفا وکړه ٢٢٥
٤ ـ آيا سلطنتي کورني د کودتا کونکوو په هويت خبر وو ؟ ٢٢٧
٥ ـ مرکزي کميټه ٢٢٨
٦ ـ د جمهوري نظام مؤثر اشخا ص ٢٣١
٧ ـ د محمد هاشم ميوندوال د کودتا اتهام ٢٣٦
٨ ـ د محمد ها شم ميوندوال په باب څو نوري خبري ٢٣٩
٩ ـ د جمهوري دولت اصلاحي پروگرام ٢٤٢
١٠ ـ اسا سي قانون ٢٤٤
١١ ـ لويه جرگه ٢٤٥
١٢ ـ د ملي انقلاب گوند ٢٤٦
١٣ ـ په ايران کي افغاني کارگران ٢٥٠
١٤ ـ پر جمهوري نظام ولي کودتا وسوه ؟ ٢٥٢
١٥ ـ کورنۍ ستونزي ٢٥٣
١٦ ـ د ايران سره د افغانستان منا سبات ٢٥٥
١٧ ـ د محمد داودخان او برژنيف لفظي ټکر ٢٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ ـ د عدم انسلاک د نهضت څخه د کیوبا د ایستلو پیشنهاد ٢٦٤
۱۹ ـ د پا کستان سره د افغانستان مناسبات ۲۶۷
د پای خبري ٢٧٠

ضمیمي

عنوان مخ
۱ ـ مهمي نیټي ۲۷۸
۲ ـ ددیارلسمي تقنیني دوري منتخب وکیلان ۲۸۵
۳ ـ د ګړ دریغ وکیلان ۲۹٤
٤ ـ ددیارلسمي تقنیني دوري سناتوران ۲۹۵
۵ ـ د ډیورنډ د موافقتنامي انګریزي متن ۲۹۷
٦ ـ دډیورنډ د موافقتنامي ژباړه ۳۰۰
۷ ـ مأخذونه په پښتو او دري ۳۰۳
۸ ـ د عکسونو او نورو اسنادو پیژندنه ۳۰٤
۹ ـ مأخذونه په انګریزي ۳۰٦
۱۰ ـ تر لومړي چاپ وروسته خیني څرګندوني ۳۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الحيم

سريزه

زه د ډير وخت خخه په دې فکر کي وم که ما ته يو وخت ميسر سي چې زه د خپلو سترگو ليدلي حالات د مخه تر هغه چې د ذهن او حافظې په ذهول اخته سم د کا غذ پر مخ وليکم ۰ ولي زه په دې نه پوهيدلم چې د حالاتو دغه ليکنه د کوم خای څخه پيل کړم .

ډير خلگ د خپلو سترگو ليدلي حالات د خپلو خا طراتو تر عنوان لاندي د وړکتوب د مرحلي څخه پيل کوي خو ما دا کار په دي دليل و نه کولای سو چي زه د وړکتوب څخه داسي خاطرات نه لرم چې نورو ته يي د لوستلو له پاره وړا ندي کړم په دي ارتباط صرف دومره ليکلای سم چي زه د فراه د نورزو د قوم په يوي مخورې او مړي کورنې کي زيږيدلی او لوی شوی يم . تر لومړنيو زده کړو وروسته مي په خپل لگښت په کابل کي د حبيبي ليسه او د حقوقو پوهنځی لوستی دی ، تر تحصيل وروسته مي د خارجه چارو په وزارت کي د سياسي مدير ، دايران په مشهد کي جنرال قونسل او په واشنگتن کي دافغاني شارژدافير په توگه کار کړی دی، د۱۹٦۹ کال څخه بيا تر ۱۹۷۳ کال پوري د ديارلسمي تقنيني دوري په ولسي جرگي کي وکيل وم او په ۱۹۸۸ کال کي ديوه کال له پاره د راستنيدونکو چارو وزير هم وم ۰

د سپه سالار شاه محمود خان د صدارت د دورې ديمو کراسي ، د محصلينو اتحاديه او د اوومي دوری شورا زما په ياد نه دي چي پر هغو باندي څه مطا لب و ليکم ما خپله ليکنه د ۱۹۵۳ کال د محمد داود خان د صدارت د وخت څخه پيل کړې ده چي په دغه کال کي ما د حبيبي د ليسي په اتم ټولگي کي زده کړه کوله۰ ولي په حقيقت کي د ديمو کراسي او جمهوريت دوري د دي کتاب اصلي موضوع تشکيلوي ۰ څوک چي د افغانستان د ديموکراسي او جمهوريت پر دغه پنځلس کلن

(c) ketabton.com: The Digital Library

سياسي تاريخ باندي ليكنه كوي ، دې مجبور دې چي د محمد داود خان د صدارت دوره هم تشريح کړي ، په دي دليل چي د دغو دواړو دوروو ريښي د محمد داود خان د صدارت په دوري کي ښخي شوي دې ٠

د دغــي ليکنــي پــه سر کــي ځنــي هـغـه مطالب چــي د افغانستان سرنـوشت په هغــو پــوري تړلــی دی لکه د پـيـورنـــډ کـرښــه ، د پښتـونستـــان مــوضــوع د عــدم انســلاك نـهضت او داســي نــور مطـالــب پــه ډيــر اخـتـصـار ســره ليـکل ســوي دي .

ددغه کتاب پيل د محمد داود خان د صدارت دوره او پای يي د محمد داود خان د جمهوريت دوره ده ، چي دغو دواړو مرحلو ته د محمد داود خان د حکومت کولو دوري ويل کيدای سي ٠

د محمد داود خان دصدارت د دوري کارونه چي د افغانانو د ملي هيلو سره يي مطابقت درلود او په هغي دوري کي د افغانستان بين المللي حيثيت ډير لوړ سو او افغانستان د لويو ناپيلو هيوادونو په ډلي کي ودريدی . په دغي دوري کــي ډيــري خارجي مرستي افغانستان ته جذب سوي ، چي د دغو مرستو په وسيله په هيواد کي ډيري اقتصادي او صنعتي پروژي په کار ولويدلې . په هيواد کي اجتماعي نهضتونه پيل سوه ، افغانستان د پر مختيا پر لوري وړاندي ولاړ چي د ډيرو وطنوالو په نظرد دغي دورى پر مختگونو محمد داود خان د هيواد د لويو مشرانو لکه زمان شاه دراني او اعليحضرت اما ن الله خان په قطار کي ودروې ٠ ولي د محمد داود خان دوهم حکومت چي د يوي بي وختي او بي لزومي کودتا په وسيله قدرت ته ورسيدی او ډير ژر د خپلو ملگرو او نورو هيواد والو او خارجي هيوادونو مخصوصا شوروي اتحاد سره په مشکلاتو اخته سو ، چي د دغو مشکلاتو په نتيجه کي د خلق او پرچم ډلو کودتا وکړه او محمد داود خان د خپلي کورنۍ د اوولســو غــړو ســره په شهادت ورسيدی او زموږ هيواد د لويو مصيبتونو سره مخا مخ سو ٠

د محمد داود خان د حکومت کولو د دواړو دورو په منځ کي د ديموکراسي لس کلنه دوره راځي که څه هم په دغو لسو کلونو کــي پــه افغانستــان کــي پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلف حکومتونه جوړ سوی او له منځه تللي دي ، ولي په حقیقت کي دغه لس کلنه دوره په هیواد کــي د محـمـد ظاهر شــاه د کار کـولـو دوره ده چــي د دغه کتاب لویــه برخه تشکیلوي . د کتاب په دغي برخي کي ډیر مطالب د دیارلسمي تقنیني دورى د ولسي جرگي پر اجراآ تو لیکل سوي دي چي په دغو پاړو کي ولسي جرگي ته د پاچا لاربښوونه په څرگند ډول لیدله کیږي ۰

په دي کي شك نسته چي د پخواني پاچا او محمد داود خان دحکو مت کولو دوروو مثبت او منفي ټکي درلودل چي ډیرو لیکوالانو هغه څیړلي دي او ځینو لیکوالانو پر دغو دوروو باندي پنډ کتابونه لیکلي دي ، زه په خپل وار سره پر دغه پنځلسو کلونو باندي خیل مشا هدات لیکم او پــه حاضر کتاب کي یــي هیـواد والو تــه وړاندي کوم او هیله من یم چي د دوی د توجه وړ به و گرځي ۰

دلته د دي خبري لیکل ضروري بولم چي گران لوستونکي په دی پوه سي چي زه دواړو شخصیتونو اروانباد محمد داود خان او محمد ظا هر شاه ته په درنه سترگه گورم او په دی عقیده یم (څوك چي کلي په نامه لري نو یو خوی تر نورو ښه لري) څرنگه چي دوې دواړو د هیواد پــه ډیـري مشکلي او حسا سي تا ریخي مرحلي کي زموږ د لرغوني هیوادافغانستان رهبري پر غاړي درلوده ، نو ځکه د دیموکراسۍ او جمهوریت د تطبیق په وخت کي ددوی څخه ځیني اشتباه گاني سوي دي چي هغه مطالب په دغه حاضر کتاب کي څیړل شوي دي ۰

دغه کتاب چي د ۱۹۶۳ کال څخه بیا تر ۱۹۷۸ کال پوري د افغانستان پر پنځلس کلني تاریخي دوري باندي رڼا اچوي دغه لاندي خصوصیات لري :

ـ د افغانستان دغه پنځلس کلن سیاسي تاریخ چي د هیواد د ورستیو ډیرو پیښو او حوادثو منشأ ده ، تر هغو پوري چي څوك په دغو دوروو سم پوه نه سي ، زما په عقیده د افغانستان په اوسنیو غمجنو حالاتو ښه نه سي پوهیدلای .

ـ په دغو دوروو کي افغانستان د انزوا خارجي سیاست پري ایښې و او په جهاني مسایلو کي یي دآزاد قضاوت لاره غوره کړې وه .

ـ په دغو دوروو کي په افغانستان کي دیموکراسي راغلي او پــه هیواد کي سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

احـزابـوډېر سريع رشـد کړی وو او يو د بل ضد خارجي مفکورو افغاني جا معي ته لاره پيدا کړي وه .

ـ د افغانستان په تاريخ کي د اول وار له پاره په دغو دوروو کي په هيواد کي دوې کودتا گاني سوي دي ٠

ـ په دغه کتاب کي ما د افغانستان د ديارلسمي تقنيني دورې د ولسي جرگی هغه پيښي څېړلي دي چي تر اوسه کوم بل ليکوال پر دغو پيښو باندي څه نه دي ليکلي .

ـ کله چي خيني گران لوستونکي په دغه کتاب کي د ديارلسمي تقنيني دورې د ولسي جرگی برخه لولي دوی به حتما دا تصور وکړي چي ما د دغي دورې د وکيلانو دفاع کړې ده ، ولي چي د دغي دورې وکيلان په افغاني جامعي کي په قاچاقبرې او رشوت خورې مشهوره سوي وو ، او خينو افغانانو به ويل چي وکيلان خپلو ملي مسؤوليتونو ته توجه نه کوي او د دوی مجلس ته د نه حاضريدلو په وجه به ولسي جرگي نصاب نه درلود ، ولي زه په اطمينان سره دا ليکم چي د ولسي جرگي د ټولو وکيلانو په برخه کي د با زار او کوڅو پورتـه اتهامات حقيقت نـه لري ، مـا د ديارلسمي تقنيني دورې د ولسي جرگي په ارتباط ډير مطالب په دغه کتاب کي څېړلي دي او زه هيله کوم چي هغه مطالب په يوڅه دقت سره ولوستل سي .

ته شا هد د ښو او بدو د جهان يي

څه چي گوري که يي نه وايي سزا سته (١)

ـ ما په دغي ليکني کي تر خپله وسه کوښښ کړې دې چي د هيواد د پيښو دغي دوري په ډيري بي طرفي او پوره امانت داري سره و څېړم ٠

ـ په دغه کتاب کي نه چا ته بد ويل سوي دي او نه هم د چا بي ځايه ستاينه سوي ده ، هغو وطنوالو چي د دغو دوروو په پيښو کي برخه درلوده د دوی نومونه په ډيري امانت داري سره ذکر سوي دي ٠

دلته دامطلب د يادولو وړ بولم چي په دغو پنځلسو کلونو کـي د افغانستان په حکومت او شورا کي ډيري پيښي تيري سوي دي چي پر هغو باندي څو کتابونه ليکل کيدای سي ، ولي دلته ما ډيري هغه پيښي را اخستي دي چي زما په مخ کي تيري سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او يا زه د هغو په واقعيت خبر سوئ وم ، نو که په دغو پاڼو کي (زما) کلمه ډيره راغلي وي ، هيله من يم چي هغه زما خود خواهي يا خود ستايي تعبير نه کړي ، بلکه هغه د يوه راوي او عيني شاهد خاطرات و بولئ چي د هيواد د سياسي تاريخ پر يوي حساسي مرحلي باندي يي دخپلو سترگو ليدلي حالات دلته ثبت او وړاندي کړي دي دلته دامطلب هم د يادولو وړ بولم چي دغه کتاب ځکه په طبعي ، رواني او محاوره يي پښتو ليکل سوې دې چي زه نه غواړم چي په خپلي ليکني کي داسي کلمات استعمال کړم چي عام لوستونکي په هغو ونه پوهيږي . بې ځايه به نه وي که په دغه ارتباط دلته خپله يوه مشاهده وليکم :

د افغانستان د خارجه چارو وزارت ، افغاني سفارتونو او سياسي نماينده گيو ته دوه قسمه خپروني ليږلي چي يوه عادي او بله محرم يا سري خپرونه وه . دديموکراسي دورې په وروستيو کلونو کي د خارجه چارو وزارت د محرم د کلمي پر ځای د بهير کلمه انتخاب کړې وه . ځرنگه چي د خارجه وزارت ډير مامورين ددغي کلمي په معنا نه پوهيدل ، ما د خارجه وزارت د معين سيد وحيد عبدالله په غوښتنه د پښتو ټولني د رئيس اروانښاد محمد صديق روهي څخه پوښتنه وکړه چي آيا د بهير کلمه د محرم خپروني له پاره مناسبه کلمه ده او که يه ؟ ده زما په جواب کي وويل چي بهير يو محلي لغات دې چي په هيڅ صورت د محرم په معنا نه استعماليږي . تر دغي مشوري وروسته د خارجه چارو وزارت د بهير کلمه د محرم خپروني څخه حذف کړه . د کتاب د دريم چاپ لوی خصوصيت دادی چي ډير نوي مطالب چي ما وروسته پيدا کړي او د کتاب په بيلو برخو کي مي پر پخوانيو مطالبو علاوه کړي دي ، چي د کتاب په پيل کي نوي ځرگندوني ، د هلمند د اوبو د معاهدي په ارتباط د محمد هاشم ميوندوال وينا ، د شورا تاريخچه ، د ولسي جرگي په باب نوري خبري او د محمد داود خان د کورنی د شهيدانو نمونه د ياد شوو مهمو مطالبو څخه دي .

په پای کي زه د ټولو لوستونکو او مخصوصا د ديارلسمي تقنيني دورې د ولسي جرگي د وکيلانو څخه چي دا ليکنه لولي صميمانه هيله کوم چي که د پيښو په تفصيل کي څه لږوالي يا زياتوالې د دوی په فکر راغلي وي ، زه خوشحاليږم چي که ما په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټکو خبر کړي . په درناوي   عبدالغفار فراهي
ورجينيا ـ ۱مريکا ـ د ۱ ۰ ۲ ۰ کال د جنوري مياشت

يادونه

الف : ځني افغانان په دي عقيده دي چي که محمد داود خان د کودتا لاره نه واى پرانستلي او په افغانستان کي يي نظامي کودتا نه واى کړې نو د خلق او پر چم ډلو به د ثور په کودتا لاس نه واى پوري کړې او زموږ هيواد به په اوسنيو مصيبتونو نه واى اخته سوې . ولي يو لړنور افغانان په دي عقيده دي چي که د ديموکراسي د لسو کلو نو په دورې کي د اساسي قانون متمم قوانين لکه د سياسي احزابو ، اجتماعاتو او داسي نور قوانين نافذ سوې واى او د افراطي چپو او ښيو گوندونو پر ځاى د معتدلو ملي گوندونو د رشد او تکامل له پاره زمينه برابره سوې واى نو بيا به محمد داود خان ته هم گرانه واى چي په افغانستان کي يي کودتا کړې واى .

گران لوستونکي په دي پوهيږي چي په ۱۹۷۹ کال کي زموږ په گا ونډي هيواد، ايران کي آيت الله خميني قدرت ته ورسيد او تر هغه يو کال د مخه په ۱۹۷۸ کال کي په افغانستان کي خلق او پر چم کودتا کړي وه ، چي دا دواړي پيښي تصادفي نه وې بلکه دواړو پيښو عمده تاريخي عوامل درلودل چي په افغانستان او ايران کي د دغو تاريخي عواملو ځو ټکي دلته د مثال په توگه وړاندي کيږي :

۱ ـ په ايران کي : کله چي د ۱۹۵۱ کال د مى په مياشت کي ډاکټر محمد اقبال مصدق د متحدي جبهي او د تودي د حزب په مرسته په ايران کي صدر اعظم سو ده د خپل دوو کالونو او دوو مياشتو د صدارت په دوران کي د ايران د تيلو صنعت ملي کړ او د پارلمان له لاري څخه يي د ايران د پاچا محمد رضا پهلوي صلاحيتونه ډير محدود کړه ، ځو په آخر کي د ايران پاچا مجبور سو چي د ايران سلطنت پريږدي او بغداد ته ولاړ سي ۰ ولي ځو ورځي وروسته د ۱۹۵۳ کال دآگست د مياشتي پر ۱۹ نيټي جنرال زاهدي د CIA په رهبري د ايران د پاچا په گټه کودتا وکړه د دغي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کودتا په نتیجه کي د ایران پاچا بیرته قدرت ته ورسید (۲)

په ایران کي دغه کودتا د CIA د نماینده Kermit Rooseveilt له خوا رهبري کیدله ، د دغي کودتا فلم همیشه د امریکا په تلویزیون کي ښوول کیږي ۰ په دغه تلویزیوني فلم کي (کرمیت روزولت) وایي   ((ما د کرج د کوچني ښار څخه په لاریو کي ډیر خلگ چي د ایران د پاچا په گټه یي شعارونه ورکول د تهران ښار ته را انتقال کړه او وروسته مي په نظامي عملیاتو لاس پوري کړ ۰))

دلته دا مطلب د لیکلو وړ بولم چي د سي .آی .اې .دغه نماینده ، پخوا په جنوبي امریکا کي څو نوري کودتا گاني هم رهبري کړي وي .

د ایران پاچا د خپل سلطنت په پاته کلونو کي په ډیر شدت سره د چپو قوتونو په ترټلو اوکمزوره کولو اخته و ، چې د ایران د پاچا د دغه عمل په نتیجه کي د تودې د گوند ډیر غړي د ایران څخه و وتل او ډیر نور یي و وژل سوه او ځیني نور یي بندیان سوه چي په پای کي د تودې گوند پر ډیرو کوچنیو ډلو و ویشل سو . (۳)

د ایران پاچا د ایران په جا معي کي د تودې د گوند تصفي او محوه کولو ته دومره متوجه و چي دوه ویشت کاله وروستــه کله چي په ۱۹۷۵ کال کي ده د رستا خیز د حزب د جوړولو اقدام وکړ ، ده په هغه محفل کي چي د رستاخیز د حزب د رسمي تاسیس په ارتباط جوړ شوی و داسي و ویل ((د تودې ډله بي وطنه ده او تردي وروسته په ایران کي د دوی ځای به محبس وي او یا به پاسپورتونه اخلي او د ایران څخه به وزي))

د چپو عناصرو او مخصوصا د تودې د حزب د غړو په مقابل کي د ایران د پاچا د دغه شدید عمل په نتیجه کي د ایران ځیني چپ او دیمو کرات عناصر مجبور سوه چي ږیري پریږدي او دیني مدرسو ته مخه کړي او د آیت الله تالقاني او نورو مذهبي مشرانو سره ملگري سي ۰ د ایرا ن په مطبوعاتو کي به دغو اشخاصو تـه اسلامي ما ر کسیستان ویل کیدل،

د ایران د پا چا د دغه یو اړخیز عمل په نتیجه کي د ایران مذهبي حلقو د ایران په تحصیل یا فته او منورو قشرونو کي داسي نفوذ وکړ څو چي د ایران سلطنت ته یي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر لوی خطر متوجه کړ . د مثال په توګه ، د ایران په ډیرو ښارونو کي د پوهنتونونو او ښوونځیو خوانو شاګردانو د رستاخیز د حزب او د ایران د پا چا د سپین انقلاب او په ایراني جامعي کي د فساد په مقابل کي پراخه مبارزه پیل کړه . ایراني خوانانو په سر کي پر سینما ګانو ، بانکونو او د شراب خرځولو پر مغازو باندي بریدونه کول

او ددغو خایونو ښیښي به یي په کا ړوو ویشتلي . د مشهد په ښار کي افغاني جنرال قونسلګرۍ ته مخا مخ د شراب خر ځولو یوه مغازه وه چي په ۱۹۷۷ کال کي د یوي ډلي خوانو شاګر دانو له خوا دغه مغازه په ډبرو و ویشتله سوه چي دمغازي ټولي ښیښي یي ور ماتي کړې او ډیر ژر دغه شاګر دان دامنیتي قوو له خوا محا صره سول څو شاګردان و نیول سوه اما ډیر شا ګر دان د افغاني جنرال قونسلګرۍ د باغچي د لاري څخه په نورو کو ځو کي خپاره سوه . په ۱۹۷۸ کال کي د عامو خلکو او شاګردانو مظا هرو په ایران کي شدت پیدا کړ او شپا ړس میاشتي وروسته د ایران پاچا مجبور سو چي د ایران خاوره پریږدي او مصرته ولاړ سي . د ۱۹۷۹ کال د فبروري په میاشت کي آیت الله خمیني قدرت ته ورسید . (٤)

۲ ـ په افغانستان کي : زموږ په هیواد افغانستان کي د ۱۹۱۹ کال د فبروري د میاشتي پر ۲۲ نیټي اعلیحضرت امان الله خان د افغانستان پاچا سو چي د ۱۹۲۹ کال د جنوري د میاشتي تر څورلسمي نیټي پوري یي په افغانسان کي سلطنت و کړ د ده د سلطنت په وخت کي وروسته تر هغه چي افغانستان خپل استقلال واخست ، ده په هیواد کي د معارفو ، مطبو عاتو ، عمراني چارو او د افغاني جامعي په نورو چارو کي اصلاحي ریفور مونه پیل کړه ، د ده د اصلاحاتو لمړې مرحله چي د ۱۹۱۹ کال څخه بیا تر ۱۹۲۳ کال پوري رسیږي ډیره بریالۍ وه ، ولې د ده د اصلاحي پروګرامونو په دوهمي مرحلي کي د خارجي هیوادونو په لمسون ، ارتجاعي قوتونو په هیواد کي عکس العملونه ایجاد کړه څو چي وروسته خبره دي ځای ته ورسیده چي حبیب الله کلکاني د خپلو دریو سوو ملګرو په مرسته د هیواد پای تخت ونیوی او اعلیحضرت امان الله خان د کند هار د لاري څخه د افغانستان پریښوولو ته مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو . د دغي پيښي په نتيجه کي تر ډيره وخته په افغانستان کي تنويري چاري او اجتماعي نهضتونه خا موشه سوه .

د اعيحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په دور کي بيرته په هيواد کي تنويري او اجتماعي چارو ته توجه وسوه ولې د دغو پروگرامونو په تطبيق کي ډيري اشتباهگاني سوي دي ، د مثال په توگه :

ـ د ۱۹۵۹ کال د آ گست د مياشتي پريو ديرشمي نيټي د محمد داود خان د صدارت په وخت کي د ښځو مخ لڅې اعلان سو چي په کندهار کي د دغه اجتماعي نهضت په مقابل کي قيام وسو ، چي د هغه وخت حکومت د برچي په زور د کندهار د خلگو د دغه مخالفت مخه ونيوله .

ـ د افغانستان د ديمو کراسۍ په دوري کي په ۱۹٦۸ کال کي د اصلاح په ورځ پاڼي کي د (مرد نه زنه) تر عنوان لاندي يو کاريکاتور خپور سو چي د ډيرو افغانانو په فکر د دغه کاريکا تور هدف حضرت پيغمبر ء ص ء ته اشاره وه .

ـ په همدغه کال کي د پر چم په جريدي کي پر لينين درود ويل سوې و ،

د پورته ناوړه اعمالو په نتيجه کي په ۱۹۷۰ کال کي د هيواد د ډيرو برخو علماوو د درو ځلويښتو ورځو له پاره د پل خشتي په مسجد کي را غونډ سوي وو چي په هيواد کي د چپو افکارو او د دولت د نشراتي پاليسي پر ضد يي خطابي ورکولي .

د افغانستان په دولتي او حکومتي حلقو کي د ديني علماوو دغه عمل د امان الله خان د وخت د حالت سره مشابـه بلل کيدی . دوی د ديني علماوو دغه حـرکت يو ارتجاعي عمل او هغه يي د خارجي هيوادونو په لمسون با له .

د افغانستان دولت او حکومت د ديني علماوو غوښتني و نه منلي او د دوی پر ضد يي د ډير شدت څخه کار واخستی او د شپي له خوا څخه يي ټول علما په زوره د مسجد څخه و ايستل او دوی يي په عسکري لاريو کي واچول او مربوطه ولايتونو ته يي ورسول او په ولاياتو کي يي د ټولو څخه داسي تعهدنامي واخستي چي ، وروسته تر دي به دوی په داسي اجتماعاتو کي برخه نه اخلي .

د ديني علماو پر ضد د حکومت د دغه شديد عمل څخه د هيواد چپو احزابو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيره ګټه پورته کړه ، ځرنګه چي د هيواد چپو احزابو د ديمو کراسۍ په دورې کي ډير رشد کړې و او د پوهنتون او ليسو په شا ګردانو کي يي ډير پلويان درلودل ، نو ډير ژر دغه چپ احزاب د افغانستان اردو تــه متوجه سوه او پـه اردو کي يي هم ډير ژر نفوذ وکړ چي په لږ وخت کي يعني په ۱۹۷۸ کال کي خلق او پر چم ډلو د اردو په مرسته کودتا وکړه چي د دغي کودتا په نتيجه کي افغانان يو د بل سره په جنګ اخته سوه ، او زموږ هيواد د لوي تبا هۍ سره مخا مخ سو .

پورته مثالونه دا ثابتوي چي که د افغانستان او ايران دولتي مشرانو په افغانستان او ايران کي د دواړو هيوادونو د عيني شرايطو سره سم يو متوازن ملي سياست غوره کړې وای ، د دي امکان موجود و چي په دغو دواړو هيوادونو کي به د کيڼ او ښي اړخ د تحولاتو مخه نيوله سوې وای او دواړو هيوادونو به سالمه وده کړي وای .

که افراط دې که تفريط يو د بل سر خوري

هــر يو بل ته قبر کن د بل اجل دې (۵)

ب : د تاريخ په اوږدو کي افغانستان د خپل تاريخي موقعيت په وجه هميشه د خپل شمالي او جنوبي ګاونډيانو د منافعو قرباني سوی دی . په تيرو دوو پيړيو کي د افغانستان په برخه کي د انګريزانو پالسي داوه چي روسان او بيا وروسته شورويان بايد د افغانستان د لاري ددوی مستعميري يعني هند ته داخل نه سي . نو ځکه دوی د افغانستان ځخه د يوي حايلي او متروکي منطقي په حيث استفاده کوله او د خپلي دغي پالسي د تحقق له پاره يي ډيري سيمي د افغانستان ځخه بيلي کړي ، د ديــورنـد او ګندمك معاهدي يي پر افغانستان باندي تحميلي کړي . تر دوهم جهاني جنګ وروسته چي زموږ په سيمو کي د انګريزانز ځای امريکايانو ونيوی ، نو پخوانی پالسی تغير و موندی ، په سر کي د نظامي اتحاديو د لاري د افغانستان د ګاونډيانو پــه وسيله ، د شوروي اتحاد محاصره پيل سوه ، ولي د ثور د ۷ تـر کودتا وروسته يــي افغانستان د تلکي په حيث استعمال کړ او قطبي خرس يي په دغـي تـلکـي کي داسـي راشکيل کـړ چي په هغه هيواد کي مسلط سوسيالستي نظام يي د ابد له پاره د تاريخ په کندي کي واچوی . ولي په اوسنی پيړی کي غربي نړی د منځني آسيا د تيلو او ګازو سرشارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذخيرو ته د رسيدلو له پاره د افغانستان په شمالي گاونډيو ملکونو کي پراخي هڅي پيل کړي دي چي ددغو ذخيرو پايپ لاينونه به د افغانستنان د لاري بحر ته غزول کيږي ولي اوس هم جنگ ځپلي او بيدفاع افغانان په خپل راتلونکي هيڅ نه پوهيږي او د نامعلوم سرنوشت په انتظار کي دي (٦)

ج : په ١٩٦٣ کال کي هغه وخت چي د ايران د پا چا محمد ر ضا پهلوي په منځگړيتوب د افغانستان او پا کستان سيا سي منا سبات بيرته عادي سوه نو په هغي افغاني ډلي کي چي د تورخم له لاري ځخه يي پيښور ته سفر وکړ زه هم شامل وم دغو دولتي ما مورينو په پيښور کي افغاني قونسلگري پرانستله ، د افغانستان او پاکستان تر منځ يي تجارتي او ترانزيتي منا سبات بيرته عادي کړه ٠

کله چي زه د اول وار له پاره په پيښور کي مقيم سوم او د صوبه سرحد ځيني سيمي مي وليدلې چي په هر کلي کي بريښناوه ، د چښلو صحي اوبه هر چا ته مهيا وې ، هلته سړکان پاخه وو او د اورگاډي پټلې د هغه ولايت هر کنج ته غزول سوي وو د کرني طريقه يي هم ډيره پر مخ تللې وه ، د هغه ولايت په ټولو سيمو کي د غلو او ميوو ډيره پريماني وه ، ډير لوى پوهنتون او نوري تعليمي مؤ سيسي د ځوا نانو د زده کړي له پاره جوړي سوي وې ، په ښا رو نو کي آزاد اخبارونه خپريدل او په مختلفو وختو نو کي د پيښور په ښار کي سيا سي اجتما عات کيدل چي دا ټول دپرمختگ او د تمدن نښي زما له پا ره ډيري نوى او جا لبي وې ٠

ما يوه ورځ يوه پيښوري دوست ته چي د طب ډاکټر و په حسا دت سره و ويل چي دلته ستا سئ د ژوند کولو له پاره ډير عصري وسايل برابر سوي دي ولې زموږ په هيواد کي ډير کار نه دي سوي ، نو په دغه وجه موږ د ژوند کولو ډير وسايل په لاس کي نه لرو .

دغه ډاکټر زما پر خبرو د تبصرې کولو په وخت کي زما ځخه داسي پو ښتنه وکره ((آيا افغانان د خپل اوسني ژوند ځخه خوښ دي او که عصيان يي کړئ دي او په خپل هيواد کي يي بي امنيتي راوړې ده ؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ده ته په جواب کي و ويل چې زموږ په هيواد کي د غلو او داړه ما رانو شمير ډير لږ دې . افغانا ن د خپل هيواد هري سيمي ته په ډير اطمينان سره سفر کوي ، نارينه او ښځي خارجي سيلا نيان ، زموږ په ټول هيواد کي خپاره دي ولې د دغو بهرني اتباعو سر او مال ته څوك تاوان نه رسوي ، او حتې ميلمه پالنه يي هم کيږي ،زما تر خبرو وروسته دغه ډاکټر ما ته وويل ((ستا د خبرو څخه داسي ښکاري چي ستا سي د هيواد خلگ په خپل اوسني ژوند خوشحاله دي)) ده زياته کړه ((زه تاسو افغانانو ته يوه مشوره در کوم او هغه دا چي تا سي بايد پام وکړې چي په خپل هيواد کي بي خايه لاسونه و نه وهئ او پريږدې چي ستا سي هيواد په کراره سره آباد سي او په راتلونکو کلونو کي به د هو سا ژوند خا وندان سئ))

زه چي اوس د خپل هيواد او سني بده ورځ وينم ، نو ما ته هر وخت د هغه ډاکټر پورته حکيمانه مشوره را په ياد سي ، او په دي فکر کي سم چي آيا ولې موږ افغانان پخوا په دي خبره نه پو هيدلو چي په خپل هيواد کي بي ځايه لاسونه و نه وهو !

په تيرو ديرشو کلونو کي زموږ په هيواد کي هر راز لاسونه و وهل سوو ، هلته نيمگړي ديمو کراسي راغله ، وروسته له هغه د سرطان د ٢٦ او دثور د ٧ کودتاگاني و سوي ، چي د وروستي کودتا په نتيجه کي د شوروي سري لښکري زموږ په پاك هيواد ور ننوتلي او د افغا نستان خپل وا کي د منځه ولاړه ٠ د شوروي تر نظامي اشغال وروسته زموږ هيواد د شرق او غرب د نړې د لويو قوتونو د حرب ميدان وگرزيدې ، د لسو کلو نو تر جنگ وروسته ، د افغا نانو په سر ښندنه او جهاد په افغا نستان کي شوروي ما ته و خوړله او په کښته سترگو زموږ د هيواد څخه و ووت .

ولي د تا سف ځای دادې چي په افغا نستان کي يوه جهاني اشغا لگر قوت ماته وخوړله او د هغه رقيب بل جها ني قوت خپل هدف ته ورسيدې چي د شوروي تر ماتي او ټو ټي کيدلو وروسته ، د خير پر غونډی کښينا ست او د يو سيل بين حيثيت يي غوره کړ ، د جنگ ځپلي افغانستان مقدرات اوس د سيمي د هيوادونو په لاس کي دي او اوس عرب او عجم زموږ په هيواد کي لاسونه وهي او د ژوند کولو هر څه يي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو څخه وا خستل چې د شوروي اتحاد د ناروا تجاوز په نتيجه کې ، په لکونو افغانـان مړه يا ټپيان سول او زموږ هيواد د خاورو سره بـرا بـر سو ۰ پــه مليونـونـو افغانانو خپل هيواد پرې ايښې دې او په پرديو هيوادونو کې يې سرونه پناه کړې دې او د خپل هيواد له پاره هيڅ نه سي کولای ۰

چا يې پلو ليدلې نه وو اوس د جمرود پر لورې خې سر تور سرونه (۷)

زما په عقيده اوس موږ ټولو او مخصوصا چيز فهمو افغا نانو ته په کار دې چې په خپلو کې سره متحد سو او د پـرديـو هيوادونـو دلاس وهنې مخه و نيسو او د يـوه واحد او سر لوړې افغانستان په فکر کې سو ۰

ددې برخې يادداشتونه

١ ـ الفت ، گل پا چا ، د الفت مرغلرې ، مخ ٢٧

٢ ـ ابرا هميان ، اروند ، ايران د دوو انقلا بو نو تر منځ ، مخ ٢٧٩

٣ ـ همدا اثر ، مخ ٢٤

٤ ـ زما مشا هدات

٥ ـ د الفت مرغلرې ، مخ ٣٨٦

٦ ـ زما مشاهدات

٧ ـ د مجا هد ولس مختلفې گڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي برخه

لومړی فصل

الف : هغه مسایل چي په شلمي پیړۍ کي د افغانستنان په برخه شوي وو

۱ ـ هغي سیمي چې د افغانستان څخه بیلي سوي دي

زموږ لرغوني هیواد افغا نستان چي د مختلفو مدنیتونو او کلتورونو لکه د منځني ختیز ، منځنۍ آسیا ، د هند د نیمي وچي ، لیري ختیز او د پا میر له لاري څخه د چین د سنکیانګ د ایا لت سره په ارتباط کي واقع سوی دی او ډیر مهم ستراتیژیك موقعیت یي لرلی دی ، نو ځکه د تاریخ په اوږدوکي همیشه د مختلفو لښکرکښیو او فتوحاتو په وجه ، متأثر شوی هم دی ۰

د اتلسمي پیړۍ په پیل کي د افغانستان سرحد د هرات څخه تر کشمیره ، او د آمو د رودڅخه تر عربي بحیرې پوري رسیدی . ولې د افغا نستان اوسني سرحدات د نولسمي پیړۍ په وروستي لسیزي او یا د شلمي پیړی په پیل کي جوړ سوي دي (۱)

د افغا نستان په څنګ کي انګریزانو چي د هند په نیمه وچه کي د یوه استعماري

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيواد په بهه ، خپلي منگلي ښخي کړي وي او د هند پر طلايي مستعمري باندي تود راغلي وو او نه يي غوښتل چي بل استعماري هيواد د دوی سره په دغه ثروت کي شريك سي ۰ نو دوی د دروو خواو څخه هند ته د ننوتلو لاري تړلي وي ، د هند د شمال خوا ته د هماليا غر هم هند ته د مهاجمينو د دخول ما نع و ۰ چي په وچه کي يوازي يوه لاره د هند دمدخل په حيث په شمال لويديز کي موجوده وه چي هغه لاره د افغانستان په لاس کي وه .

د تاريخ په اوږدو کي په استثنا د عربو او انگريزانو نور ټول د نړي مهاجمين د افغا نستان له لاري څخه ، هند ته ورننوتلي دي ۰ د بلي خوا څخه کله چي انگريزانو د (پاني پت) په جنگ کي د افغا نستان نظا مي قوت او په هند کي د افغانانو معنوي نفوذ وليدی نو دوی دي نتيجي ته ورسيدل چي په را تلونکي کي په خپله افغانستان د انگريزانو د منافعو له پاره لوی خطر وي . (۲)

کله چي انگريزانو په پنجاب کي د زمان شاه نظا مي حرکات او د افغانانو سره د هنديانو د مرستي تما يلات وليدل نو د دوی حدس او گمان په يقين بدل سو او انگريزانو خپل ټول قوت افغا نستان ته متوجه کړ ۰

په سرکي انگريزانو د افغا نستان په باره کي (تدا فعي سيا ست) غوره کړ او هند ته يي د افغا نستان د ورننوتلو مخه ونيوله ، و روسته د انگريزانو دا پالسي په (تعرضي سيا ست) واوښتله چي دوی خپل دغه وروستې سيا ست په مختلفو شکلونو په افغا نستان کي عملي کړی دی .

لنډه يي دا چي په افغانستان کي د انگريزانو سيا ست دا وو چي افغا نستان با يد تجزيه او ټوټي کړل سي ، افغا نان په خپلو کي په نفاق او کورني جنگ اخته سي ، او افغا نستان د انگريزانو د لاس پوڅو حا کمانو تر کنترول او اداري لاندي راوستل سي ، او د ضرورت په وخت کي افغا نستان د دوی له خوا نظا مي اشغال کړل سي .

د انگريزانو اصلي هدف دا و چي افغا نستان يو کمزوره ، محتاجه او د دنيا څخه منزوي او يوه متروك هيواد په څير و سا تل سي او په افغا نستان کي د نوي فرهنگ او تمدن د را تلولو مخه و نيوله سي ، انگريزا نو ، خپله پورتني طرحه د اتلسمي پيړې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستي نما يي كي (د زمان شاه دوره) او بيا د شلمي پيړۍ تر منځنيو پوري (د دوهم جهاني جنگ تر پا يه) په مختلفو شكلونو په ا فغا نستان كي تطنيق كړي وه ٣

انگريزانو د افغا نستان د كمزوره كولو په غرض خپل تدا فعي سيا ست داسي پيل كړ ، دوی دخپلو نمايندگانو John Malcolm او Sir Harford Jones په وسيله ډيري نظا مي او ما لي مرستي د ايرا ن پا چا فتح علي شاه ته ورا ندي كړي. انگريزي معلمين او مهندسين يي د ايران په اردو كي و گمارل ، ايراني قاجاري دولت يي دي ته تشويق كړ چي افغاني د خرا سان ولايت ا شغال كړي ٠

د انگريزانو د دغو اقداما تو په نتيجه كي د ايران قاجاري دولت د فرا نسي د دولت سيا سي هيأت د ايران څخه و شاړه ، انگريزانو د ايران د دولت څخه وغوښتل چي د ايران د لاري څخه ، هند ته د هر اروپا يي هيواد د لښكرو مخه و نيسي ٠ ايرانيان بايد افغا ني لښكري پري نږدي چي پر هند باندي حمله وكړي ، كه چيري د افغا نستان پا چا زمان شاه پر هند باندي د حملي اراده وكړي ، بايد د ايرن قاجاري دولت د افغا نستان پر خاوري تجاوز وكړي او د خراسان ولايت و نيسي ، انگريزان د خپلي جا سوسي دستگاه په وسيله په افغا نستان كي دننه په دي بريا لي سول چي د افغا نستان دولت مات كړي او د افغا نستان پاچا له منځه يوسي ، د زمان شاه رقيب ياغي شا هزاده محمود د ايرانيانو له خوا تجهيز او افغانستان ته و ليږل سو ، د انگريزانو د دغه فعا ليت په نتيجه كي زمان شاه و وژل سو او د افغا نستان مركزي دولت د منځه ولاړ ، په افغا نستان كي سيا سي او اداري خلا ايجاد سوه ، په هيواد كي داخلي جنگونه پيل سوه او د ايران قاجاري دولت د خراسان ولايت و نيوه ، وروسته بيا انگريزانو خپله تعرضي نقشه چي د افغا نستان د تجزيي او ټوټي كولو له پاره جوړه سوی وه عملي كړه . (٤)

د پنجاب مها را جا (رنجت سنگه) چي په ١٧٩٩ كال كي د زمان شاه له خوا د پنجاب د والي په حيث مقرر سوی و د زمان شاه تر پاچاهي وروسته چي افغانستان په كورني جگړه اخته سو ، رنجت سنگه د انگريزانو په تحريك او حمايه ، پنجاب د يوه خپلواك هيواد په حيث اعلان كړ ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۸۱۲ کال کي د اټك کلا ، د پنجاب سيکانو و نيوله

په ۱۸۱۸ کال کي د ملتان ولايت د سيکانو واکدارانو و نيوې

په ۱۸۱۸ کال کي د کشمير ولايت د سيکانو له خوا اشغال سو

په ۱۸۲۱ کال کي ديره غازي خان او ديره اسماعيل خان د سيکانو حکومت ونيوې .

په ۱۸۳۳ کال کي د پيښور ولايت د سيکانو د حکومت له خوا اشغال سو ٠

پورتنۍ سيمي چي د افغا نستان د خاوري برخي وي او د پنجاب مهارا جا رنجت سنگ لـه خوا نيولــي شوي وي ٠ پــه ۱۸۳۲ کال کــي د هغه تـړون له مخـي چي په

شکار پور کي د افغا نستان د مخلوع پاچا شاه شجاع او رنجت سنگه تر منځ عقد شوې و ، دغي سيمي په پنجاب پوري و تړلي شوي ٠

پــه ۱۸٤۳ کال کــي د سند ولايت د افغا نستان څخه جــلا او د انگريزانــو حکومت ونـيـوې ٠

دبلوچستان ولايت د ۱۸٥٤ کال څخه بيا تر ۱۸۷٦ کال پــوري په تدريج سره انگريزانو اشغال کړ٠

په ۱۸۸٤ کال کي د (مرو) ولايت د تزاري روس له خوا و نيول سو ٠

په ۱۸۷۹ کال د مي د مياشتي پر ۲۶ د گندمك د معاهدي مطابق د (فوشنج) څخه تر (کوړك) پوري ، (کرم) او (لنډي کوتل) د امير محمد يعقوب خان له خوا انگريزانو ته ور کړل سول٠

په ۱۸۸٥ کال کي د (پنجده) سيمه تزاري روسيي و نيوله .

په ۱۸۷۲کال کي د سيستان د ولايت يوه برخه د انگريزي حکم له خوا د ايران دولت ته ورکړه سوه (٥)

په اتلسمي پيړۍ کي هغه دولت چي په افغا نستان کي د ابداليانو د کورنۍ له خوا جوړ سوې و ، او دغه دولت خپله خارجي پالسي د افغا نستان د طبعي حدودو مطابق تثبيته کري وه ، ولي په نولسمي پيړي کي چي ابدالي دولت د منځه ولاړ او د هغه پر ځای د محمد زوو حکومت منځ ته راغي ، د هيواد ساحه د هري خوا څخه مخصوصا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ختیز او جنوب له خوا غوځه سوه تر څو چي اوسنۍ شکل يي اختيار کړ او افغانستان د سند د رود د بحري غاړي څخه پر شا و تمبول شو او په وچه کي يو محصور هيواد سو . (۶)

لومړني تبصره : د افغا نستان جنوبي او جنوب شرقي سرحد چي (۱۵۱۰) ميله دي په ۱۸۹۳ کال کي د ډيورنډ د کرښي په وسيله تثبيت شو

د افغا نستان شما لي سرحد چي ۱٤۸۱ ميله کيږي ، لويه برخه يي په ۱۸۹٦کال کي د پخواني روسي ددولت سره تثبيت شو ٠

د افغا نستان غربي سرحد چې (۵۵۰) ميله کيږي ، په ۱۹۳۵ کال کي د ايران د دولت سره تثبيت سوې دې ٠

د افغا نستان په شمال شرق کي د واخان په سيمي کي د افغا نستان سرحد چي (۵۰) ميله دې په ۱۹٦٤ کال کي د چين د هيواد سره تثبيت شو ٠

دوهمه تبصره : روسانو د ۱۸۸۵ کال د مارچ د مياشتي پر ۳۰ نيټي په يوي خونړۍ جګړي کي چي په هغي کي (۸۰۰) افغانان په شهادت ورسيدل ، د پنجده علاقه و نيوله ٠ د ډيورنډ د بيو ګرافي کتاب دغه پيښه داسي تشريح کوي ٠

روسان په ۱۸۸٤ کال کي د (مرو) په اشغال سره د افغا نستان سرحد ته نور هم نژدي سول ، کله چي روسانو د مرکزي آسيا ريلوي اعمار کړه او بخارا ، سمرقند او تاشکند د دغي امپراتورې يوه برخه سوه نو انګريزان دي نتيجي ته ورسيدل چي اوس روسان په ډيري آسا نۍ سره د مځکي او د بحر له لاري څخه ډير نظا مي قطعات د افغا نستان شمال غربي سرحد ته راوړلای سي ، او برتانوي هند تر لوی خطر لاندي راځي ، نو انګريزانو روسانو ته پيشنهاد وکړ چي بايد د افغا نستان شمال غربي سرحد چي (۲۲٦) ميله کيږي ، بيا د سره څخه تثبيت کړل سي ، چي د دغه کار له پاره د انګريزانو له خوا د ميجر جنرال Sir Peter Lamsden په مشري يو لوی او مجهز هيأت د کوټي ، نوشکي ، هلمند او فراه له لاري څخه د ۱۸۸٤ کال د نومبر پـه مياشت کي د هرات د ولايت د کوهسان ولسوالي ته ورسيدې ٠ او د روسانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا جنرال Zeienoi د هغه هيواد د هيات مشري پر غاړه درلوده ، انگريزانو او روسانو پخوا دا منلي وه چي په دغي سرحدي سيمي كي هره ساحه چي د هر هيواد په لاس كي وي ، هغه ساحه به د هغه هيواد د خاوري يوه برخه وي ۰ چي د پنجده علاقه د افغانستان په تصرف كي وه او د انگريزي هيات مشر لمزدن پخپله پنجده ته ورغلې و او ده داموضوع تا ئيد كړي وه ، په دغي منطقي كي د افغا نانو او روسانو ډير نظامي قوتونه ځاى پر ځاى سوي وو او دواړو خواو پر دغي منطقي با ندي جنگ ته آماده گي نيوله ، د افغا نانو نظا مي قوت چي (۸۰۰) سپاره او (۱۲۰۰) پلي عسكر وو په دي لاندي ډول د جنگ په محاذ كي ځاى پر ځاى سوي وو ۰

الف : د جبهي په كيڼي خوا كي د جنرال غوث الدين خان تر قو ماندي لاندي د هرات د سپرو قوه وه چي يو توپ يي هم درلود ۰

ب : د جبهي په منځ كي د نا يب سالار عبد الرحيم په مشرۍ د پيا ده عسكرو قوه وه .

ج : د جبهي ښي خوا ته د كرنيل شاه مراد خان په مشرۍ د پيا ده عسكرو قوه وه۰

د : په آقتيپه كي د خا صه دارانو ډله ، او دوه توپو نه تعبيه سوي وو ۰

ه : پنځه خفيف توپونه د پل خشتي په شمال شرقي خوا كي ځاى پر ځاى سوي وو .

د افغا نانو اسلحه (دهن پوره) تو پك وو چي اكثر دغه توپك د با ران د اوريدلو په وجه د كاره لويدلي وو . ولي روسانو ډير لوي او مجهز نظا مي قوت د افغا نانو په مقابل كي درولې و .د افغا نانو او روسانو د نظامي قوتونو موقعيت په هغي نقشي كي ځرگنديږي چي د دغه كتاب په ضميمه پاڼو كي راغلي ده۰

روسان د ما رچ د ميا شتي پر ۳۰ نيټې پرپل خشتي باندي د كشك د رود څخه تير سول او په زوره يي پنجده اشغال كړه . په دغي جگړې كي د كرنيل شاه مرادخان په شمول اته سوه افغا نان په شهادت و رسيدل .

دېيورنډ د بيوگرافي په كتاب كي دا هم ليكل سوي دي چي د جنگ د محاذ افغانانو به ويل چي انگريزانو غوښتل چي افغانان او روسان سره وجنگوي ، او دوى افغانان دجنگ له پاره ډير تشويقول ، ولي دوى هيڅ راز مرسته د افغا نانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ده کړي .

د پنجده د حادثي په وخت کي امير عبدالرحمن خان د برتانوي هند د ويسرا (لارډ دوفرين) په بلنه په راولپنډۍ کي و . د ډيو رنډ د قوله په دغه کتاب کي ليکل سوي دي چي ((مونږ ته د پنجده د حادثې خبر د شپې له خوا ناوخته راورسيد او زه په هغه شپه امير عبدالرحمن خان ته ورغلم او ده ته مي د پنجده په جنګ کي د افغا نانو د ظالمانه وژل کيدلو او مخصوصا د افغاني جنرالانو د وژل کيدلو خبر ور کړ ۰ ولي امير عبدالحمن خان د دغي پيښي سره علاقه ونه ښووله او ما ته يي په جواب کي و ويل چي ما ته تکليف مه راکوه ۰ او دايي هم و ويل چي د دوو سوو يا درو زروو افغا نانو وژل کيدل اهميت نه لري او ديوه يا دوو جنرالانو وژل کيدل تر هغه لا هم بي اهميته دي په دي چي افغا نستان ډير جنرالان لري.))

د پنجده حادثي انګريزان او روسان د جنګ سرحد ته نژدي کړل چي په پای کي د ۱۸۸۵ کال د دسمبر د مياشتي پر ۱۰ نيټي د (لارډ سلسبري) او د روس د سفير له خوا په لندن کي يوه معا هده لاس ليك سوه چي د دغي معا هدې پر اساس د پنجده سيمه روسانو ته ورکړه سوه او د ذوالفقار تنګی د افغا نستان د خاوري يوه برخه سوه (د ډيورنډ د بيوګرفي کتاب مخونه ۱۳۳ تر ۱۵۰)

دريمه تبصره ـ د ګندمك معا هده : وروسته تر هغه چي امير شير علي خان د کابل څخه مزار شريف ته ولاړ، او د ۱۸۷۹ کال د فبروري د مياشتي پـر ۲۱ نيـټـي په مزار شريف کي وفات سو ، د ده زوی محمد يعقوب خان خان په کابل کي د افغانستان د امير پــه حيث اعلان کړ . چي وروستـه ده د انګريزانـو سره يــوه معا هده لاس ليك کړه . دغــه معا هــده د اميــر محمد يعقوب خان او د انــګريــز (لوويس کيوناري) تر منځ د جلال آباد د ښار په ۹ ۲ ميلی کي د کندمك په کلي کي لاس ليك سوې ده . (۷)

د دغي معا هدي په وجه د افغا نستان ملي حا کميت او د خاوري تما ميت ته لويه صدمه ورسيدله۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ دډیورنډ د کرښې موافقتنامه

د ۱۸۹۳ کال د نومبر د میا شتي ۲ ۱ نیټه

د برتانوي هند د خارجه چارو وزیر Henry Mortimer Durand دیوه هیأت په مشری د ۱۸۹۳ کال د اکتوبر د میاشتي پر دوهمي نیټي کابل ته ورسید ۰ انګریزانو د مخه تر هغه چي د ډیو رنډ د موا فقتنا مي په باب د افغا ني مقا ماتو سره خبري وکړي دوی د افغا نستان په سرحداتو کي وضعه په خپله ګټه مغشوشه کړه ، دوی په سرحدي سیموکي د اقوامو تر منځ خونړي جګړې پیښي کړي ، انګریزانو د توري د قوم یوه قبیله ، دي ته تشویق کړه چي د نورو اقوامو په مخکو کي د (پټاله) په نا مه یوه نوې واله و کا ږي چي دغه کا ر د هغه ځای د اقوامو تر منځ لوی اختلاف را پیدا کړ . چي مقا بل لورې دخپل حق د دفاع لـه پا ره راو پاڅیدل او یو لـوي خونړې جنګ ومښت .

په ختیزو سیمو کي انګریزانو اعلانونه خپاره کړه او په دغو اعلانونو کي دوی خپلو سرحدي معاش خورو ته لیکل وو چي ، د هغه چا معاش به دوه برابره سي څوک چي د انګریـزانـو دولت تـه یـو اطا عت لیك وړانـدي کـړي . هغه وخت چــي امیـر عبدالرحمن خان دغـه اعلانونـه ولوستل ، نـو یـي خپل سپاه سالار غلام حیـدر خان تـه و لیکل ((که د انګریزانو حیله او فریب او د پیسو پا شل په مسلما نانو کي نه وای ، دوی نه سوای کولای چي د هند اسلا مي هیواد و نیسي ، بیا د سند د رود څخه چي د افغانستان طبعي سرحــد دی را تیر سـي پیښور ، دیره جات او د سند سیمه ونیسي او د افغا نستان خاوره د افغانستان د دولت سره و ویشي)) (۸)

دننګرهار په سرحد کي هم انګریزانو خلګ تحریك کړه چي د (مچني) په سیمي کي یوه واله و کاږي او د هغه ځای د خلګو تر منځ دښمني ایجاد کړي . انګریزانو همیشه هڅه کوله چـي د خپلو اجیرانـو پـه وسیله د ډیـو رنـډ د کرښي پـه دواړو غا ړو کي بي امنیتي جوړه کړي او امیر عبدالحمن خان دي ته مجبور کړي چي د یوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناح دفاع وکړي . د مثال په توگه : کله چي د شينوارو او اتمانزو تر منځ جنگ پيښ سو . امير عبدالحمن خان د سرحد د پوري خوا پر متجاوزينو باندي هجوم ور وړ ۰

د ډيورنډ هيأت څلويښت ورځي په کابل کي پاته سو ، خبري ډيري سړي او په کراره پر مخ تللي ۰ انکريزانو سرحد ته نژدي نظا مي قوتونه د تيار سی په حالت کي درولي وو ۰ امير عبدالرحمن خان ته د انگريزانو پيشنهاد داو چي د دوی جوړه سوي موافقتنامه او نقشه بايد لاس ليك کړي چي د نه امضا په صورت کي به د دواړو هيوادونو سيا سي مناسبات پرې سي ۰ دريم حالت موجود نه و ۰ امير عبدالحمن خان د خان د بقا له پاره دغه موا فقتنا مه لاس ليك کړه ۰ ده د افغانستان د خلگو سره مشوره نه ده کړي . امير عبدالرحمن خان حتي خپل د دربار ما مورين په دغه موضوع نه دي خبر کړي . ده و ړه يـا لويـه جرگه چي د افغا نستان د خلگو نما يندہ گي وکړي نه وه را غوښتي (۹)

د ډيو رنډ د کرښي د موا فقتنامې څخه د انگريزانو اصلي هدف داو چي که روسان د افغا نستان د لاري څخه د هند د نيولو اراده وکړي او يا د امير عبدالرحمن خان تر مرگ وروسته په افغا نستان کي د انگريزانو پر ضد ملي مبارزي پيل سي نو دوی به په ډير سرعت سره د کابل ، غزني او کند هار سترا تيژيکي لاري تر خپل کنترول لاندي وروړي (۱۰)

ډيو رنډ د خپلو خا طراتو په کتاب کي ليکي چي د هند برتانوي هيأت و ظيفه درلوده چي امير عبدالرحمن خان دي ته تشويـق کړي چي خپل عسکر د (روشان) او (شغنان) د سيمو څخه چي د بخا را يوه برخه ده او په ۱۸۷۳ کال کي روسانو ته ورکړه سوې ده ، وبا سي ۰ او هم دي هيات وظيفه درلوده چي د امير عبدالرحمن خان د خوابدي چي د کوړك د غره د تونل او په نوي چمن کي د ريلوې پر جوړولو يي ښکا ره کړې وه له منځه يوسي ۰ د انگريزي هيأت اصلي او مهم هدف د هند د شمال غربي سرحد يعني د ډ يو رنډ د کرښي تثبيت و .

ډيو رنډ د خپل سفر په ارتباط ليکي ((مور د ۱۸۹۳ کال د سبتمبر د مياشتي په نيمايي کي د پيښور څخه حرکت وکړ او زموږ هيأت په لنډی کوتل کي د سپه سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام حيدر خان له خوا پذيرايي سو ، د جلال آباد ، جگدلك او لته بند د لاري څخه کابل ته ورسيدو او په ء اندکي ء کي چي د بابر د مقبري او د چهل ستون د قصر تر منځ واقع و ، ځا ی پر ځای سوو۰ په کابل کي د اوسيدو په وخت کي زموږ تشويش دا و چي که په دغه وخت کي امير عبدالرحمن خان مړ سي او يا و وژل سي نو يقينا موږ به د کيونا ري او د ده د ملگرو په سر نوشت گرفتا ر سو)) دې ليکي ((په کابل کي مذاکرات ډير بطي وو د امير د اسلحه جوړولو ما هر MR. Pyne چې امير ته ډير نژدې و ، زموږ سره ډيره مرسته و کړه ۰ ده به هميشه امير ته مشوره ورکوله چي دی با يد د انگريزي هيأت خبري و مني)) دی اضافه کوي ((يوه ورځ ما د مستر پن څخه پوښتنه وکړه چي ولي امير د سرحد پر موافقتنا مې باندي ژر تصميم نه نيسي ؟ ده زما په جواب کي و ويل چي امير ډير عمده تصا ميم د يکشنبو په ورځو کي نيسي ۰ د مستر پن خبره رښتياوه چي ډيري ورځي وروسته امير په يوي يکشنبي کي د موافقتنا مې منلو ته تيار سو)) (۱۱)

د ډيو رنډ د کرښي موافقتنا مه د ۱۸۹۳ کال د نومبر د ميا شتي پر ۱۲ نيټې امضا سوه دغه موا فقتنا مه اوه مادي او يوه نقشه لري . دا موافقتنا مه د واخان څخه بيا د ايران تر سرحد پوري چي (۱۵۱۰) ميله يا (۲۲۵۵) کيلو متره کيږي د افغانستان ختيز او جنوبي حدود داسي تشريح کوي (۱۲)

د ډيورنډ کرښه د واخان څخه پيل کيږي چي (اسما ر) او پورته وادي تر (چنگ) پورې به د امير عبدالرحمن خان تر اداری لاندي وي ، ولي امير به په (دير) ، (سوات) ، (باجوړ) ، (چترال) او (با شگل) په سيمو کي هيڅکله مداخله نه کوي په وزيرستان کي د (برمل) سيمه امير ته ورکوله کيږي ولي امير بايد د (وزيرو) او (دوړو) په نورو سيمو کي مداخله ونه کړي ۰ په بلوچستان کي د (چاغي) پر اوبه لرونکي سيمي باندي چي امير ادعا درلوده ، امير د خپل ادعا څخه تيريږي او دغه مهمه سيمه انگريزانو ته پريږدي ۰د چمن په سيمي کي پر (نوي چوني) باندي چي امير ادعا درلوده ، دې د خپلي ادعا څخه تيريږي ، او د (سرکي تيلري) په اوبو کي به امير خپله برخه به په پيسو رانيسي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغي سيمي کي به د سرحد کرښه داسي وي چي کرښه به د ء خواجه عمران ء د غره پر سر تيره سي ۰ او دا کرښه به د (پشا کوتل) سره نژدي چي د انګريزانو خاوره ده تيريږي ۰ وروسته دغه کرښه په هغه استقا مت ځي چــي (مرغه چمن) او د (شيرو اوبه) چينه افغانستان ته پريږدي ۰ وروسته دا کرښه د نوي چمن او افغاني تاڼي (لښکرو) تر منځ تيريږي ۰ دا کرښه بيا د ريلوي ستيشن ته ځي او د هغو تپو څخه تيريږي چي اصلي بولدك بلل کيږي ، او د دغه ځای څخه د جنوب خوا ته داسي کږيږي څو بيرته د خواجه عمران د غرونو سلسلي ته ورننوزي ۰ دا کرښه د انګريزانو د (ګواشه) سيمي اود هغه افغاني سړك تر منځ اوړديږي چي ښوراوك ته ځي ۰

د ډيورنډ په موافقتنا مي کي دا هم ليکل سوي دي ۰

۱ ـ وروسته تردي به انګريزان د هغو حربي مهماتو د ورود ممانعت نه کوي چي افغانستان ته وړل کيږي (۱۳)

۲ ـ انګريزان به پر پخوانيو ۱۲ لکو کلدارو امداد چي هر کال به يي امير ته ورکولي ، شپږ لکه نوري کلداري اضافه کوي (۱٤)

امير عبدالرحمن خان د دغي موافقتنا مي په لاس ليك سره څو ميليونه افغانان د افغانستان څخه بيل کړه ، امير عبدالرحمن خان هغه موافقتنامه لاس ليك کړه کومه چي انګريزانو جوړه کړي وه ، چي امير حتي يوه جمله هم پر دغي جوړي سوي موافقتنا مي باندي علاوه نه کړه (۱ ٥)

ځني مؤرخين ليکي چي ا مير عبدالرحمن خان دغه موافقتنا مه د دي له پاره امضا کړه چي دا کرښه دبرتانوي هند د سرحد په حيث نه بلکه د امير د جنوبي او جنوب شرقي ساحي حدود تثبيتول (۱٦)

ا مير عبدالرحمن خان د ډيورنډ د کرښي موافقتنا مه امضا کړه ولي ده د موافقتنامي ضميمه نقشه څکه نــه ده امضا کړي پــه دي چي دی د هغي نقشي د ځينو ټکو سره موافق نه و ۰

تبصره : د ډيورنډ د موافقتنا مي متن چي د کتاب په ضميمه پاڼو کي سته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند محمد حسن کا کړ د نا چاپه یوه اثر څخه اخستل شوي ده ۰

۳ ـ افغانانو د ډیورنډ کرښه نه ده منلي

کله چي د افغا نستان خلگ د ډیورنډ د موافقتنا مي د لاس لیك څخه خبر سو ل دوی د د دغي موافقتنا مي سره خپل مخالفت خرگند کړ۰ د آزاد سرحد خلگو د انگریزانو پر ضد خپلو مبارزاتو ته تر هغه وخته ادامه ورکړه تر څوچي انگریزان د هند د نیمي وچي څخه و وتل ۰ دوی د دغي موافقتنا مي منلو ته حاضر نه سول ۰ د افغانستان خلگ د دغي موافقتنا مي څخه نفرت لري (۱۷)

د وزیرستان خلگو چي د افغانستان او انگریزانو په دریم جنگ کي د دښمن ملا ماته کړي وه ، کله چي دوی د ډیورنډ د موافقتنا مي په لاس لیك خبر سول ، دوی په پکتیا کي د امیر والي سردار گل احمد خان ته د خپل نماینده د وازي خوا د (کشور خان) نومي سړي په لاس یو لیك ولیږي چي په هغه لیك کي داسي لیکل سوي و :

په وزیرستان کي د انگریزانو هوا خواهان وایي چي امیر عبدالرحمن خان د انگریزانو د نماینده ډیورنډ سره یوه موافقتنامه لاس لیك کړي ده چي د ډیورنډ پـــه خوښه یي د (وانه) سیمه د انگریزانو دولت ته ورکړي ده ۰ که دا خبره رښتیاوي نو موږ تا په دي خبر وو چي د وزیرو قوم د انگریزانو د دولت اطاعت نه کوي ، دوی د سردار څخه هیله و کړه چي د دغي موضوع رشتیا او درواغ دوی ته و وایي ، چي وروسته هره فیصله چي د وزیرو قوم لازمه و باله هغه به عملي کړي ۰ سردار گل احمد خان د وزیرو د قوم په جواب کي و لیکل چي ، ده ته د ویش د کرښي د تثبیت اطلاع نه ده ورکړه سوي او که د دواړو هیوادونو تر منځ د ویش د لیکي تصفیه راغلي وي نو دا خلگ چي تا سي ته کوم مطلب وایي دوی باید د خپل قول د اثبات له پاره مهر سوي سند په لاس کي ولري ۰ که دوی مهر سوي سند و نه لري ، تا سي د دوی خبرې په ذهن کي مه ساتئ او ددوی خبري رښتیا مه بولئ ۰

هغه وخت چي امیر عبدالرحمن خان د وزیرو د قوم او خپل والي په مکاتباتو خبر سو ، ده خپل والي او خپل د واقعاتو لیکونکي خلیفه نور محمد ته و ویل چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزيرو قوم ته و وايا ست چي بيله د(مرغه) او (برمل) دسيمو څخه چي د وزيرو او مسعودو سيمي دي ، نور ټول وزيرستان تر دي وروسته په انگريزانو پوري تعلق لري په دي چي په دا تيرو څوارلسو كلونو كي تا سي زه ډير په تكليف كړي يم او هر څومره نصيحت چي به مي تا سي ته كاوه ، گټه يي نه كوله او په آخر كي زه مجبور سوم چي ستا سي سيمه انگريزانو ته وركړم (١٨)

انگريزانو چي د موافقتنا مي پر ضد د آزاد سرحد د خلگو مقاومت وليد ، نو يي د امير عبدالرحمن خان څخه غوښتنه و كړه چي د سرحد د كرښي يوه نقشه د امير له خوا ټولو سرحدي سيمو تـه واستولـه سي څو د ډيورنډ د كرښي ددواړو خـواوو اوسيدونكي په واقعيت خبرسي ٠ امير د انگريزانو دا غوښتنه و منله او په سرحدي ټولو سيمو كي يي اعلانونه خپاره كړه چي متن يي داسي دي :

د انگريزانو يو هيات د هند د خارخه وزير هنري مارتيمر ډيورنډ په مشرئ كابل ته راغلې و ، زموږ تر منځ داسي يوه موافقتنا مه لاس ليك سوه :

د (درواز) ، (روشان) ، (شغنان) او (واخان) په سيمو كي به د سرحد گرښه د ١٨٧٣ كال د موافقتنا مي مطابق وي ، د واخان څخه به دغه كرښه كافرستان او چترال ته ځي وروسته به د (سندك) څخه تيريږي ، د هغه خايه څخه به كرښه د مومندو په غرونو كي چي د مومندو او باجوړو تر منځ پراته دي تيريږي ٠ وروسته د سرحد كرښه د (لواړگي كوتل) او (اشكار علي) ته رسيږي ٠ دا كرښـه وروستـه سپين غره ته خيژي چي د افريدو او شينوارو اقوام سره جلا كوي ٠ د سكپام په نامه د سپين غره پر لوړه څوكه به علامه نصبيږي ٠ بيا دا كرښه (خاخيو) ، (چمكنيو) (خوستيو) او (باتورو) ته ور ځي ٠ وروسته د سرحد كرښه د (خوست) او (دوړ) پولو ته رسيږي او د هغه خايه څخه (برملو) او (وزيرو) ته ځي چي برمله افغانستان ته پريږدي ٠ كرښه د هغه ځاى څخه (تروه) او (كا كړستان) او د هغه ځاى غرونو ته چي سليمان خيل ، كا كړاو وزير سره بيلوي رسيږي ، وروسته د سرحد كرښـه د (تره كو) ، (اندړو) او (توخو) اقوامو سيموته ور ننوزي او د هغه ځاى غرونو ته چي د دغو درو قومونو او كا كړستان ويش دې رسيږي ٠ تر دغه ځاى وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرحد کرښه په بلوچستان کي نوي چمن ، نوشکي ، چاغي او تر ملك سياه کوه پوري ځي ۰

د امير عبدالرحمن خان ټولي خوارې او اعلاميې د خلګو په کړارولو کي مؤثر واقع نه سوې ۰ د سرحد د خلګو مبارزو ادامه پيدا کړه ۰ د موافقتنا مي د لاس ليك کولو په دوهم کال کي د مسعودو قوم په واڼه کي د انګريزانو پر لښکرو باندي بريد وکړ او د انګريزانو يو ټولې عسکر يي و وژل او د انګريزانو چوڼي ته يي اور واچاوه ۱۵۰ ميله ټوپك يي په غنيمت يووړل ۰ انګريزان ډير وار خطا سوه چي خپل د حفا ظت له پاره يي د اټك څخه څلور غونډه مجهز عسکر راوستل۰ د مسعودو قوم د ملا پيونده په مشرۍ خو واره پر انګريزانو حملي وکړي او دوی ته يي ډير تاوانونه ورسول انګريزان پر شا ولاړل ۰ د هند ويسرا په خپله پيښور ته ورغې سرحدي سيمي او لنډي کوتل يي وليدل انګريزانو د مومندو په سيمو کي اشتهارات خپلره کړه او په هغو کي يي خلګو ته د پيسو پيشنهاد و کړ ، خلګو د ملا قديم په مشرۍ د انګريزانو غوښتنه و نه منله او په ء موسي خيلوء ، ء ګدا خيلوء او ء عيسي خيلو ء کي يي د انګريزانو د هوا خواهانو کورونوته اورونه واچول ۰ انګريزانو، ء حليمزو ء ، ء ترنګزوء،ء عيسي خيلوء او نورو اقوامو ته اطلاع ورکړه چي د مومندو غرني سيمه په انګريزانو پوري تړلي سوي ده او وروسته تر دي بايد ددغو ځايونو خلګ د افغانستان سره خپلي اړيکي و شکوي۰ حليم زو د هډې ملا نجم الدين ته مراجعه وکړه ، ده د سعيد محمد خان اوسلطان محمد خان په وسيله د انګريزانو پر ضد تبليغات پيل کړه ، ملايان او قومي مشران د خلګو سره يو ځای سوه ملا نجم الدين چي په آزادو مومندو کي مرکز نيولی و په ټول سرحد کي يي د انګريزانوپر ضد جهاد اعلان کړ۰ خلګو په پيښور او ديره جاتو کي د انګريزانو پر ځايونو حملي پيل کړي ۰ انګريزانو ملا نجم الدين ته پيشنهاد و کړ چي که دې د انګريزانو پر ضد د خپلي مبارزي څخه لاس واخلي او د مومندو قوم انګريزانو ته تابع کړي ، دوی به د مومندو د ټولو سيمو ماليه ده ته ورکړي ۰ ملا نجم الدين د انګريزانو دا پيشنهاد رد کړ او په ښتني نورو سيمو کي لکه يوسفزې ، سوات تر کاکړستان پوري ټول خلګ يي د انګريزانو پر ضد و پارول۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر عبدالرحمن خان چــي د ډيـورنـډ د موافقتنا مــي پــر خلاف د خلګو مبارزي وليدي ، وروسته دی هم د دغي موافقتنا مي سره مخا لف سو او د موافقتنا مي پرضد يي مخالفت پيل کړ٠ده د سرحد د مجا هدينو سره مرستي کولي ، هغوي ته به يي پيسي او اسلحه ورکوله او د ډيرو سيمو خلګ يي د انګريزانو پر ضد و پا رول امير د انګريزانو پر ضد جهادي پاڼي خپرې کړي چي د امير عبدالرحمن خان دا ورو‌ستۍ دريخ د سرحد په مجا هدينو کي مؤثر واقع سو او امير د سرحد مجا هدينو ته نژدي سو ٠ ده مشهور مجا هدين لکه د هډي ملا نجم الدين او ملا پيونده وزيرې او داسي نور کابل ته ور و بلل او په کابل کي يي دوی ډير و نا زول .

داوي د امير عبدالرحمن خان په زمانه کي د ډيو رنډ د کرښي پر ضد د سرحد د خلګو مبارزي چي په اختصار سره و ليکل سوي٠

د دي مبحث په پای کي دا مطلب د يادولو وړ دې چي په وچه کي د محصور افغانستان له پاره بحر ته يوه لاره هميشه د افغانستان د پاچاهانو آرزو وه چي په مختلفو وختونو کي د غو پاچاهانو د تجارت او ترانزيتي مشکلاتو په وخت کي دغه آرزومندي ښکاره کړي ده ٠ د مثال په توګه :

په ۱۸۸۲ کال کله چي امير عبدالرحمن خان د انګريزانو د يوه هيات منلو ته حاضر نه سو نو سمدلاسه د هند انګريزي ويسرا افغانستان ته د نظامي تجهيزاتو پر راوړلو باندي بنديزونه وضع کړل (۱۹)

ا مير عبدالرحمن خان په تاج التواريخ کي په دغه ارتباط ليکلي دي چي ((په هند کي انګريزي حکومت زما هغه توپونه چي په خپلو پيسو مي په هند کي رانيولي دي افغانستان ته د راوړلو اجازه نه راکوي او هم انګريزانو د افغاني تاجرانو د ځينو مالونو لکه وسپنه ، فولاد او مسو د راوړلو مخه هم نيولي ده ٠ دوی وايي چي کيدلای سي چي د دغو اجنا سو څخه په حربي تجهيزاتو کي کار واخستل سي ٠ انګريزان وايي چي تر هغو پوري چي د افغانستان سره پر خپلي دوستی مطمئن نه سي ، افغانستان ته به د داسي اموالو د وړلو اجازه ورنه کړي)) (۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤ ــ د نړۍ د هیوادونو سره د افغانستان مناسبات

د ۱۹۱۹ کال د مارچ د میا شتي پر دریمه نیټه اعلیحضرت امان ا لله خان د افغانستان استقلال اعلان کړ. تر استقلال یوه میاشت وروسته د امان الله خان په لاربښوونه د افغانستان یو هیأت د محمد ولي خان په مشرۍ شوروي اتحاد ، اروپایي هیوادونو او امریکا ته سفر وکړ. دغه هیأت دنده درلوده چي د نړۍ د لویو هیوادونو سره د مستقل افغانستان سیا سي منا سبات ټینګ کړۍ او د هغوو هیوادونو سره تجارتي او فرهنګي قرار دادونه لاس لیك کړۍ. هغه وخت چي افغاني هیأت مسکو ته ورسید د شوروي اتحاد مشر لینن او د شوروي د خا رجه امورو کمیسار ګورګي وچرین د افغاني هیأت سره ولیدل او سمدلاسه یي د افغانستان توی خپلواك هیواد په رسمیت و پیژندی وروسته د ۱۹۱۹ کال د مارچ د میاشتي پر ۲۷ نیټي د افغانستان او شوروي تر منځ د دوستۍ د تړون د خبرو له پاره د شوروي یو هیأت کابل ته سفر وکړ په دغه وخت کي د برتانوي هند یو هیأت هم د افغانستان سره د مشروطي سولي د تړون د مذاکراتو له پاره کا بل ته رسیدلۍ و . د افغانستان خپلواك هیواد خپل د یوه بل ګاونډي هیواد ایران سره هم د ښو منا سباتو غوښتونکی و ولۍ په دغه وخت کي د ایران سره د سیا سي اړیکو د ټینګولو امکان په دي دلیل موجود نه و چي ایران د انګریزانو تر مستقیم نظا مي اشغال لاندي و . افغانستان د ایران سره خپل د سیاسي منا سباتو ټینګیدل یوه بل وخت ته وځنډول (۲۱)

افغاني هیات د فرانسی ، ایتالیا او جرمني د هیوادونو له خوا ښه استقبال سو ، دوی د دغو هیوادونو سره ځو قرار دادونه هم لاس لیك کړل . د ترکیي دولت د افغانستان خپلواك هیواد په رسمیت و پیژندی په نظا مي ، ښووني او روزني او صحي چا رو کي یي د افغانستان سره مرستي پیل کړي .

د افغانستان په برخه کي د برتانوي هند او لندن تر منځ د نظریاتو اختلاف و. برتانوي هند د افغانستان د خپل واکۍ سره موافقه درلوده په داسي حال کي چي د لندن نظر داو چي افغانستان باید د انګریزانو د نفوذ په ساحه کي پاته سي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي د نفوذ څخه ليري و ساتل سي ۰ انگريزانو دخپلي دغي مفكوري مطابق په نړيواله سطحي ديپلوماتيك اقدامات پيل كړل او د نړې د هيوادونو څخه يي غوښتنه وكړه تر څو چي د افغانستان او انگريزانو تر منځ د سولي تړون لاس ليك نه سي د نړۍ هيوادونه بايد د افغانستان دولت په رسميت و نه پيژني (۲۲)

كله چي افغاني هيأت په ايتاليا كي و ، انگريزان مطلع سول چي د ايتاليا دولت تصميم نيولې دې چي د افغانستان خپل واك دولت په رسميت و پيژني او د افغانستان سره قونسلي او تجارتي عهد نا مي لاس ليك كړي ۰ انگريزانو د ايتاليا پر حكومت سمدلاسه احتجاج وكړ ۰ په لندن كي افغاني هيأت د انگريزانو د سا ړه استقبال سره مخا مخ سو ۰ د انگريزانو خارجه وزير Lord Curzon د محمد ولي خان په غوښتنه د افغاني هيات سره وليدل ، ولي دې د افغاني هيأت سره د خبرو كولو له پاره حاضر نه سو او د محمد ولي خان دا غوښتنه يي و نه منله چي دی به د امان الله خان ليك د انگريزانو پا چا King George ته وړاندي كړي ۰ محمد ولي خان ته و ويل سوه چي د امان الله خان ليك بايد په لندن كي د برتانوي هند دفتر ته و سپاري۰چي په دغه ارتباط په كابل كي د افغانستان خارجه وزير محمود طرزي د انگريزانو پر خارجه وزير هنري دابز باندي چي په دغه وخت كي په كابل كي و احتجاج و كړ۰وروسته افغاني هيأت د لندن څخه پاريس ته ولاړ۰ او هلته يي د امريكا د سفير ء كمبل والاس ء سره وليدل . دوی د امريكا سفير ته و ويل ((موږ د افغانستان د خارجه وزير له خوا د امريكا د خارجه وزير په نامه يو ليك د خانه سره راوړي دې او غواړو چي واشنگتن ته سفر وكړو چي دا ليك د امريكا خارجه وزير ته وړاندي كړو . او افغاني هيأت غواړي چي د افغانستان د خپلواكي ږغ په واشنگتن كي د امريكا دولت ته ورسوي او د امريكا د دولت څخه د دواړو هيوادونو تر منځ ددوستانه مناسباتو د ټينگولو غوښتنه وكړي)) د امريكا سفير دمخه تر هغه چي د افغاني هيأت سره و گوري ، په پاريس كي د انگريزانو سفير Lord Hardinge ته د افغاني هيأت د غوښتني اطلاع وركړه او پر دغي موضوع باندي يي د انگريزانو د نظر غوښتنه وكړه۰ دانگريزانو سفيرد امريكا سفارت ته په يوه ليك كي داسي و ليكل ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاريس کي افغاني هيأت د فرانسې د جمهور رئيس او خارجه وزير ام٠ بريند سره ليدلي دي ، نو په دغه لحاظ تاسي نه سې کولای چي د افغاني هيأت سره و نه گورې ، ولي د انگريزانوحکومت نه غواړي چي د نړې هيوادونه د افغاني هيأت سره قراردادونه لاس ليك کړي٠ د انگريزانو سفير په خپل ليك کي زياته کړي وه چي د انگريزانو په نظر افغانستان واقعي آزادي نه لري او تر اوسه د انگريزانو تر سياسي نفوذ لاندي دی ولي ډير ژر به انگريزان او افغانان د سولي موافقي ته ورسيږي ٠ د امريکا سفير پورتني مطلب واشنگتن ته مخابره کړ چي د امريکا د سفير دغه لارښوونه په امريکا کي د افغاني هيأت د سړې پذيرايي موجبات برابر کړل٠

کله چي افغاني هيأت د ١٩٢١ کال د جولای د مياشتي پر ١٢ نيټي نيويارك ته ورسيدې ، نو يي په هغه بندري ښار کي د گمرکي مقاماتو له خوا پذيرايي و سوه٠ افغاني هيات د جولای د مياشتي پر ٢٠ د امريکا د خارجه وزير چارل ايون هگز سره و کتل او په همدغه ورځ يي د امريکا د جمهور رئيس Harding سره هم کتنه و کړه٠ د امريکا خارجه وزير ، جمهور رئيس ته په پاريس کي د امريکا د سفارت راليږل سوي مطالب ټول ويلي وو . ده جمهور رئيس ته دا هم ويلي و چي افغانستان د روس د بلشويك نظام سره دوستانه اړيکي ټينگي کړي دي او شورويانو د افغانستان سره د يوه مليون طلايي روبلو مرسته کړې ده ٠ افغاني هيات د امان الله خان ليك د امريکا جمهور رئيس ته او د محمد طرزي ليك د امريکا خارجه وزير ته وړاندي کړل٠ افغاني هيأت دواړو ته و ويل چي د افغانستان نوې خپل واك هيواد د امريکا د دولت سره د ښو سياسي اړيکو او تجارتي معاملاتو غوښتونکې دې ٠ د امريکا جمهور رئيس او خارجه وزير دواړو افغاني هيأت ته ښه راغلی و وايه او زياته يي کړه چي د امريکا د دولت سره د سياسي مناسباتو ټينگيدل د امريکا د کانگرس په تصميم پوري اړه لري او د امريکا حکومت په دغه برخه کي هيڅ نه سي کولای (٢٣)

افغاني هيأت د امريکا او اروپا تر سفر وروسته بيرته کابل ته ورستون سو٠ امريکا ته د افغاني هيأت د سفر د نتايجو په باب ، د هيأت د غړو تر منځ د نظر اختلاف موجود و٠ د هيات ځينو غړو دا يو کاميابه سفر باله ولي د هيات ډيرو غړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د هغو په جمله کي فيض محمد خان ذکريا هم شامل و د افغاني هيأت دا سفر يي يو نا کامه سفر و باله ٠ فيض محمد خان ذکريا د ترکيي په Vakit نومي اخبار کي داسي ليکلي و چي ((د امريکا دولت د افغانستان سياسي پيژندنه په نيويارک کي د عيسويانو د اتحاديي د مرکزي دفتر په غوښتنه رد کړې ده))

Poulada ليکي چي ، واقعيت دادې کله چي په پاريس کي د انګريزانو د سفير نظريات واشنګتن ته ورسيدل نو د امريکا دولت د افغانستان په برخه کي خپله پالسي داسي عياره کړه چي د انګريزانو دولت د هغه غوښتنه کړې وه . (٢٤)

٥ ـ د پښتونستان موضوع

د پښتونستان موضوع چي د ډيورنډ د موافقتنا مي او د ګندمک د تړون څخه را پيدا سوې ده ، دغه مسئله هم لکه د کشمير موضوع د انګريزانو د استعمار ميراث دی چي د دروو ګاونډي هيوادونو تر منځ يي د نفاق تخم پا شلی د ی٠

د پښتونستان مسئله چي په تيرو پنځوسو کلونو کي کله د پښتنو د خود اراديت د حق په نا مه او کله د پښتوستان د آزادي په نا مه او کله هم د پښتنو او بلوڅو د سياسي سرنوشت په نومونو د افغانستان په خارجي سياست کي ځای درلود ، داسي پيل سوي ده٠

په ١٩٣٠ کال کي د ګردي ميز تر کنفرانس وروسته ، افغانستان پيش بيني و کړه چي په هند کي به يو مسؤل حکومت منځ ته راسي او افغانستان په دي پوهيدی چي انګريزان به قبايلي سيمي او صوبه سرحد بيرته افغانستان ته په دي دليل ورنه کړي چي د دوی په دغه اقدام سره به د هند راتلونکې حکومت ډيرضعيفه سي . (٢٥)

په دغه ارتباط په ١٩٤٧ کال کي د پوهني وزير نجيب الله خان په خپلي راديويي وينا کي و ويل ((د افغانستان حکومت د ١٩٣١ او ١٩٣٤ کلونو تر منځ څو واره د انګريزانو حکومت ته و ويل چي د افغانستان ماوراي سرحد سيمي بايد د هند د خاوري يوه برخه و نه شميرله سي)) ده دا هم و ويل ((کله چي انګريزانو هنديانو ته د هند د قدرت ژر انتقال و مانه، دوی زمونږ د مراجعاتو په جواب کي و ويل ، چي دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت کیدای سي چي په هند کي اساسي تغیرات را منځ ته سي)) (۲۶)

په ۱۹٤٤ کال کي چي په دوهم عمومي جنګ کي د متحدینو کامیابي یقیني سوه ، نو د هند څخه د انګریزانو وتل قاطعیت و موند. په دغه وخت کي د افغانستان حکومت انګریزانوته و ویل چي د پخوانیو امیدواریو پر اساس باید د افغانستان د حکومت سره پر مربوطه مسایلو مشوره وسي ، په دي چي هغه تغیرات چي د هند په نیمه وچه کي پیښیږي ، هغه د ډیورنډ د کرښي د شرقي او جنوبي سیمو پر اوسیدونکو پښتنو باندي اثر کوي ، ولي د انګریزانو جواب هیڅکله د قناعت وړ نه و (۲۷)

Lord Mountbatten له خني تبصري په هغه وخت کي د هند د وروستي ویسرا خوا شوي دي ، ده یه ویل چي ((د افغانستان غوښتونو ته هغه وخت توجه کیږي چي هند آزادي ته ورسیږي)) (۲۸)

د افغانستان حکومت پر دیپلوماتیکو اقداماتو علاوه ، د قبایلي مشرانو او د خدایي خدمتګارانو د تحریك سره هم تماس نیولي و. په ۱۹٤۲ کال کي چي په جهاني جنګ کي انګریزان ډیر زیل سوي وو ، او د هند نیمه وچه د جاپان له خوا تر تهدید لاندي وه په دغه وخت کي یوه افغاني هیات د چار سدې دفیض آباد کلي ته چي د ترونګزو د حاجي (فضل واحد) کلې و ، ورسیدې . افغاني هیات د نژدي دیرشو پښتني مشرانو سره خبري وکړي ، د دوی د خبرو موضوع داوه چي که انګریزان په جنګ کي مغلوب سي نو څه به پیښه سي ؟ هلته دا فیصله هم وسوه چي انګریزانو ته باید و ویل سي چي وروسته تر دي پښتانه په خپله ، خپله دفاع کولای سي . هلته د پښتنو د اتحاد په برخه کي هم یوه فیصله و سوه (۲۹) په ۱۹٤٦ کال کي خان عبدالغفار خان د انګریزانو د کابیني د دي فیصلي سره ، چي صوبه سرحد به د پنجاب یوه برخه وي ، کلك مخالفت وکړ . (۳۰)

د خان عبدالغفار خان ورور ډاکټر خان ، صوبه سرحد ته (د لارد بیتن) د مسافرت په وخت کي و ویل چي د هند د تقسیم په صورت کي به صوبه سرحد ، د پاکستان یوه برخه نه وي . (۳۱)

د صوبه سرحد یوه وزیر قاضي عطا الله خان د اول وار له پاره د پښتونستان موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

په علني ډول ياده کړې ده ، ده ويلي و چي پښتانه بايد يو مستقل هيواد و لري (۳۲)

د ۱۹٤۷ کال د جون په مياشت کي (مهاتما گاندي) د هند ويسرا ته په خپل يوه ليك کي د (پټانستان) موضوع تائيد کړې وه . (۳۳)

د ۱۹٤۷ کال د فبروري د مياشتي پر ۲۰ نيټي د انگريزانو صدراعظم Attlee د يوي ابلاغيي په ترځ کي و ويل چي، هند به د ۱۹٤۸ کال د جون په مياشت کي آزادي ته ورسيږي . (۳٤)

د کانگرس او مسلم ليگ احزابو او د هند ويسرا موافقه وکړه چي د هند نيمه وچه به تجزيه کيږي ۰ د ۱۹٤۷ کال د جون د مياشتي پر دريمي نيټي د برتانيي پارلمان د هند د تجزيي موضوع و منله ۰ د صوبه سرحد په ارتباط داسي فيصله و سوه چي صوبه سرحد به د رفرندم له لاري ، په هند يا پا کستان پوري تړل کيږي (۳۵)

خرنگه چي انگريزانو د خدايي خدمتگارانو غوښتنه و نه منله ، نو دوی په رفرندم کي برخه وانه خسته ۰ د رفرندم انتخابات د ۱۹٤۷ کال د جولای د مياشتي پر شپږمي نيټي پيل او د لسو ورځو له پاره يي ادامه و مونده ۰ دا رفرندم د دين پر اساس وسو چې د يوه سندوخ په خنگ کي قرآن شريف او د بل سندوخ په خنگ کي Granth ايښيودل سوې و ۰

رفرندم يوازي د صوبه سرحد په اداري ساحو پوري منحصر و چي په سلو کي يي نه ځلويښت د هغو سيمو اوسيدونکو ، په دغه رفرندم کي برخه وانه خسته۰ د آزاد سرحد او بلوچستان په سيموکي رفرندم و نه سو ۰

د رفرندم نتايج داسي وو

د صوبه سرحد ټولي رايي	۵۷۲۷۹۸
د پاکستان د الحاق په گټه	۲۸۹۲٤٤ رايي
د هند د الحاق په گټه	۲۸۷٤ رايي
د ټولو رايي ورکونکو شمير	۲۹۲۱۱۸
د نه گډون کونکو شمير	۲۸۰۶۸۰

په سلو کي يو پنځوس خلگو په رفرندم کي برخه اخستي وه (۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان او هند د ۱۹٤۷ کال د آگست په میاشت کي آزادۍ ته ورسیدل، د رفرندم د نتایجو پر اساس د صوبه سرحد د پښتنو سیمي د پاکستان یوه برخه سوه، او د پښتنو مساله د افغانستان او نو ظهوره پاکستان د اختلافاتو ، بارز ټکي سو چي دا ډیر کلونه کیږي چي ادامه لري۰

د هند او پاکستان تر آزادۍ وروسته د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کي د ډیورنډ د کرښي پوري خوا اوسیدونکو پښتنو د سر نوشت د تعیین غوښتنه د انگریزانو د دولت څخه شوې ده خو انگریزانو د افغانستان دغي غوښتني ته مثبت جواب نه دی ورکړی۰ وروسته چي دغه غوښتنه د پاکستان د دولت څخه وسوه، پا کسنانیانو د افغانستان دغه غوښتنه په خپل کورني چارو کي مداخله و بلله ۰

په هغه حساس وخت کي چي په جهاني جنگ کي د افغانستان حکومت دبیطرفي موقف غوره کړې و ، تر جنگ وروسته افغانستان د هغو هیوادوالو د سر نوشت په ارتباط چي په ورستیو کلونو کي د افغانستان څخه بیل کړه شوي وو ، مؤثر تدابیر

ونیول ۰ د ۱۹٤٤ کال د نومبر په میاشت کي د وزیرانو د مجلس یوي غونډي د خارجه وزارت یو پیشنهاد تصویب کړ۰ په دغه پیشنهاد کي لیکل سوي و چي کوم تغییرات چي تر جهاني جنگ وروسته په هند کي پیښیږي ، د دقت وړدي ۰او په پیشنهاد کي دا هم لیکل سوي و چي ، د سبا ورځي د هند په هیواد کي ، د سرحد د پښتنو د مدغم کیدلو مخه باید و نیوله سي ، او د انگریزانو حکومت باید دا لاندي ټکو ته توجه و کړي . (۳۷)

۱ ـ د انگریزانو حکومت باید تعهد وکړي چي د هند د آزادۍ په وخت کي په آزاد سرحد کي د پراختیا هڅي و نه کړي ۰

۲ ـ د انگریزانود حکومت څخه دي تعهد واخستل سي چي د سرحدي قبایلو د امنیت له پاره دي د افغانستان د دولت سره نظامي او مالي مرستي و کړي او د بلوچستان په سیمي کي دي یو بندر افغانسان ته ورکړي ۰

۳ ـ د افغانستان او انگریزانو دولتونه دي تعهد وکړي چي د سرحدي خلگو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرامي ، پرمختيا او مدنيت په برخه كي به يو د بل سره صميمانه همكاري كوي ۰

٤ ـ د افغانستان او انگريزانو حكومتونه دي يو پر بل باندي د نـه تعرض يـو لس كلن تړون لاس ليك كړي او دواړه هيوادونه بايد په هره برخه كي خپل روابط او همكاري ، روښانه كړي ۰

٥ ـ كله چي هند آزادي ته ورسيږي افغانستان ته دي د افغانانو پخواني سيمي د هغو سيمو د اوسيدونكو په خوښه بيرته وركړه سي ۰

دغه پيشنهاد په كابل كي د انگريزانو مختاروزير Sir Giles Sevire ته وركړه سو ۰ده يو كال وروسته د ۱۹٤٥ كال د سبتمبر د مياشتي پر ۱۹ نيټي ، د افغانستان پيشنهاد ته داسي جواب ليكلى و :

۱ ـ په هغه تړن كي چي په ۱۸۹۳ كال كي د انگريزانو د حكومت او امير عبدالرحمن تر منځ لاسليك سوې و ، د ډيورنډ د كرښي ختيزي برخي د آزاد سرحد په شمول په برتانوي هند پوري تړل سوي دي ۰ اوس د انگريزانو حكومت مجبور نه دې چي پر خپلي سيمي باندي د نه حا كميت اطمينان يوه بل هيواد ته وركړي . او د داسي ابلاغيي نشريدل د ډيورنډ د تړون اهميت له منځه وړي ۰

۲ ـ د نړي نـوي انكشافات د سيمي پـر هيوادونو باندي تاثير كوي ، انگريزان په پرنسيپ كــي موافقـه لـري چي د افغانستان د دولت ســره دي نظا مي او مالي مرستي و ســي ۰

۳ ـ نظا مي اتحادي او د نه تجاوز تړونونه د نړي په عمومي سولي پوري اړه لري چي دا ما مول د هيوادونو په سيمه ايزو تعهداتو سره نه سي تا مينيدلاى۰

٤ ـ د بلوچستان په سواحلو كي داسي بندر نه سته چي هغه افغانستان ته وركړه سي كوم بندر چي اوس هلته سته هغه د بلوچستان د امنيت له پا ره جوړ سوې دې .

٥ ـ ولي انگريزانو په دي برخه كي چي د هند د آزادي په صورت كي بايد هغه سيمي چي پخوا د افغانستان څخه جلا كړل سوي دي بيرته افغانستان ته وركړه سي څـه نـه وو ليكلـي .

په وروستيو مذاكراتو كي چي د ۱۹٤۷ كال د جون په مياشت كي په لندن كي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د مختار وزیر سردار محمد نعیم خان او د انګریزانو د صدر اعظم ارنست بیون سره و سوي ، بیون ویلي و چي ، د سرحد موضوع د هند دموضوع یوه برخه ده چي باید پر دغي موضوع باندي د هندي مقاماتو سره خبري و سي۰ سردار محمد نعیم خان ده ته ویلي و چي د رایو ورکولو هغه طریقه چي انګریزان په سرحدي سیمو کي عملي کوي د افغانستان نه ده خوښه ولي چي په داراز رایو ورکولو کي د سرحد خلګ مجبور دي چي په پاکستان یا هند پوري و تړل سي۰ دوی نه سي کولای چي خپل مستقل هیواد و لري ، او دوی نه سي کولای چي په افغانستان پوري و تړل سي . (۳۸)

صدر اعظم سپه سالار شاه محمود خان ، د امریکا د سفر څخه د راتلو په وخت کي په لندن کي توقف و کړ ۰ ده د ۱۹٤۷ کال د جون د میاشتي پر ۳۰ نیټي په یوه ملاقات کي د انګریزانو صدر اعظم ارنست بیون ته و ویل چي په پاکستان پوري د صوبه سرحد پر الحاق باندي افغانان خواشیني سوي دي ۰ افغانستان د هند په نیمه وچه کي د دوو دومینیونوسره مخالف نه دې ولي د آزادې په مجوزه پلان کي پښتنو ته د خپلي خوښي د حکومت جوړولو حق نه دې ورکړه سوې۰ ده ته په جواب کي ارنست بیون ویلي و چي هغه وخت چي د پاکستان دومینیون په کار پیل وکړي افغانستان او پاکستان کولای سي چي د صوبه سرحد موضوع په دوستانه ډول سره حل کړي ۰

د ۱۹٤۷ کال د سپتمبر په میاشت کي د پاکستان د ګورنر جنرال خاص نماینده نواب زاده سعدالله خان کابل ته سفر وکړ ۰ افغاني مقاماتو غوښتل چي د انګریزانو د صدر اعظم د توصیي پر اساس د صوبه سرحد پر موضوع د ده سره خبري وکړي۰ ده افغاني مقاماتو ته و ویل چي ده ته د داسي خبرو اجازه نه ده ورکړه سوي او ده صرف د لاندي اهدافو د تحقق په غرض کابل ته سفر کړي دي ۰

۱ ـ د انګریزانو د سفارت څخه هغه اسناد او اموال واخلي چي په پاکستان پوري اړه لري۰

۲ ـ د پاکستان سفارت په کابل کي پرانیزي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نواب زاده سعدالله خان دا هم و ويل چي د پاكستان دولت خان د انگيزانو د دولت وارث بولي ٠ هغه تړون چي په ١٩٢١كال كي د افغانستان او انگريزانو تر منځ لاس ليك سوی دی ، په هغه تړون كي د ډيورنډ كرښه تانيد سوي ده ، پاكستان دغه تړون د افغانستان او پاكستان تر منځ مرعي الاجرا بولي ٠ افغاني مقاماتو ده ته په جواب كي ويلي و چي پخواني تړونونه افغانستان د انگريزانوسره لاس ليك كړي و ، اوس بايد د پاكستان سره نوي تړونونه لاس ليك سي ٠ په پای كي پر خينو ټكو موافقه وسوه او افغانستان لازمه و بلل چي دمخه تر هغه چي د دواړو هيوادونوتر منځ سياسي مناسبات ټينگ سي افغانستان بايد خپل نماينده د خبرو له پاره كراچي ته و ليږي ٠

افغانستان نجيب الله خان د خبرو له پاره كراچي ته واستاوه ٠ ده د١٩٤٧ كال د نومبر د مياشتي پر ١٧ نيټي په كراچي كي د پاكستاني مقاماتو سره خبري پيل كړي ده په كراچي كي د امريكا د شا رژ دافير مستر لوويس سره هم وليدل او هغه تــه يــي د سرحد پر موضوع باندي د افغانستان دريځ تشريح كړ٠ نجيب الله خان د پاكستان د سكرترجنرال اكرام الله سره د خبرو په وخت كي و ويل چي افغانستان آرزو نه لري چي د سرحد پښتانه د پاكستان څخه بيل كړي ، بلكه افغانستان غواړي چي پښتانه د ننه په پاكستان كي يوه مشخصه صوبه او داخلي آزادي و لري څو خپل سياسي وحدت او قومي هوويت له لاسه ورنه كړي او د پاكستان په نوروو صوبو كي ورك نه سي ٠ د پاكستان سكرتر جنرال ، نجيب الله خان ته و ويل چي پاكستان غواړي چــي د افغانستان پــه مرسته د سرحــد د موضوع لــه پــاره د حل يــوه لاره پيدا كړي ٠

په ١٩٤٩ كال كـي د پاكستان گورنر جنرال خواجـه ناظم الدين په پيښور كي و ويل چي آزاد سرحد د پاكستان نه بيليدونكي برخه ده ٠ د خواجه ناظم الدين دغي وينا د افغانستان او پاكستان د مناسباتو په تاريخ كي يو نوی باب خلاص كړ ، چي تر دغي وينا وروسته د دواړوو هيوادونوتر منځ ، سوړ جنگ پيل سو . (٣٩)

د ډيورنډ د كرښي د پـوري خوا پښتنو سره د افغانستان د خواخوږی څو ټكي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته راوړل کيږي :

ـ د امير حبيب الله خان د سلطنت په وخت کي د آزاد سرحد د پښتنو سره د خون شريکي او ورور ګلوي علايقو پر بنا دوستانه او د خپلوۍ مناسبات پالل کيدل او په مهمو سياسي تصاميمو کــي د سرحــد د خلګو سره مشوره کيده ٠ لکــه چــي پــه کال ۱۹۱٥ کي د سرحد پښتانه هم هغي لويي جرګي ته رابلل سوي وو چي په لومړی جهاني جنګ کي يي د افغانستان بي طرفي تثبيت کړه ٠

ـ د اعليحضرت امان الله خان د سلطنت په وخت کي د سرحدي قبايلو سره د افغانستان سياسي او فرهنګي علايق ورځ په ورځ ټينګيدل او د آسيا په دغه سيمه کي يي د مسلمانانو د آزادۍ او ملي خپلواکی جنډه پورته کړي وه ٠

ـ د محمد نادرشاه د سلطنت په وخت کي د سرحدي اقواموسره دوستانه علايق پالل کيدل ، محمد نادر شاه په (۱ ۹ ۳ ۱)د ۰ ۱ ۳ ۱ ه ش کال د سرطان په مياشت کي د ملي شورا په افتتاحيه وينا کي و ويل ((٠٠٠ کولای سو و وايو چي سرحدي اقوام او موږ د مذهب او قوميت په لحاظ يو شيْ يو ٠ ښايي چي انګريزانو به د افغانستان سره د سرحدي اقوامو همدردي او د دوی سره د افغانانو ورور ګلوي د ډير و پخوانيو کلونو څخه ليدلي او تجربه کړي وي ٠ موږ د دغي همدردۍ څخه انکار نه سو کولای ٠ د سرحدي اقوامو آرامي هروخت زموږ هيله ده)) (٤ ٠)

ـ اعليحضرت محمد ظاهر شاه د ۱۳۲٦ ه ش کال (۱۹٤۷) افغانستان د خپلواکۍ د جشن په وينا کي په دي ارتبا ط و ويل ((... موږ د آزادو قبايلو د سرنوشت څخه بيعلاقي پاته کيدلای نه سو، دوی ته بايد بي له قيد او شرطونو څخه د خپل سر نوشت د ټاکلو حق ورکړه سي))

پاکستان په ۱۹٤۹ کال دجون په مياشت کي خان عبدالغفار خان او د پښتنو نور مشران بنديان کړه ، په قبايلي ايجنسيو کي يي خپل عسکري قوتونه تقويه کړه ، او د افغانستان او پاکستان تر منځ د سولي د خبرو امکانات د منځه ولاړه ٠

افغانستان د ماوراي سرحد د پښتنو د حقوقو په ارتباط خپلي پالسي ته تغيير ورکړ چي د افغانستان په نوي پالسي کي د پښتنو د خپلي خوښي د آزادۍ د حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه تائید کړه سوه ۰

په ۱۹٤۹ کال د آگست د میاشتي پر ۱ ۲ نیټي د افریدیو د قوم په مرکز یعني تیرا کي د قبایلي اقوامو له خوا یوه جرگه جوړه سوه ، په دغي جرگي کي نه یوازي د پښتونستان رغ پورته سو بلکه د پښتونستان نوم او بیرغ په دغي جرگي کي تثبیت سو دافغانستان دولت د قبایلي اقوامو د دغي فیصلي ملاتړ و کړ۰ تر دغي جرگي وروسته هر کال د آگست د میاشتي ۱ ۳ نیټه د پښتونستان د ورځي په نامه په ټول افغانستان کي نماځله کیده ۰

د قبایلي اقوامودغه جرگه د پاکستان د عکس العمل موجب سوه ۰ پاکستان پر مغلگي باندي چي د افغانستان خاوره ده ، بمباري وکړه ۰

په ۱۹٤۹ کال د آگست دمیاشتي پر ۱ ۲ نیټي دافغانستان حکومت لویه جرگه راوغوښته دغي جرگي د ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ موافقتنامه د ۱۹۰۵ کال د امیر حبیب الله خان سره د انگریزانو عهد نامه ، د ۱۹۱۹ کال د راولپنډي د سولي معاهده ، د ۱۹۲۱ کال د افغانستان او انگریزانو تر منځ عهد نامه ، لغوه کړي ۰ دا ټول تړونونه په هغو سیمو پوري اړه لري چي د افغانستان او پاکستان تر منځ د نزاع موجب سوي دي ۰ دغي لويي جرگي د پښتونستان د موضوع ملاتړ و کړ ، د افغانستان حکومت ته یي توصیه وکړه چي دغې ملي موضوع ته خاصه توجه و کړي .

وروسته د ۱۹۵۵ کال لويي جرگي د افغانستان حکومت ته واك ورکړ چي د سینتو د نظامي اتحادیي د احتمالي حملي د مخنوي په خاطر دي د افغانستان له پاره وسله برابره کړي ، په دغه اساس د افغانستان حکومت د شوروي اتحاد او چکوسلواکیا څخه د نظامي مرستو غوښتنه و کړه . (۱ ٤)

د پښتونستان موضوع د افغانستان د راتلونکو حکومتونو د خارجي سیاست اساس و گرځیدې د افغانستان د دغه سیاست په مقابل کي د پاکستان د حکومت له خوا په وچه کي محصور افغانستان د ترانزیتي اموالو د نقل او انتقال په لاري کي ، رنگارنگ مشکلات ایجاد سوه چي افغانستان د خپل خارجي تجارت او انکشافي پروژو د سامان آلاتو د راوړلو له پاره مجبور سو چي یو بل همسایه هیواد شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد ته مراجعه و کړي . (٤٢)

۶ ـ د نظامي اتحادیو په وجه افغانستان تر فشارلاندي راغی

تر دوهم جهاني جنګ وروسته په آسیا کي لاندي دوي نظامي اتحادیي جوړي سوي چي هدف یي په دغي سیمي کي د شوروي اتحاد دنفوذ مخنیوی و ۰ د افغانستان دوه ګاونډي هیوادونه لکه پاکستان او ایران د دغو اتحادیو غړي وو ۰ دواړوو نظامي اتحادیو په وچه کي محصور افغانستان له پاره ډیري سیاسي او اقتصادي ستونزي پیدا کړي او د افغانستان د خارجي سیاست په تغییر کي یي مؤثر رول ولوباوه ۰

۱ ـ د CENTO نظامي اتحادیه : په ۱۹۵۵ کال کي دعراق او ترکیي تر منځ یو نظامي تړون لاس لیك سو ، چي دبغداد د اتحادیي په نامه یي شهرت درلود۰ یو کال وروسته پاکستان ، ایران او انګریزان په دغي اتحادیي کي شامل سوه ۰ امریکا د مشاهد غړي په توګه د دغي اتحادیي سره همکاري کوله ۰ په ۱۹۵۸ کال په عراق کي نظامي کودتا و سوه په ۱۹۵۹ کال کي عراق د دغي اتحادیي څخه و وت او د اتحادیي مرکز انقري ته انتقال سو ، چي وروسته د سینتو یا مرکزي اتحادیي په نامه یادیدی . حسنین هیکل لیکي ، په هغه وخت کي چي په عراق کي کودتا وسوه جمال عبدالناصر په یوګوسلاویا کي و . دغي کودتا د سیمي حالات ډیر بحراني کړه او ددي امکان موجود و چي امریکایان او انګریزان به خپلي قواوي په بیروت او عمان کي پلي کړي . د حالاتو سره د مقابلي په غرض جمال عبدالناصر سمدلاسه مسکو ته سفر وکړ. ده په مسکو کي د خرسچف د یوي پوښتني په جواب کي وویل چي ((موږ د عراق په کودتا خبروو او اوس د سینتو د اتحادي ټول اسناد د مصر لاس ته ورغلي دي)) شورویانو غوښتل چي دغه اسناد دوی ته ورکړه سي ولي جمال عبدالناصر ونه منله . (٤٣)

امریکایانو غوښتل چي افغانستان هم د دغي اتحادیي غړی سي ، خو افغانستان د ایران او پاکستان سره په مناسباتو کي ستونزي در لودلي ۰ ایران د هلمند د رود د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو څخه ډېري اوبه غوښتي په داسي حال کي چي افغانستان د ایران دا غوښتنه نه سوه پر ځای کولای ۰ پاکستان د پښتونستان پر موضوع باندي د افغانستان سره خبرو ته نه حاضریــدې ۰

د افغانستان سیاسي موقف داو تر څو چي د ایران او پاکستان سره اوسني مشکلات موجود وي ، افغانستان نه سي کولای چي د دغو هیوادونو سره په اتحادیو کي شامل سي او افغانستان نه سي کولای چي د یوه جهاني قوت یعني شوروي اتحاد په مقابل کي و دریږي چي د هغه سره (۱٤۸۱) میله اوږد سرحد لري ۰

د سینتو نظامي اتحادیه د معینواهدافو له پاره چي امریکایانو او انګریزانو غوښتل . جوړه سوې وه ۰ خو د اتحادیي نورو غړو د غربي نړي اهداف په نظر کي نه نیول . دوی خپل اقتصادي او تخنیکي ودي ته متوجه وو ، نو ځکه په۱۹٦۱ کال کي دغه اتحادیه منحله سوه او پر ځای یي د منطقوي انکشاف او همکارۍ اتحادیه .R.C.D جوړه سوه ، چي غړي یي ایران ، پاکستان او ترکیي هیوادونه وو ۰

په ۱۹٦۳ کال کي افغانستان د ایران څخه د اقتصادي مرستو غوښتنه و کړه ۰ ولي ایرانیانو افغانستان ته و ویل تر هغو چي افغانستان په (آر . سي. ډي .) کي شامل نه سي تر هغو به د افغانستان سره اقتصادي مرستي و نه سي ۰

۲ ـ دSEATO سیاتو نظامي اتحادیه په ۱۹٥٤ کال کي تاسیس سوه ، دا اتحادیه د آسیا د جنوب ختیز هیوادونو د مجموعي امنیت د پاره جوړه سوې وه ۰ پاکستان ، فلپین، تایلند ، استرلیا ، نیوزیلند ، امریکا ، انګریزان او فرانسي هیوادونه په دغي اتحادیي کي غړیتوب درلود ۰ ولي د سیمي مهمو هیوادونو لکه هند ، اندونیزیا ، برما او مالیزي په دغي اتحادیي کي نه وو شامل سوي . (٤ ٤)

د اتحادیي د یوه تړون پر اساس کمبودیا ، لاوس او جنوبي ویتنام ، د اتحادیي تر نظامي چتر لاندي راوړل سوي وو ۰ د ویتنام په جنګ کي د اتحادیي ټولو غړو د جنوبي ویتنام دفاع و نه کړه ، یوازي امریکا ، استرلیا ، نیوزیلند او فلپین جنوبي ویتنام ته عسکر و لیږل ۰

پاکستان د سیاتو د نظامي اتحادیي څخه ډېر مستفید سو ، پاکستان د اتحادیي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو غړو دا و منله چي د ډيورنډ کرښه د پاکستان بين المللي سرحد دی ٠

په ١٩٧٥ کال کي چي جنوبي او شمالي ويتنام سره يوځای سو ه په ١٩٧٧ کال کي د سياټو اتحاديه منحله سوه . (٤٥)

٧ ـ د عدم انسلاك نهضت

د نړۍ تر استعمار لاندي سيمو کي د مظلوموانسانانو د وحدت او همکاري هڅي ډير اوږد او روښانه تاريخ لري ، چي دلته يي د ليکلو گنجايش نه سته ٠ تر جهاني دوهم عمومي جنگ وروسته د اندونيزيا په شمول په آسيا او افريقا کي ، ډير هيوادونه آزادی ته ورسيدل٠ د آزادۍ په وخت کي د اندونيزيا او هاليند د لښکرو تر منځ خونړي جگړه پيښه سوه ٠

د ١٩٤٩ کال د جنوري په مياشت کي پنځلسو آسيايي هيوادونو په نوي ډلي کي يوه غونډه وکړه ٠ په دغي غونډې کي دغو هيوادونو فيصله وکړه چي د هالينډ په مقابل کي به واحد دريځ غوره کوي ٠ دغو هيوادونو دا فيصله هم وکړه چي په ملگرو ملتونو کي به د منځگړو په حيث خپلو همکاريو ته ادامه ورکوي٠ دغو هيوادونو د نړۍ د ستونزو د حل په لاره کي مخصوصا د کوريا د جنگ په ختمولو کي فعاله برخه واخستله ٠ د هند صدر اعظم جواهر لال نهرو ، د اول وار له پاره د هيوادونو دغي همکاري ته د مثبتي بي طرفي نوم ورکړ . (٤٦)

د اندونيزيا صدر اعظم Ali Sastromidjojo لومړني دولتي مشر و چي په ١٩٥٣ کال د اگست په مياشت کي د خپل هيواد په پارلمان کي د اسيايي او افريقاني هيوادونود ښي همکاري غوښتنه و کړه ٠ د دغي وينا پر اساس د ١٩٥٤ کال د اپريل په مياشت کي د اندونيزيا ، هند ، پاکستان ، سيلون او برما صدر اعظمانو ، د کولمبو په ښار کي يوه غونډه وکړه هلته٠دوی فيصله وکړه چي يوه بله غونډه به د اندونيزيا د Bogor په ښار کي وکړي ٠

د بوگور په غونډې کي تصميم و نيول سو چي د باندونگ کنفرانس ته ځني اسيايي او افريقاني هيوادونه را و بلل سي او لاندي ټکو ته بايد توجه و سي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دریمي نړۍ پر پرابلمونو به خبري کیږي ـ پر نژادي توپیر او استعمار باندي به بحث کوي ـ د اسیایي او افریقایي هیوادونو تر منځ به همکاري جلبوي او د نړۍ د سولي سره به مرسته کوي ۰

د ۱۹۵۵ کال د اپریل د میاشتي د ۱۸ تر ۲٤ نیټي پوري د اندونیزیا د Bandung په ښار کي لاندي ۲۷ هیوادونو د باندونګ په تاریخي غونډي کي برخه واخسته ۰

افغانستان ، برما ، کمبودیا ، سیلون ، چین ، مصر ، حبشه ، ګولد کوست ، هند ، اندونیزیا ، ایران ، عراق ، اردون ، لاوس ، لبنان ، لبیریا ، نیپال ، شمالي ویتنام ، پاکستان ، فلپین ، سعودي عربستان ، سودان ، سوریه ، تایلند ، ترکیه ، جنوبي ویتنام او یمن . (٤٧)

د باندونګ په کنفرانس کي افغانستان فعاله برخه واخسته په دغه کنفرانس کي د افغاني هیات مشري ، سردار محمد نعیم خان پر غاړه درلوده ۰

د ګډ ژوند پنځه اصلونه چي د باندونګ د کنفرانس له خوا تصویب سوه په لاندي ډول وو :

۱ ـ یو د بل د خاوري بشپړتیا او ملي حاکمیت ته به احترام کوي
۲ ـ یو پر بل به تعرض نه کوي
۳ ـ یو د بل په کورنیو چارو کي به مداخله نه کوي
٤ ـ یو د بل سره به مرسته کوي
٥ ـ په سولي کي به ژوند سره کوي

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چي پورته اصلونه یو کال پخوا د ۱۹٥٤ کال د اپریل د میاشتي پر ۲۹ نیټي ، د تبیت په مورد کي د جواهر لال نهرو او چو وین لای له خوا دغه پنځه اصلونه منل سوي وو ۰

حسنین هیکل په خپل اثر کي لیکي چي ((ټاکل سوي وه چي د ۱۹٥٦ کال د مارچ په میاشت کي د آسیایي او افریقایي هیوادونو د غورځنګ دوهمه غونډه ء دوهم باندونګ ء په الجزایر کي جوړ سي . شورویانو ادعا کوله چي دوی یو آسیایي هیواد دی او باید د الجزایر په غونډي کي برخه واخلي ، ولي چینایانو به ویل چي شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد يو اروپايي هيواد دى او په دغه کنفراس کي د گډون حق نه لري ، چي په دغه وجه ددغه غورځنگ غړي پر دوو ډلو وويشل سوه . د چين صدر اعظم چاوان لاى په کنفرانس کي د برخي اخستلو له پاره قاهري ته رسيدلې و چي د جون د مياشتي پر ۹ ۱ نيټي هواري بومدين د بن بلا پر ضد په الجزاير کي کودتا وکړه او د آسيايي او افريقايي هيوادونو د غورځنگ دغه غونډه و ځنډيدله)) (٤ ٨)

شپږ کاله وروسته د ۱۹٦۱ کال د سبتمبر د مياشتي په لومړي ورځ د ناپيلو هيوادونو بل کنفرانس د يوگوسلاويا په مرکز بلگراد کي جوړ سو ٠ په دغه کنفرانس کي د افغاني هيات مشري محمد داود خان پر غاړه درلوده ٠

د بلگراد کنفرانس د سيمي پر اساس نه بلکه د عدم انسلاك د اصولو پر اساس جوړ سوې و٠ هغه هيوادونه چي د نظامي اتحاديو غړي وو دغه کنفرانس ته دعوت نه سوه ٠ د افريقا هغه هيوادونه چي د فرانسي سره يي نژدي اړيکي درلودل په دغه کنفرانس کي د اشتراك څخه محروم سوه ٠ پاکستان او ايران دواړه ، کنفرانس ته و نه بلل سـوه ٠

د بلگراد په کنفرانس کي د اشتراك له پاره د استريا ، سويدن ، آيرليند او لاتيني امريکا څلوروو هيوادونو ته بلن ليکونه استول سوي وو ٠ د دغو هيوادونو څخه کيوبا يو لوى هيات کنفرانس ته ليږلې و ٠ برازيل ، بولوويا او اکوادور ، د مشاهد غړو په ډول په کنفرانس کي برخه واخسته ٠

د بلگراد په کنفرانس کي لاندي ٢ ٤ هيوادونو گډون در لود :

افغانستان ، د الجزائر جلاوطن حکومت ، برما ، کمبوديا ، گيني ، کيوبا ، قبرس ، حبشه ؛ گانا ، گيني ، هند ، اندونيزيا ، عراق ، لبنان ، مالي ، مراکش ، نيپال ، سعودي عربستان ، سوماليه ، سودان ، تونس ، عربي امارات ، يمن او يوگوسلاويا . (۹ ٤)

اوس دغه کنفرانس ٣ ١ ١ اصلي او ٣ ١ مشاهد او ٧ ٢ ميلمانه غړي لري اوس د دغه نهضت په کنفرانس کي ٤ ٢ بين المللي مؤسسي برخه اخلي چي د هغو د جملي څخه ٦ مشاهدي او ٨ ١ ميلمني مؤسسي دي ٠ (٥ ٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ ـ د شورا لنډه تاريخچه

د افغانستان لومړي شورا په ۱۹۳۰ کال د سبتمبر په مياشت کي د محمد نادر خان د سلطنت په وخت کي جوړه سوی وه ، دغي شورا (۱۱۱) غړي درلودل . د شورا ريس عبدالاحد خان مايار د پاچا له خوا انتصاب کړ سو ، پر دغه انتصاب باندي مشهوره ملي مبارز د کندهار وکيل ارواښاد عبدالعزيز خان الکوزي اعتراض وکړ ، او ده د شورا د ريس ټاکل د کيلانو خپل کار بللی و ، چي ددغه اعتراض په وجه بابا عبدالعزيز خان د شورا د غړيتوب څخه و ايستل سو ، په سر کي دی خارجه وزارت ته وليږل سو او وروسته بندي کړ سو او (۱۳) کاله په محبس کي پاته سو او هلته يي ډيري روحي او جسمي شکنجي وليدلي (۵۱)

د شورا اوومه دوره د افغانستان د پارلماني مبارزاتو په تاريخ کي ځانگړی ځای لري ددغي دوري د ملي مبارزينو شمير (۵۰) کسانو ته رسيدی . پوهاند عبدالحی حبيبي مير غلام محمد غبار ، گل پاچا الفت او عبدالرحمن محمودي په دغي دوري کي وکيلان وو . د اوومي دوري ريس عبدالهادي خان داوي و .

د شورا لومړی ۱۱ دوري هره يوه د (۳) کلونو له پاره وه ، تر ۱۹٦٤ کال وروسته د ديموکراسی په دوري کي ، شورا په (ولسي جرگي او مشرانو جرگي) دواړو ته ويل کيدل ، چي (۱۲) او (۱۳) تقنيني دوري به د (٤) کلونو له پاره وي . په دغو دوو تقنيني دورو کي به د ولسي جرگي د غړو شمير (۲۱٦) وکيلان وو .

د شورا او ولسي جرگو ريسان لاندي کسان وو :

عبدالاحد خان مايار ، عبدالهادي خان داوي ، عبدالرشيد خان الکوزی ، محمد نوروز خان ، ډاکټر عبدالظاهر او ډاکټر محمد عمر وردگ .

د شورا دغه ۱۳ تقنيني دوري د محمد داود خان په کودتا سره پای ته ورسيدلي

د لومړي فصل يادداشتونه

۱ ـ مروت ، فضل الرحيم ، په افغانستان کي د کمونيزم ظهور او تکامل ، د کتاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدمي ځخه ۰

۲ ـ غبار ، مير غلام محمد ، افغانستان در مسير تاريخ ، لومړي ټوک، مخ ٤ ٤ ٤

۳ ـ همدا اثر ، مخ ٤ ٤ ٤

٤ ـ همدا اثر ، مخ ۶ ٤ ٤

۵ ـ همدا اثر ، مخ ۷

۶ ـ همدا اثر ، مخ۵ ٤ ٤

۷ ـ مروت ، پورته ياد شوې اثر، مخونه د ۷ ځخه تر ۹ پوري

۸ ـ غبار ، پورته ياد شوې اثر ،مخ ۷ ۸ ۶

۹ ـ همدا اثر ، مخ ۸ ۸ ۶

۱ ۰ ـ کاکړ ، محمد حسن ، سياسي تاريخ... مخ ۱ ۱ ۱

۱ ۱ ـ سايکس ، پرسي ، د ډيورنډ بيوگرافي ، مخونه ۲۰۵ ځخه تر۲۱۷

۱ ۲ ـ مروت ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲ ۳

۱ ۳ ـ غبار ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲ ۹ ۶

۱ ٤ ـ مروت ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱ ۳

۱ ۵ ـ کاکړ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲ ۱ ۱

۱ ۶ ـ همدا اثر ، مخ ۱ ۶ ۱

۱ ۷ ـ غبار ، ذکر شوې اثر ، مخ ۰ ۹ ۶

۱ ۸ ـ همدا اثر ، مخ ۶ ۹ ۶

۱ ۹ ـ مروت ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱ ۳

۲ ۰ ـ مبارز، عبدالحميد ، تحليل واقعات سياسي افغانستان ، مخ ۱ ۸ ۲

۲ ۱ ـ پولادا ، افغانستان او امريکا ، مخ ۶ ۳

۲ ۲ ـ همدا اثر ، مخ ۸ ۳

۲ ۳ ـ همدا اثر ، مخ ۰ ٤

۲ ٤ ـ همدا اثر ، مخ ۱ ٤

۲ ۵ ـ مروت ، ذکر شوې اثر، مخ ۰ ۷ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ۶ ـ مروت ، همدا اثر ، مخونه د ۲ ۷ ۰ څخه تر ۲ ۷ ۱

۲ ۷ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۰

۲ ۸ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۱

۲ ۹ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۱

۳ ۰ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۲

۳ ۱ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۳

۳ ۲ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۳

۳ ۳ ـ همدا اثر ، مخ ۳ ۰ ۶

۳ ٤ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۳

۳ ۵ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۳

۳ ۶ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ۷ ۳

۳ ۷ ـ نعیم ، محمد عزیز، د مجاهد ولس د ۱۹۹٦ کال د جولای د میاشتي گڼه

۳ ۸ ـ نعیم ، د مجا هد ولس د ۱۹۹٦ کال د سبتمبر د میاشتي گڼه

۳ ۹ ـ همدا اثر ۰

٤ ۰ ـ خلمي ، محمد ولـــي ، د افغا نستان او روسيي د سیا سي روابطو لنډه تاریخچه مخ ۱ ۸ ۰

٤ ۱ ـ غوث ، عبدالصمد ، د افغانستان سقوط ، مخ ۷ ۳

٤ ۲ ـ مبارز ، ذکر شوي اثر مخ ۲ ۸ ۱

٤٣ ـ هیکل ، حسنین ، ابوالهول او کمیسار، د محمد آصف اکرام ژباړه په ۱۹٦۷ کال کي خپور شوی ، مخونه ۹ ۶ تر ۱ ۰ ٤

٤ ٤ ـ د امریکا دایرت المعارف ، شپږم ټوك ، مخ ۱ ۸ ۷

٤ ۵ ـ همدا اثر ، ټوك ۲ ۵ مخ ۲ ٤ ۳

٤۶ ـ د مارلین لورانس تصحیح ، بیطرفي او عدم انسلاك ، مخ ٤

٤ ۷ ـ همدا اثر ، مخ ۲ ٤ ۶

٤ ۸ ـ هیکل ، ذکر سوي اثر مخ ۱ ۵ ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤٩ ـ د لورانس ذكر شوې اثر ، مخ ٩ ٤ ٢

٥٠ ـ د نانا سفرنا ؛ د خطابي متن ، د عدم اسلاك نهضت ، مخ ٢

٥١ ـ غبار ـ ذكر شوى اثر ـ مخ ١٠٤ دوهم ټوك

دوهم فصل

ب : د محمد داود خان د صدارت دوره

١ ـ د محمد داود خان حکومت

١٩٥٣ ــ ١٩٦٣

اروابناد محمد داود خان د سردار محمد عزيز خان زوى دى ، په ١٩٠٩ كال په كابل كي زيږيدلى دې ٠ ده متوسطه تحصيلات د استقلال په ليسي كي سر ته رسولي دي ٠ په فرانسي كي يي د مهندسي په ځانګي كي درس ويلې دې او د كابل په نظامي تعليمګاه كي يي نظامي زده كړه كړي ده ٠

دى په ١٩٣٤ كال د مشرقي د ولايت ، نايب الحكومه سو ٠ په ١٩٣٥ كال د كندهار د ولايت د نايب الحكومه په حيث مقرر سو ، د ١٩٣٩ كال څخه تر ١٩٤٧ كال پوري د مركزي قواوو قوماندان و ٠ پـه ١٩٤٨ كال كي د يوه كال له پاره داخله وزير سو ، دڅه مودي له پاره په پاريس كي افغاني سفيرو . د ١٩٤٩ كال څخه تـر ١٩٥٣ كال پوري دشاه محمود خان په كابيني كي ددفاع وزير و ٠

محمد داود د ١٩٥٣ كال د سبتمبر پر شپږمي نيټي ، د كابيني په جوړولو مؤظف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ سو ۰ دی یو وطن پرست او د عیاشۍ او رشوت خوري څخه یو مبرا افغان و ، صادق مسلمان او ډیر باتقوا و ۰ دی د رهبري سوي اقتصاد طرفدار و او په عین حال کي یي زمینداري او خصوصي سرمایه داري هم تقویه کوله ۰ دی د هغو کسانو سره چي امتیازات یي د خان له پاره غوښتل ښه نه و ، حتي ده د خپل فامیل د امتیازاتو سره مخالفت کاوه ، ده د خپل نامه څخه د والاحضرت لقب رسما لیري کړی و ۰

محمد داود خان غوښتل چي د افغانستان څخه یو مترقي ، د سیاسي ، اقتصادي او اجتماعي پلوه پر خپلو پښو ولاړ هیواد جوړ سي ۰ ده غوښتل چي په هیواد کي دي افراط او تفریط ورك سي او د ژوندانه په وسیلو کي د منظمو اقتصادي او سیاسي پلانونو په جوړولو سره تعدیلات منځ ته راسي .

په خارجي سیاست کي ده د افغانستان د ګوشه ګیرۍ او عنعنوي منزوي سیاست څخه د نیکمرغه او هوسا ژوند کولو په هڅه مخ واړاوه . (۱)

په دغه وخت کي چي محمد داود خان د افغانستان صدر اعظم سو په نړۍ او سیمي کي ډیر لوی او عظیم تحولات رامنځ ته شوي وو ۰

د دوهم جهاني جنګ په نتیجه کي المان ، جاپان او ایتالیا ماته و خوړله ، د نړی دوه نور استعماري قوتو نه لکه انګریزان او فرانسه په جنګ کي ډیر متضرر سوه او خپل مستعمرات یي له لاسه ورکړه ۰ دوو نورو جهاني قوتونو لکه امریکا او شوروي اتحاد په نړی کي ظهور و موند۰

امریکا چي د جنګ د میدان څخه لیري و ، په جنګ کي ډیر متضرر نه سو ۰ امریکا د لویدیزي اروپا د هیوادونو په حمایه او آزادولو کي لویه برخه واخسته ۰ د جاپان د یوریشیما او نګا سا کي پر ښارونو یي اتومي وسله استعمال کړه او جاپان یي د جګړي پریښوولو ته مجبور کړ ۰ په جنوب ختیز کي یي تر فلیپین پوري د جاپان متصرفات و نیول.۰

شوروي اتحاد هم د یوه فاتح هیواد په بڼه پر ختیزي اروپا او نیمایي کوریا باندي مسلط سو ۰ چین چي د شوروي اتحاد متحد و هغه هم پـه دغـه وخت کـي خپل انقلاب ثمر ته ورساوه . (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا او شوروي اتحاد چي په دوهم جهاني جنگ کي سره متحد وو تر جنگ وروسته پر جهاني مسایلو یو د بل رقیبان سول ، هر یوه غوښتل چي د نړي هیوادونه تر خپل سیاسي او اقتصادي نفوذ لاندي ورولي ۰

د انگریزانو د دوهم جهاني جنگ د وخت صدر اعظم Wiston Churchill د ۱۹٤٦ کال د مارچ د میاشتي پر پنځمي نیټي ، د امریکا د ء مزوري ء د ایالت په ویستمنستر کالج کي په خپل یوي مشهوري وینا کي چي د وسپنیزه پردې په وینا شهرت لري ، د نړي ټول هیوادونه د کمونیزم راتلونکو خطرونو ته متوجــه کړه ۰ چــې تــر دغـــي ویـنـاوروسته په نړي کي سوړ جنگ پیل سو . (۳)

امریکایانو د لویدیزي اروپا د بیا ودانولو له پاره د مارشال پلان جوړ کړ ، چي د دغه پلان په وسیله یي په لږ وخت کي یعني د ۱۹٤۷ کال څخه تــر ۱۹۵۲ کال پوري جنگ زپلي لویدیزه اروپا پر خپلو پښو و درولهٔ۰

امریکایانو د دي له پاره چي په نړي کي د شورویانو د نفوذ او پراختیا مخه و نیسي ، د شوروي اتحاد پر شا او خوا یي دNATO, SEATO,CENTO نظامي اتحادي جوړي کړي دا اتحادي د غربي اروپا ، منځني آسیا او د آسیا تر جنوب ختیز پوري د یوه ځنځیر په شکل سره تړلي سوي وې ، چي پاکستان او ترکیه د دغه ځنځیر د اتصال کړي وې۰ شورویانو د ناتو د اتحادي سره د مقابلي له پاره ، د ختیزي اروپا د هیوادونو په گډون د وارسا نظامي اتحادیه جوړه کړه ۰

د بلي خوا څخه تر جهاني جنگ وروسته ډیر آسیایي او افریقایي هیوادونه چي پخوا د اروپایانو تر استعمار لاندي وو ، آزادي ته و رسیدل ، په دغو خپلواکو هیوادونو کي ډیر تکړه ملي مبارزین لکه د مصر جمهور رئیس جمال عبدالناصر ، د اندونیزیا جمهور رئیس عبدالرحیم سوکارنــو او د هند صدر اعظم جـواهــر لال نهرو قــدرت تـه و رسیدل ۰

نوو آزاد سوو هیوادونو د خپل اقتصادي پرمختیا او ملي حاکمیت د خوندي ساتلو له پاره فیصله و کړه چي د ختیز او لویدیز قوتونو په نظامي او مفکوروي ډلو ټپلو کي نه شاملیږي ۰ او د خان له پاره یي د عدم انسلاك لاره غوره کړه ، دوی په دي فکر کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه چي آزاد شوي هيوادونه بايد يو د بل سره نژدي سي ، آزاد قضاوت ولري او په جهاني مسايلو كي فعاله برخه واخلي ٠ په دغه اساس د عدم انسلاك د نهضت لومړۍ غونډه په ١٩٥٥ كال كي په باندونګ كي جوړه سوه ٠

په شوروي اتحاد كي چي د ستالين تر مړيني وروسته يو څه تحولات راغلي وو ، دوی نوو آزاد سوو هيوادونو ته د نژديوالي په غرض ، په خپل خارجي سياست كي د ګډ ژوند پالسي غوره كړه ٠ ځرنګه چي د عدم انسلاك مفكوره د خارجي استعمار او استثمار پر ضد مفكوره وه او په نظامي اتحاديو كي د شمول مخالف و ، نو دا دواړه ټكي د شورويانو د تائيد وړ وو خو غربي هيوادونو دا دواړه ټكي په خپل ضد بلل ٠ شورويانو د ناپيلو هيوادونو سره اقتصادي او فرهنګي مرستي پيل كړي او د دغه نهضت د پياوړي كولو له پاره يي ډيري هلی ځلی و كړي ٠

د دوهم جهاني جنګ په نتيجه كي د هند نيمه وچه هم آزاده سوه ، او د هند او پاكستان هيوادونه هم جوړ سوه ٠ خرنګه چي د نړي په ډيرو سيمو كي د انګريزانو ځای امريكايانو و نيوې نو په دغه اساس پاكستان د امريكا يو متحد هيواد سو ٠

په دغي مرحلي كي افغانستان د دوو لويو قطبونو تر منځ چي امريكا او شوروي اتحاد وو واقع سو ٠ افغانستان ته ډيره مشكله سوه چي يوې خوا ته ولاړ سي او د بل جهاني قوت په مقابل كي و دريږي ٠ د پورته ذكر سوو علتونو په وجه ، افغانستان خپل پخواني خنثي عنعنوي خارجي سياست پرينښووی ، او د نوو آزاد سوو هيوادونو په ډله كي و دريد او په ١٩٥٥ كال كي يي د باندونګ په كنفرانس كي فعاله برخه واخستله ٠

خرنګه چي په دغه وخت كي د سيمي سياسي او نظامي حالاتو تغيير كړی و ، افغانستان د خپل استقلال ، د خاوري تماميت او ملي امنيت د ساتلو له پاره مجبور سو چي د امريكا څخه د وسلو د رانيولو غوښتنه و كړي ، ولي امريكا ، افغانستان ته د نظامي مرستو د وركولو خخه ډډه و كړه ٠ دوی افغانستان ته و ويل ، ترهغو چي افغانستان د پاكستان سره مخالف وي ، امريكا د افغانستان سره نظامي مرستي نه سي كولای٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹٥٤ کال کي د امريکا د جمهور رئيس مرستيال Richard Nixon افغانستان ته سفر و کړ او د افغانستان سره يي د نظامي مرستو مخالفت اعلام کړ او د امريکا مرستي يوازي د هلمند د ناوي د انکشاف مرستو ته محدودې پاته سو ي ۰

د امريکا د خارجه وزارت مرستيال George Mcghee په خپل کتاب کي ليکلي دي چي ((په ۱۹٥۱ کال کي سردار محمد نعيم خان ما ته و ويل چي زه نن د دي له پاره ستا دفتر ته راغلی يم چي د نظامي مرستو په ارتباط ستاسي سره خبري وکړم ، چي که امريکا د افغانستان له پاره نظامي مرستو ته حاضر نه سي ، افغانستان مجبوره دې چي د نظامي مرستو له پاره د شورويانو سره خبري و کړي) دی اضافه کوي چي (ما سمدلاسه خپل سکرتر ته و ويل چي د شوروي اتحاد د سفارت د تليفون نمره پيدا کړي او ما ته يي راکړي ، ده دا کار و کړ ۰ ما د شوروي د سفارت د تليفون نمره پر کاغذ و ليکله او هغه مي سردار محمد نعيم خان ته ورکړه)) (٤)

افغانستان د امريکا څخه تر هغه وخته مخ وانه ړاوه ، تر څو چي امريکا د افغانستان مخالف هيواد ، پاکستان سره ډيري نظامي او نوري مرستي و کړي .

د امريکا خارجه وزير John Foster Dulles چې د عدم انسلاك د نهضت دښمن و ، په ۱۹٥٦ کال د جون د مياشتي پر ۹ نيټي په يوګوسلاويا کي وويل ((هر هغه هيواد چې د امريکا ملګرې نه وي هغه هيواد د امريکا دښمن دی)) دده په قول تر هغو چي افغانستان د سينتو د اتحاديي غړی نه سي ، امريکا افغانستان د خپل ملګرو په ليست کي نه شاملوي۰

محمد داود خان په ډيره ميړانه مقاومت و کړ او د نړي د ناپيلو هيوادونــو سره و دريد او په دي لاري کي يي لوی ګامونه واخستل ۰ دی مجبور سو چي د مرستو له پاره شوروي اتحاد ته مخ واړوي ۰ ده په ۱۹٥۳ کال کي د شوروي اتحاد صدر اعظم بولګانين او د کمونست ګوند منشي خرسچف افغانستان ته دعوت کړه ۰ شوروي اتحاد سل مليونه ډالره په دوه نيم فيصده تکتانه ، افغانستان ته پور ور کړ۰ افغانستان لومړنی اقتصادي پلان پيل کړ ، چي په هغه کي د کابل د ښار د سړکانو قير ، د څښلو د اوبو شبکي، د کابل د سيلو اعمار ، د جنګلك فابريکي ، د اوبو بندونه ، د برق

(c) ketabton.com: The Digital Library

توليدات ، د لويو لارو جوړول، د سالنگ تونل ، د کابل هوايي ميدان او څو نوري پروژې جوړې سوې ۰

وروسته تر هغه دوهم اقتصادي پلان ته توجه و سوه ، د دغه پلان د تطبيق له پاره د فني پرسونلو او متخصيصينو کمبود و ۰ د دغي نقيصي د رفع کولو له پاره د معارف ډير فارغان د تحصيل په غرض شوروي اتحاد او د شرقي اروپا نورو هيوادونوته د تحصيل له پاره واستول سول ۰ او په عين حال کي افغاني محصلين ، هند او غربي اروپا ته هم و ليږل سول ۰ محمد داود خان غوښتل چي د ټولو هيوادونو سره ، ښه مناسبات ولري خو څني هيوادونه د امريکا تر تاثير لاندي وو ، نو ځکه يي د افغانستان سره لازمي مرستي نه کولي . (٥)

په ۱۹٥٥ کال کي د پاکستان مرکزي حکومت ، په لويديز پاکستان کي يو يونټ اعلان کړ ، په دغه يونټ کي صوبه سرحد او بلوچستان دواړه په پنجاب پوري وتړل سول . په کابل ، جلال آباد او کندهار کي د يو يونټ پر ضد مظاهري و سوي او مظاهره کونکي د پاکستان په سفارت ورننوتل ، د سفارت ښيښې يي ماتي کړې او د هغه هيواد بيرغ ته يي اور واچاوه۰

پاکستان په مقابل عمل لاس پوري کړ، پاکستانيان په پيښور کي په افغان بيلډينگ ورننوتل او د هغي ودانۍ په دهليزو نو کي يي د تفنگچي فيرونه وکړه۰

دلته دامطلب د ليکلو وړ دی چي په (افغان بيلډنگ) کي د افغاني قونسلگرۍ او وکالت التجاري دفترونه وو ، د پاکستانيانو تر تجاوز وروسته افغان بيلډنگ بي د مرکز د اجازي څخه په پيښور کي د افغاني مامورينوله خوا رنگ او ترميم کړ سو چي په دغه وجه د تجاوز آثار د منځه ولاړه ۰ په پيښور کي د افغاني مامورينو دغه عمل د خارجه چارو د وزارت د انزجار باعث سو ، خارجه وزارت د عبدالرحمن پژواک په مشري يو هيأت پيښور ته وليږي ، د تحقيق په وخت کي قونسل غلام حسن ساپي د ملامتۍ با ر پر وکيل التجار عبدالرزاق فراهي واچاوه او وکيل التجار د سردار محمد نعيم خان تر ډير قهر او غضب لاندي راغی او د کاره څخه ليري کړ سو .

د دغه کال د سبتمبر په مياشت کي د سعودي عربستان ، مصر او عراق د دوستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هڅو په نتيجه کي ، په کابل ، جلال آباد او پيښور کي د افغانستان او پاکستان بيرغونه د دواړو هيوادونو د ګډ هيات له خوا ، جګ کړل سوه٠

په ١٩٥٥ کال کي په کابل کي يوه لويه جرګه جوړه سوه ، دغي لويي جرګي حکومت ته توصيه وکړه چي د نظامي اتحاديو د احتمالي تجاوز د مخنيوي په خاطر بايد د افغانستان اردو تقويه سي ٠ دغي لويي جرګي د افغانستان د خارجي سياست په تغيير کي مهم رول ولوباوه٠

په ١٩٥٦ کال د آګست د مياشتي پر ٢٥ نيټي د وسلو اخستلو لومړي قرار داد د شوروي اتحاد او چکوسلواکيا سره لاس ليك سو ٠

په ١٩٥٦ کال کي د افغانستان او چين تر منځ سياسي مناسبت ټينګ سوه ، د چين هيواد د افغانستان سره اقتصادي او تخنيکي مؤثري مرستي وکړي ٠

په ١٩٥٦ کال کي د افغانستان او امريکا تر منځ د هلمند د ناوي د پراختيا له پاره د يو نيم مليونودالرو په اندازه د يوه پور قرار داد لا س ليك سو ٠

په ١٩٥٨ کال کي غربي المان د افغانستان سره د قدر وړ مرستي وکړي ٠

په ١٩٥٨ کال کي صدر اعظم محمد داود خان ، امريکا ته سفر و کړ ٠ ده هيله درلوده چي امريکا به افغانستان ته نظامي مرستي ورکړي ، ولي امريکا پر خپل موقف ټينګ پاته سو او د افغانستان سره يي نظامي مرستي و نه کړي ٠

په ١٩٥٩ کال کي افغانستان د فرانسي او جاپان ، او په ١٩٦٠ کال کي د ايتاليا سره اقتصادي او فرهنګي قرار دادونه لاس ليك کړه ٠

د ١٩٥٩ کال د نومبر په مياشت کي د امريکا جمهور رئيس ايزن هاور کابل ته سفر و کړ ٠

په ١٩٦١ کال کي محمد داودخان د ناپيلو هيوادونو په غونډي کي چي په بلګراد کي جوړه شوي وه ، برخه واخستله ٠

د امريکا په مرستو کي د کابل ـ کندهار او سپين بولدك د لويو لارو ساختماني چاري ، د کابل ـ تورخم لويه لاره ، د کابل پوهنتون وداني او د هلمند د ناوي د پراختيا پروژي شاملي وي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ته د شوروي اتحاد د پورونو اندازه د ۱۹۵٦ کال څخه تر ۱۹٦٥ کال پوري ، یونیم ملیاردو دالرو ته ورسیده . (۶)

په پای کي دا مطلب د ذکر وړ دي چي د افغانستان په دوهم اقتصادي پلان کي د تیلو او گازو تولید ته د اولیت حق ورکړ سو ۰

د محمد داود خان د حکومت ترکیب

صدر اعظم	محمد داود خان	۱۹۵۳ـ۱۹۶۳
لومړی مرستیال	علي محمد خان	۱۹۵۳ـ۱۹۶۳
دوهم مرستیال	سردار محمد نعیم	۱۹۵۳ـ۱۹۶۳
خارجه وزیر	سردار محمد نعیم	۱۹۵۳ـ۱۹۶۳
د دفاع وزیر	جنرال محمد عارف	۱۹۵۳ـ۱۹۵۴
	محمد داود خان	۱۹۵۴ـ۱۹۶۳
داخله وزیر	محمد داود خان	۱۹۵۳ـ۱۹۵۵
	عبدالحکیم شاه عالمي	۱۹۵۵ـ۱۹۵۸
	سید عبدالله خان	۱۹۵۸ـ۱۹۶۳
عدلیه وزیر	نه و	۱۹۵۳ـ۱۹۵۵
	سید عبدالله خان	۱۹۵۵ـ۱۹۶۳
د مالیي وزیر	عبدالملك عبدالرحیمزي	۱۹۵۳ـ۱۹۵۷
	عبدالله ملکیار	۱۹۵۷ـ۱۹۶۳
د تجارت وزیر	عبدالرؤف حیدر	۱۹۵۳ ـ ۱۹۵٤
	عبدالملك عبدالرحیمزي	۱۹۳٥٤ـ۱.۹۵۷
	عبدالله ملکیار	۱۹۵۷ـ۱۹۵۸
	غلام محمد شیرزاد	۱۹۵۸ـ۱۹۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهني وزير	ډاکټر عبدالمجيد خان	۱۹۵۳-۱۹۵۵
	ډاکټر علي احمد پوپل	۱۹۵۵-۱۹۶۳
د فوايد عامي وزير	عبدالحکيم شاه عالمي	۱۹۵۳-۱۹۵۵
	محمد کبير خان	۱۹۵۵-۱۹۶۳
د روغتيا وزير	ډاکټر غلام فاروق خان	۱۹۵۳-۱۹۵۵
	ډاکټر عبدالظاهر خان	۱۹۵۵-۱۹۵۸
د مخابراتو وزير	عبدالحکيم شاه عالمي	۱۹۵۳-۱۹۵۴
	محمد مريد خان	۱۹۵۴-۱۹۶۳
دکانو وزير	ډاکټر محمد يوسف خان	۱۹۵۳-۱۹۶۳
د کرني وزير	مير محمد يوسف خان	۱۹۵۳-۱۹۵۸
	غلام حيدر عدالت	۱۹۵۸-۱۹۶۳
د مطبوعاتو مستقل رئيس	صلاح الدين سلجوقي	۱۹۵۳-۱۹۵۵
	محمد هاشم ميوند وال	۱۹۵۵-۱۹۵۶
	سيد قاسم رشتيا	۱۹۵۸-۱۹۶۰
	محمد آصف سهيل	۱۹۶۰-۱۹۶۳
د پلان وزير	محمد داود خان	۱۹۵۷-۱۹۶۳
د قبايلو مستقل رئيس	سيد شمس الدين مجروح	—— ——

(۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ د صدارت څخه د محمد داود خان استعفا

د ۱۹۶۳ کال د مارچ د میاشتي ۷ نیټه

ډیر افغانان د محمد داود خان د استعفا دلیل دا بولي چې د افغانستان د صدارت په چوکي کي د پاچا اکاګان او د اکا زامن په نوبت مقرریدل ، چي تر محمد داود خان وروسته د مارشال شاه ولي خان د زوی ، سردار عبدالولي نوبت و او محمد داود خان نه غوښتل چي سردار عبدالولي د افغانستان صدر اعظم سي ، نو ده پاچا ته پیشنهاد وکړ چې د ۱۹۳۱ کال پر اساسي قانون تجدید نظر وسي ، په هیواد کي دي دیموکراسي راسي او خلګو ته دي د حزب جوړولو اجازه ورکړه سي ۰

دغه ډله افغانان په دي عقیده هم دي ، چي د دیموکراسې په صورت کي به محمد داود خان یو لوي حزب جوړ کړې وای او د دغي لاري بـه دې بیرتـه قدرت تـه رسیدلې وای او د یوه ملي قاید په څیر به یي د ډیر وخت له پاره قدرت انحصار کړې وای ۰ (په ۱۹۵۹ کال کي محمد داود خان د حقوقو د پوهنځي د شاګردانو په یوي ټولني کي چې زه هم هلته حاضر وم ، و ویل چې اوس د دي وخت رارسیدلې دې چي په هیواد کي د اقتصادي تحولاتو تر څنګ ، اجتماعي تحولات هم راوړل سي .)

محمد داود خان د ۱۳٤۱ ه .ش . کال د سرطان د میاشتي پر ۹ نیټي (۱۹۶۲)کال اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته یو پیشنهاد و ړاندي کړ ، ده پر اساسي قانون داسي تجدید نظر پیشنهاد کړې و :

۱ ـ د قانون پوهانو یوه ټولنه دي جوړه سي ، چي د مشروطه شاهي پر اساس ، پر اساسي قانون باندي د سره کتنه وکړي او د اساسي قانون نوي مسوده دي ، حکومت ته وړاندي کړي ۰

۲ ـ د انتخاباتو او اساسي قانون نور متممه قوانین دي جوړ سي او حکومت ته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

و سپارل سي ۰

۳ ـ د قوانينو د تصويب له پاره دي لويه جرگه راوغوښتله سي ۰

٤ ـ د قوانينو تر تصويب وروسته به په هيواد کي انتخابات کيږي ۰

۵ ـ نوي شورا به د يوه يا دوو احزابو پر اساس جوړيږي ۰ د نوي شورا تر پرانستلو وروسته به اوسنی حکومت استعفا کوي او نوی حکومت به د چارو واک په لاس کي اخلي ۰

پاچا د ۱۳٤۱ ه ش کال د سنبلي د مياشتي پر ۲ ۱ مي نيټي د محمدداود خان پيشنهاد ته داسي جواب و ليکی ((زه په پرنسيپ کي د ديموکراسي د راتلو سره موافقه لرم په دي چي دا کار زما د پلار محمد نادر خان د آرزوگانو څخه و)) پاچا د دغه کار عملي کيدل په بل وخت کي او د نوروو کسانو په وسيله ممکن بللی و۰

محمد داود خان د ۱۳٤۱ کال د جـدي د مياشتي پر ٤ ۲ مي نتهي ، د پاچا ليك ته په دي مفهوم جواب ليکلی و :

۱ ـ د افغانستان شاهي به مشروطه وي ، حکومت به پارلماني وي ، په هيواد کي به ديموکراسي راځي ۰

۲ ـ په اساسي قانون کي به د سلطنتي کورني حدود تثبيتيږي ۰

۳ ـ په اساسي قانون کي به فردي آزادي او شخصي ملکيت تضمينيږي ۰

٤ ـ په اساسي قانون کي به د دوو احزابو موجوديت پيشبيني کيږي ۰ په پارلمان کي به د اکثريت حزب مشر ، د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو ماموريت مومي ۰

۵ ـ دولت پر تقنينه ، قضائيه او اجرائيه قواوو ويشل کيږي ۰

۶ ـ يو شمير پوهان به د اساسي قانون د تسويد له پاره توظيف کيږي ۰

۷ ـ د اساسي قانون د تصويب له پاره به لويه جرگه راغوښتله کيږي ۰

۸ ـ سياسي احزابو ته به د فعاليت اجازه ورکوله کيږي ۰

پاچا د محمد داود خان وروستي ليك تـه جواب و نـه وايـه او محمد داود خان د ۱۹۶۳ کال د مارچ د مياشتي پر دريمي نيټي ، خپله استعفا پاچا ته وړاندي کړه او پاچا د ده استعفا و منله او د ده استعفا يي د دغه کال د مارچ د مياشتي پر ۷ نيټي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلام کړه ۰ او د ده پر ځای ډاکټر محمد یوسف خان د افغانستان د صدر اعظم په حیث و ټا کل سو . (۸)

ډاکټر محمد یوسف په ۱۹۸۸ کال کي په یوي مصاحبي کـي داسـي ویـلي دي ((د سلطنتـي کورنـي د زورورو اشخاصو لـه خوا په دغـي کورني کي بي اتفاقي راغلي وه)) دی وایي ((پاچا غوښتل چي په کراره ، خان د اکاګانو او د اکا د زامنو د تاثیر څخه وباسي او په اصطلاح ء تشخص ء و کړي)) دې ریاتـوي ((د کورني بل غړې ، سردار عبدالولي هم غوښتل چي څه کارونه ده ته ور و سپارل سي ۰ محمد داود خان غوښتل چي حزب جوړ کـي او د حزب له لاري څخه یبرته قدرت ته و رسیږي)) دی زیـاتـوي ((محمد داود خان د دیموکراسي په ارتباط پاچا ته یو پیشنهاد وړاندي کړ محمد داود خان ما تـه و ویل چي پاچا زما پیشنهاد د خانه سره جلال آباد ته وړې دي او ما تـه یـي جواب نه دې راکړي او ما پرون استعفا وکړه)) دی دا هـم وایي چي ((پاچا غوښتل چي محمد داود خان پـه خپله استعفا وکړي او پـه دغـه طریقه خان د ده د شره څخه خلاص کړي)) (۹)

۳ ـ تر استعفا وروسته د محمد داود او پاچا مناسبات

دالاندي ټکي د دیموکراسې پر راوړلو باندي د پاچا او محمد داودموافقه ښیي ۰

ـ ډاکټر محمد یوسف د خپل صدارت د وخت په لومړی وینا کي ویلي دي چي د ده حکومت هغه اهداف په نظر کي نیسي چي محمد داود خان یي پیشنهاد کړې و (۱۰)

ـ محمد داود خان د صدارت ماڼي ته ورغی او د ډاکټر محمد یوسف حکومت ته یي مبارکي و ویله . (۱۱)

ـ محمد داود خان په هغي وداعیه میلمستیا کي ګډون وکړ چي د ده په ویاړ جوړه سوې وه . (۱۲)

ـ محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان ، د شهزاده محمد نادر د واده په مراسموکي برخه اخسـتي وه ۰ د دغـو مراسموعکس په دولتي ورځ پاڼو کي خپور سوی دی . (۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د پل چرخي د نظامي تاسيساتو ځيني نقشي محمد داود خان ترتيب کړي وي چي تر استعفا وروسته محمد داود خان په خپله د دغو نقشو د تطبيق څارنه کوله ۰

ـ په قرغه کي د سپوږمۍ د رستورانت نقشه محمد داود خان جوړه کړي ده او تر استعفا وروسته ده د دغي نقشي د تطبيق مراقبت کړی دی ۰

د ديموکراسي په وخت کي د پاچا او محمد داود خان مناسبات ډير ژر داسي خراب سوه چي وروسته دوی يو د بل سره شخصي مراوده هم نه درلوده ۰

زما د وکالت په وخت کي په ۱۹۷۰ کال کي پاچا د يو صحبت پـه ضمن کي ما ته و ويل ((د محمد داود سره زما فاميلي روابط پري سوي دي او دا څلور کاله کيږي چي ما خپله خور چي د محمد داود ميرمن ده ، نه ده ليدلي))

دديموکراسي د تطبيق په وخت کي د پاچا او حکومت ځينو اجراآتو محمد داود خان خوابدي کړې و ۰ د مثال په توګه :

ـ د ډاکټر محمد يوسف حکومت د بنديانو د احوال معلومولو له پاره يو هيات وټاکې ، د دغه هيات خبر په مطبوعاتو کي خپور سو ۰ دا خبر داسي تعبير سو چي ګواکي د محمد داود خان حکومت ډير خلګ غير قانوني بنديان کړي دي ۰

ـ تر استعفا وروسته محمد داود خان ، يوه ورځ د خان عبالغفار خان د ليدلو له پاره د صدارت د ګلخاني ماڼې ته ورغلی و ۰ د هغه ځای مؤظفو اشخاصو محمد داود خان ته د قصر د ننوتلو اجازه نه وه ورکړې ۰ خو پښتونستاني حباب خان چي هلته حاضر و دوی ته محمد داود خان معرفي کړی و۰ دوی په جواب کي ويلي و چي ((موږ ته امر شوی دی چي هيچا ته د ننوتلو اجازه ورنه کړو)) وروسته خان عبدالغفارخان د عذر غوښتلو له پاره د محمد داود خان کور ته ورغلی و . (۱٤)

ـ رشتيا ليکي ، کله چي پاچا د محمد داود خان پيشنهادونه سيد شمس الدين مجروح ته ورکړه ، نو ده ته يي ويلي و چي د محمد داود خان پيشنهادونه د نورو اسنادو په جمله کي تر غور لاندي و نيسي ۰ پاچا دا هم ويلي وه چې د اساسي قانون د تسويد کميته ، بايد هيڅ خاص پيشنهاد په نظر کي و نه نيسي ، دغه کميته چي هرڅه د نن او سبا افغانستان له پاره لازم بولي په نوي اساسي قانون کي دي درج کړي ٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د ١٩٦٣ كال د مارچ په مياشت كې ، كله چې د اساسي قانون د تسويد د كميتي غړي اعلان سوه ، د هغو په جمله كې حتي د محمد داود خان يوه ملگري ته هم ځاى نه و وركړه شوى او په دې كميتي كې څو داسي اشخاص تعيين سوي وو چې محمد داود خان هغوي ته په ښه سترگه نه كتل ٠

ـ دتسويد او مشورتي كميتو له خوا د اساسي قانون د متن جوړول د ١٩٦٤ كال د مي د مياشتي په لومړى ورځ پاى ته ورسيدل . ډاكټر محمد يوسف د اساسي قانون مسوده د يوه ليك په ضميمه د ډاكټر علي احمد پوپل په و سيله محمد داود خان ته وړاندي كړه . (١۶)

محمد داود خان چې د دغي مسودي ډير مواد د خپل پخواني پيشنهاد سره موافق بلل هغه ټول يې تائيد كړه ٠ يوازې پر دوو ټكو باندي يې خپل نظر په دې مفهوم صدر اعظم ته و ليكې :

١ ـ د مسودې د ٨٩ مادې په ارتباط محمد داود خان ليكلي وو ((په ولسي جرگې كي د اكثريت حزب مشر ، د پاچا له خوا د حكومت په جوړولو مامور كيږي))

٢ ـ د مسودې د ٢٤ مي مادې په ارتباط ، محمد داود خان ليكلي وه ((د پاچا د اكا زامن د سلطنتي كورني غړي نه دي ٠ د پاچا خور تر هغه وخته د سلطنتي كورنى غړى ده چي واده يي نه وي كړى)) (١٧)

ـ په نوي اساسي قانون كې د محمد داود خان دواړه پيشنهادونـه و نه منل سوه ٠ د ٢٤ مي مادې په لومړى فقرې كې د پاچا د اكا زامن ، د سلطنتي كورني غړي و بلل سوه ، دهمدغي مادې په دريمي فقرې كې و ليكل سوه چې د سلطنتي كورني غړي په سياسي احزابو كې برخه نه سي اخستلاى ، صدر اعظم يا وزير نه سي كيدلاى ، د شورا او ستري محكمي غړيتوب نه سي تر لاسه كولاى ٠

د اساسي قانون مسوده د ١٩٦٤ كال د سبتمبر د مياشتي پر نهمي نيټې ، لوي جرگې ته وړاندي سوه ٠ په لويې جرگې كې د محمد داودخان د مخالفينو په تحريك ، پر ٢٤ مي مادې يو بل داسي قيد علاوه سو چې ((د سلطنتي كورني غړې د تل له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي کورني غړی دی)) دا قيد د هغو شايعاتو په نتيجه کي پر ٢٤ مي مادي علاوه سو چي ځينو اشخاصو تبليغ کاوه چي که محمد داود و نه غواړي چي د سلطنتي کورني غړی وي ، دی کولای سي چي ځان د دغي کورنی څخه و باسي (١٨)

د اساسي قانون تر تصويب وروسته محمد داود خان متيقن سو چي د ده پر ضد په دولت کي دسيسي کيږی ، نو دي د سلطنتي نظام دښمن سو ٠

په هغه وخت کي محمد داود خان نه غوښتل چي د افغانستان پاچا سي ده ارزو درلوده چې د سياسي حزب د جوړولو له لاري څخه ، لکه هر يو بل افغان د خپل هيواد په چارو کي برخه واخلي .

دلته دا پوښتني مطرح کيدای سي :

ـ دا چا ته معلومه ده چي هغه حزب چې محمد داود خان جوړاوه ، هغه حزب به حتما د افغانستان په شورا کي اکثريت چوکې گټلي وای ؟

ـ سلطنت ولي ټينگار کاوه چي حتما محمد داود خان د ده د آرزو پر خلاف ، د سلطنتي کورني غړی وي ؟

ـ که محمد داود ته اجازه ورکړه سوي وای چې د خپل هيواد په سياسي چارو کي يي برخه اخستي وای آيا ده به کودتا کړي وای ؟

ـ که د افغانستان ټولو اتباعو ته د محمد داود خان په شمول د سياسي فعاليت اجازه ورکړه سوې وای او ټولو افغانانو د سياسي مبارزو له لاري څخه د خپل هيواد په چارو کي برخه اخستي وای ، دا يوه سمه لاره وه او امکان لري چې په هغه صورت کــي به په افغانستان کي د وروستيو بدو حادثاتو مخه هم نيوله سوی وای ٠

داو تر استعفا وروسته د محمد داود خان او محمد ظاهر شاه تر منځ د مناسباتو داستان چي په پورته تفصيل و ړاندي سو ٠

يوه ټوکه :

کله چي ډاکټر محمد يوسف صدر اعظم سو ، دی د خپلي کابيني د غړو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يولسمي تقنيني دوري د شورا عمومي غونډي ته ورغی ۰ په دغي غونډي کي د پلخمري وکيل سردار عبدالرشيد خان چي د مارشال شاه ولي خان نژدي دوست و ، د محمد داود خان د حکومت پر وزيرانو باندي انتقادونه وکړل ، په دغه سبب د شورا غونډه متشنجه شوه د شورا رئيس ډاکټر عبدالظاهر د شلو دقيقو له پاره تفريح اعلان کړه۰ د تفريح په وخت کي ، يوه وزير چي عسکري جنرال و ، ډاکټر عبدالظاهر خان ته و ويل ((ډاکټر صاحب ! ستاسي شورا ډيره بي نظمه ده)) ډاکټر عبدالظاهر خان چي ظريف او حاضر جوابه سړي و ده ته يي په جواب کي و ويل ((بلي جنرال صاحب ! په رښتيا چي هيڅ عسکري قشله داسي بي نظمه نه وي)) (۱۸)

د دوهم فصل ياد داشتونه

۱ـ څلمي ، ذکر شوې اثر، مخ ۲ ۱۷

۲ ـ فرهنگ ، مير محمد صديق ، افغانستان در پنج قرن اخير ، مخ ٤ ٧ ٤

۳ ـ د چرچل وينا چي په ۶ ٤ ۹ ۱ کال د مارچ پر ۵ د امريکا د ء مزوري ء د ايالت د ويستمنيستر په کالج کي کړي وه ۰

٤ ـ پولادا ، ذکر شوې اثر ، مخ ۸ ٤ ۱

۵ ـ مبارز ، ذکر شوې اثر ، مخ ۹ ۸ ۱

۶ ـ مبارز ، ذکر شوې اثر ، مخ ۶ ۹ ۱

۷ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۷ ۷ ٤

۸ ـ حق شناس ، شير احمد نصري ، دسايس و جنايات روس در افغانستان ، مخونه ۳ ۳ ۱ او ۳ ٤ ۱

۹ ـ مجله خراسان ، مخ ۲ ۲

۱۰ ـ کشککي ، صباح الدين ، دهه قانون اساسي ، مخ ۵ ۱

۰۱۱ ـ خاطرات سياسي سيد قاسم رشتيا ، مخ ۱ ۵ ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ ـ کشککي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱۲
۱۳ ـ همدا اثر ، مخ ۱٤
۱٤ ـ زما مشاهدات
۱۵ ـ رشتیا ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱۵۶
۱۶ ـ همدا اثر ، مخ ۱۷۷
۱۷ ـ د اساسي قانون مسوده چي محمد داود خان ترتیب کړي وه ۰
۱۸ ـ د یوه وکیل په قول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه

دريم فصل

ج : دديموکراسي دوره

۱ ـ د ديموکراسي دورې پيل

په افغانستان کــي ديموکراسي دوره د صدارت څخه د محمد داود خان تر استعفا وروسته د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون په انفاذ سره پيل سوه چي د لسو کلونو له پاره يي ادامه ومندله ۰

تر دي دمخه د شاه محمود خان د صدارت په وخت کي هم په هيواد کي ، ديموکراسي راغلی وه ، چي هغه ديموکراسي د صدر اعظم په شفاهي امر راغله او د ده په شفاهي امر له منځه ولاړه .

د ديمو کراسۍ دغه نوی نهضت په افغاني جامعي کي د راز راز عکس العملونو سره مخا مخ سو ۰ ډيرو افغانانو مخصوصا ځوان نسل د هغه ښه استقبال وکړ۰ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيواد په لويو ښارونو كي مظاهري كيدلي ، په كابل كي آزادي جريدي خپريدي ، ډيرسياسي جميعتونه جوړ سوه او دولت پر دروو مستقلو قوو لكه اجرانيه، تقنينيه او قضانيه و ويشل سو ۰

د دولسمي او ديارلسمي تقنيني دورو د شورا له پاره ، په هيواد كي آزاد انتخابات وسوه چې د افغانستان خلگو خپل نماينده گان شورا ته واستول ۰ په دغي دوري كي پنځه حكومتونو د ولسي جرگي څخه د اعتماد رايه واخسته ۰

د دغي دوري لويه نقيصه دا وه چي د اساسي قانون متميم قوانين لكه د احزابو اواجتماعاتواو داسي نور قوانين چي تفصيل يي د كتاب په بلي برخي كي ليكل سوى دى ، د ديموكراسي دوري تر پايه ، توشيح او نافذ نه سوه ۰

دغه دوره د محمد داود خان په كودتا سره پاى ته ورسيدله ۰

۲ ـ اساسي قانون

دري هفتي وروسته تر هغه چي صدر اعظم ډاكټر محمد يوسف په كار پيل و كړ د ده په پيشنهاد د پاچا له خوا اوه كسيزه كميته د نوي اساسي قانون د تسويد له پاره و ټاكله سوه چي نومونه يي دادي :

سيد شمس الدين مجروح د مشر په توگه ، ډاكټر مير نجم الدين انصاري ، ډاكټر عبدالصمد حامد ، محمد موسي شفيق ، سيد قاسم رشتيا ، مير محمد صديق فرهنگ او حميدالله علي ۰

د تسويد د كميتي لومړې غونډه د ۱۹٦۳ كال د مارچ د مياشتي پر ۱۳نيټي د عدليي په وزارت كي جوړه سوه ۰ كميټي د اساسي قانون د تسويد كار د ۱۹٦٤ كال د فبروري په مياشت كي پاى ته ورساوه او د تصويب له پاره يي د وزيرانو مجلس ته وړاندي كړ ۰ د وزيرانو مجلس فيصله وكړه چې دغه مسوده دي ، مشورتي كميتي ته وړاندي سي ۰

مشورتي كميته د ۲ ۸ غړو څخه جوړه سوې وه چي نومونه يي دا دي :

عبدالهادي داوى ، صلاح الدين سلجوقي ، عبدالمجيد خان زابلي ، خليل الله خليلي نور احمد اعتمادي ، پوهاند محمد اصغر خان ، ډاكټر محمد آصف سهيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

، محمد قدير تره کی ، مير غلام محمد غبار ، ډاکټر عبدالقيوم رسول ، احمد علي کهزاد ، عبدالرشيد لطيفي ، اميرالدين شنسب ، صديق الله رشتين ، غلام سرور رحيمي ، ميرمن معصومه عصمتي ، پيغله کبرا نورزايي ، محمد هاشم مجددي ، محمد کريم نزيهي ، محمد ابراهم عفيفي ، محمد شاه ارشاد ، مولوي عبدالرب ، لعل محمد کاکړ ،مولوي غلام نبي کاموي ، ډاکټر عبدالواحد سرابي ، عبدالکريم احراري ، محمد ظاهر خدران ، ډاکټر خليل احمد ابوي ٠

مشورتي کميتي د ١٩٦٤ کال د مارچ د مياشتي په لومړي ورځ په کار پيل وکړ او په يوي مياشتي کي يي خپل کار پای ته ورساوه ٠

دواړو کميتو د لوي جرگي د راغوښتلو وخت ، د ١٩٦٤ کال د دوبي موسم ، تثبت کړ ٠ دوی د لوي جرگي د غړو پر ترکيب هم يوه فيصله وکړه ٠ دوی د افغانستان د عنعنوي لوي جرگي ، ترکيب او ماهيت ته تغيير ورکړ٠ دوی د لوي جرگي د غړو ترکيب او شمير په لاندي ډول تثبيت کړ :

ـ د يولسمي تقنيني دوري د شورا غړي	١٧٦
ـ د هري انتخابي حوزي څخه به يو يو انتخابيږي	١٧٦
ـ د اعيانو د مجلس غړي	١٩
ـ د تميز غړي	٥
ـ د حکومت غړي	١٤
ـ د تسويد د کميتي غړي	٧
ـ د مشورتي کميتي غړي	٢٥
ـ د پاچا له خوا انتصاب شوي غړي	٣٤
ـ د ټولو شمير	٤٥٦

د آگست د مياشتي پر ١٤ نيټي د اساسي قانون مسوده په ورځ پاڼو کي خپره سوه او د ١٩٦٤ کال د سبتمبر د مياشتي پر نهمي نيټي لويه جرگه د پاچا له خوا د سلامخاني په ماڼي کي پرانسته سوه ٠ نوې اساسي قانون د دغه کال د سبتمبر د مياشتي پر ٢٠ مه د لويي جرگي له خوا تصويب سو او د اکتوبر د ميلشتي پر لسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نيټي د پاچا له خوا توشيح او نافذ سو ۰

مير غلام محمد غبار ، استاد صلاح الدين سلجوقي او ډاکټر محمد آصف سهيل ، د مشورتي کميتي په غونډو کي ، برخه وانه خسته ۰

سيد قاسم رشتيا ليکي ((زه د مير غلام محمد غبار کور ته د دي له پاره ورغلی وم چي دده څخه غوښتنه وکړم چي د مشورتي کميتي په غونډو کي برخه واخلي))

رشتيا زياتوي چي ((غبار زما په جواب کي و ويل چي زه د دغه جريان په حقيقت او د هغو کسانو په صداقت اطمينان نه لرم چي دغه جريان يي منځ ته راوړی دی)) غبار زياته کړه چي ((زما په فکر داهم لکه د شاه محمود خان د وخت يو عوام فريبانه لوبه ده چي زه نه غواړم چي د دغي صحني لوبغاړی وه سم))

رشتيا زياتوي چي ((زه نه پوهيږم چي دا کلمات د مير غلام محمد غبار فکر تمثيلوي او که د ده عدم رضانيت ، زما او د فرهنګ په مورد کي ښکاره کوي چي داسي يو مهم ابتکار مو په لاس کي اخستی دی)) (۱)

۳ ـ د تسويد کميټي لويي جرګي ته تغير ورکړی دی

د۱۹٦٤ کال د اساسي قانون دتسويد کميټي د افغانستان عنعنوي لويي جرګي ته په ښه سترګه نه دي کتلي ، دوی د لويي جرګي اصالت ته لويه صدمه رسولي ده .

د نړي ټول هيوادونه په خپلو تاريخي اثارو وياړي او هغو ته په درنه سترګه ګوري او څکه چي ژوندي قومونه خپل تاريخ نه خرابوي ۰د مصر ، يونان او ايتاليا او د نړۍ نور هيوادونه ، خپل تاريخي آثار په پخوانۍ شکل ساتي ۰ انګريزان خپل د اساسي قوانينو عنعنه ساتي ، په چين کي زاړه ديوالونه ، خپل د عظمت نښه بولي ۰د نړي هيڅ هيواد داسي نه دي کړي چي خپل تاريخي افتخارات وران کړي او دليل دا راوړي چي د عصر دايجاباتو سره برابر نه وو .

محمد علم فيض زاد په خپل اثر کي ليکلي دي چي ((د اساسي قانون د ۸ ۷ مادي په وسيله د افغانستان عنعنوي لويه جرګه د منځه وړل سوی ده دی زياتوي چي (دوی د دي له پاره چي د هيواد په چارو کي اورډ لاس ولري، په لويي جرګي کي يي د ملت د نماينده ګانو برخه لږه کري ده)) (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

صباح الدين کشککي ليکي چي ((لويه جرگه يوه افغاني پديده ده چي د نړۍ په نورو ټولنوکي د هغي مثال نه دی ليدل سوی)) دې زياتوي چي ((د ١٩٦٤ کال په اساسي قانون کي د لويي جرگي ماهيت او د غړو ترکيب ته تغيير ورکړه سوی دې)) دې دا هم ليکي چي (دوی په حقيقت کي ، د نوي سيستم په اساسي قانون کي ، خان د هغي مؤسيسي د شره څخه خلاص کړی دی ، چي د هغي غړي د افغاني جامعي مخور او بانفوذه خلگ وو)) (٣)

د افغانستان پـه معاصر تاريخ کـي دا لاندي لويـي جرگـي او مهمي قومي جرگي د پام وړ دي :

ـ په ١٧٠٩ کال کي د کندهار د کوکران مهمه قومي جرگه وه چي د هغي جرگي غړو ميرويس نيکه د خپل مشر په حيث و ټاکی ۰ چي د هغه وخت د امنيتي شرايطو په وجه دا جرگه په پټه جوړه سوه ۰

ـ په ١٧٤٧ کال کي د کندهار د شير سرخ په مزار کي يوه لويه جرگه جوړه سوه چي په دغي جرگي کي احمد شاه ابدالي د افغانستان د پاچا پـه حيث و ټاکل سو او صابر شاه ملنگ د تاج پر ځای د غنمو وږی د ده پر بگړی نصب کړ ۰

ـ د ١٨٤١ کال د نومبر د مياشتي په لومړی ورځ د کابل په ښار کي يوه مهمه قومي جرگه جوړه سوه، دا جرگه د افغان او انگليس د لومړي جنگ په وخت کي جوړه سوه چي دغي جرگي سردار نواب خان د مجاهدينو د رئيس او نائب امين الله خان لوگري د ده د مرستيال په توگه و ټاکل ۰

ـ په ١٩١٥ کال کي د امير حبيب الله خان په وخت کي يوه لويه جرگه جوړه سوه دغي جرگي په لومړي جهاني جنگ کي د افغانستان بي طرفي تصويب کړه ۰ په دغي جرگي کي ٥٤٠ نمايندگانوبرخه درلوده ۰

ـ په ١٣٠١ ه ش کال کي (١٩٢٢) د امان الله خان په وخت کي په جلال آباد کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰ په دغي لوي جرگي کي د هغه وخت ځيني قوانين په تصويب ورسيدل ۰ د جوي شرايطو له کبله د هيواد د ځينو سيمو نمايندگانو په دغي لويي جرگي کي برخه نه وه اخستي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په ۱۹۲٤ کال کي د امان الله خان په وخت کي په کابل کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰ په دغي جرگي کي د امان الله خان د وخت اساسي نظام نامه تصويب سوه ۰

ـ په ۱۹۲۸ کال کي د امان الله خان په وخت کي په پغمان کي بله لويه جرگه جوړه سوه ۰ په دغي جرگي کي د هغه وخت داصلاحاتو پروگرام تصويب سو ۰ په دغي جرگي کي د هيواد ۱۱۰۰ نمايندگانو برخه اخستي وه ۰

ـ په ۱۹۳۱ کال کي د محمد نادر خان په وخت کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰په دغي جرگي کي ، د محمد نادر خان سلطنت او د هغه وخت اساسي اصول تصويب سو ل۰

ـ په ۱۹٤۱ کال کي د محمد ظاهر شاه د سلطنت په وخت کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰ دغي لويي جرگي ، په جهاني جنگ کي د افغانستان بي طرفي تصويب کړه ۰

ـ په ۱۹٤۹ کال د آگست د مياشتي پر ۱۲ د پښتنو د خود ارادیت د حق د تائيد په غرض ، په کابل کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰ په دغي تاريخي لويي جرگي کي د ۱۸۹۳ کال د ډيورنډ موافقتنامه ، د ۱۹۰۵ کال د مارچ د مياشتي د ۲۱ نيټي د امير حبيب الله خان سره د انگريزانو عهد نامه ، د ۱۹۱۹ کال د راولپنډي د سولي تړون او د افغانستان سره د انگريزانو د ۱۹۲۱ کال معاهده، لغوه سوي ۰ دغه ټولو اسنادو پــه هغو سيمو پــوري اړه درلودلي چي د افغانستان او پاکستان تر منځ د اختلافونو موجب سوي دي . (٤)

ـ د ۱۹۵۵ کال لويي جرگي حکومت ته واک ورکړ چي د افغانستان اردو تقويه کړي او د نړي د هر هيواد څخه چي يي لازم و بولي وسله تر لاسه کړي ، چي په دغه اساس د افغانستان حکومت د شوروي اتحاد او چکوسلواکيا څخه د نظامي مرستو غوښتنه وکړه۰

٤ ـ مطبوعات

په ۱۹۵۱ کال کي د شاه محمود خان د صدارت په وخت کي د اوومي دوري دشورا له خوا د مطبوعاتو قانون په تصويب ورسيد ۰ د دغه قانون پر اساس څو ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جريدي لکه انګار ، ولس ، وطن ، نداي خلق ، نيلاب او آئيني په نشراتو پيل وکړ ۰

پنځلس کاله وروسته د افغانستان د دوهمي ديموکراسي په دوري کي په ۱۹٦٤کال کي د ډاکټر محمد يوسف د انتقالي حکومت په وخت کي د مطبوعاتو قانون په تقنيني فرمان نافذ سو . ددغه قانون پر اساس په کابل کي ، نژدي ديرشوو جريدو په نشراتو پيل و کړ چي دخينو مشهورو جريدو نومونه په لاندي ډول دي :

۱ ـ د افغان جريده : دا يوه مستقله جريده وه چي په خپلو نشراتو کي يي ملي مسايلو ته ډيره توجه کوله او په هيواد کي يي ډير لوستونکي درلودل ۰ د دغي جريدي مسؤول مدير او د امتياز خاوند محمد حسن ولسمل و۰د افغان جريدي د ۱۹۷۱ کال د سبتمبر د مياشتي پر ۶ نيټي په نشراتو پيل و کړ په ۱۹۷۳ کال کي دري ورځي دمخه ترهغه چي د ايران صدر اعظم امير عباس هويدا د هلمند د اوبو د معاهدي د لاس ليك له پاره کابل ته سفر کړي و ، و تړله سوه ۰

۲ ـ د مساوات جريده : دا جريده د محمد هاشم ميوندوال د مترقي ديموکرات د جمعيت نشراتي اورګان و ۰ دي جريدي ډيري علمي او تحقيقي مقالي خپرولي ۰دا جريده د نور احمد اعتمادي د حکومت په مخالف قطب کي واقع سوه . د دغي جريدي د امتياز خاوند ، په سر کي عبدالشکور رشاد او وروسته محمد شريف ايوبي و . د جريدی مسؤول مدير ، په اول کي محمد رحيم الهام او تر ده وروسته عبدالغني ميوندي و ۰ دغي جريدي د ۱۹٦٦ کال د جون د مياشتي پر ۲٤ مه په نشراتو پيل وکړ او د ۱۹۷۱ کال د سبتمبر پر ۲٦ مي نيټي و تړله سوه ۰

۳ ـ د روزګار جريده : دا يوه مستقله جريده وه چي ښي اقتصادي مقالي يي خپرولي دغي جريدي په خپلي څلور کلني نشراتي مودي کي هميشه ، ملي مسايلو ته توجه درلوده ۰ د دي جريدي د امتياز خاوند او مسؤول مدير محمد يوسف فرند و۰ دغي جريدي د ۱۹٦۹ کال د اکتوبر د مياشتي پر ۲۸ مي په نشراتو پيل وکړ او په ۱۹۷۳ کال کي وتړله سوه ۰

٤ ـ د افغان ملت جريده : دا جريده د افغان ټولنپال ولس واك د جمعيت ، نشراتي اورګان و ۰ دي جريدي د افغانستان په پښتني سيمو کي ډير لوستونکي درلودل . د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغي جريدي د امتياز خاوند ، انجينيرغلام محمد فرهاد ، او مسؤول مدير قدرت الله حداد و ۰ دي جريدي د ۱۹۶۶ کال د اپريل د مياشتي پر پنځمي نيټي په نشراتو پيل وکړ او د ۱۹۶۷ کال د مي د مياشتي پر ۱ ۲ نيټي يي په کابل کي نشرات بند سو ل اوس دا جريده په اروپا کي خپريږي ۰

۵ ـ د ملت جـريـده : د دغـي جـريـدي د امـتـياز خاونـد فـدا محمد فـدايـي و ، (فدا محمد فدايي او دده ملګري د افغان ملت د ګوند څخه جلا شوي وو) دملت جريـدي د ۱۹۷۱ کال د سبتمبر د مياشـتي پر ۲۶ مي په نشراتو پيل و کړ او د ۱۹۷۲ کال د جون د مياشتي پر ۱۰ مه و تړله سوه ۰

۶ ـ د کاروان ورځپاڼه : د دغي ورځپاڼي د امتياز خاوند صباح الدين کشککي او مسؤول مدير عبدالحق واله و ۰ دا يوه مشهوره ورځپاڼه وه چي هره ورځ به يي خبرونه او تازه اطلاعات خپرول ۰ دي ورځپاڼي په کابل کي ډير لوستونکي درلودل ۰ د کاروان ورځپاڼي د ۱۹۶۸ کال د سبتمبر د مياشتي پر ۲٤ مه په نشراتو پيل و کړ ۰

۷ ـ د خلق جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند نور محمد تره کی او مسؤول مدير بارق شفيعي و ۰ دا جريده د ديموکرتيك خلق د جميعت نشراتي اورګان و دغي جريدي د ۱۹۶۶ کال د اپريل د مياشتي پر ۱۱ مه په نشراتو پيل وکړ، د ۱۹۶۶ کال د مي د مياشتي پر ۱۶ مه وتړله سوه ۰

۸ ـ د پرچم جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند سليمان لايق او مسؤول مدير په سر کي سليمان لايق او وروسته مير اکبر خيبر و ۰ دا جريده د پرچم د اړخ نشراتي اورګان و د ۱۹۶۸ کال د مارچ د مياشتي پر ۱٤ مه يي په نشراتو پيل وکړ اود ۱۹۶۹ کال د جولای د مياشتي پر ۵ ۱ مه و تړله سوه ۰

۹ ـ د شعله جاويد جريده : د دي جريدي دامتياز خاوند او مسؤول مدير ډاکتر عبدالرحيم محمودي و ۰ دا جريده د ديموکرا سي نوين د جمعيت نشراتي اورګان و چي د ۱۹۶۶ کا ل د جولای د مياشتي پر ۱۰ مه يي په نشراتو پيل وکړ او د ۱۹۶۸ کال د اپريل دمياشتي پر ٤ مه وتړله سوه ۰

۱۰ ـ د پيام وجدان جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند او مسؤول مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرؤف ترکمني و ۰ دا جريده ايران ته متمايله مذهبي جريده وه ، د ۱۹٦٦ کال د جولای د مياشتي پر ۲٤ مي نيټيي يي په نشراتو پيل و کړ ۰

۱۱ ـ د ګهيځ جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند او مسؤول مدير منهاج الدين ګهيځ و ۰ دا د کمونيزم ضد يوه مذهبي جريده وه چي د ۱۹٦۸ کال د جـولای د مياشتي پر ۱۳ مه يي په نشراتو پيل وکړ ۰

۱۲ ـ د ترجمان جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند ډاکټر عبدالرحيم نوين او مسؤول مدير علي اصغر بشير و ۰ دا يوه انتقادي بي طرفه جريده وه چي ډير لوستونکي يي درلودل ، دي جـريـدي د ۱۹٦۸ کال د اپريل د مياشتي پر ۱۸ مي نيټي په نشراتو پيل وکړ ۰

۱۳ ـ د مردم جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند سيد مقدس نګاه او مسؤول مدير غلام محي الدين تفويض و ۰ د ۱۹٦٦ کال د مې د مياشتي پر ۱۱ نيټي يي په نشراتو پيل وکړ او د دغه کال د جون د مياشتي پر ۱۵ مه و تړله سوه ۰

۱٤ ـ د ملي اتحاد جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند او مسؤول مدير عبدالحکيم مژده و ۰ دي جريدي د ۱۹٦۹ کال د جولای د مياشتي پر ۱۵ مي نيټي په نشراتو پيل وکړ .

۱۵ ـ د ملي جبهي جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند او مسؤول مدير عبدالرب اخلاص و ۰ دي جريدي د ۱۹٦۸ کال د سبتمبر د مياشتي پر ۳۰ مه په نشراتو پيل وکړ او د ۱۹٦۹ کال د جون د مياشتي پر ۱۵ مه وتړله سوه ۰

۱٦ ـ د صداي عوام جريده : د دغي جريدي د امتياز خاوند ډاکټر عبدالکريم فرزان او مسؤول مدير، محمد عارف حنيفي و چي د ۱۹٦۸ کال د مارچ د مياشتي پر ۲۷ نيټيي يـي پـه نشراتـو پـيل وکـړ او د ۱۹٦۹ کال د جـون د مياشـتي پـر ۲۰ مـه وتـړلـه سوه (٥)

٥ ـ سياسي ډلي

بي ځايه به نه وي که د دي مبحث په سر کي د شاه محمود خان د صدارت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوران کي سیاسي احزابو ته یوه لنډه کتنه و سي ۰

په دغي دوري کي په کابل ، کندهار او ننګرهار کي ، ځینو منورینو ځو سیاسي احزاب جوړ کړل ، ډیر ژر فهمه افغانان دغو احزابو ته ورغله ۰ ځرنګه چي په دغه زمانه کي خارجي یو د بل ضد مفکورو افغاني جامعي ته لاره نه وه پیدا کړي او په هیواد کي یوازي پر افغاني معیارونو سیاسي احزاب جوړیدل ، نو دغه ټول احزاب که څه چي یو د بل څخه جلا وو ، ولي دغو ټولو احزابو مشترك اهداف تعقیبول ۰ دوی په عمومي ډول د سیاسي آزادیو ، اجتماعي عدالت ، ملي حکومتونو او پارلماني حقوقو غوښتنه کوله ۰

د افغانستان د هغه وخت حکومت په افغاني سیاسي احزابو کي د خارجي اجیرانو د نفوذ کلکه ځارنه کوله ، او د هر سیاسي حزب د صالحو او ملي اشخاصو ستاینه به یـي هـم کـولـه ۰ د مثال په توګه :

د ویښـو ځلمیانـو د حزب یـو غړي ښاغلی غلام محـي الدین زرملوال وایي چي په ۱۹۴۸ کال کي محمد داود خان چي په هغه وخت کي داخله وزیر و ، د ویښو ځلمیانو د حزب ځو غړي خپل دفتر ته ور و بلل ۰ ده د دغـه حزب غـړو تـه و ویـل چي ((دوی باید په خپل حزب کي خارجي اجیرانو ته ځای ور نه کړي)) ده زیاته کړي وه چـي ((زه باور لرم چي د ویښو ځلمیانو نور غړي لکه ګل پاچا الفت ، که یو ډك توپك د ده په لاس کي وي او ده دا ډك تـوپك زما پـر خوا نیولي هم وي زه اطمینان لرم چي دی پـر ما بـانـدي ډز نه کوي))

د دغي دوري سیاسي احزاب په لاندي ډول دي :

۱ ـ د ویښو ځلمیانو حزب : دغه حزب په ۱۹۴۷ کال کي جوړ سوی دی ۰ لاندي اشخاص په کندهار ، ننګرهار او کابل کي د دغه حزب مهم غړي دي :

پوهاند عبدالحي حبیبي ، ګل پاچا الفت ، عبدالرؤف بینوا ، فیض محمد انګار ، غلام محي الدین زرملوال ، محمد رسول پښتون ، عبدالهادي توخي ، محمد انور اڅګزی ، عبدالشکور رشاد ، قیام الدین خادم ، قاضي بهرام ، غلام جیلاني ، محمد ابراهم خواخوږي ، نور احمد شاکر ؛ عبدالرزاق فراهي ، محمد علم بځرکی ، عبیدالله سابی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

آغا محمد کرزی ، عبدالصمد ویسا ، غلام حسن ساپی ، نور محمد تره کی ، فتح محمد خټګر او داسي نور ۰

د ویښو ځلمیانو د حزب منشي په سر کي عبدالرؤف بینوا و ، تر ده وروسته عبدالرزاق فراهي د دغه حزب منشي سو ۰ د دي حزب نشراتي اورګان د انګار جریده وه چي فیض محمد انګار یي د امتیاز خاوند و ۰ د انګار جریدي د ۱۹۵۱ کال د مارچ په میاشت کي په نشراتو پیل و کړ او د دغه کال په اپریل کي و تړله سوه ټول یوه میاشت او ۲۲ ورځي خپریدله . وروسته د ولس جریده د دغه حزب نشراتي اورګان شو چي ګل پاچا الفت یي د امتیاز خاوند و ۰ د ولس جریده د ۱۹۵۱ کال څخه بیا تر ۱۹۵۳کال پوري خپریدله . (۶)

۲ ـ د وطن حزب : دغه حزب په ۱۹۵۰ کال کي په کابل کي تاسیس سوی دی او مؤسس غړي یي دادي :

میر غلام محمد غبار ، سرور جویا ، میر محمد صدیق فرهنګ ، فتح محمد میرزاد نورالحق هیرمند ، برات علي تاج او عبدالحي عزیز ۰ میر غلام محمد غبار د دغه حزب رئیس او عمومي منشي و ۰ د دغه حزب مشهور غړي په لاندي ډول دي :

محمد اکبر پامیر ، علي احمد نعیمي ، عبدالحلیم عاطفي ، میر علي احمد شامل ، محمد آصف آهنګ ، ډاکټر ابوبکر ، ډاکټر عبدالقیوم رسول ، ډاکټر غلام فاروق ، غلام حیدر پنجشیري ، علي محمد خروش او داسي نور ۰

د دغه حزب نشراتي اورګان د وطن جریده وه چي په ۱۹۵۱کال کي یي په نشراتو پیل وکړ۰ د دغي جریدي د امتیاز خاوند میر غلام محمد غبار او مسؤول مدیر په لومړي سر کي علي محمد خروش او وروسته میر محمد صدیق فرهنګ و ، دا جریده د ۱۹۵۲ کال د فبروري په میاشت کي و تړله سوه . (۷)

۳ ـ د خلق حزب : دغه حزب په ۱۹۵۰ کال کي د ډاکټر عبدالرحمن محمودي په مشري په کابل کي جوړ سو ، د حزب منشي محمد نعیم شایان و ۰ د دي حزب مشهور غړي په لاندي ډول دي :

مولوي خال محمد خسته ، مولوي فضل الرب ، عبدالحمید مبارز ، محمد یوسف

(c) ketabton.com: The Digital Library

آئينه ، نور علم مظلوميار ، غلام احمد رحماني ، ماگه رحماني ، محمد طاهر محسني ، ولي محمد عطايي او داسي نور ٠

د دغه جزب نشراتي اورگان د نداي خلق جريده وه چي د امتياز خاوند يي ډاکټر عبدالرحمن محمودي ، او مسؤول مديريي ولي محمد عطاني و٠ دي جريدي د ١٩٥١ کال د اپريل په مياشت کي په نشراتو پيل وکړ او د دغه کال د جولای په مياشت کي وتړله سوه . (٨)

٤ ـ ملي ديموکرات حزب : دغه حزب په ١٩٥٠ کال کي په کابل کي جوړ سوي دی ٠ د دي حزب رهبري د محمد داود خان په لاس کي وه ٠ د حزب منشي ډاکټر عبدالقيوم او په بل روايت محمد هاشم ميوندوال و ٠ دغه حزب په افغاني جا معي کي د ملي کلوپ په نا مه شهرت درلود دملي ديموکرات د حزب مشهور غړي ، عبدالمجيد خان زابلي ، فيض محمد زکريا ، علي محمد خان او داسي نور لوړ رتبه مامورين وو ٠ دغه حزب نشراتي اورگان نه درلود ، کله چي په ١٩٥٣ کال محمد داود خان د افغانستان صدر اعظم سو ، نو دغه حزب له منځه ولاړ . (٩)

يوه ټوکه :

ما اوريدلي وه چي د ملي ديموکرات د حزب غونډو ته د هيواد مشهوره رياضيدان ډاکټر عبدالغفار کا کړ ، چي د سيا ست سره يي علاقه نه درلوده هم بلل سوي و ٠ ده په ټوکي د غونډي د غړو څخه پوښتنه کړي وه چي ، د دغو غونډو شاملينو ته ، حق الزحمه ورکوله کيږي او که يه ؟ ده ته په جواب کي ويل سوي و چي ، دا يو ملي خدمت دی او دلته هيچا ته حق الزحمه نه ورکوله کيږي ٠ پوهاند کاکړ دوی ته ويلي و چي ((زه يو معلم يم او په هغه ځای کي چي چا ته اجرت نه ورکول کيږي زه هغه ځای ته نه ورځم)) وروسته ده د دغه حزب په نورو غونډو کي برخه نه وه اخستي .

د ديموکراسي دوري مشهوره سياسي جمعيتونه په لاندي ډول وو :

١ ـ د مترقي ديموکرات سياسي جمعيت : دغه ساسي جريان په ١٩٦٦ کال د آگست په مياشت کي د محمد هاشم ميوندوال په ابتکار جوړ سو ٠ د مترقي ديموکرات ډلي ، په خپلي مرامنا مي کي اسلام ، مشروطه شاهي ، ديموکراسي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د شرایطو سره سم د یوه سوسیالستي نظام تایید کاوه ۰ افغاني مشهور سیاسي مبارزین لکه د کندهار د ویښو خلمیانو ډله د دغه جریان سره ملګري سوه ، د دولت ډیر لوړ رتبه مامورین هم دغه جریان ته ورغله ، د دیموکرات مترقي مرامنامه د خارجه چارو په وزارت کي تایپ سوي او د وزیرانو په غونډې کي په تصویب رسیدلي وه ۰ ولي څه موده وروسته د صدارت مرستیال نور احمد اعتمادي او څو نورو وزیرانو د دغه جریان سره مخالفت پیل کړ ۰

په ۱۹۷۵ کال کي ما د نور احمد اعتمادي څخه چي په دغه وخت کي په مسکو کي افغاني سفیر و پوښتنه وکړه چي ، تاسي ولي په آخر کي د مترقي دیموکرات د جریان سره مخالفت پیل کړ ؟ ده زما د پوښتني په جواب کي و ویل ((هغه وخت چي د وزیرانو غونډې د مترقي دیموکرات مرامنامه په تصویب ورسوله د وزیرانو غونډې دا فیصله هم کړې وه چي دغه مرامنامه دي د حکومت د کړنلارې په توګه ولسي جرګي ته وړاندي سي ۰ ولي محمد هاشم میوندوال د شورا د تعطیل په وخت کي دغه تصویب سوې متن د یوې حزبي مرامنامي په شکل په کابل رادیو کي ولوست ، چي په دغه دلیل موږ د نوموړي سیاسي جریان څخه بیل سوو))

کله چـي محمد هاشم میوند وال د صدارت د وظیفـي څخه استعفا وکـړه د مترقي دیموکرات د ګوند ډیر غړي د دغه جریان څخه و وتل ۰

۲ ـ د افغان ټولنپال ولسواك سیاسي جریان یا (جمعیت) : دغه سیاسي ډله په افغاني جامعي کي د افغان ملت په نامه شهرت لري ۰ دا سیاسي ډله په ۱۹٦٦ کال د مارچ د میاشتي پر اتمي نیټي د دیپلوم انجینر غلام محمد خان فرهاد تر مشرۍ لاندي جوړه شوی ده۰ د افغان ملت سیاسي جریان د افغانستان پخواني عظمت ته په درنه سترګه ګوري او د هیواد د ملي دودونو د ساتلو کلك ملاتړ کوي ۰ د دغه جریان نشراتي اورګان د افغان ملت په نامه یادیږي ۰

د افغان ملت ګوند اوس هم فعال دې چي تر انجینر فرهاد وروسته ډاکټر محمد امین واکمن د دغه ګوند رئیس سو ، په ۱۹۹٦ کال کي ډاکټر انورالحق احدي د افغان ملت د کنګري له خوا د دغه ګوند د رئیس په حیث و ټاکل سو، چي اوس هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي ګوند رهبري پر غاړه لري ۰

د افغان ملت ګوند د هيواد په ډيرو سيمو ، مخصوصا په ننګرهار ، کندهار ، پکتيا او د وردګو په ولايتونو کي ډير پلويان لري ۰

۳ ـ د اسلامي ځوانانو سياسي جريان : دا جريان په ۱۹٦٥ کال کي د استاد غلام محمد نيازي په مشري په کابل پوهنتون کي جوړ سو ، چي ډير ژر په هيواد کي خپور سو ۰ انجينر ګلبدين حکمتيار او استاد برهان الدين رباني او داسي نور د دغه جريان غړي وو ۰

دغه اسلامي جمعيت د کابل پوهنتون او د هيواد په ښارونو کي د اسلام پلوي کوله ، د کمونيزم او الحاد سره يي مبارزه پيل کړي وه ۰ دغه جمعيت د افغانستان د جهاد په وخت کي ، د شوروي اتحاد د اشغال په مقابل کي ، د افغاني مجاهدينو رهبري پر غاړه درلوده . (۱۰)

٤ ـ د خلق ديموکراتيک جريان : د دغه سياسي جريان لومړی کانګرس چي ۲۷ غړي يي درلودل ، د ۱۹٦٥ کال د جنوري د مياشتي په لومړي ورځ په کابل کي غونډه وکړه او د دغه جريان د مرکزي کميټي اوه اصلي او څلور علي البدل غړي يي و ټاکل ۰ مرکزي کميټي نور محمد تره کي د دغه جريان د عمومي منشي او ببرک کارمل يي د منشي په حيث و ټاکل ۰ دغه سياسي جريان د مسکو د خط د کمونيزم ملاتړ کاوه۰ دغه جريان په ۱۹٦۷ کال کي د خلق او پرچم پر ډلو و ويشل شو ۰ يو کال وروسته د سازا په نامه بله ډله د طاهر بدخشي په مشري د خلق د جناح څخه بيله سوه . ظاهر افق د خپلو ټاکلو افکارو او عقايدو پر اساس ډير ژر د خلق د جريان څخه جلا سو۰ په ۱۹۷۷ کال کي خلق او پرچم بيرته سره يو ځای سول . په ۱۹۷۸ کال کي د کودتا د لاري څخه قدرت ته ورسيدل ۰

٥ ـ د ديموکرات نوين سياسي ډله : دغه جريان په هيواد کي د خپل نشراتي اورګان ، شعله جاويد په نامه شهرت درلود ۰ دي جريان د چين د خط د کمونيزم پيروي کوله د ديموکرات نوين ډلي ، مشخصه رهبري نه درلودله ولي ډاکټر عبدالرحيم محمودي ، انجينر محمد عثمان او صادق ياري د دغه سياسي جريان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشران بلل کيدل ۰

۶ ـ د صداي عوام سيا سي جريان يا (جمعيت) : دغه ډله په ۱۹٦٥ کال کي د هرات د ولايت د زنده جان د ولسوالي د وکيل ډاکټر عبدالکريم فرزان له خوا جوړه سوي ده . د دي جريان مشهور غړي ميرمن معصومه عصمتي ، ذبيح الله عصمتي او داسي نور کسان وو۰

۷ ـ د ملي جبهي ډله : دغه سياسي ډله د خليل الله خليلي له خوا جوړ سوې ده دا يوه معتدله سياسي ډله وه ، چي د دولت ډير لوړ رتبه مامورين دغي ډلي ته ورغلي وو ۰ د خليل الله خليلي په شمول د دغه جريان ځو غړي ، د دولسمي تقنيني دوري د ولسي جرگي وکيلان وو۰ په ولسي جرگي کي حکومت ته د اعتماد د رايي په وخت کي د دغه جريان او د منتخب صدر اعظم ډاکټر محمد يوسف تر منځ لفظي مشاجره پيښه شوې ده ۰

کله چي خليل الله خليلي په جدي کي سفير سو ، تر ده وروسته د دغه جريان رهبري پوهاند محمد اصغر او عبدالحميد مبارز کوله ۰

۸ ـ د ملي اتحاد ډله : دايوه معتدله سياسي ډله وه چي په هيواد کي يي د ديموکراسۍ او مشروطه شاهي حمايه کوله ۰ دغي ډلي په سرکي د مردم او وروسته د ملي اتحاد په نامه نشراتي اورگان درلود۰ د دغه سياسي جريان مشران محمد اسحق عثمان او ډاکټر امان الله رسول وو ۰

۹ ـ د اساسي قانون ډله : دا ډله رسما نه وه اعلان سوي ولي دي ډلي سياسي فعاليت درلود ۰ د دغه جريان په مقدماتي غونډي کي ډاکټر عبدالظاهر ، سيد شمس الدين مجروح ، ډاکټر عبدالقيوم او سيد قاسم رشتيا او نورو برخه درلوده رشتيا ليکي چي ده ته ډاکټر محمد يوسف د دغي غونډي په ارتباط داسي ويلي وه چي (اوس د حزب جوړولو موضوع خصوصي جنبه لري او بايد د هغه محرميت و ساتل سي) (۱۱) کله چي ډاکټر محمد يوسف مستعفي شو ، دغي ډلي ، خپل سيا سي فعاليت متوقف کړ ۰

په ۱۹٦۸ کال کي دغي ډلي د (مفاهمي) په نامه د مير محمد صديق فرهنگ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشري د ده په کور کي ځو غونډي و کړي ، يو تعداد تعليم يافته ګانو په دغو غونډو کي برخه اخستي وه . په کابل کي داسي ويل کيدل چي د اساسي قانون د تسويد د کميټې ټول غړي د دغه جريان ملګري دي . غلام محي الدين زرملوال ، محمد ولي خلمي او ما ته ، دغه جريان ته د شموليت بلنه راکړه سوې وه چي موږ دري واړه د مفاهمي غونډو نه نـه يو ورغـلـي . په هغو ورځو کي زه د ولسي جرګي د وکالت له پاره کانديد وم او د مفاهمي د جريان د غونډو په ټولي دوري کي په فراه کي وم . کله چي شپږ مياشتي وروسته زه بيرته کابل ته راغلم دغه جريان منحل سوی و .

د محمد موسي شفيق په حکومت کي د مفاهمي د غونډو ځو غړي د معينانو په حيث مقرر سول چي د شفيق دا مقرري ښيي چي دی هم د دغه جريان ملګری و .

دي اساسي پوښتونو ته تر اوسه هيڅا سم جواب نه دی ورکړی چي آيا د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون د تسويـد کميټې ولي د اجتماعاتو قانون تسويد نه کړ ؟ يا د سياسي احزابو قانون چي په ۱۹۷۰ کال کي د شورا د مختلط کمسيو له خوا و منل سو ولي پاچا توشيح نه کړ ؟ يا په هيواد کي جوړو سوو جريانونو ولي په دولتي اداراتو او پوهنتون کي په خلاص لاس جلب او جذب کاوه ، او ددوی ممانعت نه کيدی ؟

د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون ۳۲ مه ماده په دي برخه کي داسي حکم کوي :

لومړي فقره : د افغانستان اتباع د جايزو او سوليزو مقاصدو د تامين له پاره چي د خانه سره وسله ونه لري ، د قانون د احکامو مطابق ددولت د قبلي اجازي څخه پرته د اجتماع حق لري .

دوهمه فقره : د افغانستان اتباع حق لري چي د مادي او معنوي مقاصدو د تامين له پاره د قانون د احکامو مطابق جمعيتونه جوړ کړي .

دريمه فقره : د افغانستان اتباع حق لري چي د قانون د احکامو مطابق سياسي احزاب جوړ کړي په دي شرط چي :

۱ ـ د حزب د بنيادي فعاليتونو اهداف او مفکوري بايد د اساسي قانون د مندرجاتو سره تناقض و نه لري .

۲ ـ د حزب تشکيلات او مالي منابع بايد علني وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديمو كراسي دوري باخبره اشخاص د ډاكټر عبدالصمد حامد په شمول په دي عقيده دي چي كه پاچا د احزابو قانون توشيح كړی وای ، د افراطي ښی‌او كيڼ اړخ د مفكورو خاوندانو د قانون مطابق نه سو كولای چي په هيواد كي د سياسي فعاليت اجازه تر لاسه كړي . داسي ښكاري چي د هيواد كيڼ او ښي احزابو د حزب د جوړولو په برخه كي د اساسي قانون د ۳۲ مي مادي د دريمي فقري پر ځای ، د دوهمي فقري د حكم څخه استفاده كړي وه او د افغانستان دولت په آگاهانه ډول نژدي لس كاله ددغي قانوني حيلي مخه نه وه نيولي ، ولي دولت غوښتل چي د محمد موسي شفيق په وسيله ددغه عمل ممانعت وكړي ولي دا ډير نا وخت سوی و په دي چي د افغانستان اكثر خوانان په ښي او كيڼ احزابو كي متعهد سوي وو چي د حكومت د هر اقدام په مقابل كي يي شديد عكس العمل ښكاره كاوه . څني افغانان په دي عقيده دي چي كه محمد داود خان كودتا نه وای كړي ، ددي احتمال موجود وو چي د شفيق د حكومت په مقابل كي به ديموكراتيك خلق يا بلي سياسي ډلي په كودتا لاس پوري كړی وای .

د سياسي جمعيتونو په ارتباط د افغانستان عامو خلگو داسي فكر كاوه چي ، دغي سياسي ډلي د سلطنتي كورنۍ سره تړلي دي او د ضرورت په وخت كي دا ډلي تر كنترول لاندي راتلای سي ۰ دوی استدلال كاوه چي ، كيڼ اړخ ډلي د محمد داود خان او سردار محمد نعيم سره ارتباط لري او د ښي اړخ ډلي د مارشال شاه ولي خان او سردار عبدالولي سره نژدي اړيكي لري او د افغانستان پاچا د دغو ښيو او كيڼو ډلو تر منځ ، بي غرضه ناست دي او د خاموش اكثريت اراده تمثيلوي ۰

څرنگه چي په عمل كي ثابته شوه د عامو خلگو دغو خبرو او شايعاتو حقيقت نه درلود ، او څرنگه چي وروستيو پيښو و ښووله ، پر دغو ټولو ډلو باندي سلطنتي كورنۍ كنترول نه درلود او يا وروسته يي خپل كنترول د لاسه وركړي وي ، او په عمل كي هري سياسي ډلي د خپل بين المللي تمايلاتو او عقيدي پيروي كوله چي د ثور كودتا او وروستيو حادثاتو دغه مطلب په اثبا ت ورساوه . (۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ د ډاکټر محمد یوسف حکومت

۱۹۶۳ ــ ۱۹۶۵

ډاکټر محمد یوسف خان د محمد حسن زوی ، په ۱۹۱٤ کال کي په کابل کي زیږیدلی دی . دی د اماني لیسي څخه فارغ التحصیل شوی او د فزیك په څانګه کي یي د المان څخه دکتورا اخستي ده . تر څه مودي معلمي وروسته دی د ساینس د پوهنځي رئیس سو ، د پوهني په وزارت کي یي د مسلکي تدریساتو د رئیس او معین دنده هم تر سره کړي ده . د محمد داود خان په کابیني کـي د کانـو د وزارت وزیـر و . ډاکټر محمد یوسف د ۱۹۶۳ کال د مارچ د میاشتي پر ۱۳ مي نیټي د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه لـه خـوا د حکومت پـه جـوړولـو مؤظف کـړه شـو ، پـه دغـه وخت کـــي دی ٤۹ کلـن و .

د ډاکټر محمد یوسف خان د حکومت اساسي دنده د افغانستان د ۱۹۳۱ کال پر اساســي قانون باندي نـوی کتنه او د افغانستان او پاکستان د سیاسي روابطو بیا ټینګیدل وو .

د پاکستان سره د مناسباتو په برخه کي د ایران پاچا محمد رضا شاه پهلوي د محمد داود خان تر استعفا د مخه د افغانستان او پاکستان تر منځ ، د منځګړیتوب پیشنهاد کړی و . د ډاکټر محمد یوسف د حکومت په پیل کي یو افغاني هیات د سید قاسم رشتیا په مشري چي نور احمد اعتمادي هم د دغه هیات مهم غړی و ، تهران ته سفر وکړ . د پاکستان له خـوا هـم یو هیات د ذوالفقار علـي بوتو پـه مشري تهران ته رسیدلی و .

په تهران کي د دواړو هیأتونو تر منځ مذاکرات پیل سول . په دغو مذاکراتو کي فیصله و سوه چي د افغانستان او پاکستان تر منځ دي سیاسي مناسبات بیرته ټینګ سي ، تجارتي او ترانزیتي فعالیتونه دي د سره ونیول سي . ولي د اختلاف پر اصلي ټکي چي د پښتونستان موضوع وه هیڅ خبري و نه سوي ، د پښتونستان پر موضوع باندي د دواړو هیوادونو اختلافات پر خپل ځای پاته سوه . په عمل کي وروسته د افغانستان په حکومتي نشراتو کي د سیا سي پالسي تغیر راغی . د پښتونستان پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع باندي پخواني تاريخي موقف چي د هغه خای د پښتنو له پاره د خود ارادیت د حق غوښتنه وه ، بیرته راژوندي کړه سوه ۰

د ډاکټر محمد يوسف انتقالي حکومت

د نوي اساسي قانون مطابق د انتقالي حکومت دوره یو کال او ۱۳ ورځې تثبیت سوی وه چي د ۱۳٤٤ ه ش کال د میزان د میاشتي پر ۲۲ نیټي (۱۹٦٥) چي د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د تولد ورځ وه ، دغه دوره پای ته رسیده ۰

د اساسي قانون د ۱۲٦ مـي مادي د حکم مطابق ، انتقالي حکومت دغه وظايف سر ته ورسول ۰

ـ د انتخاباتو ، اساسي تشکیلاتو. ، مطبوعاتو او قضايي تشکیلاتو او صلاحیتونو قوانین يي ترتیب کړه ، او د پاچا تر توشیح وروسته نافذ سول ۰

ـ د احزابو او ولایتي جرگو قوانین يي ترتیب کړه او د تصویب له پاره يي د دولسمي دوري د شورا ، ولسي جرگي ته وړاندي کړه ۰

د ډاکټر محمد يوسف دريم حکومت

په ۱۹٦٥ کال کي ډاکټر محمد یوسف بیا د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور کړ سو۰ ده ولسي جرگي ته د اعتماد د رايو اخستلو له پاره مراجعه و کړه ، په ولسي جرگي کي د ډاکټر محمد يوسف حکومت ته د راي ورکولو په لاري کي خنډونه پيښ سول ، ولي د ده حکومت د عقرب د میاشتي پر دريمه ورځ د ولسي جرگي څخه د اعتماد رايه واخسته ۰ په دغه ورځ په کابل کي د عقرب د دريمي حادثه پيښه سوه ، د دغي حادثي په نتیجه کي دري ورځي وروسته د ډاکټر محمد يوسف حکومت مستعفي شو او د ده پـر ځـای محمد هاشم مـیونـد وال د حکومت پـه جوړولو مؤظف کړه سو ۰

ډاکټر محمد يوسف په خپلي یوی مصاحبي کي ویلي دي ((وروسته تر هغه چي د صدارت څخه د محمد داود خان استعفي پاچا ومنله ، نو ده غوښتل چي ما د افغانستان د صدر اعظم په حیث وټاکي ، کله چي ده دغه غوښتنه زما څخه وکړه ، ما په جواب کي پاچا ته وويل چي تر محمد داود خان وروسته په افغانستان کي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول آسانه کار نه دی ، ځکه نو ما ته د صدارت د مقام مکمل صلاحیتونه باید راکړه سي ، څرنگه چي په هغه وخت کي پاچا پر ما باندي ډیر اعتماد درلود ، نو ده زما دغه غوښتنه و منله او د صدارت د وظیفي ټول صلاحیتونه یي ما ته راکړه ، ولي وروسته تر هغه چي ما احساس کړه چي د صدارت صلاحیتونه زما څخه سلب سوي دي ، پر هغه سربیره چي ما د عقرب د میاشتي په دریمه ورځ د ولسي جرگي څخه د اعتماد رایه اخستي هم وه ، بیا هم ما استعفي وکړه)) (د خراسان مجله د ۱۹۸۸ کال د کتوبر د میاشتي ٦)

د ډاکټر محمد یوسف د حکومت ترکیب

صدر اعظم	ډاکټر محمد یوسف	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
لومړی مرستیال	عبدالله ملکیار	۱۹۶۳ـ۱۹۶٤
دوهم مرستیال	ډاکټر علي احمد پوپل	۱۹۶۳ـ۱۹۶٤
د صدر اعظم مرستیال	ډاکټر عبدالظاهر	۱۹۶٤ـ۱۹۶۵
د دفاع وزیر	جنرال خان محمد خان	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
خارجه وزیر	ډاکټر محمد یوسف	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
داخله وزیر	سید عبدالله	۱۹۶۳ـ۱۹۶۳
	ډاکټر عبدالقیوم	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
د مالیي وزیر	عبدالله ملکیار	۱۹۶۳ـ۱۹۶٤
	سید قاسم رشتیا	۱۹۶٤ـ۱۹۶۵
د عدلیي وزیر	سید شمس الدین مجروح	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
د کانو وزیر	ډاکټر محمد یوسف	۱۹۶۳ـ۱۹۶۳
	انجینر محمد حسین مسا	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
د کرني وزیر	ډاکټر محمد ناصر کشاورز	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
د فواید عامي وزیر	جنرال محمد عظیم	۱۹۶۳ـ۱۹۶۵
د پوهني وزیر	ډاکټر علي احمد پوپل	۱۹۶۳ـ۱۹۶٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

	ډاکټر محمد انس	١٩٦٤ - ١٩٦٥
د مطبوعاتو وزير	سيد قاسم رشتيا	١٩٦٣ - ١٩٦٤
	محمد هاشم ميوندوال	١٩٦٤ - ١٩٦٥
د تجارت وزير	محمد سرور عمر	١٩٦٣ - ١٩٦٥
د پلان وزير	عبدالحې عزيز	١٩٦٣ - ١٩٦٣
	عبدالله يفتلي	١٩٦٣ - ١٩٦٥
د روغتيا وزير	ډاکټر عبدالرحيم	٩٦٣ - ١٩٦٤
	ډاکټر عبدالظاهر	١٩٦٤ - ١٩٦٥
د مخابراتو وزير	ډاکټر عبدالقيوم	١٩٦٣ - ١٩٦٣
	ډاکټر محمد حيدر	١٩٦٣ - ١٩٦٥
د قبايلو مستقل رئيس	سيد شمس الدين مجروح	١٩٦٣ - ١٩٦٣
	گل پاچا الفت	١٩٦٣ - ١٩٦٥

(١٣)

٧ ـ د عقرب ددريمي حادثه

په ١٩٦٥ کال کي ډاکټر محمد يوسف د دوهم وار له پاره د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور کړ سو . ده ولسي جرگي ته د اعتماد د رايي له پاره مراجعه وکړه د ولسي جرگي ډيرو وکيلانو د خليل الله خليلي د ملگرو په شمول د ده د حکومت سره موافقه نه درلوده . د عقرب په دوهمه ورځ د حقوقو د پوهنځي شاگردان ولسي جرگي ته ورغله او د هغي جرگي د تالار ټولي چوکې يي و نيولي ، خينو شاگردانو د ولسي جرگي په تالار کي ډاکټر محمد يوسف ته چکچکي هم وکړي ، په حقيقت کي ډاکټر محمد يوسف غوښتل چي د شاگردانو د فشار له لاري څخه د ولسي جرگي څخه د اعتماد رايه واخلي . (١٤)

په دغه ورځ حکومت ته د اعتماد د رايي تصميم و نه نيول سو ، ولسي جرگي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتماد رایه بلي ورخي ته وځنډوله ۰ په دغه ورځ ولسي جرګې فیصله وکړه چي د سبا ورځي د اعتماد درایو غونډه به سري وي ، او سا معینو ته د ولسي جرګي تالار ته د ننوتلو اجازا نه و رکوله کیږي ۰

د ۱۹٦٥ کال د اکتوبر د میاشتي ۲۵ مه د عقرب د میاشتي دریمه ورځ وه ، د شورا د ماڼي په مخ کي ډیر محصلین ور ټول سوي وو ۰ دوی ته په لوړ سپیکر کي وویل سول چي د ولسي جرګي د نن ورځي غونډه سري ده او تاسي د ولسي جرګي تالار ته نه سی داخلیدلای . (۱٥)

تر دوو زرو ډیرو شاګردانو د ولسي جرګي د سري غونډي پر ضد احتجاج وکړ ۰ د سهار پر نهو بجو چي ډاکټر محمد یوسف د خپل کور څخه صدارت ته تي ، د ده موټر د یوي ډلي شاګردانو له خوا و درول سو ، ده ته یي د ولسي جرګي د سري غونډي شکایت وکړ ۰ وروسته شاګردانو د حبیبي د لیسي هنداري ماتي کړي ، د ډاکټر یوسف کور ته نژدي عسکرو پر شاګردانو فیرونه وکړه چي څه نا څه دري کسان هلته و وژل سوه ۰د دغي سیمي د امنیت واک د سردار عبدالولي په لاس کي و ، ډیرو افغانانو دې د نوموړي حادثي مسؤول وباله ۰

۸ ـ د محمد هاشم میوندوال حکومت

۱۹٦٥ ــ ۱۹٦٧

محمد هاشم میوندوال د ملا عبدالحلیم زوی دې چي په ۱۲۹۸ ه ش کال (۱۹۱۹) کي د مقر په ولسوالي کي زیږیدلی دی ۰ په ۱۳۲۱ ه ش کال (۱۹٤۲) کي د حبیبي د لیسي څخه فارغ التحصیل سو ، وروسته د هرات د اتفاق اسلام د جریدي مدیر سو ، په دغه وخت کي محمد هاشم میوندوال پردیس تخلص کاوه ۰

محمد هاشم میوندوال د خارق العاده استعداد خاوند و ، ده د افغانستان په دولت کي په مهمو چوکیو کي کار کړی دی ۰ دی دري واره د مطبوعاتو مستقل رئیس یا وزیر مقرر سوی دی ، او دوه واره په کراچي کي افغاني سفیر و ، په واشنګټن کي یي د مستشار او لوی سفیر په حیث کار کړی دی ، په خارجه وزارت کي معین و ، د څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت له پاره د پاچا مطبوعاتي مشاور هم و ۰ محمد هاشم ميوندوال د ۱۹۶۵ کال د اکتوبرد مياشتي پر۳۰ نيټي د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مؤظف کړ سو ۱۶

محمد هاشم ميوندوال خپله کابينه او د حکومت کړنلاره د نومبر د مياشتي پر دوهمه ورځ ولسي جرگي ته وړاندي کړه ، او د ولسي جرگي څخه يي د اعتماد رايه واخسته ۰ څرنگه چې په دغه وخت کي د عقرب د دريمي حادثه پيښه سوی وه ، محمد هاشم ميوندوال په خپله د شورا د يو شمير وکيلانو سره د کابل پوهنتون ته ولاړ او د پوهنتون په اديتوريم کي يي د وژل سوو وطنوالو روح ته دعا وکړه او د پوهنتون محصلينو ته يي وعده ورکړه چي د عقرب د دريمي د پيښي عاملينو ته به سزا ورکړي د دغـي واقعـي بـنديـان بـه خـوشــي کړي ، محصلينو ته به د اتحاديي د جوړولو اجازه ورکړي ۰

په دغه تعهد سره د محمد هاشم ميوندوال څخه د پوهنتون ټول شاگردان خوشحاله سول او دی يي په چکچکو استقبال کړ ۰ څرنگه چي د عقرب د حادثي تر شا لويو لاسونو کار کاوه ، نو محمد هاشم ميوندوال خپله وعده تر سره نه کړه . (۱۷)

د ۱۹۶۵ کال د نومبر د مياشتي پر ۱٤ نيټي د شوروي اتحاد يو هيات د هغه هيواد د صدر اعظم د مرستيال په مشري د کشک ، تورغونډي ، هرات او کندهار د لويي لاري د پرانستلو له پاره کابل ته سفر وکړ ۰ د ۱۳٤٤ ه ش کال د جدي د مياشتي پر ۲٤ نيټي (۱۹۶۵) د شوروي اتحاد صدر اعظم کاسيگين د هند څخه د بيرته راتلو په وخت کي په کابل کي تم سو ، ده د پاچا او محمد هاشم ميوندوال سره وليدل او ميوندوال يي هغه هيواد ته دعوت کړ ۰ محمد هاشم ميوندوال د ۱۹۶۶ کال د فبروري د مياشتي پر اوله نيټه شوروي اتحاد ته سفر وکړ ۰ د ۱۳٤۵ ه ش کال د عقرب د مياشتي پـر ۲۲ نيټي (۱۹۶۶) د شير خان بندر او دوشـي د سړک د قير اچولو کار چي ۲۱٤ کيلو متره وو ، پای ته ورسيدی او رسما پرانستل سو ۰

د ميوندوال د حکومت په وخت کي د امريکايانو سره يو شمير اقتصادي او تعليمي تړونونه لاس ليك سوه ۰ د کابل او کندهار د سړک د جوړولو چاري يي چټکي کړي ۰ د ۱۳٤۵ ه ش کال د سرطان په مياشت (۱۹۶۶) کي د کابل او کندهار سړک چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريكايي انجينرانو له خوا ، تسطيح او اسفلت سوى و په رسمي توګه پرانستل سو محمد هاشم ميوندوال د ١٩٦٧ کال د مارچ د مياشتي پر ٢٣ نيټي ، امريکا ته رسمي سفر وکړ او د دريم اقتصادي پلان له پاره يي د امريکا څخه د مرستو غوښتنه و کړه د ١٩٦٧ کال د آګست د مياشتي پر څلورمي نيټي ، امريکا د ارغنداب او هلمند د ناوي د کرني د پروژو له پاره د څلور نيمو مليونو ډالرو مرستي وعده وکړه .

محمد هاشم ميوندوال د خپل صدارت په وخت کي د مترقي ديموکرات په نامه يو ګوند جوړ کړ چي د مساوات جريده د دغه ګوند نشراتي اورګان و (١٨)

د ميوندوال د صدارت په وخت کي د هيواد د بزګرانو (کوچيانو) په ګټه د څارويو محصول معاف کړ سو . ځرنګه چي پووندو د کال په سر او پای کي خپلي ميني بدلولي نو په ځينو سيمو کي دوی مجبوره کيدل چي څو واره د خپلو څارويو محصول ورکړي ، چي د ميوندوال دغه ابتکار دوی د لوی مشکل څخه خلاص کړه .

د مير غلام محد غبار مشهور اثر (افغانستان در مسير تاريخ) د محمد هاشم ميوندوال د صدارت په وخت کي چي عبدالرؤف بينوا د مطبوعاتو وزير و ، په دولتي مطبعي کي چاپ کړ سو . کتاب د مطبعي څخه لا نه و وتلی چي محمد هاشم ميوندوال مستعفي سو او دده پر ځای نور احمد اعتمادي صدر اعظم سو ، د نوي حکومت په امر دغه کتاب په مطبعي کي قيد کړه سو ، ولي حشمت خليل غبار د کتاب څلويښت ټوکه د مطبعي څخه وه ايستل چي يو ټوک يي ما ته هم راکړ . ددغه کتاب دري زرو ټوکو ته د نور محمد تره کي په وخت کي د مطبعي څخه د وتلو اجازه ورکړه سوه .

د محمد هاشم ميوندوال له پاره د Ramparts په نامه د يوي امريکايي مجلي يوه مضمون سياسي مشکلات پيدا کړه . دغي مجلي د زراعت په څانګي کي د يوه افغاني محصل عبداللطيف هوتکي د قوله ليکلي و چي ((زه په ١٩٦١ کال کي د افغاني محصلينو د اتحاديي د مشر ضيا همايون نورزوی او د سي.آی . اې د يوه ايجنټ له خوا داسي تشويق کړه سوم ، چي کله افغانستان تـه ولاړ سم هلته د دغـي اداري لـه پاره کار و کړم)) هوتکي دا ادعا هم کړي وه چي ((د ماليي د وزارت د خزاينو اوسني رئيس ضيا همايون نورزوی او د افغانستان د دولت يو ګڼ شمير کليدي مامورين چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په امریکا کي يي تحصیل کړی دې د سي۰ آی ۰ ای له خوا تربیه یا تلقین سوي دي ، چي څني دغه مامورین د کابیني په سطحه کي دي)) (۱۹)

د محمد هاشم میوندوال مخالفینو لکه د اساسي قانون ډلي او ځینو چپو جریانونو د رامپارتس د مجلي دغه مضمون د محمد هاشم میوندوال پر ضد ډیر تبلیغ کړ، تر څو چي محمد هاشم میوندوال او د ده ملګري مجبور سول چي د رامپارتس د مجلي دغه مضمون ترجمه او د مساوات په جریدي کي يي نشر کړي ۰ دوی یوه لویه اشتباه وکړه ، هغه اشتباه دا وه چي دوی د رامپارتس د مجلي د مضمون هغه برخه نشر نه کړه چي د افغانستان د دولت په مامورینو پوري يي اړه درلوده ۰ دغي اشتبا د محمد هاشم میوندوال له پاره جدي ستونزي راپیدا کړي ۰ د میوندوال مخالفینو د رامپارتس د مجلي دغه ګڼه پیدا کړی وه او دوی په دي ښه پوهیدل چي د مساوات جریدي د دغه مضمون یوه برخه نه ده نشر کړي ۰ دوی ادعا کوله چي د مساوات جریدي د محمد هاشم میوندوال نوم ، د مضمون د ترجمي څخه حذف کړی دی ، په داسي حال کي چي دمیوندوال د مخالفینو دغي ادعا حقیقت نه درلود ، په دي چي د محمد هاشم میوندوال نوم په دغه مضمون کي نه و لیکل سوی ۰

په ۱۳٤٦ ه ش کال (۱۹٦۷) کي د محمد هاشم میوندوال حکومت د سیاسي او اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ سو ۰ د پوهنتون او ښوونځیو شاګردانو او یو شمیر د فابریکو کارګرانو په خپلو مظاهرو سره ، د ورځي عادي چاري مختلي کړي ۰ په ولسي جرګي کي د محمد هاشم میوندوال مخالفو وکیلانو ، د ده د حکومت پر اجراآتو انتقادونه وکړه ۰ د محمد هاشم میوندوال صحي حالت هم ډیر خراب و ، ده د کولمو د انسداد د ناروغۍ ، دري واره عملیات کړي وو چي څلورم عملیات ته هم ضرورت و۰چي د ۱۹٦۷ کال د اکتوبر د میاشتي پر ۱۱ نیټي مستعفي سو (۲۰)

تبصره : د رامپارتس سیاسي مجله د ۱۹٦۲ کال څخه بیا تر ۱۹۷۵ پوري د امریکا د شمالي کلفورنیا د برکلی په ښار کي خپریدله ۰ دغي مجلي د ۱۹٦۷ کال د اپریل د میاشتي د ګڼي په ۲۳ او ۲٤ مخونو کي د دغي مجلي د محرر له خوا تر دي عنوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندي چي (څرنگه سي۰آی ای د خارجي شاگردانو څخه خاينان جوړوي) په يوه مخصوص راپور کي چي دري برخي يي درلودلي ، د يوه افغاني محصل عبداللطيف هوتکي له قوله پورته مطالب ليکلي دی ۰ ما د امريکا د ورجينيا دايالت د جورج ميسن د پوهنتون په کتابخاني کي دغه مضمون د مکرو فلم څخه لوستی دی ۰ دلته دا مطلب د ليکلو وړ بولم چي د رامپارتس د مجلي په دغه مضمون کي يوازي د ضيا همايون نورزوی نوم ليکل سوی دی ، د بل افغاني مامور نوم په دغه مضمون کي نه دی ذکر سوی ۰ که څوك د رامپارتس د مجلي دغه مضمون و لولي ، په دي به متيقين سي چي عبداللطيف هوتکي دغه مضمون د محمد هاشم ميوندوال په ارتباط نه دی ليکی ، او نه هم محمد هاشم ميوندوال په امريکا کي درس لوستی دی ۰ د مضمون د متن څخه داسي ښکاري چي په خپله هوتکي د امريکا د ويزي د دفتر سره مشکلات درلودل او دی د امريکا د حکومت څخه شاکي دی چي پورته ټول مطالب په دغه مضمون کي تشريح سوي دي ۰ د رامپارتس د مجلي د دغه مضمون هغه برخه چي د افغانانو په ارتباط ليکل سوی ده د کتاب په ضميمه پاڼو کي لوستلای سی ۰

د محمد هاشم ميوندوال د حکومت ترکيب

صدر اعظم	محمد هاشم ميوندوال	۱۹۶۵ـ۱۹۶۷
لومړی مرستيال	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۵ـ۱۹۶۷
دوهم مرستيال	عبدالستار شاليزي	۱۹۶۵ـ۱۹۶۶
د دفاع وزير	جنرال خان محمد	۱۹۶۵ـ۱۹۶۷
خارجه وزير	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۵ـ۱۹۶۷
داخله وزير	عبدالستار شاليزي	۱۹۶۵ـ۱۹۶۶
	انجينر احمدالله	۱۹۶۶ـ۱۹۶۷
د مالي وزير	عبدالله يفتلي	۱۹۶۵ـ۱۹۶۷
	عبدالکريم حکيمي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عدليي وزير	عبدالحکیم طبیبي	۱۹۶۶_۱۹۶۵
	ډاکټرمحمد حیدر	۱۹۶۷_۱۹۶۶
	ډاکټر محمد احسان تره کي	۱۹۶۷_۱۹۶۷
د پوهني وزير	محمد هاشم میوندوال	۱۹۶۵_۱۹۶۵
	ډاکټر محمد عثمان انوري	۱۹۶۷_۱۹۶۵
د فوايد عامي وزير	انجینر احمدالله	۱۹۶۶_۱۹۶۵
	انجینر محمد حسین مسا	۱۹۶۷_۱۹۶۶
د کانو وزير	انجینر عبدالصمد سلیم	۱۹۶۵_۱۹۶۵
د کرني وزير	انجینر محمد اکبر رضا	۱۹۶۵_۱۹۶۵
د مطبوعاتو وزير	محمد هاشم میوندوال	۱۹۶۵_۱۹۶۵
	محمد عثمان صدقي	۱۹۶۷_۱۹۶۵
	عبدالرؤف بینوا	۱۹۶۷_۱۹۶۷
د تجارت وزير	ډاکټر نور علي	۱۹۶۷_۱۹۶۵
د پلان وزير	ډاکټر عبدالحکیم ضیایي	۱۹۶۷_۱۹۶۶
	عبدالله یفتلي	۱۹۶۷_۱۹۶۷
د روغتیا وزير	محمد عثمان انوري	۱۹۶۵_۱۹۶۵
د روغتیا وزيره	پیغله کبرا نورزايي	۱۹۶۷_۱۹۶۵
د مخابراتو وزير	ډاکټر محمد حیدر	۱۹۶۶_۱۹۶۵
	عبدالکریم حکیمي	۱۹۶۷_۱۹۶۶
مشاور وزير	ډاکټر محمد انس	۱۹۶۷_۱۹۶۷
مشاور وزير	عبدالله یفتلي	۱۹۶۷_۱۹۶۷
د قبایلو مستقل رئیس	محمد خالد روښان	۱۹۶۷_۱۹۶۵

(۲۱)

۹ ـ د نور احمد اعتمادي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور احمد اعتمادي د سردار غلام محمد خان زوی او د سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله لمسی دی ۰ هغه وخت چي د ده نيکه په کندهار کي د هيواد د خپلواکۍ د بيرته اخستلو د جبهي د لوی قوماندان په حيث ، کارکاوه په ۱۲۹۹ ه ش کال (۱۹۲۰) کي پــه کندهار کــي زيږيدلی دی ۰ دی يو شريف افغان و چي د ظلم او بي عدالتي څخه يي بڼه نه راتله ۰

نور احمد اعتمادي د استقلال په ليسي کي زده کړه کړي وه ، د پوهني په وزارت کي يي په کار پيل کړی دی ، وروسته د خارجه وزارت مامور سو ، په خارجه وزارت کي يي په مهمو چوکيو کي کار کړې دې ۰ ده په کراچي ، اسلام آباد ، روم او مسکو کي د افغانستان د سفير په حيث وظيفه اجرا کړي وه ۰ دی يو ورزيده ديپلومات و او د محمد هاشم ميوندوال په حکومت کي ، د صدر اعظم مرستيال او خارجه وزير و۰

نور احمد اعتمادي د ۱۹٦۷ کال د نومبر د مياشتي پر لومړی نيټي د پاچا له خوا د کابيني په جوړولو مامور کړ سو ، د ده لومړي حکومت د ۱۹٦۷ کال د نومبر په مياشت کي د دولسمي تقنيني دوري د ولسي جرگي څخه د اعتماد رايه واخسته ۰ د ده دوهم حکومت په ۱۹٦۹ کال کي د ديارلسمي تقنيني دوري د ولسي جرگي څخه د اعتماد رايه واخسته ۰

نور احمد اعتمادي د ديموکراسۍ په وخت کي تر هر بل صدر اعظم ډير اوږد حکومت کړی دی ۰ دديموکراسي دوره لس کاله او څلور مياشتي وه ، د دغي دوري څخه ، يوازي نور احمد اعتمادي ، دري کاله او اتـه مياشتي د افغانسـتـان صدر اعظم و ۰ د نور احمد اعتمادي حکومت په هيواد کي د دغو مشکلاتو سره مخامخ سو :

- د پوهنتون او معارف د شاگردانو ، مظاهري او اعتصابونه
- د پل خشتي په مسجد کي ، د مذهبي علماو اعتراضيه احتجاج
- دولسي جرگي سره ، نه تفاهم او عدم همکاري
- د محمد هاشم ميوندوال او مترقي ديموکرات د گوند سره مجادله

د مترقي ديموکرات د گوند يوه غړي د موسۍ کلا وکيل عبدالرؤف بينوا ، د نوراحمد اعتمادي د دوهم حکومت د اعتماد درايي په غونډي کي ، د ده د حکومت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجراآتو نيوكي وكړي كله چي بينوا د خپل پارلماني وينا يوه برخه د پښتو څخه دري ته را اړوله ، نو ده په كنايي سره نور احمد اعتمادي ته داسي و ويل :

با يار قديم غم كهن بايد گفت

لابد به زبان او سخن بايد گفت

پورته څلور عمده معضلي وي چي د نور احمد اعتمادي حكومت يي مشغوله وساتى او د ده د مثبتو كارونو مانع سو . د نور احمد اعتمادي د حكومت ټوله دوره په مجادلي او ناراميو سره تيره سوه ، تر څو چي د ده حكومت په ولسي جرگي كي د نه اعتماد درايي سره مخامخ سو . او د ۱۹۷۱ كال د مې په مياشت كي مستعفي سو او د ده پر ځاى ډاكټر عبدالظاهر د افغانستان صدر اعظم سو . (۲۲)

يوه ټوكه

د نور احمد اعتمادي د لومړي حكومت په دواړو كلونو كي د دولتي پروژو يوازي مطالعه كيدله . حكومتي اخبارونو به په دغه ارتباط ليكل چي حكومت د پروژو په برخه كي اول فكر كوي او بيا وروسته عمل كوي .

د نور احمد اعتمادي د دوهم حكومت په پيل كي د پكتيا د صبريو او احمدزو تر منځ خونړي جگړه پيښه سوه ، چي په كابل كي ويل كيدل چي حكومت په دغو جگړو كي لاس لري . يوه ورځ د گل پاچا الفت څخه چا پوښتنه و كړه چي حكومت ولي دغه كار كوي ؟ الفت په ټوكه ده ته و ويل چي ((حكومت دوه كاله فكر كاوه او كار يي نه كاوه ، اوس كار كوي خو فكر نه كوي))

د نور احمد اعتمادي د لومړي حكومت تركيب

صدر اعظم	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
لومړي مرستيال	ډاكټر علي احمد پوپل	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
دوهم مرستيال	عبدالله يفتلي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د دفاع وزير	جنرال خان محمد	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
خارجه وزير	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخله وزیر	ډاکټر محمد عمر وردك	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د مالیي وزیر	محمد انور ضیایي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د عدلیي وزیر	ډاکټر محمد اصغر	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د کانو وزیر	انجینر عبدالصمد سلیم	۱۹۶۷ـ۱۹۶۸
	انجینر محمد حسین مسا	۱۹۶۸ـ۱۹۶۹
د کرني وزیر	انجینر محمد اکبر رضا	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د فوایدعامي وزیر	انجینر محمد حسین مسا	۱۹۶۷ـ۱۹۶۸
د پوهني وزیر	ډاکټر علي احمد پوپل	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
	ډاکټر محمد اکرم	۱۹۶۹ـ۱۹۶۹
د اطلاعاتو او کلتور وزیر	ډاکټر محمد انس	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د تجارت وزیر	ډاکټر نور علي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د پلان وزیر	ډاکټر عبدالصمد حامد	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د روغتیا وزیره	پیغله کبرا نورزایي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د مخابراتو وزیر	انجینر محمد عظیم گران	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
مشاور وزیر	ډاکټر عبدالواحد سرابي	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹
د قبایلو مستقل رئیس	سید مسعود پوهنیار	۱۹۶۷ـ۱۹۶۹

د نور احمد اعتمادي د دوهم حکومت ترکیب

صدر اعظم	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
لومړي مرستیال	عبدالله یفتلي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
دوهم مرستیال	ډاکټر عبدالقیوم	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د دفاع وزیر	جنرال خان محمد	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
خارجه وزیر	نور احمد اعتمادي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخله وزیر	انجینر محمد بشیر لودین	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د مالیي وزیر	ډاکټر محمد امان	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د عدلیي وزیر	عبدالستار سیرت	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د کانو او صنایعو وزیر	امان الله منصوري	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د پوهني وزیر	ډاکټر عبدالقیوم	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د کرني وزیر	عبدالحکیم	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د فواید عامي وزیر	انجینر محمد یعقوب لعلي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د اطلاعاتو او کلتور وزیر	ډاکټر محمود حبیبي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د تجارت وزیر	ډاکټر محمد اکبر عمر	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د پلان وزیر	ډاکټر عبدالواحد سرابي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د روغتیا وزیر	ډاکټر محمد ابراهم مجید سراج	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د مخابراتو وزیر	انجینر محمد عظیم ګران	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
مشاور وزیر	غلام علي آئین	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
مشاوره وزیره	میرمن شفیقه ضیایي	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱
د قبایلو مستقل رئیس	سید مسعود پوهنیار	۱۹۶۹ـ۱۹۷۱

(۲۳)

۱۰ ـ د پل خشتي په مسجد کي ددیني علماوو غونډي د

تاریخ په اوږدوکي د افغانستان پاچاهانو خلګو ته دا حق نه وو ورکړی چي د حکومت پر اجرااتو انتقادونه وکړي چي په نتیجه کي عامو خلګو به همیشه ویل چــي ((دا د سرکار کار دی او په موږ پوري اړه نه لري))

کله چي په ۱۹٦٤ کال کي د پاچا په اراده د پاسه څخه د افغانستان خلګو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديموكراسي حق وركړ سو، خو د افغانستان خلگ په دي نه پوهيدل چي د ديموكراسي څخه څنگه استفاده وكړي ؟ د افغانستان دولت او حكومت د ديموكراسي د سالم رشد له پاره لازم تدابير و نه نيول او حتي دوی د اساسي قانون متمم قوانين هم نافذ نه كړه ۰ چي په پای كي ځينو اشخاصو او ډلو د دغي سياسي خلا څخه ناوړه استفاده وكړه او خبره دي ځای ته ورسيده چي د افغانستان ملي او اسلامي مقدساتو ته د ديموكراسي تر نامه لاندي ، سپكاوی پيل سو ۰ د مثال په توگه :

ـ په ۱۹٦۸ كال كي د صدر اعظم نور احمد اعتمادي څخه د استيضاح په غونډي كي چي زه هم د سامع په حيث حاضر وم ، د بادغيس د مرغاب د ولسوالي وكيل غلام رباني شملزي صدر اعظم ته و ويل چي په مسكو كي د غلام سخي غيرت په نامه يوه افغاني محصل قرآن شريف ته اهانت كړی دی او حكومت بايد د دغي موضوع تحقيق وكړي خو حكومت د دغي موضوع پوښتنه و نه كړه ۰

ـ په ۱۹٦۸ كال كي د اصلاح په حكومتي ورځپاڼي كي د (مرد نه زنه) تر عنوان لاندي يو كاريكاتور خپور سو ، چي ځينو خلگو به ويل چي د دغه كاريكاتور هدف حضرت پيغمبر ء ص ء دي ۰ د اصلاح د ورځپاڼي دغه كاريكاتو د غربي المان د مطبوعاتو څخه اخستل شوي و چي دغه كاريكاتو ، په اول كي د اسرايلو په مطبوعاتو كي خپور شوی و ۰

ـ د كابل په سينماگانو كي د حضرت يوسف په نامه يو فلم په نمايش اېښودل شوی و چي د دغه فلم ځيني برخي د اسلام پر ضد وي ۰

ـ د پرچم په جريدي كي پر لينن درود ويل سوی و ۰

د پورتني اسلام ضد نشراتو او پيښو خبرونه ، د افغانستان شورا او د هيواد عامو خلگو ته و رسيدل ۰ د ۱۹۷۰ كال د اپريل او مي په مياشتو كي د هيواد د ډيرو سيمو ملايان او طالبان د پل خشتي په مسجد كي د ۳ ٤ ورخو له پاره سره يو ځای سوه ، دوی په دغه مسجد كي د دولت او حكومت پر ضد خطابي وركولي او د دغو علماوو يو مشر مولوي فيضاني و چي هلته يي اسلامي احكام بيانول ۰ په مسجد كي د علماوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عامو خلگو شمیر مخ پر زیاتیدو و ، د کابل ښاریانو د دیني علماو سره ډیره همدردي و ښووله ، سوداګرو او عاموخلګو به هره ورځ پخه پوړي مسجد ته وروړه ۰

حکومت په غیر مستقیم طور د دیني علماوو د خینو مشرانو سره خبري وکړي ، ولي دغه خبري ناکامي سوي ۰ په دي دلیل چي د دیني علماو غوښتني ، هره ورځ ډیریدلي څو په پای کي دوی ډیري پراخي غوښتني وړاندي کړي ۰دوی په هیواد کي د اسلامي شریعت او حنفي مذهب ، د کا مل تطبیق غوښتنه کوله ۰ دوی د پوهنـي د وزارت د تعلیمي نصاب او د نجونو د تحصیل موضوع او د اسلامي حجاب مساله هم مطرح کړه ۰

د افغانستان دولت او حکومت د دیني علماوو دغه اعتصاب او غوښتني د امان الله خان د وخت د حالاتو سره مشابه و بللي نو د دوی غوښتني یي و نه منلي ۰ حکومت فیصله وکړه چي د علماوو دغه حرکت ، د برچي په زور خاموشه کړه سي ۰ د شپي له خوا کله چي علما بیده وو ، عسکري منظم ټولګي د پل خشتي په مسجد ورننوتل او دوی یي په زوره په عسکري لاریو کي واچول او مربوطه ولایاتو ته یي ورسول په ولایاتو کي د دوی څخه په دي مفهوم تعهد نامي واخستل سوي چي (تردي وروسته به د خپل ولایت څخه بل ولایت ته سفر نه کوي او په اعتصابونو کي به برخه نه اخلي)

د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه ، د دي له پاره چي د دیني علماوو پر ضد د حکومت دغه شدید عمل په شوراکي بد انعکاس و نه کړي ، ده په خپله د شورا د ټولو غړو سره ولیدل ۰ زه هم د فراه او نیمروز د وکیلانو په ډلي کي د پاچا حضور ته ورغلی وم ، پاچا د دیني علماوو د دغه اعتصاب او پراخو غوښتنو غندنه وکړه . پاچا وکیلانو او سناتورانوته توصیه وکړه ، چي که په شورا کي د دغي موضوع په ارتباط څوک ناوړه اقدامات کوي د شورا غړي باید د هغه مخه و نیسي ۰ د پاچا تر فرمایشاتو وروسته د نیمروز د ولایت سناتور متقاعد ډګروال شیر محمدخان د نورو په نمایندګي پاچا ته ډاډ ګیرنه ورکړه ۰

د پل خشتي په مسجد کي د دیني علماو د تحصن په برخه کي د کابل په محافلو کي راز راز تبصري کیدي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ځينوبه استدلال كاوه چي په وروستيو كلونو كي په هيواد كي ډيره بي بندوباري راغلي ده ، اوس د دي وخت رارسيدلې دې چي د دعه آفت مخه بايد و نيوله سي .

ـ ځيني كسان په دي عقيده وو چي د ديموكراسۍ په دوري كي په پوهنتون او دولتي اداراتو كي د چپو ډلو د نفوذ له پاره ډيره زمينه برابره سوی ده ، د شوروي اتحاد او نورو سوسيالستي هيوادونو سره د افغانستان اقتصادي او كلتوري اړيكي ډيري پراخي شوي دي او افغانستان د نړي د نورو هيوادونو څخه ليري كيږي ، چي د هيواد دغه پالسي د افغانستان د عدم انسلاك د موقف سره برابره نه ده ٠

ـ ځينو اشخاصوبه ويل چي د علماوو په صفوفو كي خارجي عناصرو نفوذ كړی دی ، چي د هغو په لمسون دوی غواړي چي په افغانستان كي د ټولو نهضتونو مخه و نيسي ، او بيرته توره ارتجاع په هيواد كي مسلطه كړي ، چي د امريكا په شمول د څو هيوادونو نومونه به ياديدل چي دوی د دغو اعتصاباتو و شا ته ولاړدي .

يوه ټوكه : د ديني علماوو د اعتصاب په وخت كي يوه شپه د امريكا په سفارت كي د دغه هيواد د سفير ٫ نيومن ٫ له خوا يوه ميلمستيا شوی وه ، دغي ميلمستيا ته ښاغلی عبدالستار شاليزي هم بلل سوی و ٠ د خبرو په ترڅ كي د امريكا سفيرعبدالستار شاليزي تـه ويلـي و ((ږيره دي پـري ايښـي ده ، لكه چي د ملايانو څخه بيريدلی يي !)) عبدالستار شاليزي چي ظريف او حاضر جوابه سړی دی ، ده ته په جواب كي ويلي و ((زه د ملايانو څخه نه يم بيريدلې ، بلكه په كابل كي خلگ وايي چي هر هغه څوك چي ږيره ولري تاسي هغه ته پيسي وركوی)) د امريكا سفير په جواب كي ويلي و ((موږ پيسي نه لرو)) عبدالستار شاليزي ده ته ويلي و ((كه ستاسي وروستې خبره چي تا سي پيسي نه لری ، رښتيا وي نو ما خپله خبره بيرته واخسته)) وروسته دوی دواړو خندلي وو . (٢٤)

١١ ـ دډاكټر عبدالظاهر حكومت

١٩٧١ ــ ١٩٧٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر عبدالظاهر د عبدالقادر ابراهم خیل زوی دی ، په ۱۲۸۹ ه ش کال (۱۹۱۰) کي د لغمان په ولایت کي زیږیدلی دی ، په ۱۳۱۰ ه ش کال (۱۹۳۱) کي د حبیبي د لیسي څخه فارغ التحصیل سو او په ۱۳۱۸ ه ش کال (۱۹۳۹) کي د امریکا د کولمبیا د پوهنتون څخه دوکتورا واخسته ، ده د دولت په لویو چوکیو کي کار کړی دی ۰ په ۱۳۳٤ ه ش کال (۱۹۵۵) کي دی د روغتیا د وزارت د کفیل په حیث مقر سو۰ ډاکټر عبدالظاهر په کراچي او روم کي د افغاني سفیر په حیث هم کار کړی دی ۰ دی د شورا د یوولسمي او دوولسمي دوروو د ولسي جرګو رئیس و ۰ دی د ۱۹٦٤ کال د لوی جرګي رئیس هم و ، چې په دغـي جرګي کي د دیموکراسي دورې اساسي قانون تصویب شوی دی . ډاکټر عبدالظاهر یـو مؤدب ، خوش طبعه او د بدو څخه بیزاره افـغـان و (۲۵)

ډاکټر عبدالظاهر د ۱۹۷۱ کال د جون د میاشتي پر ۸ مي نیټي د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور کړ سو ۰ د ده حکومت د دغه کال د جولای د میاشتي پر شپږمي نیټي د ولسي جرګي څخه د اعتماد رایه واخسته ، چې د ۱۹۷۲ کال د سبتمبر د میاشتي تر ۲٤ مي نیټي پـوري صدر اعظم و ۰ د ده د څوارلسو میاشتو صدارت په حقیقت کـي یـو داسـي عبوري حکومت و ، چـي د حکومت ډیر صلاحیتونه د صدارت د مرستیـال ډاکټر عبدالصمد حـامـد او خـارجـه وزیر محمد موسـي شفیق په واك کـي وو ۰

دی په دغي لنډي مودي کي د لاندي ستونزو سره مخامخ و :

ـ د پوهنتون شاګردانو او استادانو ، د ده د حکومت څخه د نویو قوانینو د انفاذ غوښتنه کوله چي دغه معضله ده ته د نور احمد اعتمادي د حکومت څخه ور پاته سوی وه ۰د دي موضوع تفصیل د کتاب په بلي برخي کي لیکل سوی دی۰

ـ دژبو موضوع چي د کتاب په بل ځای کي تشریح سوی ده ۰

ـ د وچ کالي په وخت کي د لوږي او قحطي موضوع .

د غلي د قحطي ورانونکي حادثه چي د طبیعت د ناسازګاریو او حکومت د عدم رسیدګیو له کبله زمونږ د هیواد د غور ، بادغیس ، او نورو سیمو ډیر خلګ د لوږي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه مړه سول ، دوی خپل اولادونه خرڅ کړه ، ډيرو خلګو د خپلو مينو څخه کډې وکړې او د هيواد نورو سيمو ته مهاجر سوه ۰

حکومت د صدارت په چوکاټ کي د کار په مقابل کي د غنمو د ويش يوه اداره د مشاور وزير عبدالستار سيرت تر مشرۍ لاندي جوړه کړه ، چي له دغي لاري څخه حکومت غوښتل چي د لوږي د ملي فاجعي سره مبارزه وکړي ۰

پاچا او حکومت ته راپورونه ورسيدل چي د هيواد په خينو سيمو کي مخصوصا د بادغيس او غور په ولايتونو کي ډير خلګ د لوږي څخه مړه سوی دي او د دغو سيمو ډيرو خلګو د هيواد نورو سيمو ته هجرت پيل کړی دی ۰

د حقايقو د معلومولو له پاره ډاکټر عبدالصمد حامد د يوه لوی هيات په مشرۍ د هرات ، بادغيس او غور ولايتونو ته سفر وکړ ۰ هغه وخت چي دولتي هيات د هرات ښار ته ورسيد په زرګونو وږي خلګ د بادغيس د ولايت او د هرات د ولسواليو څخه د هرات ښار ته مهاجر سوي وو ۰ د دغه هيات يوه غړي د دغي موضوع جريان ما ته داسي ويلي دې . (۲۶) :

په زرګونو خلګ د بادغيس او نورو سيمو څخه د هرات ښار ته ورغلي وو ، د هرات ښاريانو پر دغو وږو مهاجرو باندي پخه ډوډۍ و ويشله ، خو هراتيانود حکومت څخه دا غوښتنه هم کوله چي دغه مهاجر ډير ژر د هرات د ښار څخه و باسي که نه نو د ښار امنيت به خراب کړي۰ په هغه شپه د کابل څخه راغلي هيات د ډاکټر عبدالصمد حامد په مشرۍ غونډه وکړه ، او دا فيصله يي وکړه ، چي دغه وږي خلګ دي د عسکري لاريو په وسيله فراه او هلمند ته ورسول سي ، چي هلته په (توتانو)خانونه تغذيه کړي ۰

ډاکټر حامد د هرات د والي اجراآت و غندل ، بله ورځ دغه هيات د بادغيس ولايت ته ولاړ په دغه ولايت کي ډير خلګ د لوږي څخه مړه سوي وو ، د ډيرو خلګو مړي د قلعه نو د ښار په کوڅو کي پراته وو چي ډاکټر حامد او ورسره هيات په خپلو سترګو ليدلي دي ۰ ډاکټر حامد د بادغيس والي ، سرمامور او د زراعت مدير د دغه ملي فاجعي مسئوول و بلل ، او د دوی برطرفي يي د مرکز څخه و غوښتله ۰ په هغه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل راديو د سرمامور عبدالبصير او د زراعت د مدير برطرفي اعلان کړه ۰

بله ورځ دغه هيات د غور ولايت ته ولاړ ، دوی د ولايت په مرکز ، چغچران کې د خلگو د لوي مظاهري سره مخامخ سول ۰ هلته دوی په ډېرو و ويشتل سول ، چي خيني خلگ ټپيان سول او د ولايت د ماڼې ښيښې يي ماتي کړي ۰ ډاکټر حامد دغور والي د غور د ولايت د فاجعي مسؤول و باله او د مرکز څخه يي د هغه د برطرفي غوښتنه هم وکړه۰ څرنگه چي د کابل راديو د واليانوبرطرفي اعلان نه کړه نو ډاکټر عبدالصمد حامد خپل د هيات وظيفه ختمه و بلله او کابل ته را ستون شو ۰ هيات تصميم نيولې و چي بله ورځ سهار به د صدارت په ماڼې کي يوه غونډه کوي خو دغه غونډه و نه سوه ، ډاکټر عبدالصمد حامد خپله وظيفه پريښووله او څو ورځي وروسته د تـداوې په پلمه اروپـا تـه ولاړ ۰

حکومت دبادغيس ، غور او د افغانستان د نورو سيمو د وږو خلگو سره لازمي اقتصادي مرستي و نه کړي چــي د حکومت د غفلت په وجه د دغو سيمو خلگ ډېر تاواني سول۰

صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر چي د يوه لنډ عبوري حکومت مشر و دی په دغي لنډې مودي کي د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ سو ۰ ده د ۱۹۷۲ کال د دسمبــر د مياشتي پر ۲٤ مي نيټي استعفا وکړه او د ده پر ځای محمد موسي شفيق د افغانستان صدر اعظم سو ۰

د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت ترکيب

صدر اعظم	ډاکټر عبدالظاهر	۱۹۷۲-۱۹۷۱
مرستيال	ډاکټر عبدالصمد حامد	۱۹۷۲-۱۹۷۱
د دفاع وزير	جنرال خان محمد	۱۹۷۲-۱۹۷۱
خارجه وزير	محمد موسي شفيق	۱۹۷۲-۱۹۷۱
داخله وزير	امان الله منصوري	۱۹۷۲-۱۹۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماليي وزير	غلام حيدر داور	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د تجارت وزير	محمد عارف غوثي	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د پلان وزير	ډاکټر عبدالواحد سرابي	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د عدليي وزير	محمد انور ارغنديوال	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د اطلاعاتو او کلتور وزير	محمد ابراهم عباسي	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د پوهني وزير	حميدالله عنايت سراج	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د روغتيا وزير	ډاکټر محمد ابراهم مجيد سراج	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د فوايدعامي وزير	جنرال خوازک زلمې	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د کانو او صنايعو وزير	محمد يعقوب لعلي	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د کرني وزير	عبدالحکيم	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د مخابراتو وزير	نصرت الله ملکيار	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
مشاوره وزيره	ميرمن شفيقه ضيايي	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
مشاور وزير	داکتر عبدالوکيل	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
مشاور وزير	عبدالستار سيرت	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲
د قبايلو مستقل رئيس	محمد ايوب عزيز	۱۹۷۱ـ۱۹۷۲

(۲۷)

۱۲ ـ محمد موسي شفيق څنګه صدر اعظم سو ؟

په ۱۹۷۱ کال کي د نور احمد اعتمادي د حکومت په آخرو مياشتي کي پاچا اراده وکړه چي تر اته کلونو عملي تجربي وروسته بايد پر افغاني ديموکراسي باندي د سره کتنه وسي ۰ پاچا غوښتل چي د اساسي قانون خيني مادي تعديل کړه سي ، پر سياسي ډلو او د شاګردانو پر اجتماعاتو باندي يو څه قيود وضع سي ، د شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخابات د څه مودي له پاره وځنډول سي او په افغانستان کي د يوه قوي او باثباته حکومت د راتلو له پاره لاره هواره کړه ســي ۰ د موضوع د روښانولو له پاره د دغه مبحث په سر کي د يوي مقدمي په شکل پر ديموکراسۍ ، د دولت پر ثلاثه قواوو او د پاچا پر لومړی درجه مشاورينو باندي د لاندي مطالبو ليکل ضروري بلل کيږي .

ـ د ديموکراسۍ په کلونو کي د حکومت د کمزوره کولو ، د ثلاثه قواوو د تفکيك او د سياسي ديموکراسۍ د تعميم له پاره کافي هلي ځلي و شوي ۰ ولي په خارجي سياست کي د محمد داود خان د وخت خارجي سياست ، چي د هغه عصر د ايجاباتو پر اساس جوړ سوی و ، يعني د شوروي اتحاد سره د نژديوالي سياست و ، کوم تغيير رانه غی بلکه د ديموکراسۍ په دوري کي تر پخوا لا په پراخه اندازه تعقيب کړه سو ۰

ـ په دولسمي تقنيني دوري کي د ډاکټر عبدالظاهر تر رهبری لاندي د ولسي جرگي د نظم او دسپلين په برخه کي څه اقدامات وسوه ، ځرنگه چي دغه اقدامات ډير جدي نه وو نو مؤثر واقع نه سول ، وکيلانو د مصونيت تر نا مه لاندي ، هر هغه څه چي يي غوښتل هغه به يي کوله ۰ د مثال په توگه :

ـ په ۱۹٦٦ کال کي ځينو اروپايي هيوادونو د افغانستان د ولسي جرگي يوه هيأت ته بلنه ورکړه چي د هغه هيوادونو د پارلمانونو څخه ليدنه ورکړي ، د شورا درخصتيو په ورځو کي ، د ولسي جرگي رئيس ډاکټر عبدالظاهر ، د کندهار د ښار د وکيل عبدالرحيم هاتف په شمول څو وکيلان د دغه سفر له پاره و ټا کل ، ولي نورو وکيلانو د ولسي جرگي د رئيس ددغه تصميم سره مخالفت وکړ ، او په ورستيو لحظو کي يي ددغه هيأت د سفر ممانعت وکړ ۰ په همدغي دوري کي يوي ډلي وکيلانو داخيل حق باله چي غازي ستديم ته په زوره ورننوزي او بيله تکت څخه د لوبو ننداره وکړي ، چي هلته څو وکيلان ووهل سوه . د پوهني وزير ډاکټر پوپل دغه موضوع حل کړه .

ـ په ديارلسمي تقنيني دوري کي ، دولت غوښتل چي يوه وکيل ته په جزاورکولو سره د وکيلانو د مصونيت حدود تثبيت کړي ۰ ځرنگه چي د حکومت د دغه کار سره ډير وکيلان مخالف وو نو دغه اقدام هم مثبته نتيجه ور نه کړه (د دي موضوع تفصيل د کتاب په بلي برخي کي راغلی دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د ستري محكمي رئيس قاضي القضات ډاكټر عبدالحكيم ضيايي او د دارالانشا آمر ډاكټر وليد حقوقي و ، په عمل كي د دغي محكمي واك د ډاكټر حقوقي په لاس كي و په دغي محكمي كي ورزيده كدرونه ځاى پر ځاى سوي وو ، ستري محكمي د يوي مستقلي قوي په څير په افغاني ټولني كي تبارز وكړ ۰ ډاكټر وليد حقوقي چي د پاچا نژدي مشاور و ، پاچا غوښتل چي دى ډير ژر د افغانستان صدر اعظم سي ۰

د اساسي قانون ۱۰۵ ماده د دي مانع وه چي ډاكټر وليد حقوقي ته په حكومت كي كومه دنده وسپارله سي ، پاچا ته مشوره وركړه سوه تر څو چي په اساسي قانون كي تعديلات راځي ، كيداى سي چي په فرعي قوانينو كي د شورا په وسيله ډاكټر وليد حقوقي ته په حكومت كي د كار كولو زمينه برابره سي ۰

پاچا د افغانستان د آينده يوه قوي حكومت د جوړولو له پاره ډاكټر عبدالظاهر د كابيني په جوړولو مامور كړ ، په دغه عبوري حكومت كي د پاچا دري عمده مشاورين د صدارت د مرستيالانو په حيث په نظر كي نيول سوي وو ۰ چي تر ډاكټر عبدالظاهر وروسته به يو د دغو مشاورينو څخه ، صدر اعظم كيږي او دوه نور به د مرستيالانو په توګه په دغه حكومت كي شا مليږي ۰ د پاچا پلان داسي و :

ـ ډاكټر عبدالصمد حامد د صدر اعظم لومړى مرستيال او د پلان وزير

ـ محمد موسي شفيق د صدر اعظم دوهم مرستيال او دخارجه چارو وزير

ـ ډاكټر وليد حقوقي د صدر اعظم دريم مرستيال او داخله وزير (۲۸)

د پاچا دغه خيالي پلان د لاندي مشكلاتو له كبله عملي نه سو :

ـ د پاچا دري واړه مشاورين يو د بل رقيبان وو ، د دوى څخه يوه هم نه غوښتل چي د دوو نورو سره په يوه حكومت كي كار وكړي ۰ ولي پاچا په دغه حقيقت نه و خبر ۰

ـ د پاچا نوموړي مشاورين د مختلفو سليقو خاوندان وو چي په راتلونكي حكومت كي ددوى مثمره همكاري يو نا ممكن كار و ۰

ـ د پاچا دغه مشاورين قانون پوهان وو ، خو پاچا په خارجي سياست ، پوهني ، اقتصاد او اجتماعي ريفورمونو كي مجرب مشاورين نه درلودل ۰

ـ د پاچا دغه مشاورينو ، هريو د صدارت تر چوكي په كښته مقام كي كار كولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر نه و او هريوه خان د افغانستان راتلونکې صدر اعظم باله ۰ د مثال په توګه :

ـ ما او ريدلي دي چي د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت يوه مهم غړي د وزارتونو ټول پيشنهادونه د دی له پاره په خپل دفتر کي قيد کړي وو چي دې متيقين و چي تر ډاکټر عبدالظاهر وروسته دی د افغانستان صدر اعظم دی او دغه پيشنهادونه به د خپل صدارت په وخت کي تر اجرا لاندي و نيسي ۰

ـ ما د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت د يوه بل مهم غړي په ارتباط اوريدلي دي چي د ده په لارښوونه په ولسي جرګي کي د ژبو موضوع د دي له پاره راپورته سوه چي په دولت کي تشنج راسي او د ډاکټر عبدالظاهر بي واکه حکومت استعفا کولو ته مجبورسي او دی ژر د افغانستان صدر اعظم سي ۰

ـ ما د ډاکټر وليد حقوقي په برخه کي داسي اوريدلي دي چي ده قاضي القضات ډاکټر عبدالحکيم ضيايي ته ويلي وو ((زما زړه نه غواړي چي په راديو او ورځپاڼو کي زما نوم ستاسي تر نامه دمخه ياد سي)) ده په نورو الفاظو ډاکټر ضيايي ته تفهيم کړي وه چي دی د افغانستان راتلونکې صدر اعظم دی ۰ په دي چي په دولتي نشراتو کي د صدر اعظم نوم تر قاضي القضات دمخه اخستل کيږي ۰

د پاچا د دغه پلان د عملي کولو له پاره داسي اقدامات و سول :

د اساسي قانون ۱۰۵ مه ماده داسي حکم کوي ((کله چي د قاضي القضات او د ستري محکمي د غړو وظيفه پای ته ورسيږي دوی نه سي کولای چي صدر اعظم ، وزير يا د شورا غړي سي)) ولي په اساسي قانون کي د قاضي القضات يا دستري محکمي د غړي د استعفا په ارتباط څه نه دي ليکل سوي ۰ د دي له پاره چي ډاکټر وليد حقوقي حکومت ته راولي دولت د اساسي قانون د دغي قانوني خلا څخه استفاده وکړه او تصميم يي ونيو چي په يوه فرعي قانون کي يوه داسي ماده په ولسي جرګي کي تصويب کړي چي د هغي پر اساس د ستري محکمي غړې د خپلي وظيفي څخه استعفا وکولای سي او تر استعفا وروسته ، بيرته د صدر اعظم يا وزير په حيث تعينيدلای ســـي ۰

ستري محکمي د ولسي جرګي د تقنين د کمسيون څخه چي زه هم د دغه کمسيون

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړې وم ، غوښتنه وکړه چي د قضايي تشکيلاتو او صلاحيتونو پر قانون باندي د سره کتنه وکړي د تقنين کمسيون د ستري محکمي دغه غوښتنه و منله او دغه قانون يي تر بحث لاندي و نيوى ، د دغه قانون څو مادي يي تصويب کري ٠ کله چي دستر محکمي د غړي د استعفا او په حکومت کي د ده د برخي اخستلو په ارتباط يوه وکيل کمسيون ته يو پيشنهاد وړاندي کړ، ما هغه وخت د کمسيون غړو ته و ويل چي پر اساسي قانون باندي د مباحثاتو مجموعه ما لوستي ده ، په دغي مجموعي کي د يوه مقنن له قوله ليکل سوي دي چي ((د ستري محکمي غړي تر استعفا وروسته په حکومت کي کار نه سي کولاى)) نو ښه به داوي چي د عدليي د وزارت څخه دغه مجموعه راوغوښتله سي څو د دغي مجموعي تر مطالعي وروسته به په دغه مورد کي تصميم و نيول سي ٠ د تقنين کمسيون دغه پيشنهاد و مانه او د يوه استعلام په وسيله يي د عدليي د وزارت څخه نوموړي مجموعه و روغوښتله ٠

کله چي د ولسي جرگي استعلام د عدليي وزارت ته ورسيد ، حکومت د اساسي قانون د مباحثاتو مجموعه ولوستله، دوى په دي پوه سوه چي پر دغي مشخصي موضوع باندي ډاکټر عبدالصمد حامد اوږدي خبري کړي دي ٠ ده ويلي و ((که د ستري محکمي يو غړي داسي ناروغه سي چي د کارکولو توان و نه لري ، دى حق لري چي استعفا و کړي خو تر استعفا وروسته بايد ده ته په حکومت کي د کار کولو اجازه ور نه کړه سي)) ده داهم ويلي و ((په راتلونکو کلونو کي د دي امکان موجود دى چي يو حزب د ستري محکمي د يوه غړي سره په پټه سازش و کړي او د ده په مرسته خپل رقيب حزب منحل کړي ، او دغه حزب د دغه خدمت په بدل کي ده ته د وزارت چوکي ورکړي ، چي د دغسي يوي احتمالي دسيسي د مخنيوي له پاره د ستري محکمي د غړو د استعفا مخه بايد و نيوله سي))

دغه موضوع په دولت کي ډيره غټه سوه ٠ د پاچا سرياور جنرال محمد عمر خان ما ته و ويل چي د کندهار يوه وکيل پاچا ته اطلاع ورکړه چي فراهي د اساسي قانون د مباحثاتو مجموعه لوستي او ده په کمسيون کي ويلي دي چي ډاکټر عبدالصمد حامد د اساسي قانون د جوړولو په وخت کي د ستري محکمي د غړي د استعفا سره مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی ۰ پاچا سمدلاسه ډاکټر عبدالصمد حامد خېل حضور ته وباله او په کلکو الفاظو يي د ده څخه د ده د وینا پوښتنه کړي وه ۰ ډاکټر حامد پاچا ته په جواب کي ویلي و چي ((زما د هغه وخت خبري د قانون متن نه دی بلکه د یوه شخص خبري دي اوس شورا کولای سي چي د ستري محکمي د غړي د استعفا په برخه کي په قانون کي کومي مادي ته ځای ورکړي)) (۲۹) ما په هغو ورځو کي ډاکټر عبدالصمد حامد په جلال آباد کي ولید ، ده د ګیلي په شکل ما ته و ویل ((تا د ستري محکمي د غړي د استعفا پر موضوع باندي زه د پاچا سره مواجه کړم)) چي البته دغه کار ما نه و کړی . د ډاکټر عبدالصمد حامد تشویش داو چي د ولسي جرګي د دغه جریان څخه پاچا داسي انتباه نه وي اخستي چي ګواکي ډاکټر حا مد ، حکومت ته د ډاکټر ولید حقوقي د راتلو مخالف دی او اوس ده وکیلان دغي موضوع ته متوجه کړي دي۰

د تأ سف ځای دادې چي حکومت د اساسي قانون د مباحثاتو مجموعه ولسي جرګي ته د لوستلو له پاره ور نه کړه ، د هغه پر ځای حکومت د کمسیون د غړو تر منځ نفاق واچاوه ۰ حکومت د کمسیون دایمي غیر حاضر غړي حاضر کړه او د دوی په وسیله يي کمسیون ته داسي پیشنهاد وړاند کړ چي ((حکومت باید د اساسي قانون د مباحثاتو مجموعه ولسي جرګي ته راوانه ستوي)) د دغه حرکت رهبري د پکتیا د یوه وکیل پر غاړه وه . (۳۰)

د حکومت د دغه ناوړه اقدام په مقابل کي زما په شمول د کمسیون اکثرو غړو د تقنین د کمسیون څخه استعفا وکړه ۰ د وکیلانو د استعفا په نتیجه کي د تقنین کمسیون د منځه ولاړ او د ډاکټر ولید حقوقي له پاره حکومت ته د ورتلو لاره خلاصه نه سوه ۰ څرنګه چي وروسته معلومه سوه ، د تقنین په کمسیون کي د تشنج په راوړلو کي د یوه مهم وزیر لاس و ۰

دلته دا خبره هم د یادولو وړ بولم چي د اساسي قانون د مباحثاتو مجموعه ما ته د لوستلو له پاره د هغه وخت د عدلیي وزیر عبدالستار سیرت راکړي وه ۰

اوس به راسو دي موضوع ته چي محمد موسي شفیق څرنګه صدر اعظم سو ؟

په روم کي د افغاني سفارت یوه ما مور ماته و ویل چي په ۱۹۷۲ کال کي پاچا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر عبالصمد حامد او محمد موسي شفيق په افغاني سفارت کي د دي له پاره سره يو ځاى کړل چي د راتلونکي حکومت په ارتباط ددوى نظريات واوري ۰ په دغي غونډي کي حتي افغاني سفير نور احمد اعتمادي برخه نه درلودله ۰

پاچا لومړي د ډاکټر حامد څخه پوښتنه وکړه چي ((تردي وروسته په افغانستان کي څه کارونه بايد و سي ؟)) ډاکټر حامد وويل ((افغانستان په خطر کي دى او بايد ژر په هيواد کي اضطراري حالت اعلام سي ، چي په دغه حالت کي به د شورا صلاحيتونه د منځه ولاړه سي ، د ملي جرايدو نشرات به متوقف سي ، پر سياسي ډلو به قيود وضع سي ، تر هغه وروسته به په اساسي قانون کي تعديلات راسي ، د ديموکراسي اساسات به په تدريجي ډول په هيواد کي تر اجرا لاندي و نيول سي))

محمد موسي شفيق د ډاکټر عبدالصمد حامد پورته نظريات په دي ډول رد کړي وو۰ده ويلي وو ((هغه حالات چي د اساسي قانون په ۱۱۳ مادي کي د اضطراري حالت د اعلامولو له پاره ذکر سوي دي په افغانستان کي نه دي راغلي ، د اضطراري حالت په اعلامولو سره هنگامي ايجاديږي ، خو د افغانستان اوسني ستونزي د نورو مؤثرو لاروڅخه په ښه توگه حل کيدلاى سي)) ده د شورا په ارتباط ويلي و ((دشورا د اوسنۍ دوري وروستۍ کال دى چي دغه تقنيني دوره څو مياشتي وروسته پاى ته رسيږي ، حکومت کولاى سي چي د شورا نوي انتخابات د څه مودي له پاره و ځنډوي په دي ترتيب چي ستره محکمه به د انتخاباتو د نظارت څخه استنکاف وکړي او پاچا به د ستري محکمي دغه غوښتنه و مني ۰ د پاچا په فرمان به د انتخاباتو کمشنر و ټاکل سي ۰ دغه مراحل چي هرڅومره حکومت و غواړي اوږدولاى سي))

ده د ملي جرايدو په ارتباط ويلي و ((حکومت به د موجوده جرايدو د امتياز خاوندان په حکومتي چارو کي مقرر کړي او نوو جرايدو ته به د امتياز حق ورنه کړي))

ده د سياسي ډلو په ارتباط ويلي و ((د ټولو سياسي ډلو غړي د پوهنتون يا ښوونځيو شاگردان يا هم د دولت ما مورين دي ۰ حکومت به د دوى د مشرانو سره خبري وکړي او دوى ته به اخطار ورکړي چي تر دي وروسته دوى بايد په دولتي چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي گوتي و نه وهي. دوی ته به و ويل سي چي د تخلف په صورت کي به د دوی غړي د مربوطه ځايونو ځخه و ايستل سي)) ده ويلې وه ((زه تعهد کوم چي د دغي لاري ځخه سياسي ډلي تر کنترول لاندي راتلای سي)) .پاچا په دغي غونډي کي محمد موسي شفيق ته ويلي و چي ته د افغانستان راتلونکې صدر اعظم يي او ډاکټر حامد په دغي غونډي کي پاچا ته ځرگنده کړه چي دی په راتلونکي حکومت کي د محمد موسي شفيق سره کار نه کوي . پاچا ډاکتر حامد او شفيق ددي له پاره يوه پارک ته ليږلي وو چي ډاکټر حامد په دي قانع کړه سي چي په راتلونکي حکومت کي د شفيق سره کاري وکړي ، تر خبرو وروسته شفيق پاچا ته ويلي و چي ډاکټر حامد وعده راکړي ده چي شپږ مياشتي وروسته به همکاري راسره وکړي ، او ډاکتر حامد پاچا ته ويلي و چي شفيق بايد واده وکړي په دي چي يو صدر اعظم بايد ميرمنه ولري .

۱۳ ـ ډاکټر عبدالصمد حامد ولي صدر اعظم نه سو ؟

ډاکټر عبدالصمد حا مد چي يو حقوقدان دې د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون د تسويد د کميټي مهم غړی و ، دی د ديموکراسۍ په حکومتونو کي د پوهنتون رئيس ، د پروان والي ، د پلان وزير او د صدارت مرستيال و ، ده د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت په وخت کي د بادغيس او غور د واليانو د سبکدوشي پـر موضوع ، خپله وظيفه پيښوولـه ، ده د افغانستان د جهاد په وخت کي د مولوي محمد يونس خالص د اسلامي حزب سره نژدي همکاري درلودله ، ښايي دده دغه همکاري به د جهاد د پياوړي کيدلو په خاطر وه ، په دي چي مولوي خالص په افغانستان کي دديموکراسۍ او آزادو انتخاباتو سره موافقه نه درلودله. (۳۱)

دلته دامطلب د ليکلو وړ بولم چي په دغه وخت کي د کابل په سياسي حلقو کي ويل کيدل ، کوم حکومت چي د ډاکټر عبدالظاهر تر حکومت وروسته په هيواد کي راځي بايد لاندي عمده وظايف سر ته ورسوي :

ـ ددغه حکومت په وسيله افغانستان د شوروي اتحاد ځخه بايد فاصله و نيسي او غربي نړي ته ور نژدي ســي .

ـ د پښتونستان موضوع ، د ډيورنډ کرښه او د هلمند د اوبو معضلـه د پاکستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران د حکومتونو سره د دوستانه لارو څخه حل کړه سي .

ـ د خلیج د مړو هیوادونو په مرسته په هیواد کي اقتصادي پروژ په کار واچولي سي .

ـ په هیواد کي د سیاسي او ایدیولوژیکي بي نظمیو د مخنوې په خاطر باید د احزابو قانون ډیر ژر تر اجرا لاندي ونیول سي . د اجتماعاتو ، معارف او لوړو تحصیلاتو حساس قوانین په تقنیني فرامینو ژر نافذ کړه سي .

د پورته عمده اهدافو د سرته رسولو د پاره په هیواد کي د اضطراري حالت اعلامول یو لازمي کار و . د روم په غونډي کي هغه نظریات چي ډاکټر عبدالصمد حامد ، پاچا ته وړاندي کړي وو ، هغه نظریات ډیر پر ځای وو ، چي د ده د پیشنهاد په فوري تطبیق سره ممکنه وه چي د محمد داود خان د کودتا مخه هم نیوله شوي وای خو پاچا په لاندي دلایلو نه غوښتل چي په دغي مرحلي کي ډاکټر عبداالصمدحامد د افغانستان صدر اعظم سي :

ـ ډاکټر عبدالصمد حامد په خټه محمدزې دې ، پاچا لازمه نه بلله چي د نور احمد اعتمادي تر اوږده حکومت او د ډاکټر عبدالظاهر تر لنډ حکومت وروسته ، بیا یو محمدزې د اوږدي مودي له پاره د افغانستان صدر اعظم سي .

ـ ډاکټر عبدالصمد حامد د مسایلو د حل په لاره کي انعطاف پذیره نه دې ، ښایي د پاچا کورني مشاورینو لکه سردار عبدالولي او سلطان محمود غازي د ډاکټر حامد د صدر اعظم کیدلو سره موافقه نه وي کړي . د پاچا راتلونکې پلان سوی حکومت چي په هغه کي به د پاچا لومړي درجه مشاورینو برخه اخستي وای ، لکه چي دمخه یي یادونه وسوه ، د پاچا د مشاورینو له خوا تخریب کړل سو . زه په دې نه یم خبر چي په خپله پاچا په دغه مطلب پوهیدلې و او که یه ؟ ولي ډیر نور افغانان په دغه موضوع پوهیدل چي په خپنو ملي اخبارونو کي په دغه ارتباط لیکني هم ســوي دي .

١٤ ـ د محمد موسي شفیق حکومت

١٩٧٢ ــ ١٩٧٣

محمد موسي شفیق د مولوي محمد ابراهم کاموي زوی دی او په ١٩٣١ کال کي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل کي زيږيدلی دی ۰ ده د کابل د عربي دارالعلومو مدرسه لوستي ده او وروسته يي په اسلامي حقوقو کي په قاهره کي د الازهر د پوهنتون څخه ليسانس اخستی دی۰ ده د امريکا د کولمبيا د پوهنتون څخه هم په بين المللي حقوقو کي ليسانس تر لاسه کړی دی ۰ ده د عدليي په وزارت کي په کار پيل وکړ او د حقوقو په پوهنځي کي يي استادي کړي ده په عدليه وزارت کي معين او بيا دخارجه چارو په وزارت کي مشاور و ۰ په قاهره کي افغاني سفير او د ډاکټر عبدالظاهر په حکومت کي خارجه وزيرهم و ۰

محمد موسي شفيق چي ډير زيرك او د دربار په رمز آگاه سړی و ، په اسلامي علومو پوهيدی ، شاعر او ليکوال هم و ۰ پښتو ، دري ، عربي ، انگريزي او فرانسوي ژبي يي زده وي ، نو په دغه وجه دی ډير ژر پاچا ته نژدي سو اود پاچا لومړی درجه مشاور سو ۰ دی د ۱۹۷۲ کال د دسمبر د مياشتي په ۲٤ نيټي د پاچا له خوا د کابيني په جوړولو مامور کړه سو . (۳ ۲)

محمد موسي شفيق په تجمل پرستي کي ډير افراط کاوه ، ده د خان له پاره يو موټر د فراسي څخه په الوتکي کي راوغوښت ۰ د جمهوريت په وخت کي دغه موټر د افغاني سفير زلمي محمود غازي د استفادي له پاره تهران ته وليږل سو . د ده دريشي په خارج کي جوړيدلي ، ده په جلال آباد کي د هډي فارم ته نژدي د خان له پاره يو افسانوي کور جوړاوه ، د قرغي بند ته نژدي يي پر يوي تپي باندي د کوچيانو کيږدي ودروله ، چي هلته يي هم د يوه داسي مجلل کور جوړول په نظر کي نيولي و چي د خپل کور څخه به د اوبو ډنډ ته په برقي ليفت کي کښته کيدی او په يوي کښتتی کي به يي سير او ننداره کولای .

د محمد موسي شفيق په هکله څو نوري خبري

ـ په ۱۹۷۰ کال کي کله چي محمد موسي شفيق په قاهري کي افغاني سفير و په هغه وخت کي د ايران يو عالي رتبه هيأت د هلمند د اوبو د مذاکراتو له پاره کابل ته سفر کاوه ۰ محمد موسي شفيق ، صدر اعظم نور احمد اعتمادي ته اطلاع ورکړه چي دی غواړي چي د ايراني هيأت د ليدلو له پاره کابل ته سفر وکړي ۰ نور احمد اعتمادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ته په جواب کي ويلي و ((کابل ته ستاسي د راتګ ضرورت نه سته)) خو محمد موسي شفيق د صدر اعظم د مخالفت سره سره کابل ته سفر وکړ او د ايراني هيأت سره يي په مذاکراتو کي برخه واخسته . (۳ ۳) شايد چي د ايراني هيأت مشر به اردشير زاهدي و چي افغانستان ته يي سفر کړی و او نور احمد اعتمادي د محمد موسي شفيق او اردشير زاهدي په ښو مناسباتو خبر نه و .

اردشير زاهدي چي د جنرال زاهدي زوی او د ايران د پاچا زوم دی ، ده د پيك پارسيان د اخبار د ۲۰۰۲ کال د مى د مياشتي د ۱۷ نيټي په ګڼي کي په خپلي يوي مصاحبي کي ويلي دي چي ((د هلمند د اوبو موضوع ما د خپل خارجه وزارت په وخت کــي د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه سره حــل کړي ده)) دی داهم وايي چي ((زه د محمد موسي شفيق سره دده دسفارت په وخت کي په قاهري کي دوست سوی وم او د افغانستان پاچا زمونږ په ښو مناسباتو خبر و . کله چي د افغانستان پاچا ايتاليا ته په رسمي سفر بلل سوی و ، ده ما ته بلنه راکړه چي روم ته ورسم او محمد موسي شفيق په دي قانع کړم چي د افغانستان د صدارت وظيفه و مني))

ـ پاچا ته نژدي د خارجه وزارت يوه ما مور ويلي و چي ((پاچا د دولت د ډيرو مامورينو قدر کوي ، ولي محمد موسي شفيق ، د عشق تــر سرحده پر پاچا باندي ګران دی)) (۳ ٤)

ـ د دربار پخواني وزير علي محمد خان ويلي و ((زه په دربار کي لوی سوی يم خو د محمد موسي شفيق په اندازه د دربار په رمز نه پوهيږم)) (۳ ۵)

ـ د خارجه وزارت يوه مامور و ويل چي په ۱ ۹ ۷ ۱ کال کي کله چي پاچا مسکو ته رسمي سفر درلود، خارجه وزير محمد موسي شفيق هم دپاچا د دغه سفر ملګري و۰ شفيق د مسکو څخه يوه بل اروپايي هيواد ته تي ، دی د پاچا سره تر خدای امانۍ وروسته نژدي شل ګا مه ددي له پاره پر شا تی چي مخ يي د پاچا و خوا ته وي ۶ ۳

ـ په ۱۹۷۱ کال کي د ولسي جرګي د بين المللي روابطو کمسيون ، خارجه وزير محمد موسي شفيق د پښتونستان د قضيي په ارتباط نوموړي کمسيون ته غوښتي و ، زه او څو نور وکيلان هم د مباحثاتو د اوريدلو له پاره هغه کمسيون ته ورغلي وو ۰ نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیران معمولاً د یوي ډلي مامورینو سره یو ځای ولسي جرګي ته راتلل ، ولي خارجه وزیر محمد موسي شفیق یوازي کمسیون ته حاضر سو ، حفیظ الله امین او ببرک کارمل هم ددغه کمسیون غړي وو . د آجندا مطابق د کمسیون منشي محمد شاه رحمتیان د ده څخه د پښتونستان پر موضوع باندي توضیحات و غوښتل ٠

محمد موسي شفیق په سړه سینه ، په څو لنډو او سنجیده جملو کي دوی ته داسي و ویل ((هغه توضیحات چي نن یي تاسي زما څخه غواړي زه هم د داسي توضیحاتو اوریدلو ته ضرورت لرم)) ده زیاته کړه ((کله چي زه خارجه وزارت ته ورغلم نو ما د مربوطه څانګي څخه د پښتونستان د موضوع سوابق و غوښتل ، دغي څانګي ما ته وویل چي پر دغي موضوع باندي همیشه د خارجه وزارت څخه دباندي تصمیم نیول کیږي او د دغي موضوع ټول سوابق په ارګ یا د خلګو په کورونو کــي دي)) ده دا هم وویل ((اوس ما فیصله کړي ده چي د خارجه وزارت ټول وظایف په دغه وزارت کي متمرکز کړم ، او د پښتونستان د موضوع ټول سوابق پیدا کړم او په یوه ځای کي یي راغونډ کړم ٠ اوس د وکیلانو خوښه ده چي هغه مختصر معلومات چي زه یي د پښتونستان پر موضوع باندي لرم هغه تاسي ته و وایم او که ما ته فرصت راکوئ چي زه د دغي موضوع سوابق پیدا کړم او وروسته بیا یو جامع معلومات تاسي ته وړاندي کـړم)) د بین المللي روابطو کمسیون د رایو په اتفاق دا ومنله چي خارجه وزیر محمد موسي شفیق ته دي فرصت ورکړه سي چي پر دغي موضوع باندي دي اساسي او عمده مطالب راټول کړي او د کمسیون په بلي غونډي کي دي کمسیون ته وړاندي کړي٠ څو شیبي وروسته محمد موسي شفیق د کمسیون څخه و وت او بیــا هیڅ وخت ده د دغه کمسیون په غونډي کي برخه وانه خسته . (٣٦)

ـ محمد موسي شفیق چي د ډاکټر عبدالظاهر په حکومت کي دخارجه چارو وزیر و ده امر وکړ چي د خارجه وزارت ټول مامورین باید سهار پر معیین وخت خپلو وظایفو ته حاضر سي او د مامورینو د حاضري په کتاب کي لاس لیکونه وکړي ٠ خو د ده د امر باوجود ، د سلطنتي کورنی ځني غړي پر ټاکلي وخت خپلو وظایفو ته نه راتلل او ده دغه مامورین نه غیر حاضر کول ، بلکه دی به سهار په خپله د دغو مامورینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونو ته ورتی او دوی به یي د خانه سره دخارجه چارو وزارت ته راوستل . (۳۷)

د محمد موسي شفيق د حکومت ترکيب

صدر اعظم	محمد موسي شفيق	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د دفاع وزير	جنرال خان محمد	۱۹۷۲-۱۹۷۳
خارجه وزير	محمد موسي شفيق	۱۹۷۲-۱۹۷۳
داخله وزير	نعمت الله پژواك	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د ماليي وزير	محمد خان جلالر	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د پوهني وزير	ډاکټر محمد ياسين عظيم	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د مخابراتو وزير	نصرت الله ملکيار	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د فوايد عامي وزير	جنرال خوازك زلمې	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د کانو او صنايعو وزير	غلام دستگير عزيزي	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د کرني وزير	ډاکټر عبدالوکيل	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د پلان وزير	ډاکټر عبدالواحد سرابي	۱۹۷۲-۱۹۷۳
د اطلاعاتو او کلتور وزير	صباح الدين کشککي	۱۹۷۲-۱۹۷۳

(۳۸)

۱۵ - د محمد موسي شفيق د حکومت اجراآت

وروسته تر هغه چي په شورا کي د هلمند د اوبو معاهده تصويب سوه محمد موسي شفيق خپله توجه د حکومت اساسي کارونو ته واړوله ۰

- په سر کي ده د راتلونکي شورا د انتخاباتو موضوع ته توجه وکړه ۰ د پخوانې فيصلي پر اساس ، ستري محکمي په انتخاباتو کي د نظارت څخه د استنکاف پيشنهاد ، پاچا ته وړاندي کړ ۰ د پاچا په امر د حکومت او ستري محکمي څخه يو گډ هيأت جوړ سو چي د راتلونکو انتخاباتو له پاره د انتخاباتو د کمشنري موضوع تر غور لاندي و نيسي . (۳۹)

- محمد موسي شفيق د حکومت پارلماني رياست د تجارت د وزارت ودانې ته چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شورا تر خنگ و انتقال کړ او ده په خپله د پارلماني رياست دنده پر غاړه واخسته ده د شورا د ډيرو غړو سره خبري و کړي او دوی يي په دي قانع کړل چي د شورا انتخابات به د څه مودي له پاره ځنډيږي ۰ ده به دشورا ځينو غړو ته په راتلونکو انتخاباتو کي د مرستي وعده هم ورکوله . محمد موسی شفيق د راتلونکي شورا د غړو د اهليت پر موضوع او زما پر آينده همکاری باندي زما سره هم اوږدي خبري کړي دي . په دي دليل چي زما خود ستايي تعبيير نه سي ، نوليکل يي دلته لازم نه بولم ۰

ـ محمد موسي شفيق د ملي جرايدو ځيني چلونکي په حکومتي کارونو کي مقرر کړل چي په دغه اقدام سره دځو مهمو جرايدو نشرات متوقف سوه ۰

ـ د محمد موسي شفيق په حکومت کي د(مفاهمي) د ډلي ځو غړي د معينانو په حيث مقرر سول چي دغه معينان به ډير ژر د وزيرانو په حيث ټاکل کيدل ۰

ـ د عالي تحصيلاتو د وزارت اساس نامه د پوهنـي پـه وزارت کـي جوړه سوه، د ادبياتو د پوهنځي د يوه استاد د تقرر فرمان د همدغه وزارت د معين په حيث اخستل شوې و۰

ـ د مذهبي ډلو د خوشحالولو له پاره په کابل راديو کي آذانونه پيل سوه ، محمد موسي شفيق د شير پور مسجد ته مخامخ د شهر غلغله په نامه رستورانت د چپه کولو امر ورکړ۰ د ده په امر په دارالامان کي د کليسا تعمير و نړول سو ۰

ـ محمد موسي شفيق د هيواد ټولو سياسي ډلو ته خبر ورکړ چي تر دي وروسته بايد دوی د حکومت پر ضد د مي د لومړي ورځي د مظاهراتو څخه ډډه وکړي (٤٠)

ـ د پرچم د ډلي د يوي باخبري منبع په قول ((شفيق د خلق او پرچم د مشرانو سره اوږي خبري کړي وي او ظاهرا يي په مهارت سره فضا جوړه کړي وه او غالبا همدايي د مرگ عامل وگرځيدی ، ببرک کارمل حتی ده ته د اعتماد د رايي ورکول هم مطرح کړی و چي د مير اکبر خيبر د جدي مخالفت په اثر ممکن نه شـو)) د اعتماد درايي په غونډي کي ببرک کارمل د محمد موسی شفيق حکومت ته مخالفه رايه ورکړه ، ولي د غونډي په پای کي ده زموږ سره يو ځای شفيق ته مبارکي وويله . حفيظ الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین د اعتماد د رایي په وخت کي په غونډي کي حاضر نه و ، دی تر غونډي وروسته ولسي جرگي ته راغی (٥٢)

ـ د محمد موسي شفیق حکومت د اجتماعاتو د قانون مسوده جوړه کړه ، او د کابیني پر غړو یي و ویشله ، خو یوه میاشت وروسته حکومت د خپل تصمیم څخه منصرف سو او د هغه پر ځای یي د اجتماعاتو مقرره جوړه کړه او د وزیرانو په مجلس کي یي تر بحث لاندي و نیوله . (٤١)

داسي ښکاري چي په سر کي محمد موسي شفیق غوښتل چي د اجتماعاتو د قانون مسوده شورا ته وړاندي کړي ، خو وروسته دې د دغه کار څخه په دي دلیل پښیمانه سوې دې چي که د اجتماعاتو د قانون مسوده شورا ته وړاندي سي د دي احتمال سته چي په دغه وخت کي به د پوهنتون شاگردان د شورا په مخ کي مظاهره و کړي او د عقرب د دریمي حادثه به بیا تکرار سي ٠

ـ محمد موسي شفیق د شورا د آخري اجلاس د وروستۍ نیټي رارسیدلو ته چي د اسد د میاشتي ٢ ٢ نیټه ده ، منتظر و ٠ ده په دغه ورځ د خپل حکومت د خط مشي تفصیل او د خپل حکومت اصلاحي پروگرام د عا مو خلگو په اطلاع رساوه خو ده د همدغه کار فرصت پیدا نه کړ ٠

ـ صباح الدین کشککي په خپل اثر کي لیکي چي محمد موسي شفیق غوښتل چي په حکومت کي د سلطنتي کورنی د غړو د مداخلاتو مخه و نیسي . (٤ ٢)

د دي امکان سته چي محمد موسي شفیق ته به وظیفه ورکړه سوي وي چي په هیواد کي د محمد داود خان پر حرکاتو باندي قیود وضع کړي ، ځکه چي د کابل په سیاسي حلقو کي ویل کیدل چي محمد داود خان د ځینو سیاسي ډلو تر شا ولاړ دی ٠ که دغه حدس حقیقت ولري نو په قوي احتمال د محمد موسي شفیق اقدامـاتو بــه د سرطان د ٢٦ کودتا تسریع کړي وي ٠

د اوضاع د مطالعي څخه داسي معلومیږي چي محمد موسي شفیق د دیموکراسي په لسو کلونو کي پاچا ته خپل د استادي چمونه نه و ورښوولي ، دی په دي پوهیدی چي یو وخت به دی د افغانستان صدر اعظم سي او په دغو استادي چمونو به افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديموکراسي په نوې مجرا کي واچوي٠ د ده دغه اقدام (تراختر وروسته نکريزي) سوي په دي چي محمد داود خان کودتا وکړه ، سلطنتي نظام او حکومت دواړو ته يي سقوط ورکړ ٠ ما داسي اوريدلي دي چي د ١٩٧٣ کال د جولای د مياشتي پر ١٦ نيټي د مازديگر پر پنځو بجو محمد موسي شفيق د هيواد د کراړي او امنيت راپور په تيلفون کي پاچا ته ورکړي و ٠ خو (نه) ساعته وروسته د هغي شپي پر دوو بجو د محمد داود خان کودتا پيل سوه ، او په پنځو ساعتونو کي يي د سلطنت کمبله ټوله کړه او د سهار پر اوو بجو د محمد داود خان په وينا سره په هيواد کي سلطنتي نظام ړنگ سو او د هغه پر ځای جمهوري نظام ودرول سو ٠

يوه ټوکه : د هلمند د اوبو د معاهدي تر تصويب يوه نيمه مياشت وروسته ، محمد داود خان کودتا وکړه ٠ په هغه وخت کي ډيرو افغانانو داسي فکر کاوه چي دغه کودتا د هلمند د اوبو د معاهدي د مخنيوي له پاره شوی ده ٠ د کودتا په ورځ محمد موسي شفيق بندي سو دده په ارتباط په کابل کي داسي يوه ټوکه شايع سوه :

محمد موسي شفيق چي خيالور ويښتيان (ځوږي) درلودلي ، وايي چي جمهوري دولت د ده دويښتيانو د خريلو امر کړي و ٠ ولي ده د خپلو ويښتيانو تر خريلو دمخه د هغو لنديدل ددوی ځخه غوښتي و ، خو ده ته په جواب کي وويل سوه چي اوبــه نسته ، په دي چي ټولي اوبه تا ايران ته ورکړي دي٠

ديموکراسي دوري ته يوه کتنه

د ١٩٦٤ کال د اساسي قانون د ١٢٦ مادي دحکم پر اساس ، انتقالي حکومت د انتخاباتو ، اساسي تشکيلاتو ، مطبوعاتو او قضايي تشکيلاتو او صلاحيتونو قوانين جوړ او نافذ کړه ٠ دغه حکومت د احزابو او ولايتي جرگو قوانين تسويد او دوولسمي تقنيني دورې ته يي د تصويب له پاره وړاندي کړه ٠ ولي دغه حکومت د اجتماعاتو د قانون په برخه کي هيڅ اجراآت و نه کړه ٠ ځرنگه چي د احزابو ، ولايتي جرگو او اجتماعاتو قوانين د ديموکراسي په ټولي دوري کي په هيواد کي نافذ نه سوه ، دغه کار افغاني ديموکراسۍ ډيره تاواني کړه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجتماعاتو قانون : د ملي امنيت او د ديموكراسۍ د سالم رشد له پاره په هريوه هيواد كي د اجتماعاتو د قانون موجوديت ضروري شميرل كيږي٠ د مثال په توگه د امريكا هيواد، د اجتماعاتو د تنظيم له پاره قاطع قوانين لري ، په دغه هيواد كي تر هغو چي څوك د اجتماع دقيق وخت ، د اجتماع هدف ، ځای او خط السير وه امنيتي مقاماتو ته څرگند نه كړي او د پوليسو د دفتر څخه ليكل شوي اجازه نامه وانخلي ، حتي د درو كسانو اجتماع د قانون خلاف ده او اجتماع كونكي تر قانوني تعقيب لاندي راځي ٠ ولي په افغانستان كي به سياسي ډلو د امنيتي مقاماتو د اجازي پرته دوامداري مظاهري كولي خو امنيتي مقامات په دي نه پوهيدل چي څه وكړي ؟

دولايتي جرگو قانون : د اساسي قانون د ٤٥ مي مادي د حكم مطابق ، د مشرانو جرگي دريمه برخه سناتوران ، د ولايتي جرگو څخه د مشرانو جرگي ته ورتلل چي د هر ولايت ، ولايتي جرگه يو سناتور مشرانو جرگي ته وراستوي ٠ ولي د ديموكراسۍ په ټولي دوري كي ، ولايتي جرگي جوړي نه سوي او دريمه برخه سناتوران مشرانو جرگي ته معرفي نه سول او د مشرانو جرگي د غونډو نصاب پوره نه و ، نو څكه د مشرانو جرگي ټول تصويبونه بايد قانوني هم نه وي ٠

د ديموكراسۍ په ټولي دوري كي د ولايتي جرگو موضوع په شورا ، جرايدو او سياسي حلقو كي د بحث او انتقاد موضوع وه ٠ گل پاچا الفت د ډاكټر عبدالظاهر حكومت ته د اعتمادد رايي دغونډو د ويناگانوو څخه د هغو وكيلانو نومونه چي د ولايتي جرگو د جوړيدلو غوښتنه يي كړي وه ، په يوي مقالي كي د انيس په ورځپاڼي كي خپاره كړل ٠ ددغي احصائيي له مخي دولسي جرگي اكثرو وكيلانو د ولايتي جرگو جوړيدل غوښتي وو ، خو د افغانستان دولت دغي موضوع ته توجه و نه كړه (٤٣)

د سياسي احزابو قانون : په نړۍ كي داسي هيواد نسته چي ديموكراسي نظام ولري ، ولي هلته د اجزابو قانون موجود نه وي ٠ د افغانستان پاچا او حكومت په نامعلوم دليل په هيواد كي د احزابو د قانون د انفاذ سره مخالفت كاوه٠ ولي ډيري سياسي ډلي لكه مترقي ديموكرات ، افغان ملت ، جمعيت اسلامي ، خلق او پرچم ، شعله جاويد او داسي نوري ډلي عملاجوړي سوي وي دغو ډلو خپلي حزبي مرامنامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشر کړي ، هري ډلي نشراتي اورګان درلود ، د ډلي هر غړي به خپل حزب ته حق العضويت ورکاوه ۰ دوی په مظاهراتو کي فعاله برخه اخسته ، څينو ډلو په پارلمان کي نمايندګان درلودل ، چي ګواکي د قانون تر توشيح دمخه نوموړي ډلي منظم حزبونه وو۰ د دغه حزبونو له پاره حکومت يو کار نه و کړي ، هغه داچي د احزابو د مرامنامود ثبت له پاره کومه اداره نه وه جوړه شوي ، چي البته دغه کار دډيرو احزابو په ګټه و.

د افغانستان دولت داسي فکر کاوه چي که دولت د احزابو قانون نافذ نه کړي ، نو په هيواد کي به احزاب موجود نه وي ۰ د دولت دغه تصور د فراه د خلګو هغي ټوکي ته ورته دې چي وايي د چا خورجين غلو وړی و ، دی په دي خوشحاله و چي د خورجين کيلي د ده سره ده . په ۱۹۷۰ کال کي ببرك کارمل د ولسي جرګي په عمومي غونډي کي و ويل چي ، تردي وروسته به د خلق ديموکراتيك جريان ته د خلق ديموکراتيك حزب ويل کيږي ده دغه مطلب په دري او ماتي ګوډي انګريزي ژبو و وايه چي د ده وينا د ولسي جرګي په جريدي کي ثبت شوي ده ۰ څرنګه چي ده د قانون تر انفاذ دمخه خپله ډله د حزب په حيث اعلان کړه ، ډيرو وکيلانو داسي فکر کاوه چي دی به د دغه مشهود جرم په وجه تر عدلي او قانوني تعقيب لاندي راسي خو حکومت دغي موضوع ته توجه و نه کړه . (٤٤)

د افغانستان پــه غيـر حزبـي شورا کــي ، د افغانستان دولت او حکومت د لاندي ستونزو سره مخامخ وو :

ـ د دولسمي تقنيني دوري په وروستي کال کي چي وکيلان ولسي جرګي ته منظم نه ورتلل نو د دولت د بوديجي د تصويب پاڼه ، د ستري محکمي د دارلانشا د آمر ډاکټر وليد حقوقي د دفتر پر ميز پرته وه ، او هر وکيل به هلته ورتې او د بوديجي پاڼه به يي امضا کوله .

ـ پــه ديارلسمي تقنيني دوري کــي د صنعتـي بانکونو قانون د پاچا پــه مستقم خواهش وکيلانو و مانه ۰

ـ په ديارلسمي تقنيني دوري کي ، د نور احمد اعتمادي دوهم حکومت ته د اعتماد د رايي په وخت کي ، حکومت مجبور و چي د ۲۱٦ وکيلانو څخه د اعتماد د رايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه وکړي ۰ په دغه ارتبا ط د حکومت مشاور وزير چي د وکيلانو د اعتماد د رايو شميرل يي پر غاړه و ، په ټوکه ويلي و چي هر وکيل چي به حکومت ته درايي وعده ورکوله ، دغه وکيل به د څونورو وکيلانو د رايي ذمه هم پر غاړي اخستله ، څو په پای کي د وکيلانو د رايي شمير (۱۲۰۰) رايو ته ورسيد . (٥ ٤)

ـ ولسي جرگه چي د منفردو وکيلانو څخه جوړه سوی وه ، څينو وکيلانو بـه پـه ټوکه ويل چي په ولسي جرگي کي (۲۱٦) جزبونه غړيتوب لري ۰

ـ د اساسي قانون د تسويد د کميټي رئيس سيد شمس الدين مجروح ويلي و چي افغاني ديموکراسي داسي يوه موټر ته ورته ده چي اشترينگ ونه لري ۰

نه پوهيږم دا ډول ديموکراسي چي په هغي کي به حزبونه نه وي د کوم هيواد څخه به اخستل سوي وي ؟ زموږ په گاونډيو هيوادونو ، هند او پاکستان کي د انگريز د استعمار په وخت کي د کانگرس ، مسلم ليگ ، عوامي ليگ او داسي نور حزبونه جوړ سوي وو ۰ د افغانستان په يوه بل گاونډي هيواد ، ايران کي چي د ديموکراسۍ ادعايي هم نه کوله ، ډير پخوا (ايران نوين)، (مردم) او داسي نور حزبونه موجود وو ۰

ـ د ديموکراسۍ په پيل کي د افغانستان پاچا غوښتل چي په هيواد کي معتدل سياسي جريانونه لکه د اساسي قانون ، مترقي ديموکرات ، ملي جبهه او ملي اتحاد ډلي جوړي سي ۰ چي په پارلمان کي ډيري چوکۍ و گټي او په راتلونکو کلونو کي به د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور کړه سي، خو د پاچا دغه آرزو سر ته څکه و نه رسيدله چي حتي د افغانستان د ديموکراسي د معمارانو ډلي ، په هيواد کي د احزابو د جوړولو سره مخالفت کاوه ، لکه چي سيد قاسم رشتيا ليکي ((ما او ډاکټر محمد يوسف دواړو پاچا ته شکايت وکړ چي خليل الله خليلي حزب جوړوي)) (٦ ٤)

د ښاروالیو قانون : تر ديموکراسۍ دمخه په افغانستان کي د ښاروالیو له پاره انتخابات کيدل ۰ ولي د ديموکراسۍ په دوري کي دغه حق د خلگو څخه واخستل سو څکه چي د ديموکراسۍ په دوري کي د هيواد ښاروالان د داخلي د وزارت له خوا ټاکل کيدل . رشتيا ليکي چي ده ته صدر اعظم نور احمد اعتمادي ويلي و چي که د ښاروالیو قانون نافذ سي ، نو انجينر غلام محمد فرهاد به په کابل کي د ښاروالۍ د چوکۍ له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان کاندید کړي ، چې د رشتیا په قول نور احمد اعتمادي د انجینر غلام محمد فرهاد د ښاروال کیدلو سره موافق نه و (٤٧)

د پاچا صلاحیتونه : د ١٩٦٤ کال د اساسي قانون د ١٥ مي مادي په لومړۍ فقرې کې پاچا ته ((غیر مسؤول او واجب الاحترام)) ویل سوی دی ٠ دغه مطلب دامان الله خان د ١٩٢٤ کال په اساسي نظام نامي یا د محمد نادر خان د ١٩٢٩ کال په اساسي اصولو کي ، نه دې راغلې ٠ په دغه ارتباط به په کابل کې د سلطنت مخالفینو ویل ((په پخوانیو قوانینو کي به پاچا ته د خداي سیورې ویل کیدې ، ولي د دیموکراسۍ په اساسي قانون کي پاچا ته العیاذ بالله د خدای صفات قایل شوي دي)) ٠

ـ د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه ، د خپل پلار محمد نادر خان تر مړیني وروسته د ١٩ کلونو په عمر سلطنت ته ورسید ٠ په دغه وخت کي د ده اکا سردار محمد هاشم خان د افغانستان صدر اعظم و، چې د حکومت ټولي چاري د ده په واک کي وي ٠ تر ده وروسته د پاچا بل اکا شاه محمود خان د افغانستان صدر اعظم سوچي ده هم د حکومت چاري په خپله اجراکولي ، تر شاه محمود خان وروسته محمد داود خان د افغانستان صدر اعظم سو چي ده هم د حکومت په کارو کي د پاچا مداخله نه منله ٠ په خینو مواردوکي به محمد داود خان د پاچا سفارش هم نه اجرا کاوه د مثال په توگه : پاچا د محمد داود خان څخه غوښتنه کړي وه چې د ده د کاریزمیر یاور ډگروال عبدالعلي اځگزي ته چې د ترفیع مستحق و د جنرالي ترفیع ورکړي خو محمد داود خان د پاچا دغه غوښتنه و نه منله او پاچا ته یي ویلي و چې ډگروال عبدالعلي په اردو کي وظیفه نه ده اجرا کړې ، نو په دغه لحاظ ده ته د جنرالي رتبه نه سي ورکولای ، کله چې محمد داود خان استعفا وکړه د جنرالي لمړی فرمان چي د پاچا له خوا توشیح سوی و هغه د عبدالعلي اځگزي د ترفیع فرمان و . (٤٨)

د پاچا د اجراآتو خیني نموني :

ـ ډاکټر محمد یوسف په خپلي یوي مصاحبې کي ویلي و ((کله چې زه د افغانستان صدر اعظم سوم ماهیله درلوده چې پاچا به د حکومت په کارونو کي مداخله و نه کړي خو پاچا د سلطنت مقام دومره کښته کړ چي د حکومت پـه ټولو کارونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي مداخله كوله .)) (٤٩)

ـ رشتيا ليكي چي صدر اعظم ډاكټر محمد يوسف پاچا ته ويلي و چي ستاسي سرمنشي خليل الله خليلي حزب جوړوي او دې د سلطنت د تخت د شا څخه پر حكومت باندي ټكان كوي . (٥٠)

ـ ډاكټر محمد يوسف په خپلي يوي مصاحبې كي ويلي دي چي ((د ١٩٦٤ كال د اساسي قانون يوه اشتباه دا وه چي په دغه قانون كي ډير صلاحيتونه مقننه او قضاييه قواوو ته وركړه سوي وو چي په نتيجه كي حكومت ډير كمزورى سو)) د دغي اشتباه پر اساس ددیموكراسي دوري څلورو حكومتونو ونه كولاى سو چي هغه انارشي چي په تعليمي مؤسيسو په تيره بيا په پوهنتون كي پيدا سوي وي ، دمنځه يوسي .

ـ صدر اعظم محمد هاشم ميوندوال د پوهنتون شاګردانو ته وعده وركړه چي د عقرب د دريمي د پيښي عاملين به پيدا كوي او دوى ته به جزا وركوي ٠ خو پاچا محمد هاشم ميوندوال ته اجازه ور نه كړه چي د دغي پيښي تحقيق وكړي ٠

ـ د ديموكراسي دوري ټولو حكومتونو يو د بل سره مخالفت كاوه ٠

كله چي محمد هاشم ميوندوال د ډاكټر محمد يوسف پر ځاى ، صدر اعظم سو نو د ډاكټر محمد يوسف ملګري ، په شورا او حكومت كي د محمد هاشم ميوندوال د حكومت په فوري نسكورولو بوخت سول ٠ دوى به د محمد هاشم ميوندوال او ديموكرات مترقي پر ضد ، ډير تبليغات كول ٠ دوى به ويل چي محمد هاشم ميوندوال پنځه متضاد اصلونه (اسلام ، مشروطه شاهي ، ديموكراسي ، سوسياليزم او سرمايه داري) په خپلي حزبي مرامنامي كي ځاى كړي دي ٠ دوى داهم ويل چي د ديموكرات مترقي مرام نامه د ((خاك شير)) د دانو سره شباهت لري چي د هري ناروغۍ له پاره دوا ده ٠ كله به دوى د مترقي ديموكرات د جريان مرام نامي ته ((شتر ګاو پلنګ)) هم وايه ٠ د محمد هاشم ميوندوال ملګرو به د ديموكراسۍ دوري اساسي قانون ((د شيطان كتابچه)) بلله .

ـ د محمد هاشم ميوندوال پر ځاى نور احمد اعتمادي د افغانستان صدر اعظم سو د نور احمد اعتمادي او محمد هاشم ميوندوال مخالفت ، د نور احمد اعتمادي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت تر پـایـه ادامه درلوده٠ چـي د دغي موضوع تفصيل د کتاب په بلي برخي کي راغلې دې ٠

ـ د افغانستان پاچا ولي د افغاني ديموکراسۍ د سالم رشد او په هيواد کي د ديموکراسۍ د مؤثريت په برخه کي لازم اقدامات و نه کړل ؟ آيا پاچا د سره څخه په افغانستان کي د کاملي ديموکراسۍ غوښتونکې نه و ، او که دې وروسته د ديموکراسۍ پر راوړلو باندي پښيمانه سوې و ٠

پرستش د يوه تن بت پرستي ده
د قانون پيروي لويه آزادي ده
په کوم ځای کي چي يو فکر کړي کارونه
هلته خوشي مهمل لفظ ديموکراسي ده

(٥ ١)

ددريم فصل يادداشتونه

١ ـ رشتيا ، ذکر شوې اثر ، مخونه ٢ ٨ ١ ، ١٨٣
٢ ـ فيض زاد ، محمد علم ، جرگه هاي بزرگ افغانستان ، مخ ٢ ٨ ٢
٣ ـ کشککي ، ذکر شوې اثر ، مخ ٣ ٣
٤ ـ همدا اثر ، مخ ٢ ٣
٥ ـ دوپري ، لوويس ، افغانستان ، مخونه ٢ ٠ ٦ ، ٧ ٠ ٦
٦ ـ غبار ، ذکر شوې اثر ، دوهم ټوك مخونه ٩ ٣ ٢ ، ٠ ٤ ٢
٧ ـ همدا اثر مخونه ٤ ٤ ٢ تر ٤ ٥ ٢
٨ ـ همدا اثر ، مخونه ٤ ٥ ٢ تر ٨ ٥ ٢
٩ ـ همدا اثر ، مخونه ١ ٤ ٢ تر ٣ ٤ ٢
١٠ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر، ټوك لومړې ، مخ
١١ ـ رشتيا ، ذکر شوې اثر، مخ ٠ ٩ ٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ۲ ـ زما مشاهدات

۱ ۳ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، ټوك لومړی ، مخ ٥ ٠ ٠

۱ ٤ ـ مبارز ، ذکر شوې اثر ، مخ ۳ ۷ ۲

۱ ٥ ـ مبارز ، ذکر شوې اثر مخ ۲۷۳

۱ ۶ ـ خلمی ، ذکر شوی اثر، مخ ٥ ٠ ۲

۱ ۷ ـ همدا اثر ، مخ ٥ ۹ ۱

۱ ۸ ـ همدا اثر ، مخ ۶ ۹ ۱

۱ ۹ ـ د رامپارت مجله ، مخونه ۲۳ ، ۲٤

۲ ٠ ـ خلمې ، ذکر شوې اثر ، مخ ۳ ٠ ۲

۲ ۱ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲ ۱ ٥

۲ ۲ ـ خلمې ، ذکر شوې اثر ، مخ ۶ ۳ ۲

۲ ۳ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۶ ۱ ٥

۲ ٤ ـ زما مشاهدات

۲ ٥ ـ خلمی ، ذکر شوې اثر ، مخ ۷ ۳ ۲

۲ ۶ ـ دنامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

۲ ۷ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲ ۲ ٥

۲ ۸ ـ زما مشاهدات

۲ ۹ ـ سرياور محمد عمر خان

۳ ٠ ـ د نامه ليکل يي لازم نه بولم

۳ ۱ ـ خالص ، مولوي محمد يونس ، د افغانستان د مسلمان ملت په سرنوشت لوبي نه دي په کار ، مخونه ۹ تر ۱ ٠

۳ ۲ ـ خلمې ، ذکر شوې اثر ، مخ ۶ ٤ ۲

۳ ۳ ـ د عبدالهادي مکمل په قول

۳ ٤ د نامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

۳ ٥ ـ د نامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۶ ـ زما مشاهدات

۳۷ ـ زما مشاهدات

۳۸ ـ فرهنګ ، ذکر شوې اثر، مخ ۵۲۵

۳۹ ـ کشککي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۸۲

٤۰ ـ همدا اثر ، مخونه ۸۰ تر ۸۲

٤۱ ـ د نعمت الله پژواك په قول

٤۲ ـ کشککي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۸۱

٤۳ ـ زما مشاهدات

٤٤ ـ زما مشاهدات

٤۵ ـ د نامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

٤۶ ـ رشتيا ، ذکر شوي اثر ، مخ ۲۸۰

٤۷ ـ همدا اثر ، مخ ۳۰۶

٤۸ ـ د يوه پخواني والي په قول

٤۹ ـ د خراسان مجله ، مخونه ۲۱ ، ۲۲

۵۰ ـ رشتيا ، ذکر شوې اثر، مخ ۲۸۰

۵۱ ـ د ګل پاچا الفت شعر

۵۲ ـ د نامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه

څلورم فصل

د : مقـنـنـه

۱ ـ دديموکراسۍ دورې شورا

د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون مطابق د لومړي وار له پاره په دوو تقنيني دوروو کي د غربي ديموکراسيو د اصولو پر اساس په هيواد کي عام ، سري او مستقيم انتخابات و سول او د افغانستان په ۲۱٦ انتخاباتي حوزو کي چي به هر کانديد شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر نورو کاندیدانو ډیره رایه اخستي وه ، هغه به د خپلي حوزی د وکیل په حیث ټاکل کیدې ۰ د ۱۹٦٤ کال په اساسي قانون کي ، ولسي جرگي ته ډیر صلاحیتونه ورکړه سوي وو ۰ چي ولسي جرگي د دغو صلاحیتونو څخه په استفادي سره ، دغي جرگي یو لړ اجراآت کړي دي چي د دغو اجراآتو یوه برخه په دغه کتاب کي راغلې ده زه د دوولسمي تقنیني دوري په ډیرو اجراآتو خبر نه یم ، څه محدود معلومات چې د دغي دورې په ارتباط ما اوریدلي دي هغه مي دلته لیکلي دي ۰ ولي په دیارلسمي تقنیني دوري کي چي زه د شورا غړې وم او د دغي دوري د ولسي جرگي په ډیرو فیصلو کي مي برخه درلوده ما خپل مشاهدات د کتاب په دغي برخي کي په تفصیل وړاندي کړي دي ۰ څرنگه چي د شورا پر دغي دوري باندي هیڅ لیکوال تر اوسه کوم اثر نه دی لیکلې یا ما کوم اثر تر اوسه نه دی لیدلی ، نو په دغه لحاظ د کتاب په دغي برخي کي ډیرو لیکلو اسنادو ته د مأخذ په حیث اشاره هم نه ده سوي . په دواړو تقنیني دوروو مخصوصا په دیارلسمي تقنیني دوري کي د وکیلانو ډیري غیر حاضری د ولسي جرگي حیثیت ته لویه صدمه ورسوله ، لکه چي نازک خیاله شاعرگل پاچا الفت وایي :

یو وکیل ته څوی ویل چي ولي پلاره   کار ته نه څي تنخا اخلي له سرکاره

هغه ووي چي په کار او په خدمت څو   تنخاگاني مزدور اخلي له باداره

زه د دوولسمي او دیارلسمي تقنیني دوروو دمحترمو وکیلانو څخه صمیمانه هیله کوم چي پر دواړو ولسي جرگو باندي خپل مشاهدات وه لیکي او خپاره یي کړي تر څو چي د دغو تقنیني دورو په اجراآتو زموږ هیوادوال ښه خبر سي .

۲ ـ دولسمه تقنیني دوره

د دیموکراسي دوري د اساسي قانون مطابق د ۱۹٦٥ کال د آگست د میاشتي پر ۲٦ نیټي په ټول هیواد کي د شورا د غړو د ټاکلو له پاره انتخابات پیل سوه چي د هیواد په ټولو انتخاباتي حوزو کي ډیر شمیر خلگو د ولسي جرگي او مشرانو جرگي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړيتوب له پاره ځانونه کانديد کړي وو ۰ د دغي تقنيني دورې يوه کلکه او مشهوره انتخاباتي مبارزه د لغمان په ولايت کې د ډاکټر عبدالظاهر او غلام حسن ساپي تر منځ شوی ده ۰ دوی دواړو د ميترلام د ښار د اوسيدونکو د رايو د جلبولو له پاره ديرو ، مسجدنو او ښوونځيو ته ورغلل او د خلگو سره يې خبري وکړي ۰ دوي لاندي ټوکي د دغي انتخاباتي حوزي په برخي کي په هيواد کي خپري شوي دي :

ـ غلام حسن خان ساپې چي په خپلي سيمي کي د يوه بډاي سړي په حيث شهرت درلود، ده ته يوه ليکوال ويلي و چي ته سرمايه دار يي ۰ ده په جواب کي د ټوکي په شکل ورته ويلي و ((واقعيت دادې چــي ته ډير لوڅ يــي نو ځکه زه تـاتـه سرمايه دار ښــکارم)) (۱)

ـ د انتخاباتو په جريان کي ډاکټر عبدالظاهر د ميترلام د ښار د ناروغانو صحي معاينه کوله او دوی ته به يي نسخه هم ورکوله . ده به په ټوکه ناروغانو ته ويل ((د درملو پيسي د غلام حسن خان ساپي څخه و غواړې)) (۲)

په هغه وخت کي دروو سياسي ډلو د افغانستان ډير تعليم يافته خوانان جذب کړي وو ۰ ديموکراسي نوين ، ديموکراتيك خلق او اسلامي جمعيت ۰ خو د دغو سياسي ډلو څخه يوازي د ديموکراسي نوين (شعله جاويد) ډلي د افغانستان په انتخاباتو کي برخه وانه خسته ۰

دديموکراتيك خلق ډلي فيصله کړي وه چي په انفرادي ډول به په انتخاباتو کي برخه اخلي او د دغي ډلي خو غړي په خپنو انتخاباتي حوزو کي ځانونه کانديد کړل۰ نور محمد تره کې د غزني د ناوي په حوزي کي کانديد سو او د محمد هاشم تره کي له خوا يي ماته و خوړه ۰ ولي د کابل په ښار کي د دغه جريان ډيرو غړو د ببرك کارمل او اناهيتا په گډه انتخاباتي مبارزه وکړه او دوی انتخابات و گټل ۰ په کابل کي دا هم ويل کيدل چي د شوروي اتحاد د خوشحالولو له پاره حکومت په انتخاباتو کي د ببرك کارمل او اناهيتا سره مرسته کړي ده ۰ تر انتخاباتو وروسته ، د دغه جريان ځينو غړو نور محمد تره کې په دي خبر کړ چي ببرك کامل د دغه جريان پخواني فيصله ماته کړي ده ، او د دغه جريان د غړو د فعاليت په نتيجه کي يي انتخابات گټلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. . د دغه جريان د انشعاب اساس د دغه ځايه څخه ايښوول کيږي (۳)

د ډاکټر محمد يوسف ځينو ملګرو دولسي جرګي انتخابات ګټلي وو ، که څه چي د دوی شمير نه و اعلان شوي خو په کابل کي ويل کيدل چي د دغي ډلي څخه لس يا دوولس وکيلان په ولسي جرګګي کي وو چي ګل پاچا الفت او مير محمد صديق فرهنګ د دغي حلقي مشران وو ٠

د دغي دوري په ولسي جرګي کي د اسلامي ډلي يو مشر عبدالهادي هدايت و٠ ده به د ولسي جرګي د مباحثاتو په وخت کي ببرک کارمل ته هميشه دا خبرداري ورکوله چي دی په خپلو خبرو کي بايد په اسلام تظاهر و نه کړي ، اوکه ببرک کارمل دا کار وکړي نو د ده د ملګرو د شديد عکس العمل سره به مخامخ سي ٠

په ولسي جرګي کي د ملي جبهي د ډلي مشر خليل الله خليلي و ٠ چي د دغي ډلي څخه هم لس يا دوولس وکيلان ولسي جرګي ته ورغلي وو ٠ کله چي خليل الله خليلي په جدي کي سفير سو ، د دغي ډلي فعاليت په ولسي جرګي کي ډير محدود کړ سو ٠

په ولسي جرګي کي د صدای عوام ډله هم فعاله وه ٠ د دغي ډلي مشران ډاکټر عبدالکريم فرزان او ميرمن معصومه عصمتي وو .

په ولسي جرګي کي بله ډله د افغانستان د مخورو او خانانو ډله وه ، چي سردار عبدالرشيد خان يي رهبري کوله ٠

کله چي محمد هاشم ميوندوال د ډاکټر محمد يوسف پر ځای صدر اعظم سو ، ده په ولسي جرګي کي کومه ډله نه درلوده ، د ده سره په شورا کي د ډاکټر محمد يوسف او ببرک کارمل ملګرو ډير مخالفت کاوه ٠ دی مجبور سو چي په ولسي جرګي کي د سردار عبدالرشيد خان او خليل الله خليلي پر ملګرو تکيه وکړي (٤)

ببرک کارمل په ولسي جرګي کي څنګه و وهل سو ؟

د ولسي جرګي په عمومي غونډو کي به ببرک کارمل او د ده ملګرو د آجندا پر ټولو مسايلو باندي اوږد مسلکي بحث کاوه چي د غونډو ډير وخت به يي نيوی ، او د ډيرو وکيلانو به ددوی ددغو خبرو څخه ښه نه راتله او هيشه به د دوی او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکیلانو تر منځ لفظي مشاجري کیدلي ۰ یوه ورځ ببرك کارمل د ولسي جرګي په تالار کي د سید کرم وکیل سدو خان اصیل ته د پاکستاني خطاب کړی و ، چي د دغه اتهام په واردولو سره دی او د ده ملګري د سردار عبدالرشید د ډلي له خوا و وهل سول .

دغو وکیلانو د ببرك کارمل او د ده د ملګرو په وهلو کي برخه درلوده :

د سید کرم وکیل سدوخان اصیل، د بالابلوك وکیل عبدالستار خان ، د سپن بولدك وکیل عبدالصمد خان ، د دیراوت وکیل حاجي دوست محمد ، د شاجوی وکیل محمد عمر خان ، د اجرستان وکیل عبدالستار ملاخیل ، د بالا مرغاب وکیل غلام رباني شمولزی او څو نور وکیلان . (۵)

تر وهلو وروسته کارمل د ابن سینا روغتون ته یووړل سو ، په دغه وخت کي ده نور محمد تره کي ته وویل چي سبا دي په کابل کي اعتراضیه مظاهره وسي ، تره کي ده ته وویل چي ته پر خپل شخصي عمل وهل سوی یي او حزب ستا له پاره مظاهره نه سي کولای. په سبا ورځ د کارمل اخلاصمنو په کابل کي مظاهره وکړه او دتره کي ملګرو په دغي مظاهري کي برخه وانه خسته چي د دغي ورځي څخه د دوی تر منځ انشعاب راغی او وروسته ددوی جریان د خلق او پرچم پرډلو وویشل سو .(۶)

پاچا به د سردار عبدالرشید د ډلي سره منظمه کتنه کوله ، خو د ببرك کارمل تر وهلو وروسته پاچا د څه وخت دپاره د دغي ډلي وکیلانو دلیدلو څخه ډډه وکړه ، څو میاشتي وروسته چي پاچا دغه ډله خپل حضورته و منله ، پاچا دوی ته ویلي و ((زه ستاسي څخه د کارمل پر وهلو خوابدی شوی وم ، تاسي پوهیږی چي تاسي څه کړي دي ؟ تاسي پر یوه مچ باندي د توپ ټك کړی دی ۰)) پاچا په هغه وخت کي دا تصور نه سو کولای چي کارمل به څوارلس کاله وروسته د ده پر ځای کښیني او یو لوی جهاني قدرت شوروي اتحاد به د ده و شا ته و دریږي . (۷)

۳ ـ ددیارلسمي تقنیني دوري ولسي جرګه

د دیارلسمي تقنیني دوري انتخابات د ۱۹۶۹ کال د آګست د میاشتي پر ۲۶ نیټي پیل سوه د انتخاباتو په وخت کي په لاندي څلورو انتخاباتي حوزو کي څه پیښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وي.

ـ د غزني د مقر په ولسوالۍ كي پخواني صدر اعظم محمد هاشم ميوندوال او محمد اكرم خان خانونه كانديد كړي و . حكومت او ستره محكمه په دي متهم دي چي د مقر د ولسوالۍ په انتخاباتو كي يي د محمد هاشم ميوندوال پر ضد مداخله كړي ده . رشتيا ليكي ((صدر اعظم نور احمد اعتمادي ما ته و ويل چي ده د ميوندوال پر ضد د مقر د ولسوالۍ په انتخاباتو كي مداخله كړي ده .)) (٨)

د انتخاباتو په نتيجه كي محمد اكرم د مقر دولسوالۍ و كيل سو ، محمد هاشم ميوندوال د حكومت د مداخلاتو په ارتباط ستري محكمي ته اعتراضيه ليك وړاندي كړ د ستري محكمي د دالانشا آمر د ميوندوال دغه اعتراضيه ليك د ډيرو مراجعينو په مخ كي باطله داني ته اچولې و (٩)

محمد هاشم ميوندوال په انتخاباتو كي د دولت د مداخلاتو په ارتباط د مساوات په جريدي كي يوه مقاله و ليكله ، او د افغانستان د هوايي قوي ځخه يـي پـه هغه كي داسي مننه كړي وه چـي يوازي دغـي قوي د مقر د ولسوالۍ پـه انتخاباتو كـي مداخله نــه ده كړي .(١٠)

ـ د هرات په ولايت كي د هرات د هغه وخت والي د محمد شاه رحمتيان پر ضد په انتخاباتو كي مداخله كړي وه ، ولي هراتيانو د والي د مخالفت باوجود ، محمد شاه رحمتيان د خپل وكيل په حيث و ټاكى . (١١)

ـ د كندهار د ولايت د سپين بولدك په ولسوالي كي د نورزو او اخگزو د اقوامو تر منځ د وكالت پر موضوع باندي اختلافات پيدا سوه ، چي په دغي دوري كي د سپين بولدك ځخه ولسي جرگي ته وكيل و نه ټاكل سو . ما په هغه وخت كي د سپين بولدك د يوه اوسيدونكي ځخه پوښتنه وكړه چي آيا دغه دوه قومونه تر دي حده يو د بل سره مخالف دي چي په دغي دوري كي دوی كاميابه نه سوه چي خپل وكيل ولسي جرگي ته معرفي كړي ؟ ده زما په جواب كي په عاميانه الفاظو وويل چي زموږ په سيمي كي يو متل دی چي په بولدك كي د نورزو او اخگزو د قومونو موجوديت د موسقي هغو آلاتو ته ورته دی چي يوازي د يوي آلي ږغول هيڅ خوند نه لري . خو سپين بولدك ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباندي څخه د غرض لاسون ورسيدل او دغه دوه قومونه يي د دښمني تر سرحده يو د بل په مقابل کي ودرول۰

ـ د ننگرهار د ولايت د هسکي ميني په ولسوالي کي د خلگو د اختلافاتو په وجه د ولسي جرگي انتخابات وځنډيدل چي يو کال وروسته د دغي ولسوالي خلگو د عبدالوهاب په نامه خپل وکيل ولسي جرگي ته و ليږی ۰

د ديارلسمي تقنيني دورې د وکالت له پاره دوو ملي شخصيتونو لکه محمد هاشم ميوندوال او ديپلوم انجينر غلام محمد فرهاد خانونه کانديد کړي وو۰ د محمد هاشم ميوندوال د وکالت ممانعت و سو۰ او انجينر فرهاد د کابل دښاريانو له خوا د وکيل په حيث و ټاکل سو ، ولي ده ژر د وکالت څخه استعفا وکړه ۰

دديارلسمي تقنيني دوري شورا د ۱۹٦۹ کال د اکتوبر د مياشتي پـر ۱٤ نېټي د افغانستان د پاچا له خوا پرانستله سوه ۰

د دغي دوري ولسي جرگي د نور احمد اعتمادي ، ډاکټر عبدالظاهر او محمد موسي شفيق حکومتونو ته د اعتماد رايه ورکړي ده ۰ دوو لومړنيو حکومتونو ته وکيلانو تر ډيرو خبرو او اوږدو مباحثاتو وروسته ، د اعتماد د رايي اظهار کړی دی ، خو محمد موسي شفيق د وکيلانو څخه غوښتنه وکړه چي د اعتماد رايي په غونډي کي تر خپلو متحدالمالو خبرو تيرسي او په پټه خوله د اعتماد د رايي اظهار وکړي ۰ وکيلانو د ده غوښتنه و منله او دوی يوازي د لاسونو پـه پـورتـه کولو سـره د اعتـمـاد د رايي اظهار وکړ ، په دغي غونډي کـي مـا هـم د محمد شفيق حکومت تــه د اعتماد رايه ورکړي ده ۰

د ولسي جرگي په عمومي مجلس کي د نور احمد اعتمادي حکومت ته د اعتماد د رايو په غونډي کي يوه وکيل تر لسو دقيقو ډيري خبري وکړي ، د ولسي جرگي د طرزالعمل مطابق هر وکيل حق لري چي د دغي جرگي په غونډو کي (حد اکثر)لس دقيقي خبري وکړي چي دطرزالعمل د دغه حکم پر اساس د ولسي جرگي رئيس ډاکټر محمد عمر وردگ دغه وکيل ته و ويل ((ستا وخت پوره سوی دی او ته د نورو خبرو حق نه لري)) د بگراميو د حوزي وکيل ، دډاکټر محمد عمر وردگ پر دغي مداخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندي قانوني اعتراض وکړ ، او ده اشتباها د ولسي جرگي رئيس ته وويل چــي د طرزالعمل مطابق هــر وکيل حق لـري چــي د دغــي جرگي پــه غونــډو کي (حد اقل) لس دقيقي خبري وکړي ، ده بايد حد اکثر ويلي واى (۱۲)

لکه چي د ولسي جرگي رئيس هغه وخت د دغي جرگي طرزالعمل ښه نه و لوستې ، په دي چي دى ډير ژر دهغه وکيل په دغه اشتباهي او غير واقعي اعتراض قانع سو او د نورو وکيلانو په ويناگانو کي يي مداخله و نه کړه ۰ چي وروسته د لوگر د مرکز وکيل مولوي محمد نبي محمدي ، د اعتماد درايو په غونډي کي دوه ساعته خبري وکړي او د ولسي جرگي رئيس د ده د خبرو ممانعت و نه کړ۰

يوه ټوکه : يوه ورځ د گل پاچا الفت څخه چي د دوولسمي دوري وکيل و ، د ديارلسمي دوري يوه وکيل پوښتنه وکړه چي ((آيا زموږ او ستاسي د دوروو تر منځ کوم توپير سته او که يه ؟)) الفت چي ظريف او حاضر جوابه سړې و ، دغه وکيل ته و ويل زموږ او ستا سـي د دوروو تـر منځ ډيـر تـوپـير سـتــه ، پـــه دي چي زموږ (اکثر حد) ستاسي (اقل حد) دى (۱۳)

په ۱۹۷۳ کال کي چي د افغانستان پاچا د سترگو د علاج له پاره اروپا ته سفر کاوه ، ده تر خپل سفر دمخه د شورا د غړو سره خداى اماني وکړه ، د پاچا دغه کار په کابل کي د ډيرو شايعاتو باعث سو . د مثال په توگه : کله چي د پاچا په غياب کي محمد داود خان کودتا وکړه ، په کابل کي ډيرو خلگو دا تصور کاوه چي محمد داود خان د پاچا په مصلحت کودتا کړي ده ۰ اودغو خلگو به د خپل قول د اثبات له پاره د شورا دغړو سره د پاچا خداى اماني ته اشاره کوله ، ولي د دغو خلگو دغو شايعاتو حقيقت نه درلود په دي چي هغه وخت د شورا د څلور کلني دوري وروستې ورځي وي او پاچا د ډير وخت له پاره په اروپا کي پاته کيدى او ده بايد تر خپل سفر دمخه د شورا د غړو سره خداى اماني کړي واى ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤ ـ زه څرنګه وکيل سوم

زه چي د افغانستان د خارجه وزارت مسلکي مامور وم د ١٩٦٩ کال د شورا د انتخاباتو په وخت کي په لندن کي د افغاني سفارت د آتشي په حيث مقرر سوې وم. ولي د ځينو دوستانو په جدي غوښتنه زه په لندن کي د خپل ماموريت څخه مستعفي سوم او په خپل پلارني استوګن ځای يعني د فراه د ولايت د بالابلوک په ولسوالۍ کي د ولسي جرګي د وکالت له پاره کانديد سوم . د نوموړي ولسوالۍ د وکالت له پاره مور دوه کسان کانديد سوي وو .

د انتخاباتي مبارزو په ورځو کي زه د اول وار له پاره د بالابلوک پر ټولو سيمو وګرزيدم او د هغو سيمو خلګ مي د نژدي څخه وليدل . چي د بالابلوک د ولسوالۍ د عامو خلګو وفا ، پاکي ، پيرزويني او ميلمه پالني پر ما باندي ډير اثر وکړ . دوی په درواغو نه پوهيدل ، دوی د رايو خرڅول نه وو زده، دوی دورنګي نه درلوده ، هر څه چي به يي ويل هغه به يي کول. پر خپلو خبرو او وعدو ډير کلک ولاړ وو ، چي زه به اوس د بالابلوک د غرنۍ سيمي د دوو کليو (زرمردان) او (ازو) د خلګو سپيځل توب او ميړانه د مثال په توګه وړاندي کړم :

د (زرمردان) د کلي اوسيدونکو د وکالت دوهم کانديد ته د راي ورکولو وعده ورکړي وه . او د (ازو) د کلي خلګو فيصله کړي وه چي ما ته به خپله رايه راکوي. زه چي د هغي سيمي په کليوالي اصولو ښه نه پوهيدم ، نو زه د زرمردان کلي ته د رايي غوښتلو له پاره ورغلم او يوه شپه مي د هغه کلي د مشر ملک رستم خان په کور کي تيره کړه ، ولي د دغه کلي خلګ زما سره حتي د خبرو له پاره هم حاضر نه سول او دوی ما ته خبر راکړ چي دوی د وکالت دوهم کانديد ته د رايي وعده ورکړي ده او دوی خپله وعده نه سي ماتولای . د دوی دغي صريح لهجي او بي ريا خبرو زه ډير خوشحاله کړم او ما د بالابلوک د ولسوالۍ په نورو کليو کي دغه عمل بيا تکرار نه کړ .

د(ازو) کلي ته د دوهم کانديد هغه نماينده ورغی چي د کلي د مشر ملک نظام خان سره يي ښه مناسبات درلودل . ولي د دغه کلي خلګ دي ته حاضر نه سول چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده سره د انتخاباتو پر موضوع باندي و رغیږي چي د زرمردان او ازو د کلیو خلگ پر خپل موقف ثابت پاته سول او د انتخاباتو په ورځ د زرمردان اوسیدونکو د دوهم کاندید سندوخ ته خپلي رايي واچولي او د ازو د کلي خلگو ماته خپلي رايي راکړي ۰

د بالابلوك ولسوالي د پراخوالي او د اوسیدونکو د شمیر له کبله ، د فراه د ولايت یوه غټه ولسوالي ده ۰ چي ډیر اوسیدونکي يي نورزي ، علیزي ، بارکزي ، اڅگزي او اسحق زي دي ۰ دوه کلي (سیدان) هم په دغي ولسوالي کي ژوند کوي ، د بالابلوك په غرنۍ سیمي کي د (چار ایماق) او (زوریانو) قبیلي هم میشته دي۰ دغه ولسوالي ډیرکوچیان هم لري ، چي دوی په دوبي کي د خپلو پسو د رمو سره يو ځای د غور ولايت ته کډه کوي او په ژمي کي بیرته خپل اصلي ټاټوبي ته راستنیږي ۰

د بالابلوك په ولسوالي کي د شورا د انتخاباتو له پاره دوه مرکزونه ټاکل سوي وو چي په هر مرکز کي به د پنځو ورځو له پاره رايه اخستل کیده۰د انتخاباتو په لومړی ورځ د هغه ځای خلگو فیصله وکړه چي د تبرك له پاره باید د (عارف آباد) د کلي سیدان تر نورو دمخه ما ته په سندوخ کي خپله رایه واچوي ، دغو روحاني خلگو د سهار لمونځ د (گنج آباد) په کلي کي انتخاباتي مرکز ته نژدي اداکړ، دوی خپله رایه سندوخ ته واچوله چي ځینو مشرانو د زیارتونو خوردي هم د رايو د پاڼو سره يو ځای په سندوخ کي اچولي وي ۰ د انتخاباتو د پیل څخه يو ساعت نه و تیر سوی چي د رایو ورکونکو د منځ څخه یوه ملنگ چي ډیر اوږده ویښتیان يي درلودل ، په لوړ آواز رغ وکړ چي ((ما تیره شپه خوب لیدلي دۍ چي د سخي دین محمد خان زوی عبدالغفار وکیل دۍ)) ده دوکیل کلمه دوه واره و ویله ۰ چرنگه چي زه په انتخاباتي کارونو مصروف وم نو ددغه ملنگ سره ما کتنه و نه کړه ۰

په لومړي انتخاباتي مرکز کي ما تر دوهم کاندید ډیري رايي یووړي ، په دوهم انتخاباتي مرکز کي چي په (فراه رود) کي و ، هلته هم د سیدانو يو کلي د(تپي) په نامه سته چي د رایو ورکولو په لومړي ورځ د دغي کلي روحاني مشرانو زه د خپلو نیکه گانو زیارتونوته بوتلم چي تر دعا وروسته زه د دوی سره يو ځای د رایو ورکولو مرکز ته ورغلم او دوی خپلي رايي سندوخ ته واچولي . په دغه انتخاباتي مرکز کي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ډيري رايي واخستلي چي د ټولو رايو د شمير په نتيجه کي زه د بالابلوك وکيل سوم ۰

د بالابلوك د ولسوالۍ خلګو بي له کومي مادي ګټي څخه ما ته خپله رايه راکړي ده چي زه د دوی دغي پيرزويني ته د تل له پاره په درنه سترګه ګورم ۰ ما په کابل کي زده کړه کړي ده او هلته د دولت مامور وم او د بالابلوك ډير خلګ ما نه پيژندل ۰ ولي د بالابلوك د خلګو سره زما د پلار اروابناد دين محمد خان نيك سلوك ، ما ته په انتخاباتو کي ډيره ګټه و رسوله ۰

د ديارلسمي تقنيني دوري انتخابات د نور احمد اعتمادي د حکومت په وخت کي سوي دي ، د ده حکومت په انتخاباتو کي د ديموکراسۍ د اصولو ښه مراعات کړی دی ده د فراه د ولايت د ټولو ولسواليو په اتتخاباتو کي مداخله و نه کړه ، او ده د هغه ولايت خلګ پري ښوول چي د خپل خوښي کانديد ته خپله رايه ورکړي ۰

زما يوه خواخوږي دوست د فراه والي اروابناد محمد صديق خان چي کله به يي زه په کومي ټولني کي ليدم ، نو ده به حاضرو خلګو ته ويل ، فراهي وګورئ چي د لندن ماموريت يي د وکالت له پاره پري ايښي دی . په سر کي زه هم د ولسي جرګي په اهميت نه پوهيدلم او په دي فکر کي وم چي زه ولي يو ديپلوماتيك ماموريت پريږدم او يوي داسي غير حزبي جرګي ته ورځم چي په هغي کي د کليو خانان او ملکان راټول سوي وي ۰ او دوی به د فيصلو په وخت کي ملي ګټو ته ډيره توجه نه کوي ۰ ولي زما دغه تصور غلط و پــه دي چــي په ولسي جرګــي کــي ډير مــلــي ، با احساسه او وطنپالونکي وکيلان موجود وو چــي د هــيــواد د ګټو او مــلــي ارزښونو ســره يــي ډيره مينه درلوده ۰ دوی د زړه لـه کومي غوښتل چي افغانستان د عصر د ايجاباتوسره سم پر مخ ولاړ سي ۰ دوی په دغي لاره کي هر ډول قرباني ته حاضر وو د وکيلانو په مورد کي چي دوی ولي د حکومت دفترونو ته مراجعه کوله ، يا داچي ولي د ولسي جرګي غونډو به نصاب نه درلود ، دا ټول مطالب د کتاب په بلي برخي کي تشريح سوي دي۰

ولسي جرګه زما له پاره يوه داسي مدرسه وه چي ما هلته ډير عمده مسايل زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي ، په ولسي جرگي کي یو وکیل د افغانستان دولت په خپله اصلي بڼه ویني ۰ یو وکیل د خپل هیواد په واقعي ستونزو ډیر ښه خبریږي۰ د خپل سالمو انتقاداتو له لاري څخه هر وکیل خپل هیواد ته ډیره گټه رسولای سي . له همدي امله زه شورا د ملت کور بولم او په دي ویاړم چي زه د ۱۹۶۹ کال څخه بیا تر ۱۹۷۳ کال پوري د افغانستان د ولسي جرگي غړي وم ۰

د بالابلوك د ولسوالۍ ډیرو خلگو په پوره اخلاص ما ته خپله رایه راکړي ده چي زه د ډیر وخت څخه په دي فکر کي وم ، چي که ما ته فرصت میسر سي چي زه د بالابلوك شریفو خلگو ته د زړه له کومي کور وداني و وایم او دوی ته دا هم و وایم چي دوی زما د ژوند په ډیرو حساسو شیبو کي زما سره لویه مرسته کړي ده او دوی زه هغه ځای ته لیږلي وم چي زما پر ذهن باندي یي ژور اثر کړی دی او زما د ژوند لاره یي بدله کړي ده ۰ ما ډیره آرزو درلوده چي د بالابلوك خلگو ته دا هم و وایم چي ما د ولسي جرگي د وکالت څخه شخصي استفاده نه ده کړي او د وکالت مهمه وظیفه مي په ډیري امانت دارۍ سره د نورو ملي او وطنپالونکو وکیلانو سره یو ځای چي تفصیل یي په دغه کتاب کي راغلی دی سر ته رسولي ده ۰

زه د دغو څو کرښو په لیکلو سره د بالابلوك ټولو خلگو ته د مینې سلامونه وړاندي کوم ، او د بالابلوك د قومي مشرانو چــي ځني یي اوس ژوندي او ځینو یي وفات کړی دی لکه د (وریي) د کلي عبدالخالق خان، د (شیوان) د کلي ملك نور محمد خان خپل د اکا زوی د (دیزکي) دکلي عبدالقدوس خان ، د (تودنك) د کلي عبدالودود خان او عبداللطیف خان ، د (کنسك) د کلي محمد عمر خان ، ملك احمد خان او ملا نعمت الله آخند زاده او پیر داد خان ، د (گراني) د کلي توکل خان او گل احمد خان ، د (گنج آباد) د کلي ملك حبیب الله خان ، د (ازو) د کلي ملك نظام خان او ډیر نور مشران چي دلته یي نومونه نه سم لیکلای، ډیر مرهون د احسان یم ۰

د انتخاباتو په وخت کي ، پر رایو سربیره د فراه د ولایت ډیرو مشرانو ما ته میلمستیاوي او نوري مادي او معنوي مرستي کړي دي ۰ د مثال په توگه د دین محمد خان ، پیر محمد خان او شیر محمد خان هغي مرستي چي دوی خپل سرویس او لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټران بیغیر له اجرت څخه د رایو ورکونکو د نقل او انتقال له پاره د دوو هفتو له پاره په کار اچولي وو د قدر وړ مرسته وه چي زه یي ډیره مننه کوم . (١٤)

٥ ـ د پاچا سره د وکیلانو دوي کتني

لومړي کتنه :

په ١٩٦٩ کال کي د مخه تر هغه چي د شورا غړي په کار پیل وکړي ، دوی د افغانستان د پاچا سره په شاهي ارگ کي کتنه وکړه ۰ د پاچا سره د ملاقات له پاره د شورا غړي په اته گروپونو ویشل سوي وو چي هر گروپ به به جلا ډول د پاچا سره لیدل زه د فراه ، نیمروز ، بادغیس ، غور او اروزگان د وکیلانو او سناتورانو سره په گډه د پاچا حضور ته ورغلم ۰ د انتظار په خونه کي ما دوی ته و ویل چي د پاچا تر فرمایشاتو وروسته باید یو سناتور د نورو په نمایندگي د پاچا په حضور کي خبري وکړي ۰ خو دوی ټولو وویل چي زه باید د دوی په نمایندگي هلته څو خبري وکړم ۰ په هغي لحظي کي د پاچا د حضور مصاحب محمد رحیم پنجشیري په خونه را ننوتې او د ده په لارښوونه موږ د پاچا حضور ته ورغلو ۰ پاچا تر روغبړه وروسته د هیواد سیاسي او اقتصادي حالات تشریح کړل او د شورا غړي یي خپلو راتلونکو درنو او حساسو وظایفو ته متوجه کړل . ده د خبرو په ضمن کي و ویل ((نور احمد اعتمادي چي ما د حکومت په جوړولو توظیف کړې دې زما نژدي دوست دې او دې د صدارت د چوکې سره علاقه نه لر ي بلکه ما دې دغه کار تـه مجبور کړې دې)) پاچا داهم و ویل چي ((اعتمادي په خارجي سیاست پوهیږي که یو حکومت په داخلي چارو کي کومه اشتباه وکړي هغه اشتباه ژر تلافي کیدلای سي ، ولي په خارجي سیاست کي د یوه حکومت اشتباه ، نه سي تلافي کیدلای ۰ نو په دغه دلیل ما نور احمد اعتمادي چي په خارجي سیاست پوهیږي ، د حکومت په جوړولو مامور کړې دې او زه تاسي ته توصیه کوم چي د نور احمد اعتمادي د حکومت سره لازمه مرسته وکړ)

د پاچا تر فرمایشاتو وروسته ما د نورو په نمایندگي پاچا ته په هیواد کي د دیموکراسي نظام د راوړلو په منا سبت مبارکي و ویله او زیاته مي کړه چي د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام له برکت څخه دغه حاضر وکیلان او سناتوران چي د افغانستان د لیرو ولایتونو اوسیدونکي دي ، نن د شورا د لاري څخه ستاسي تر رهنمایي لاندي د خپل هیواد په امورو کي برخه اخلي ۰ ما دا هم و ویل چي د شورا حاضر غړي اعلیحضرت ته وعده ورکوي چي د حکومت سره به لازمه مرسته وکړي ، ولي د شورا غړي دحکومت څخه دمتقابلي همکاري توقع لري ، چي د حکومت د نه همکارۍ په صورت کي به د شورا او حکومت تر منځ اوسني ښو مناسباتو ته صدمه ورسیږي ۰

پاچا زه نورو خبرو ته پري نه ښوولم او زه یي په اشاره پوه کړم چي نوري خبري باید و نه کړم ۰ پاچا زما پر خبرو یوه لنډه تبصره وکړه او د لیدني په پای کي پاچا زما په شمول خینو وکیلانو ته تر نورو ډیره توجه وکړه ۰

دوهمه کتنه :

په ۱۹۷۱ کال کي کله چي ولسي جرګي د نور احمد اعتمادي حکومت په بي کفایتي او د شورا سره په نه همکارۍ متهم کړ او د ده حکومت ته یي د نه اعتماد رایه ورکړه چي تفصیل یي وروسته راځي ، داوار بیا د پاچا په امر د فراه ، نیمروز او غور د ولایتونو وکیلان د شپي پر اتو بجو د پاچا حضور ته ورغلو ، په دغه شپه هم ما د نورو په نمایندګۍ د پاچا په حضور کي خبري وکړي ۰

په دغه ملاقات کي پاچا د هیواد او سیمي پر حالاتو باندي اوږدي خبري وکړي او ده د خبرو په آخر کي و ویل ((ولسي جرګي د نور احمد اعتمادي حکومت ته د نه اعتماد رایه ورکړي ده چي ولسي جرګي دغه کار باید نه وای کړی ۰ او ولسي جرګي چي کوم اتهامات پر حکومت باندي وارد کړي دي ، د ولسي جرګي سره د دغو اتهاماتو ثبوت هم نه سته ، د بلي خوا څخه د حکومت ډیر غړي د هیواد پوه خوانان او د هیواد سرمایه ده او دوی ستاسي د نه اعتماد په رایي سره مایوسه کیږي))۰ ما د پاچا تر فرمایشاتو وروسته د ولسي جرګي پر خینو اجراآتو رڼا واچوله او د ولسي جرګي خینو ستونزو ته مي هم اشاره وکړه ۰ ما پاچا ته و ویل چي تاسي د افغانستان رهبري پر غاړه لري او د ډیرو مصروفیتونو سره سره دا دوه ساعته کیږي چي د هیواد پر دغه پرابلم باندي چي حکومت یا شورا او یا دواړو ایجاد کړي دي د ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرگي د غړو سره بحث کوي او د حل د يوي معقولي لاري په لټه کي ياست ، ولي حکومت په تيرو دوو کلونو کي يو وار هم نه دي حاضر سوي چي د هيواد پر کوم مشکل باندي حتي لس دقيقي د دغو وکيلانو سره خبري وکړي ، نو دا طبيعي ده چي د پرابلمونو د تراکم په صورت کي به حکومت ته حتما د نه اعتماد رايه ورکوله کيږي ٠

داوار پاچا زما خبري پري نه کړي او زما ټوله وينا يي په دقت واوريده او زما تر خبرو وروسته پاچا ما ته و ويل ((په دغه ارتباط زه ستا تحليل تاييدوم ، ولي ستاسي د نه اعتماد رايه د افغانستان پرابلمونه نه سي حل کولای)) ده زياته کړه ((سبا به ډاکټر وليد حقوقي يو ليکلې مطلب ولسي جرگي ته دروړي چي تاسي بايد هغه مطلب تصويب کړې او بله شپه به دنور احمد اعتمادي دحکومت استعفا اعلان سي))

وکيلانود پاچا دغه امر و مانه او ليدنه پر همدغه ځای پای ته و رسيده٠

و لسي جرگي د ١٩٧١ کال د اپريل د مياشتي پر ١٧ نيټي د نور احمد اعتمادي حکومت ته د نه اعتماد رايه ورکړه ، او د دغه کال د مي د مياشتي پر ١٠ نيتي دا لاندي مطلب ډاکټر وليد حقوقي د ولسي جرگي په عمومي غونډه کي ولوست او د ولسي جرگي له خوا تصويب سو :

((د شورا او حکومت د ښې همکاري د پيل په غرض ولسي جرگي فيصله وکړه چي حکومت ته د نه اعتماد تر رايي تير سي))

د پورته مطلب تر تصويب شپږ ورځي وروسته ، د نور احمد اعتمادي د حکومت استعفا د کابل راديو د لاري څخه اعلان سوه . (١٥)

۶ ـ د وکيلانو گډ دريځ

گران لوستونکي به په دي خبر وي چي په افغابستان کي د سياسي احزابو قانون نه و نافذ سوي او دولسي جرگي د انتخاباتو په وخت کي منفردو اشخاصو په خپلو مربوطو حوزو کي ځانونه د وکالت له پاره کانديد کړي وو چي هر موفق کانديد په خپل شخصي نفوذ او يا د خپل قوم په مرسته انتخابات گټلي وو او ولسي جرگي ته يي لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړي وه ۰

لوستونکو ته دا هم معلومه ده چي په ولسي جرگي کي یوه وکیل یوازي تصمیم نه سو نیولای او دولسي جرگي هره فیصله د هغي جرگي د غړو د اکثریت له خوا نیوله کیده ، نو په یوي داسي غیر حزبي جرگي کي زما په شمول ډیر وکیلان د خپلو وظایفو د اجرا کولو په لاري کي د ډیرو ستونزو سره مخامخ وو ۰ چي د دغي نقیصي د رفع کولو له پاره ، هلته ضرورت احسا سیدې چي باید یو شمیر وکیلان یو د بل سره مفاهمه وکړي او په خینو مواردو کي خپل موقفونه سره نژدي کړي ۰

ددیارلسمي تقنیني دوري د لومړي اجلاس په سر کي خو وکیلانو د نورو وکیلانو سره خبري و کړي او دوی یي د ولسي جرگي دغي نقیصي ته متوجه کړل چي د دغو وکیلانو د هڅو په نتیجه کي ډیرو وکیلانو عملا د ولسي جرگي د کارونو په حساسو شیبو کي گډ د ریخ غوره کړ ۰ په تدریج سره د دغه دریخ وکیلان مخ پر ډیریدو سول زما په تخمین د دغه روش د خاوندانو شمیر تر ٤٠ وکیلانو ډیر وو۰ د وکیلانو دغه روش ته د وکیلانو گډ دریخ ویلای سو . دا یوه سیاسي ډله نه وه ، دوی کومه رهبري نه درلوده ، د هیواد د هیڅ حزب یا ټولني سره یي اړیکي نه درلودلي، دوی د سلطنت یا بل مقام څخه الهام نه اخستی ، دوی په کوم قوم یا سمت پوري تړلي هم نه وو ، بلکه دا دریخ د افغانستان د اکثرو ولایتونو د وکیلانو د مشترك تفاهم څخه جوړ سوی و ۰ دوی یو د بل سره تحریري یا شفاهي تعهد نه درلود ۰ د تصامیمو په وخت کي د دوی شمیر ثابت هم نه و ۰ په حقیقت کي دا د وکیلانو یوه داسي ټولنه وه چي د تصا میمو په وخت کي به یي ملي گټي په نظر کي نیولي ۰ د هغو وکیلانو نومونه چي اکثرا به یي دغه دریخ غوره کاوه ، ددي کتاب په ضمیمه پاڼو کي مطالعه کولای سی ۰

دلته دا خبره د یادولو وړ بولم چي دا ملي دریخ یوه ځانگړي پدیده وه چي تر اومي دوري وروسته د افغانستان د شورا په تاریخ کي یي ساری نه دی لیدل سوی۰ د دغه دریخ وکیلانو په ولسي جرگي کي تخریبي فعالیت نه دی کړی ، دوی سالمه او آرامه پارلماني مبارزه کړي ده ، او هیڅکله یي د اکثریت د تصمیم په مقابل کي احتجاج نه دی کړی ۰ چرنگه چي دغه دریخ د شخصي گټو د تامین له پاره نه و نیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوې نو د ولسي جرگي د وکيلانو تر منځ يي ډير صميميت پيدا کړ، د وکيلانو دغه صميميت د محمد موسي شفيق تر حکومت پوري چي تفصيل يي د کتاب پـه بلي برخي کي راغلی دی د وکيلانو تر منځ پاته سو٠دغه دريځ د افغانستان د پاچا او حکومت توجه هم ځان ته اړولي وه ، دلته ددي خبري يادول ضروري دي چي د سياسي ډلو د نمايندگانو څخه په انفرادي ډول يوازي عبدالرؤف بينوا او محمد اسحق عثمان په دغه دريځ کــي برخه درلوده ٠ د نورو ډلو استازو لکه مولوي محمد نبي محمدي ، حفيظ الله امين او ببرك کارمل په دغه دريځ کي برخه نه درلودله ، دوی به په ولسي جرگي کي د خپلو ډلو پالسي تعقيبوله ٠ د دغه دريځ د وکيلانو فعاليتونه د دي کتاب په مختلفو برخو کي ليکل سوي دي ، چي دلته د دغه دريځ د وکيلانو ځني اجراآت په لنډ ډول راوړل کيږي :

ـ د ولسي جرگي عمومي غونډي د دغه دريځ پر وکيلانو اعتماد وکړ، چي د مختلط کمسيون له پاره ټول لس غړي د دغه دريځ د وکيلانو څخه و ټاکل سول ، دغو وکيلانو په مختلط کمسيون کي د سياسي احزابو قانون ژر تصويب کړ او د ولسي جرگي له لاري څخه يي د پاچا توشيح ته وړاندي کړ ٠

ـ د دغه دريځ (۱۳) وکيلان د تقنين د کمسيون غړي وو چي د شورا په تاريخ کي د اول وار له پاره دوی داوطلب سول چي په کمسيون کي به ورځيا ډول د شپي له خوا کار کوي ٠ دوی څلور کاله د شپي له خوا کار کړی دی ، دوی د ولسي جرگي د موټرانو څخه استفاده و نه کړه ، دوی د دولت ډوډي و نه خوړله او د ولسي جرگي څخه يي اضافه کاري وانه خسته٠

ـ د دغه دريځ د وکيلانو په مرسته د نور احمد اعتمادي د حکومت څخه د استيضاح غونډه جوړه سوه ، چــي د بحث په نتيجه کــي ، حکومت ته پــه نه اعتماد بــدلــه سوه ٠

ـ د دغه دريځ وکيلانو د حکومت مخه ونيوله چي يوه وکيل ته يي جزايي دوسيه جــوړولــه ٠

ـ د دغه دريځ وکيلانو د صنعتي بانکونو د قانون پر ضد پراخه مبارزه و کړه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د دغه دريځ وکيلانو د لوړي او وچ کالي په وخت کي د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت څخه د استيضاح د غونډي غوښتنه وکړه ، ولي د نصاب د نه پوره کيدو په وجه دغه استيضاح عملي نه سوه ۰

ـ د دغــه دريځ وکيلانو د هلمند د اوبــو د معاهدي د تصويب پر ضد پــراخه مبارزه وکړه ۰

د دي مبحث په پای کي بايد و ليکل سي چي د دغه دريځ په جوړولو کي د ولسي جرگي ډيرو وکيلانو برخه درلوده ، او زه په دي وياړم چي زه هم د دغه دريځ ملگری وم او د دغه دريځ په ټولو مراحلو کي مي فعاله برخه اخستي وه .

محمدنذير کبير سراج په خپل اثر کي ليکلي دي چي محمد داود خان او د ده ملگرو د ولسي جرگي وکيلانو ته هدايت ورکاوه چي په شورا کي بي نظمي راوړي (۷ ۱)

خرنگه چي په دغه کتاب کي به يي ولولې ، د ديارلسمي تقنيني دوري په څلورو کلونو کي په ولسي جرگي کي هيڅکله بي نظمي نه ده راغلي ۰ ولسي جرگي ته چي هر وخت فرصت ميسر سوې دې ، دوی خپل وظايف په عادي ډول سر ته رسولي دي چي په يوي غير حزبي جرگي کي تر دغه ښه نظم نه سي راتلای ۰ تر کومه ځايه چي ماته معلومه ده محمد داود خان او د ده ملگرو په شورا کي هيڅ راز فعاليت نه درلود، او هر څه حادثي چي په ولسي جرگي کي پيښي سوي دي هغه ټول د وکيلانو خپل کار و او د محمد داود خان د کودتا سره يي هيڅ ارتباط نه درلود ۰ ما نه دي اوريدلي چي يوه ډله وکيلان د محمد داود خان کور ته ورغلي وي ۰ او يا په ولسي جرگي کي د يوي ډلي وکيلانو له خوا د ده دحکومتي دوري حمايه سوي وي ۰ يوازي دوو وکيلانو يو د کندهار د دوهمي حوزي وکيل حاجي محمد آصف پاس يوسفي او بل د فارياب د مرکز وکيل محمد رحيم شيدا د اعتماد د رايو په وخت کي په خپلو خبرو کي د محمد داود خان ستاينه کړي ده۰

په ۱۹۷۳ کال کي کله چي محمد داود خان کودتا وکړه د ولسي جرگي غړو د ننگرهار د کوچيانو د وکيل حاجي الله نظر خان په کور کي ، سره يو ځای سول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په یوه لیك كي محمد داود خان ته د نوي نظام مباركي و ویله (۱ ۸)

تر كودتا یوه میاشت وروسته (خلگو ته خطاب) په وینا كي محمد داود خان دولسي جرگي پر ټولو غړو باندي كلك انتقادونه وكړل چي د ده دغه منفي نظر دا په اثبات رسوي چي ده د ولسي جرگي د غړو سره هیڅ ډول رابطه نه درلوده ۰

څرنگه چي ډیرو افغانانو ته معلومه ده محمد داود خان او د ده ملگرو یوازي په شاهي اردو كي فعالیت درلود ، دوی د شاهي اردو كښته رتبه صاحب منصبان د كودتا له پاره تشویق كړي وو ، چي د هغو په مرسته دوی كامیابه كودتا وكړه ۰

محمد نبي عظیمي په خپل اثر كي لیكلي دي چي د دیارلسمي تقنیني دوري د ولسي جرگي په پارلماني مبارزاتو كي حفیظ الله امین په هغه چپ فركسون كي برخه درلوده چي ببرك كارمل د هغه فركسون په سر كي و (۱ ۹)

تر كومه خایه چي ماته معلومه ده د دغي دوري په ولسي جرگي كي داسي یو فركسون موجود نه و چي ببرك كارمل د هغه په سر یا په پای كي واقع وي۰ دولسي جرگي ټول وكیلان په دي خبر دي چي په ولسي جرگي كي حفیظ الله امین او ببرك كارمل هیڅ وخت پر یوي لاري نه دي تللي او دوی به همیشه د نورو وكیلانو په مخ كي یوه بل ته ډیري بدي خبري كولي ۰ دوی د ولسي جرگي په تالار كي حتي نژدي هم نه سره كښینستل ۰ كارمل په ولسي جرگي كي همیشه پر هغي چوكي باندي كښینستې چي په دوولسمي دوري كي ، دې په هغي چوكي كي وهل سوی و، دغه چوكي د تالار د كیڼ اړخ د اتم قطار وروستي چوكي وه ، او دتالار فرعي لاري ته ډیره نژدي وه چي په بحراني حالاتو كي د تالارڅخه د وتلو له پاره مساعد خای و ، ولي حفیظ الله امین د ناستي ځاكلې خای نه درلود ۰

۷ ـ د نور احمد اعتمادي سره كتنه

د دیارلسمي تقنیني دوري په سر كي پاچا د دوهم وار له پاره نور احمد اعتمادي د حكومت په جوړولو مؤظف كړ۰

پخوانیو صدر اعظمانو ډاكټر محمد یوسف او محمد هاشم میوندوال د اعتماد

(c) ketabton.com: The Digital Library

درایو له پاره د وکیلانو څخه د لیدو غوښتنه کوله او د دوی محلي ستونزي به یي اوریدلي ، ولي د نور احمد اعتمادي له پاره په خپله پاچا وکیلانو ته توصیه کوله چي د نور احمد اعتمادي سره لازمه مرسته وکړي ٠

نور احمد اعتمادي د پارلماني ریاست له لاري څخه وکیلانو ته اطلاع ورکړه چي که وکیلان غواړي چي د ده سره و ویني ، دی حاضر دی چي ورسره وګوري ٠

خبر نه یم چي څو وکیلانو د نور احمد اعتمادي سره لیدي دي ، خو زه د مؤظف صدراعظم لیدلو ته نه یم ورغلی ٠ د اعتماد د رایو په ورځو کي نور احمد اعتمادي او زه د ولسي جرګي په دهلیز کي سره مخامخ سوو ، هلته ده غوښتنه وکړه چي د ده سره و وینم٠ زه هم په هغه شپه د ده دقرغي کور ته ورغلم٠ ده په دغي لیدني کي د شورا یا د هیواد پر مسایلو باندي زما سره خبري و نه کړي او ده د اعتماد رایه ، زما څخه و نه غوښتله ٠ خو پوښتنه یي وکړه چي تا په ولسي جرګي کي څه ویلي دي چي ستانوم هر ځای اخستل کیږي ؟

ما ده ته په جواب کي و ویل چي تر اوسه ولسي جرګي په کار پیل نه دې کړې چي د یوه وکیل په وینا څوك خبر سي ٠ زما د نامه یادیدل به بل علت لري . ده و ویل چي پاچا څو واره ستا په ارتباط زما څخه پوښتني کړي دي ٠

ما نور احمد اعتمادي ته وویل چي ما د افغانستان د جنوب غربي ولایتونو په یوي غونډي کي صرف دومره ویلي دي چي د اساسي قانون د حکم مطابق د ولسي جرګي د رئیس ټاکل باید د شورا تر پرانستلو وروسته وشي او هغه قانوني اشتباه چي په دوولسمي تقنیني دوري کي د ډاکټر عبدالظاهر د ټاکلو په وخت کي شوي وه ، هغه اشتباه باید بیا تکرار نه سي ٠ ما داهم و ویل چي زموږ په دیموکراسي نظام کي آیا دولت د یوه قانوني تخلف د مخنوي تحمل هم نه لري ؟

ده زما په جواب کي و ویل چي ((اوس موږ په دغي برخي کي ډیر مشکلات لرو)) خو ده خپله دغه خبره نوره تشریح نه کړه ، زما او د ده کتنه تر څو معمولي او تشریفاتي خبرو وروسته پای ته ورسیده .

زما ددغي وینا په وجه د ولسي جرګي د ریس ټاکل کیدل د څو ورځو له پاره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خنډيدی . په دوولسمي تقنيني دوري کي د اساسي قانون د حکم پر خلاف ، د سري
رايي پر ځای ، وکيلانو په علني ډول يعني د لاسونو په پورته کولو سره ، ډاکټر
عبدالظاهر د ولسي جرګي د ريس په حيث ټاکلی وو .

د افغانستان پاچا او حکومت دا بيره درلوده چي که د ولسي جرګي د رئيس ټاکل
کيدل ، ځو ورځي و ځنډيږي او د شورا تر پرانستلو وروسته وسي ، نو د کابل منورين
به وکيلان تنوير کړي او محمد عمر وردګ به د ولسي جرګي د رياست له پاره ډيري
رايي وانه خلي ، او د ولسي جرګي د رياست له پاره ، دوهم کانديد انجينر غلام محمد
فرهاد به د ولسي جرګي رئيس سي٠

د نور احمد اعتمادي حکومت ته د اعتماد د رايي د اظهار په ورځ زه د ولسي
جرګي په تالار کي حاضر نه وم او زه د ځېل ورور اروابناد عبدالرزاق فـراهــي د
جنازي سره فراه ته تللي وم ٠ (۲۰)

۸ ـ د ولسي جرګي اداري هيأت

د اساسي قانون مطابق ولسي جرګه د شورا تر پرانستلو وروسته ځپل اساسي
کارونه پيل کوي چي د جرګي لومړني اساسي کار د اداري هيأت ټا کل دي٠

هغه وخت چي ډاکټر محمد عمر وردګ د کورنيو چارو د وزارت څخه استعفا
وکړه او د (چك) په ولسوالي کي د وکالت له پاره کانديد سو ، د افغانستان ډير خلګ
په دي پوهيدل چي دی د ولسي جرګي راتلونکې رئيس دی ٠

په سر کي د ولسي جرګي د رياست له پاره د پنځو کانديدانو لکه انجينر غلام
محمد فرهاد ، ډاکټر محمد عمر وردګ، عبدالرؤف بينوا ، عزيزالله واصفي او محمد
اسحق عثمان نومونه ياديدل ، ولي په آخر کي يوازي انجينر غلام محمد فرهاد او ډاکټر
محمد عمر وردګ د دغي جرګي د رياست له پاره کانديد سول ٠

د اداري هيأت نورو مقامونو ته ډير شمير نور وکيلان کانديد سوي وو ٠ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د جنوب غربي سيمو څخه هم څو وكيلانو د اداري هيأت چوكيو ته ځانونه كانديد كړي وو ، چي د دوی په ابتكار د زابل ، اروزگان ، كندهار ، هلمند ، فراه ، نيمروز ، ،هرات ، بادغيس او غور د ولايتونو وكيلانو په ولسي جرگي كي يوه غونډه وكړه ٠ كانديدانو د دغي سيمي وكيلان ، اتحا د او يووالي ته د دي له پاره هڅول چي دوی ته خپله رايه وركړي ٠ ما په دغي غونډي كي و ويل چي د اساسي قانون د٦٠ مي مادي د حكم پر اساس د ولسي جرگي اداري هيأت ، د پاچا له خوا د شورا تر پرانستلو وروسته بايد وټاكل شي ، او هغه اشتباه چي دولسمي تقنيني دورې د ډاكټر عبدالظاهر د ټاكلو په وخت كي كړي وه ، بايد بيا تكرار نه سي . د دغه پيشنهاد پر اساس د اداري هيأت د ټاكلو كار څو ورځي وځنډېدی ٠

د ١٩٦٩ كال د اكتوبر د مياشتي پر ١٤ نېټي ، شورا د پاچا له خوا پرانسته سوه او د شورا تر پرانستلو وروسته د ولسي جرگي د اداري هيأت ټاكل پيل سوه ٠

د ولسي جرگي د رياست له پاره ډاكټر محمد عمر ورد گ ٧٢ رايي او انجينر غلام محمد فرهاد ٣٠ رايي وړي وي چي محمد عمر وردگ د ولسي جرگي د رئيس په حيث و ټاكل سو ٠ ما خپله رايه انجينير غلام محمد فرهاد ته وركړي وه ٠

د اداري هيأت نور غړي په لاندي ډول وو :

د كندهار د پنځ دحوزي وكيل عبدالاحد كرزی ، لومړی نايب

د بغلان د دوشي د حوزي وكيل سيد ناصر شاه نادري ، دوهم نايب

د هلمند د لښكرگاه د حوزي وكيل سيد مبين شاه امير ، منشي

د كندز د خان آباد د حوزي وكيل سيد امير ، دوهم منشي

نور احمد اعتمادي ما ته د خارجه وزارت د يوه مامور په وسيله خبر راكړ چي كه زه د ولسي جرگي د دارالانشا د مقام له پاره ځان كانديد كړم ، د ده حكومت به زما سره مخالفت و نه كړي ٠ ولي ما د دغه كار څخه ډډه وكړه ٠ (٢١)

كه څوك د ولسي جرگي په داخلي چارو خبر وي نو په دي خبره ډير ښه پوهيږي چي په ولسي جرگي كه د حكومت د مقا مونو بر عكس ، هغه وكيل د ډير واك خاوند او د وكيلانو د اعتماد وړ وي چي په اداري كوم مقام كي نه وي راغلی او د پاچا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت سره ډیر تماس و نه لري ۰ ولي د اداري هيأت غړي مجبور دي چي حکومت او پاچا دواړو ته ښيني مشوري ورکړي ، په دغه دليل دوی ډير بي واکه او هميشه د وکيلانو تر فشار لاندي وي ۰

د دوولسمي تقنيني دوري د ولسي جرگي رئيس ډاکټر عبدالظاهر چي يو مدبر افغان و ، ده د هغه وخت حکومت ته ويلي و چي دی هيڅکله يوه وکيل ته د کوم کار سپارښتنه نه سي کولای ، دا د حکومت کار دی چي په خپلو ذرايعو مخصوصا د پارلماني رياست له لاري څخه په وکيلانو خپل د خوښي کارونه اجرا کړي ۰ او د ولسي جرگي رئيس بايد د وکيلانو کومي جناح ته منسوب نه وي ، او دی بايد يوازي د ولسي جرگي غونډي اداره کړي۰

زه د ديارلسمي تقنيني دوري په ولسي جرگي کي تر پايه د يوه آزاد وکيل په حيث پاته سوم او د ښينو ملي وکيلانو په څنگ کي مي د ولسي جرگي په ښينو اساسي کارونو کي فعاله برخه اخستي ده .

۹ ـ د صنعتي بانك د قانون سره وکيلان مخالف وو

د صنعتي بانك له پا ره د يوه مستقل قانون د جوړولو کار د دوولسمي دوري په ولسي جرگي کي پيل شوی و ۰ د دغه قانون د انفاذ سره د نور احمد اعتمادي د لومړي حکومت يو مهم غړی او د ولسي جرگي ښيني وکيلان مخالف وو ۰ د دوی د مخالفت په وجه نوموړی قانون په دوولسمي تقنيني دوري کي تصويب نه سو او دغه قانون د ديارلسمي تقنيني دوري غاړي ته ور ولويدی ۰

زه دلته د دي قانون پر ضرورت يا مفيديت باندي بحث نه کوم ، زه صرف هغه جريان ليکم چي د ديارلسمي تقنيني دوري په وخت کي په سلطنت ، شورا او حکومت کي پر دغه قانون باندي پيښ شوی دی۰

په ۱۹۷۰ کال کي د تقنين په کمسيون کي پر دغه قانون باندي بحث پيل سو ، د کمسيون په غونډي کي د کمسيون د يوه غړي محمد اسحق عثمان د اعتراض په وجه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مسوده بيرته حکومت ته د دي له پاره واستوله سوه چي حکومت د يوه عمومي قانون مسوده جوړه ، او بيرته يي ولسي جرگي ته وړاندي کړي ٠

پاچا په هغي ليدني کي چي د فراه او نيمروز د وکيلانو او سناتورانو سره د ديني علماوو د اعتصاب په ار تباط درلوده د خپلو خبرو په ضمن کي و ويل ((د ولسي جرگي يوه کمسيون د صنعتي بانك قانون رد کړي دی. چي بايد د ولسي جرگي کمسيون دغه کار نه وای کړی ٠))

ما د پاچا څخه د خبرو اجازه و غوښته او ما پاچا ته و ويل چي ، زه دهغه کمسيون غړی يم چي اعيحضرت اشاره ور ته وکړه ، ما پاچا ته وويل چي د تقنين کمسيون حکومت ته ويلي دي چي صنعتي بانك يو شرکت دی چي په سلو کي ٤٩ پانگه د يوه خارجي هيواد ده او په افغانستان کي سابقه نه لري چي شورا د يوه شرکت له پاره جلا قانون جوړ کړی وي ، اوس که شورا دغه کار وکړي ، نور شرکتونه د مثال په توگه د بوت آهو شرکت به هم د يوه جلا قانون غوښتنه وکړي ٠ په دغه دليل د تقنين کمسيون د حکومت څخه د يوه عمومي قانون د مسودي غوښتنه کړي ده ٠

پاچا زما په جواب کي و ويل ((د دغه قانون په مورد کي د حکومت دلايلو زه نه يم قانع کړی ، ما ډاکټر عبدالصمد حامد ته وظيفه ورکړي ده چي د شورا او حکومت سره خبري وکړي او خپل د مطالعاتو راپور ما ته وړاندي کړي .))

ډاکټر عبدالصمد حامد د تقنين د کمسيون او حکومت سره خبري وکړي او ده پاچا ته اطلاع ورکړه چي د شورا موقف قانوني دی او حکومت بايد د قانون يوه عمومي مسوده جو ړه او شورا ته يي وړاندي کړي ٠

حکومت د صنعتي بانکونو په نامه يوه مسوده چي مشخص صنعتي بانك د هغه يوه برخه وه ، جوړه او شورا ته يي وړاندي کړه ، او حکومت د عدليي وزير عبدالستار سيرت د ماليي وزير ډاکټر محمد امان او د پلان وزير ډاکټر عبدالواحد سرابي وټاکل چي په ولسي جرگي کي د کمسيون د غړو سره يو ځای پر نوي مسودي باندي غور وکړي .

وزيرانو او د تقنين غړو ځو ميا شتي پر نوي مسودي کار وکړ ، چي په لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعديل سره د حکومت پیشنهاد سوي مسوده د کمسیون د غړو له خوا و منله سوه ۰

یوازي پر لاندي دروو ټکو باندي د کمسیون د غړو او وزیرانو تر منځ توافق را نه غي :

ـ د کمسیون غړو وزیرانو ته پیشنهاد و کړ چي د افغانستان د ملي ګټو د ساتلو له پاره باید په دغه قانون کي په دي مفهوم یوي مادي ته ځای ورکړه سي چي ((که دغه بانك د افغانستان په کورنیو چارو کي مداخله کوله ، حکومت مکلف دی چي د دغه بانك وظایفو ته په افغانستان کي خاتمه ورکړي)) خــو وزیرانــو د دغــه پیشنهاد سره موافقه و نــه کــړه .

ـ د تقنین غړو د حکومت د پیشنهاد شــوي مسودي د لانــدي دوو ټکو سره موافقه نه درلوده ۰

۱ ـ په مسودي کي لیکل سوي وو ((هغه پورونه چي دغه مشخص بانك د خارجي هیوادونو څخه اخلي ، د افغانستان حکومت د دغو پورونو د تادیي ضامن دی))

۲ ـ په مسودي کي داهم لیکل سوي وو (د دغه بانك د پورونو تصویب د شورا پر ځای د حکومت له خوا کیږي ، او حکومت به په مناسب وخت کي د دغه بانك د پورونو لیست شورا ته وړاندي کوي))

لانــدي وکـیـلان د تـقـنـیـن د کمسیــون غــړي وو :

د موسي کلا د حوزي وکیل عبدالرؤف بینوا ، د ارغنداب د حوزي وکیل عزیزالله واصفي ، د کابل د لومړي او دوهمي ناحیي وکیل محمد اسحق عثمان ، د بدخشان د جرم دحوزي وکیل محمد هاشم واسوخت ، د لغمان د مرکز د حوزي وکیل عبدالکریم عمر خیل ، د اندړو د حوزي وکیل یار محمد دلیلي ، د هلمند د بلوخو د حوزي وکیل عبدالحمید زهري ، د غزني د ناوي د حوزي وکیل محمد هاشم تره کي ، د کټواز د حوزي وکیل عبدالحبیب کټوازې ، د حصارك د حوزي وکیل حاجي عبدالوهاب ، د شکردري د حوزي وکیل سید ظاهر شاه ، د پښتون زرغون د حوزي وکیل محمد علي قاضي زاده ، د خوست د حوزي وکیل شیر احمد خوستی ، د چاه آب د حوزي وکیل محمد علم فیض زاد ، د سروبي د حوزي وکیل مولوي امیر محمد ، د دوشي د حوزي وکیل سید ناصر شاه نادري ، د پروان د مرکز د حوزي وکیل عبدالمهیمن ، د بګرامیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حوزي وکيل عبدالرسول بره کي ، د بالابلوك د حوزي وکيل عبدالغفار فراهي ، دوه يادري نور وکيلان چي نومونه يي زما په ياد نه دي ۰

په ۱۹۷۰ کال د شورا د دوهم اجلاس په سر کي دولسي جرگي رئيس ډاکټر محمد عمر وردگ د تقنين کمسيون ته اطلاع ورکړه چي پاچا امر کړی دی چي د صنعتي بانکونو د قانون هغه مسوده چي د کمسيون غړو او وزيرانو په گډه جوړه کړي وه ، ډير ژر په کمسيون کي تصويب کړي او د ولسي جرگي عمومي غونډي ته دي وړاندي کړي ۰ د تقنين د کمسيون غړو د شپي له خوا هم په کمسيون کي کار کاوه ، چي د پاچا د امر پر اساس د تقنين کمسيون دغه مسوده د هغي شپي په غونډي کي تر بحث لاندي و نيوله او دوی د کمسيون پخواني د اختلاف دري ټکي د خپلي خوښي مطابق په تصويب ورسول ، د کمسيون غونډه د شپي پر ۱۲ بجو پای ته ورسيده ۰

سبا سهار پر شپږو بجو ډاکټر محمد عمر وردگ ما ته په تليفون کي و ويل چي ((پاچا امر کړې دې چي د تيري شپي تصويب سوې قانون بايد په کمسيون کي وځنډول سي ، او د ولسي جرگي عمومي غونډي ته ژر وړاندي نه سي ۰ ځکه چي پاچا غواړي چي پر همدغه قانون باندي د تقنين د غړو سره خبري وکړي))

ما ډاکټر محمد عمر وردگ ته و ويل چي د کمسيون د تيري شپي تصويب په کمسيون کي نور کار هم لري ، چي لومړې دا قانون د تصويباتو په کتاب کي ليکل کيري او وکيلان هغه لاس ليك کوي ، بيا وروسته د دغه قانون يو نقل دارالانشأ ته ليږل کيري ۰ په آخر کي ما د ډاکټر محمد عمر وردگ څخه دغه دوي پوښتني وکړي :

۱ ـ تاسي د صنعتي بانکونو د قانون په ارتباط د پاچا هدايات ولي د کمسيون رئيس عبدالرؤف بينوا ته نه وايا ست ؟

ده زما په جواب کي و ويل چي ((عبدالرؤف بينوا په جلال آباد کي دې ، د ننگرهار والي ته امر سوې دې چي بينوا ډير ژر کابل ته حاضر کړي))

۲ ـ تيره شپه د تقنين کمسيون د شپي پر ۱۲ بجو د صنعتي بانکونو قانون تصويب کړ، آيا په دغه شپه چا د کمسيون اجراآت پاچا ته رسولي دي ؟

ده زما په جواب کي و ويل چي ((د قانون د تصويب په وخت کي هغه وکيل چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډي څخه دباندي بخا رې ته نژدي ناست و ، هغه وکيل په دغه شپه پاچا ته دغه خبر رسولې دې)) په هغه شپه د کندهار يو وکيل چي د کمسيون غړې نه و ، په کمسيون کي بخاري ته نژدي ټوله شپه ددي له پاره ناست و چي د قانون د تصويب اطلاع پاچا ته ورسوي ٠

ما اوريدلي دي چي محمد ظاهر شاه په افغانستان کي هره شپه تر دوو بجو ويښ پاته کيدی ، او دی هره شپه صرف څلور ساعته بيده کيدی ، نو که دغه وکيل د شپې پر دوولسو بجو دغه اطلاع پاچا ته رسولي وي ، نو ده پاچا ته کوم خاص مزاحمت نه دی پيښ کړی .

سهار پر نهو بجو چي د عبدالرؤف بينوا په شمول د کمسيون غړي په غونډه کي حاضر سول ، ډاکټر محمد عمر وردګ پر کاغذ ليکلې شوې يو مطلب عبدالرؤف بينوا ته وروواستاوه ، چي ده بيا هغه کاغذ ما ته راکړ ٠ پر کاغذ ليکل شوي وو ((پاچا امر کړی دې چي نن شپه عبدالرؤف بينوا ، عزيز الله واصفي او عبدالغفار فراهي بايد شاهي ارګ ته ورسي)) ما د هغه کاغذ پر شا ډاکټر محمد عمر وردګ ته و ليکل چي ، که پاچا دغه دري وکيلان د صنعتي بانکونون د قانون په ارتباط غوښتي وي ، څرنګه چي د قانون موضوع د کمسيون په ټولو غړو پوري اړه لري ، نو دغه دري وکيلان خو څه نه سي کولای)) څو دقيقي وروسته بله پرزه کاغذ چا راوړه چي پــه هغي کــي ليکل سوي و چي ((پاچا نن شپه پر اتو بجو د کمسيون ټول غړي شاهي ارګ ته ورغوښتي دي))

په ارګ کي د پاچا په حضور کي د حکومت وزيرانو عبدالستار سيرت او ډاکټر محمد امان او د کمسيون غړو د صنعتي بانکونو پر قانون خبري پيل کړي ٠ د غونډي په سر کي عبدالرؤف بينوا ، محمد اسحق عثمان او عبدالکريم عمر خيل ، د دغه قانون د کار پر پخوانيو مراحلو رڼا واچوله ، وروسته پاچا د تقنين د کمسيون پر پيشنهاد سوي موضوع باندي چي ((د ملي ګټو د ساتلو له پاره بايد په دغه قانون کي يوي مادي ته ځای ورکړه سي)) وويل ((په فرعي قوانينو کي بايد داسي يوه ماده را نه سي او زه هيله کوم چي دغه موضوع د دغه قانون څخه حذف کړه سې))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي هکله چي د افغانستان حکومت باید د صنعتي بانك د پورونو ضمانت وکړي يوه وزير و ويل ((دغه قيد د پور ورکونکو هيوادونو غوښتنه ده)) د دوهم ټکي په ارتباط چي د دغه بانك پورونه د شورا پر ځای باید حکومت تصويب کړي ، يوه وزير وويل ((ځرنگه چي په شورا کي د پورونو تصويبيدل ډير ځنډيږي ، نو دغه صلاحيت باید حکومت ته ور کړه سي))

د بحث په جريان کي سيد ظاهر شاه پاچا ته و ويل چي که موږ ته اجازه راکړه سي چي شورا ته ولاړ سو ، هلته به دغي معضلي ته د حل يوه لاره پيدا کړو ٠ پاچا و ويل چي ارگ هم ستاسي ځای دی او دلته باید خبري وکړې ٠ حاجي عبدالوهاب پاچا ته وويل چي اعليحضرته ! موږ ستاسي ځخه بيريږو او هم ستاسي ځخه شرميږو ، تاسي تشريف يوسې ، موږ او حکومت به سره جوړ سو ٠ په دغه اساس پاچا دهغي خوني ځخه و وتې او وکيلانو د پاچا په احترام د حکومت پيشنهاد سوې متن و مانه ٠ او تر ډوډې خوړلو وروسته وکيلان د شاهي ارگ ځخه و وتل ٠

د ولسي جرگي په عمومي غونډې کي د صنعتي بانکونو قانون د ولسي جرگي د ډيرو غړو له خوا تر جدي بحث او انتقاد لاندي راغی ٠ ځرنگه چي د دغه قانون سره د افغانستان د غربي سيمو وکيلانو ، تر نورو ډير مخالفت کاوه ، پاچا ته ځينو وکيلانو اطلاع ورکړه چي فراهي په عمومي غونډې کي د دغه قانون د تصويب مانع دی ٠

پاچا خپل سرياور جنرال محمد عمر خان ته ويلي و چي ((ماته وکيلانو اطلاع راکړي ده چي فراهي په عمومي غونډه کي د صنعتي بانکونو د تصويب مانع دی ، فراهي ته و وايه چي د ځو ورځو له پاره ولسي جرگي ته ولاړ نه سي)) ما د پاچا امر و مانه او فراه ته ولاړم ، چي زما په غياب کي هم پر دغه قانون باندي ډير انتقادونه کيدل او د قانون تصويب د ډير وخت له پاره وځنډيدې٠

ما په عمومي غونډې کي د صنعتي بانکونو د قانون د تصويب سره مخالفت نه دی کړی ، د دغه قانون سره د وکيلانو ډير مخالفت دوه عمده علتونه درلوده ٠

١ ـ د ولسي جرگي ټول غړي په دي خبر سول چي د کمسيون غړو د دغه قانون د ځو ټکو سره موافقه نه درلوده ، ولي دوی د پاچا په احترام ، د خپل موقف ځخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښتــي دي ۰

۲ ـ وکيلان په دي هم خبر سوه چي د کمسيون غړو د پاچا په مستقيم خواهش تر خپل موقف تير سوي دي ، او دوی په هغه شپه پر سلطنتي ميز باندي ډوډي خوړلي وه و کيلانو دا آرزو درلوده چي پاچا د دوی څخه هم د دغه قانون د تصويب غوښتنه وکړي او دوی داسي تصور کاوه چي دوی ته په سپکه سترگه کتل سوي دي ۰

وروسته ولسي جرگي او مشرانو جرگي دغه قانون تصويب کړ ۰

په ولسي جرگي کي د پاچا مشاورينو پاچا ته سمه مشوره نه ورکوله او دوی به د سلطنت مقام پر غيرو واقعي لارو استعمالاوه ، چي د دغي لاري څخه د سلطنت مقام ته لويه صدمه رسيده ۰ د پاچا دغو مشاورينو د شاهي ارگ د متصديانو په مرسته د پاچا دربار انحصار کړی و ۰ دوی پاچا ته د سالمو مشورو لاره هم تړلي وه چي دا فاسده عنعنه محمد موسي شفيق ماته کړه ، ده په خپله د پارلماني رياست دنده پر غاړه واخسته او ده پارلماني ريا ست د شورا په څنگ کي د تجارت د وزارت عمارت ته انتقال کړ ، چي تر هغه وروسته د دسيسو لاره و تړله سوه او د شورا ټول کارونه په خپل اصلي مجرا کي ولويدل . (۲۳)

۱۰ ـ حکومت د احزابو د قانون سره مخالف و

د ډاکټر محمد يوسف انتقالي حکومت د سياسي احزابو د قانون مسوده جوړه کړه او د تصويب له پاره يي دوولسمي تقنيني دوري ولسي جرگي ته وړاندي کړه ۰

په ۱۹٦٥ کال کي د احزابو قانون د ولسي جرگي له خوا تصويب سو، ولي مشرانو جرگي د دغه قانون يوه ماده تعديله کړه ۰

په ۱۹۷۰ کال کي ديارلسمي تقنيني دوري ، د اساسي قانون د ۷٤ مادي د حکم پر اساس ، د دواړو جرگو د اختلاف د ټکو د حل له پاره يو مختلط کمسيون جوړ کړ ، چي د دغه کمسيون له پاره د هري جرگي څخه لس لس غړي و ټا کل سول ۰

څرنگه چي په ديموکراسۍ دوره کي د اول وار له پاره په ولسي جرگي کي د مختلط

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمسیون له پاره انتخابات کیدل ، او په دغه کمسیون کي مهم قوانین لکه د احزابو ، انتخاباتو ، ښاروالیو او د مخکو د سروي د قوانینو د اختلاف ټکي په تصویب رسیدل ، نو د دغه کمسیون د غړیتوب له پاره ، تر شلو ډیرو وکیلانو خانونه کاندید کړي وو ۰

ما د ګڼ دریغ دلسو ملګرو وکیلانو دنومونو یولست جوړ کړ او پر ټولو وکیلانو مي وویشې ، او د دوی څخه مي غوښتنه وکړه چي که زموږ کاندیدانو ته خپله رایه ورکړي کله چي د انتخاباتو نتایج اعلان سوه ، د ولسي جرګي هر لس نمایندګان زموږ د تقنین د کمسیون ملګري او د دارالانشا آمر سید مبین شاه امیر ، د مختلط کمسیون له پاره انتخاب شوي وو . دلته د یادولو وړ بولم چي په دغو انتخاباتو کي سید مبین شاه امیر عزیزالله واصفي او عبدالغفار فراهي هر یوه تر سلو ډیري رایي وړي وي . د تقنین د کمسیون د غړو نومونه د مخه ذکر شوي دي ، د مشرانو جرګي استازي دادي : ډاکټر محمد انس خان ، سید شمس الدین مجروح ، قیام الدین خادم ، محمد هاشم مجدیدي ، حبیب الله هلمندي ، محمد امین خوګیانې ، ډاکټر عبدالقیوم رسول ، شیر محمد خان ، میر محمد شاه صدیقیان او حاجي محمد څمکنې ۰

مختلط کمسیون په خپلي لومړي غونډي کي عبدالکریم عمر خیل د رئیس په حیث او محمد هاشم مجددي او وروسته حبیب الله هلمندي د منشیانو په توګه و ټاکل ۰

دغه کمسیون په خپلو لومړنیو غونډو کي د سیاسي احزابو د قانون د اختلاف ماده په تصویب ورسوله ۰

څرنګه چي په اساسي قانون یا د دواړو جرګو په طرزالعملونو کي د مختلط کمسیون د فیصلو مرجع نه وه تعین سوي ، نو کمسیون فیصله وکړه چي خپلي فیصلي به د پاچا دتوشیح له پاره د سلطنت دارالانشا ته وړاندي کوي۰ ولي د مختلط کمسیون د دغي فیصلي سره د نور احمد اعتمادي حکومت داسي عکس العمل ښکاره کړ ۰

نور احمد اعتمادي د مشرانو جرګي غړي په پغمان کي میلمانه کړه ، په دغي میلمستیا کي صدر اعظم دوی ته و ویل ((په مختلط کمسیون کي د ولسي جرګي تندروه وکیلان غواړي چي پر پاچا باندي فشار راوړي چي دی د احزابو قانون توشیح کړي ولي زه د حکومت د مسؤول په حیث د احزابو د قانون نافذیدل veto کوم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا ځخه به و غواړم چي دغه قانون توشيح نه کړي))

بله ورځ د مختلط کمسيون په غونډي کي د مشرانو جرگي غړو مخصوصا حاجي محمد ځمکني په شدت سره د کمسيون پر پخوانۍ فيصلي باندي اعتراض وکړ ، د دغه اعتراض په وجه د کمسيون ټول غړي تر خپلي پخوانی فيصلي تير سول او د کمسيون فيصلي ولسي جرگي ته و سپارلي سوی . (٢٤)

رشتيا ليکي چي محمد هاشم ميوندوال د خپل صدارت په وخت کي ده ته ويلي و چي د نوي اساسي قانون يوه خلا داده چي د شورا تر انتخاباتو دمخه يي د احزابو د جوړولو غوښتنه نه وه کړي . (٢٥)

ډاکټر محمد يوسف په خپلي يوي مصاحبي کي ويلي دي چي ((پاچا ځکه د احزابو قانون توشيح نه کړ چي دی بيريدی چي که په هيواد کي سياسي احزاب جوړ سي ، نو دغه احزاب به د ده ځخه قدرت واخلي)) دې زياتوي چي ((پاچا قوي اراده نه لري او د خلگو د خبرو تر تاثير لاندي راځي)) (٢۶)

د اساسي قانون ٣٢ مه ماده د سياسي احزابو په برخه کي داسي حکم کوي :

١ ـ د حزب د بنيادي فعاليتونو اهداف او مفکوري بايد د اساسي قانون د مندرجاتو سره تناقض ونه لري . ٢ ـ د حزب تشکيلات او مالي منابع بايد علني وي .

د افغانستان پاچا په نامعلوم علت د خپل سلطنت تر پايه د احزابو قانون توشيح نه کړ په داسي حال کي چي د کيڼ او ښي اړخ د مفکورو خاوندانو د قانون مطابق نه سو کولای چي په هيواد کي د سياسي فعاليت اجازه تر لاسه کړي .

رشتيا ليکي چي په ١٩٦٤ کال کي د افغانستان پاچا د امريکا د جمهور رئيس John F. Kenney په بلنه امريکا ته رسمي سفر وکړ. کيندي پاچا ته ويلي و چي ((د ديموکراسۍ د تطبيق په لاره کي جدي خطرونه او مشکلات سته ، چي تاسي بايد په دغي لاري کي په کراره گام کښيږدی)) دی زياتوي چي ((د ديموکراسۍ د تطبيق په جريان کي د پاچا ترحد زيات احتيا ط ښايي د دغه ملاقات ځخه منشأ اخستي وي))دی ليکي ((په بل ملاقات کي چي د پاچا او کيندي تر منځ و سو ، يوازي زلمې محمود غازي د ترجمان په حيث برخه درلوده او د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاقات څخه ، هيڅ رسمي يادداشت نه دې اخستل شوی))دی ليکي ((په دغه ملاقات کي شايد کيندي د پاچا څخه په افغانستان کي د اوضاع د کنترول له پاره د سي. آی. ای د فعاليت اجازه غوښتي وي)) دی د ډاکټر محمد يوسف له قوله ليکي چي ((تر دغه ملاقات پنځه کاله مخکي امريکايانو د محمد داود خان څخه هم دا سي يوه غوښتنه کړي وه ، ولي په هغه وخت کي محمد داود خان د امريکايانو دغي غوښتني ته جواب نه و ويلې ، چي شايد اوس به بيا امرکايانو خپله پخوانۍ غوښتنه تکرار کړي وي)) (۲۷)

۱۱ ـ حکومت د وکيلانو د مصونيت حدود ټاکل

په ۱۹٦۹ کال کي حکومت د کټواز د کوچيانو وکيل عبدالرزاق په دې متهم کړ چي ده کومه ښځه د خانه سره د کانتيننتل هوټل ته بيولي وه . چي په دغه اتهام امنيتي افرادو دی د کابل په ولايت کي تر نظارت لاندي نيولی و او په هغه شپه دغه وکيل د کابل د ولايت څخه وتښتيدې او دی د حکومت تر تعقيب لاندي و .

د کټواز وکيل او حکومت دواړو ولسي جرگي ته د دغي حادثي اطلاع ورکړه ، وکيل ادعا کوله چي د کابل امنيه قوماندان جنرال عبدالحکيم کټوازی دده شخصي دښمن دی او دغه موضوع د هغه له خوا ده ته جوړه سوي ده . خو حکومت ادعا کوله چي د ولسي جرگي يوه غړي مشهود جرم کړي دې او د حکومت تر عدلي تعقيب لاندې دی او ولسي جرگه بايد د اساسي قانون د ۵۰ مي مادي د حکم مطابق د نوموړي وکيل پارلماني مصونيت سلب کړي څو حکومت د ده د جرم تحقيق وکړي .

عبدالرزاق د ولسي جرگي د دولسمي او ديارلسمي دورو د اعتماد درايو ورکولو په غونډو کي د حکومت پر اجراآتو انتقادونه کړي وو ، چي ښايي د ته دغه مشکلات دده د پارلماني موقف څخه پيدا سوي وي . دغي حادثي د ډير وخت له پاره ولسي جرگه ، حکومت او حتي پاچا مصروف و ساتل .

وکيلانو سعي کوله چي دغه حادثه د مسالمت آميزي لاري څخه حل کړه سي ، په دغه اساس څو وکيلانو د ولسي جرگي د رئيس ډاکټر محمد عمر وردگ څخه غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه چي حکومت ته ووايي چي ددغه وکيل د تعقيب څخه لاس واخلي او د حکومت او ولسي جرگي اوسني ښه روابط خراب نه کړي ۰ د ولسي جرگي رئيس چي بي آلايشه سړی و ده په جواب کي وويل ((کله چي زه داخله وزير وم يوه شپه د دوولسمي تقنيني دوري څو وکيلانو د ء پلازا ء په هوټل کي د بزم يو محفل جوړ کړی و ، په هغه شپه ما ته امر وسو چي ددغه محفل حفاظت ددي له پاره وکړم چي د دغه محفل څخه کومه رسوايي پيښه نه سي ۰ ولي اوس په خپله حکومت دغي رسوايي ته لمنه وهي چي زه د حکومت په اوسني پالسي نه پوهيږم)) . په دغه ارتباط د کابل په سياسي حلقو کي ويل کيدل چي حکومت فيصله کړي ده چي يوه وکيل ته جزا ورکړي او په دغه طريقه نور وکيلان په دي و پوهوي چي د دوی د مصونيت حدود يوازي د دوی د وظايفو په ساحي کي تطبيق کيږي او په نورو ساحو کي دوی هم لکه عادي خلگ د جرم په صورت کي تر عدلي تعقيب لاندي راځي۰

ځينو باخبرو منابعو داهم ويل چي يوه مشابه حادثه په پاکستان کي يوسف خټك ته چي د پاکستان په پارلمان کي دعوامي ليگ د حزب مشر و هغه وخت پيښه سوي وه چي نور احمد اعتمادي په کراچي کي افغاني سفير و ۰ يوسف خټك د ډاکټر بلوچ د جرمني الاصلي ښځي سره متهم سو ، چي د ده د اتهام موضوع د ډير وخت له پاره د پاکستان په مطبوعاتو کي خپريده ۰ د دغو منابعو په عقيده ، ښايي د افغانستان حکومت به په دغي موضوع کي د يوسف خټك د اتهام څخه الهام اخستې وي۰

د کابل امنيتي منابعو زما په شمول ، ځينو وکيلانو ته ويل چي د دغي حادثي په شپه د بوت آهو فابريکي اور اخستې و او دوی هلته مصروف وو چي ناوخته د شپې دوی په دغي حادثي خبر سول او دوی يو مکمل هيأت لکه د عکاسي ، نشان انگشت او د تحقيق مسئول هوټل ته د دي له پاره استولي وو چي ددغه جرم دوسيه په دغه شپه تکميله کړي . ((د حکومت دغه اقدام د اساسي قانون د حکم پر خلاف دی))

وکيل وايي چي ((په هغه شپه ما او د معاملاتو د دفتر آمر حاجي عبدالشکور د سپين زر هوټل ته ورغلي وو ، د کانتيننتل لوي آمر چي هغه وخت په سپين زر هوټل کي و ده موږ دواړه په خپل هوټل کي ميلمانه کړو او کله چي موږ هغه هوټل ته ورغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ یوه اطاق ته رهنمايي کړل سو ، چي یو ساعت وروسته یوه ښځه هغه اطاق ته راغله او ډير ژر څو امنيتي افراد په اطاق ننوتل او موږ يې د کابل ولايت ته بوتلو))

ولسي جرګي د حکومت دغه غوښتنه چي د کټواز وکيل دي سلب مصونيت سي و نه منله او د حکومت څخه يې غوښتنه وکړه چي د دغه وکيل دعدلي تعقيب څخه لاس واخلي٠ ولي حکومت ونه منله ، حکومت او ولسي جرګه دواړه پر خپلو موقفونوټينګ پاته سول چي په پای کي پاچا د حکومت د موقف په تاييد په دغي موضوع کي مداخله وکړه ٠ پاچا د ډيرو وکيلانو سره په دغه ارتباط خبري وکړي٠ما ته هم پاچا د کانتيننتل د هوټل د حادثي وړي خبري تشريح کړي چي زه اوس د هغو د ليکلو څخه عاجز يم ، زه د پاچا د فرمايشاتو په وخت کي په دي فکر کي سوم چي ولي حکومت د سلطنت دلوړ مقام څخه په داسي مسايلو کي مرسته غواړي ؟ د کټواز وکيل د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت د اعتماد د رايي په غونډي کي نوي حکومت ته خپله رايه ورکړه او د ډاکټر عبدالظاهر حکومت د ده دعدلي تعقيب څخه منصرف سو٠د جمهوريت په وخت کي ددغه وکيل دوسيه محکمي ته وړاندي سوه او وکيل د څه مودي له پاره بندي سو .

د سر آهنګ یوه خبره

یوه ورځ د صدارت کفيل د ولسي جرګي او حکومت د تقنين غړي په پغمان کي ميلمانه کړي وو ، په دغي ميلمستيا کي وزيرانو هم برخه اخستي وه ٠ حکومت د هيواد مشهوره سندرغاړي استاد سر آهنګ د هنر نمايي له پاره دغي ميلمستيا ته بللې و٠استاد سر آهنګ په دغه محفل کي ډيري استادي غزلي و ويلي ، او پر دغو استادي سندرو باندي يوازي د صدارت مرستيال عبدالله يفتلي ډير خوند اخستی ٠ولي ډيرو نورو حاضرو وکيلانو او مامورينو غوښتل چي که استاد دوی ته څو محلي غزلي ووايي ما په ډير محترمانه ډول د استاد سر آهنګ څخه غوښتنه وکړه ، چي که دغه حاضر مجلس ته څو کليوالي سندري واوروي ٠ زما دغه غوښتنه د استاد سر آهنګ خوښه نه سوه ، ده د محفل برخه والو ته په ډير ټينګار سره وويل چي ، په هيواد کي يا وزير وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يا وكيل ، دلته دواړه حاضر دي ولي فراهي زما څخه غواړي چي زه دلته كليوالي سندري ووايم ، نو آيا زه خپل استادي هنر په هيواد كي چا ته وړاندي كړم ؟

په هغي لحظي كي زه د خپل ځايه څخه ولاړ سوم او استاد سر آهنگ ته مي وويل چي زه ستاسي د دغه عكس العمل منتظر وم چي حاضر مجلس ته ستاسي يــوه پخواني خبره واوروم ٠ ما د دغه محفل شاملينو ته وويل چي څلور كاله پخوا ، ما په پيښور كي په افغاني قونسلګرۍ كي كار كاوه او په هغه وخت كي استاد سر آهنگ هم په پيښور كي و ٠ موږ يوه شپه ، استاد قونسلګري ته دعوت كړ چي په هغه شپه هم استاد ډيري استادي غزلي موږ ته وويلي٠ ما په هغه شپه د استاد څخه غوښتنه وكړه چي كه موږ ته څو كليوالي سندري ووايي . استاد په هغه شپه زما دغوښتني په مقابل كي هيڅ عكس العمل ښكاره نه كړ ، ده څو خوږي كليوالي سندري موږ ته وويلي ، چي د هغو په جمله كي د استاد دغه مشهوره سندره (گړ سو د لونگو لو گړ سو) هم شامله وه ٠خو كله چي د ډوډۍ خوړلو خوني ته ولاړو ، هلته ما د استاد څخه پوښتنه وكړه چي آيا ستا زوى د موسقي په فن كي مهارت لري او كه يه ؟ استاد زما په جواب كي وويل چي ((ما خپل زوى ته ډير پخوا ويلي دي چي ، موسيقي ډير مشكل فن دی ، او ته په دغه فن كي استاد كيدلاى نه سي)) ده په دري ژبه دا هم وويل چي ما خپل زوى ته ويلي دي چي ((برو بچيم ، فا كولته ما كولته يته بخوان)) ددغي قصي په اوريدلو سره د مجلس برخه والو او استاد سر آهنگ وخندل او وروسته استاد موږ ته ډيري خوږي كليوالي سندري واورولي ٠

۱۲ ـ د اطلاعاتو او كلتور وزير ته د نه اعتماد رايه

د ولسي جرگي ډيرو وكيلانو تصميم نيولی و چي د اطلاعاتو او كلتور وزير ډاكټر محمود حبيبي ډير ژر د هغه وزارت څخه ليري كړي ، ځكه چي د ده د وزارت په وخت كي په دولتي ورځپاڼو كي د اسلام ضد نشرات كيدل٠ او هم دی په دي متهم و چي ملي جرايد ، تر نشر دمخه سانسور وي ٠ ځني وكيلان د ده څخه په دي آزرده وو چي دی په كابل راديو كي د ولسي جرگي خبرونو ته د نشر اجازه نه وركوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي جرگي په ۱۹۷۱ كال كي ډاكټر محمود حبيبي د هغي جرگي د استجواب يوي غونډي ته د دي له پاره احضار كړ چي د وكيلانو پوښتنو ته جواب ووايي. د نورو پوښتنو په ضمن كي يوه وكيل د ډاكټر محمود حبيبي څخه پوښتنه وكړه چي ، تاسي ولي د ولسي جرگـي خبرونو تـه د نشر اجازه نـه وركوی ؟ ده په جواب كـي وويـل ((زه د ولسي جرگي د كمسيونونو هغو خبرونو ته د نشر اجازه نه وركوم چي خبري ماهيت و نه لري .))

ما بيله مگروفون څخه د ده د پورتني ادعا توضيح وغوښته ٠ ده زما په جواب كي وويل ((د اطلاعاتو او كلتور وزارت ته د ولسي جرگي څخه داسي يو خبر راځي چي پلاني كمسيون د پلاني عالي جناب تر رياست لاندي يوه غونډه وكړه او دپلاني ملك پر عريضي باندي يي غور وكړ ٠ تاسي وواياست چي دغه مطلب څه خبري ماهيت لري چي زه هغه ته د نشر اجازه وركړم ؟))

د ډاكټر محمود حبيبي له خوا د عالي جناب د كلمي استعمال ، د وكيلانو د انزجار باعث سو او وكيلان ډيرهيجاني سول ، په هغي لحظي كي تر سلو ډيرو وكيلانو د خبرو نوبت وغوښت او هر وكيل به په خپلو خبرو كي ډاكټر محمود حبيبي ته د عالي جناب خطاب كاوه ٠ ډير ژر د ډاكټر محمود حبيبي څخه وغوښتل سوه چي د ولسي جرگي د تالار څخه ووزي ٠ او وكيلانو د رايو په اتفاق ده ته د نه اعتماد رايه وركړه ٠

د رايو وركولو په جريان كي يوازي ببرك كارمل د ولسي جرگي د تالار څخه ووت چي ډيرو وكيلانو دده پر دغه عمل باندي اعتراض وكړ ٠ بله ورځ يوه وكيل د كارمل څخه پوښتنه وكړه چي دی ولي د نه اعتماد د رايي په وخت كي د ولسي جرگي دتالار څخه ووتی ؟ ده په جواب كي وويل چي ((د نه اعتماد دغه تحريك يو ارتجاعي حركت و په دي چي د مذهبي وكيلانو له خوا پيل سوی و او ما بايد په هغي كي برخه نه وای اخستي .)) ولي واقعيت داو چي ببرك كارمل غوښتل چي په خپل دغه حركت سره نوراحمد اعتمادي ته په اثبات ورسوي چي دی د حكومت پر ضد د وكيلانو ددغه تحريك ملگری نه و ٠

د نه اعتماد تر رايي وروسته پاچا دغه څلور وكيلان لكه عبدالرؤف بينوا ، عزيزالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

واصفي ، امان الله شنډيړی او عبدالغفار فراهي ، شاهي ارگ ته ددي له پاره غوښتي وو چي د ولسي جرگي ددغه تصميم پر قانونيت باندي ددوی سره خبري وکړي ٠ پاچا دغو وکيلانو ته وويل ((ما څو مياشتي پخوا نور احمد اعتمادي ته ويلي و چي ډاکټر محمود حبيبي ته ووايـي چي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت څخه استعفا وکړي ، ولي نوراحمد اعتمادي دا کار نه و کړي ، ده دا موضوع پري ايښي وه چي زه د خارج د سفر څخه راسم او زه په خپله دا خبره ډاکټر محمود حبيبي ته وکړم ٠ ولي زما تر راتگ دمخه ولسي جرگي ده ته د نه اعتماد رايه ورکړه)) پاچا زياته کړه ((حکومت ادعا کوي چي ولسي جرگي حکومت ته د يوه کل په حيث د اعتماد رايه ورکړي ده ، او ولسي جرگه دا حق نه لري چي يوه وزير ته د نه اعتماد رايه ورکړي)) په دغه وخت کي عبدالرؤف بينوا د روزگار د جريدي يوه گڼه پاچا ته ورکړه ، ده پاچا ته وويل چي يوه وزير ته د نه اعتماد د رايي په ارتباط په دغي گڼي کي د جريدي چلونکي محمد يوسف فرند د عبدالغفار فراهي سره يوه مصاحبه کړي ده ٠ په دغي مصاحبي کي د ولسي جرگي قانوني موقف توضيح سوی دی ٠

ما په هغي مصاحبه کي د اساسي قانون د ۹۶ مادي د لومړي فقري د حکم پر اساس چي ، صدر اعظم او وزيران د حکومت د عمومي سياست په برخه کي په گډه ، او په خپلو مشخصو وظايفو کي په خانگړي توگه مسؤوليت لري ، په دغه دليل ما د ولسي جرگي د نه اعتماد د رايي فيصله قانوني بللي وه ٠

په دغي ليدني کي امان الله شينډيړي پاچا ته وويل چي ډاکټر محمود حبيبي په دولتي ورخپاڼو او راديو کي د ولسي جرگي د جرياناتو د نشر ممانعت کوي ٠ پاچا دواړه لاسونه پر سر ونيول او وي ويل چي دا څه حال دی ؟ تر دي وروسته بايد اخبارونه هم زه په خپله وگورم ٠ دغه ليدنه پر همدغه ځای پای ته ورسيده ٠

۱۳ ـ د نور احمد اعتمادي حکومت ته د نه اعتماد رايه

صدر اعظم نور احمد اعتمادي د ۱۹۷۱ کال د مي د مياشتي پر ۱۷ نيټي ولسي جرگي ته د استيضاح له پاره وغوښتل سو٠ د استيضاح د غونډي لومړي وينا کونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد اسحق عثمان و ۰ ده په تندو الفاظو نور احمد اعتمادي په بي كفايتي او دولسي جرگــي سره پــه عدم همكاري متهم كړ ۰ د محمد اسحق عثمان دغــي تندي خبري د نور احمد اعتمادي د تأثر سبب سوی چي وروسته د استيضاح غونډه په لفظي مشاجري واوښتله۰

په دغي غونډي كي هر وكيل ادعا كوله چي صدر اعظم بايد د هر وكيل پوښتنو ته په جلا توگه جواب ووايي ۰ خو صدر اعظم ادعا كوله چي اوسني غونډه د استجواب غونډه نه ده چي د حكومت مشر د هر وكيل پوښتنو ته جواب ووايي ، بلكه دا د استيضاح يوه غونډه ده چي دی حق لري چي د ټولو وكيلانو تر پوښتنو وروسته ، دوی ته په يوه مناسب وخت كي جواب ووايي۰

صدر اعظم او وكيلانو ټولو د اساسي قانون پر ۶۶ مادي اتكا كوله ، څرنگه چي د اسلسي قانون دغي مادي ښه صراحت نه درلود، څكه نـو صدر اعظم او وكيلان پر خپلو موقفونو ټينگ پاته سول ۰ تر يوه ساعت بحث او مناقشي وروسته ، وكيلانو د صدر اعظم نور احمد اعتمادي څخه غوښتنه وكړه چي د ولسي جرگي د تالار څخه ووزي۰ وروسته د ولسي جرگي اكثريت غړو د نـور احمد اعتمادي حكومت تـه د نه اعتماد رايه وركړه ۰

عبدالحميد مبارز په دغه ارتباط په خپل اثر كي ليكي چي ، د افغانستان دولت د نور احمد اعتمادي حكومت ته د نه اعتماد د رايي په برخه كي ولسي جرگي ته شين څراغ وركړی و ۰ دده حدس شايد د لاندي ټكو څخه راپيدا سوی وي . (۲۸)

ـ محمد اسحق عثمان د يوه وكيل څخه چي د استيضاح د غونډي په ترتيب شوي ليست كي د هغه نوم تر نورو دمخه و ، غوښتنه وكړه چي د خبرو لومړی نوبت ده ته ددي له پاره وركړي چي دی به په نني غونډي كي يو بم وه چوي ۰

ـ وروسته تر هغه چي نور احمد اعتمادي د ولسي جرگي د تالار څخه ووت ، د ولسي جرگي رئيس ډاكټر محمد عمر وردگ ، څو واره وكيلانو ته وويل چي ، كوم تصميم چي نن تاسي د حكومت د سرنوشت په برخه كي نيسی ، پام وكړی چي ستاسي دغه تصميم قانوني بڼه ولري ۰ چي وروسته بيا پښيمانه نه سی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت ته تر نه اعتماد خو ورخي وروسته پاچا د ټولو وکیلانو سره ولیدل ۰ زه هم د فراه او نیمروز د وکیلانو سره د پاچا حضور ته ورغلې وم ۰ په دغي لیدني کي ما د پاچا په حضور کي څو خبري وکړي چي تفصیل یي د کتاب په بلي برخي کي لیکل سوی دی ۰ پاچا د خپلو فرمایشاتو په ضمن کي وویل چي ډاکټر ولید حقوقي یو لیکلې متن په ولسي جرگي کي لولي او تاسي باید هغه متن تصویب کړئ ، او تر هغه وروسته به د نور احمد اعتمادي د حکومت استعفا اعلان سي ۰ هغه متن داسي و :

د شورا او حکومت د ښي همکارۍ د پیل په غرض ولسي جرگي فیصله وکړه چي حکومت ته د نه اعتماد تر رایي تیر سي .

ولسي جرگي پورته متن تصویب کړ او د نور احمد اعتمادي حکومت د ۱۹۷۱ کال د مې د میاشتي پر ۱٦ نیټي استعفا وکړه ۰

۱٤ ـ د ډاکټر عبدالظاهر سره د وکیلانو کتنه

کله چي ډاکټر عبدالظاهر د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور سو ، ده د اعتماد تر رایي دمخه د ټولو وکیلانو سره ولیدل ۰ زه د هرات ، فراه ، بادغیس او غور د وکیلانوسره یو ځای د ډاکټر عبدالظاهر د لیدلو له پاره دده کور ته ورغلی وم ۰ ډاکټر عبدالظاهر د حاضر مجلس دډیرو وکیلانو سره په دوولسمي تقنیني دوري کي وکیل و او د ډیرو وکیلانو نومونه دده په یاد وو ۰ صدر اعظم او وکیلانو خپلي زړي خاطري یادي کړي چي ډیره صمیمي او دوستانه فضا هلته جوړه سوه ۰

وروسته ډاکټر عبدالظاهر وکیلانو ته وویل ((که تاسي حکومت ته د ویلو کوم مطلب ولرئ زه خوشحالیږم چي هغه مطلب اوس ماتهووایاست)) وکیلانو فورا خپلي خواستي او محلي مشکلات صدر اعظم ته بیان کړل ۰ یوه به ویل چي په خپلي سیمي کي مکتب نه لري ، بل به ویل چي صحي کلینیك ته ضرورت لري ، هغه بل به د خپلي ولسوالۍ د سرك د خرابوالي بیان کاوه ۰ ډاکټر عبدالظاهر به ټولو دغو وکیلانو ته ویل چي ((د مالي امکاناتو په حدودو کي به خیني کارونه وکړي)) په دغه وخت کي د غوریانو د ولسوالۍ وکیل شاه پور علیزي زما څخه غوښتنه وکړه چي که زه هم هلته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبري وکړم ما د خپلو خبرو په پیل کي د ډاکټر عبدالظاهر د پوهي ، اوږدي تجربي او ښواخلاقو ستاینه وکړه ، او وروسته ما وویل چي حاضر وکیلان ستاسي د حکومت د نوي پروګرام او ریدلو ته منتظر دي چي که تاسي په دغي برخي کي مونږ ته څه ووایاست ۰ ډاکټر عبدالظاهر په خندا وکیلانو ته وویل ((ګوري ! فراهي زما څخه د هغو مطالبو ویل غواړي چي زه باید هغه مطالب د ولسي جرګي په تالار کي تاسي ته ووایم)) ما صدراعظم ته وویل چي تاسي هم د وکیلانو څخه د هغو مطالبو اوریدل وغوښتل چي دوی باید د ولسي جرګي په تالار کي تاسي ته ویلي وای ۰ صدر اعظم او ټولو وکیلانو وخندل او دغه لیدنه پر دغه ځای پای ته ورسیده ۰

یوه ورځ وروسته زما او د ډاکټر عبدالظاهر تر منځ یوه بله دوه په دوه لیدنه هم و شوه چي تفصیل یي د کتاب په بلي برخي کي راغلې دې ۰

۱۵ ـ زما د پارلماني وینا یوه برخه

(د اعتماد درایو جریانات د کابل رادیو له لاري خپریدل)

ګرانو اوریدونکو !

د افغانستان د بي وزلو خلګو د نیکمرغي او سعادت په هیله ، عبدالغفار فراهي د بالابلوك د ولس وکیل خپل نظر وړاندي کوي ۰

ښاغلې مؤظف صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر !

زه ګمان نه کوم چي ددغه تالار دغه مجلس دي د ادبي مسابقو او طویلو او منسجمو عباراتو او کلماتو له پاره چي عام ولس په هغه و نه پوهیږي دایر سوې وي۰ څرنګه چي مونږ اوس د قوم سره ږغیږو باید دقوم په ژبه هم خبري وکړو، او څه چې وایو لومړې مو باید ددوی پوهنه او ویښتیا په نظر کي وي۰ نو که زما وینا د ادبي مطنطنو عباراتو او بي خایه انشا پردازیو څخه عاري وي معذرت غواړم ۰

زما په فکر که زه د خپل ولایت او یا ولسوالي د مشکلاتو څخه وږغیږم او ووایم چې دلته هیڅ د ژوندانه مظاهر په نظر نه راځي ، او ټول د ژوندانه وسایل یي یا د طبیعت د بي رحمیو او یا د اداره چیانو د روزګذرانیو او بي التفاتیو له کبله د فنا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیستې په کندي کي لويدلې دې ، دا به مي يو ړول تنگ نظري يا لږ معلوماتي له کبله ويلي وي ۰ او معنا يي دا چي په ټول افغانستان کي هر څه سته او دلته هيڅ نه سته ۰ په داسي حال کي چي د افغانستان ټولي سيمي او د ولس زياته برخه په دغو دردونو او مشکلاتو اخته دي ۰

نو که زه د افغانستان د عمومي مشکلاتو او مصايبو په هکله وږغيږم دا به ښه وي نسبت و هغه تـه چـې زما فکر د يـوي مشخصي او محلـي مشکل د حل خوا ته متوجه وي۰

که زموږ هيواد افغانستان آباد او معمور وي ، دا معنا نه لري چي فراه چې د افغانستان يو تاريخي او د هره حيثه با ارزښه سيمه ده ، نا آباده او د نظره لويدلي سيمه وي ۰ بيا هم زه د خپلي سيمي د وکيلانو هغه هيلي چي د فراهيانو د لوړي او د فراه رود د بند په مورد کي يي کړي او يايي کوي ، د تاييد وړ بولم ۰ او دومره پر علاوه کوم چي موږ بايد ددغو مشکلاتو علت العلل ته متوجه سو چي ولي د افغانستان ټول ولس په دي عصر کي په داسي مصائبو او آلامو اخته دې ؟

موږ تر ټولو دمخه دي ته احتياج لرو چي افغانستان جوړ کړو ، او دا خبره دا معنا نه لري چي خدای نا خواسته افغانستان موجود نه دې او يا ملي او بين المللي موقف او اهميت ته يي څوك په درنه سترگه نه گوري ۰ ددي جملي مطلب دادی چي موږ بايد افغانستان د يو عصري او مترقي هيواد پـه څير ، څرنگه چي پـه حقوقي قا موسونو او بين المللي منا شيرو کي يي تعريف کيږي ، هغه شاني جوړ کړو ۰ يعني لومړی بايد د خپلو سرحداتو او سياسي لانجو او کشالو د حل او فصل کولو له پاره جدي توجه وکړو او څرنگه چي يي ملي هيلي او مصلحتونه آرزو لري هغه شاني اقدام وکړو ۰

په يوه عصري او مدني دولت کي چي هغه د نوي ژوند په ټولو مزاياو او ښيگڼو مجهز وي ، هلته د پووندوو او کوچيانو مسأله هيڅ موضوع د بحث نه سي کيدلای ۰ ولي ددولت يو حقوقي تعريف هم دادې چي خلگ يي په يوه معينه سيمه کي و اوسي په داسي حال کي چي دا خواران نه يوازي په افغانستان بلکه په باندنيو همسايه هيوادونو کي خپل بي ارزښه ژوند په ډير محروم او جلا وطني ډول تيروي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه مشکل دې که احیانا د یوه ملي حکومت له خوا د ملت په نفع څه اقتصادي مقررات او تنظیمونه وضع سي او وغوښتل سي چي یو ملت د اقتصاد او صنعت له پلوه پر خپلو پښو ودریږي ، ددغو اقوامو ځیني برخه چي د کال په سر او پای کي د موسمونو د تغییر او جوي شرایطو له کبله خپلي میني بدلوي ، څرنگه به د سیاسي لانجو او مختلفو وجوهاتو له کبله زموږ دولتي قوانین او مقررات د دوی د تگ او راتگ پر مسالي باندي تطبیق کړه سي ۰ د بلي خوا څخه هغه پوونده چي د ننه په هیواد کي یوي او بلي خوا ته کډي کوي ، ددي څخه علاوه چي ددوی د نفوسو شمیر او د ژوندانه په هکله څوك پوره احصائیه نه لري ، خو دومره پوهیږو چي په دغو دو کلونو کي چي د طبیعت قهر چي د افغانستان پر ټول ملت نازل سوی دی ، ددوی ژوند یي تر نورو ډیر د تباهي او نیستي منجلاب ته ورغورځولی دی ۰ موږ چي خپله څه نه لرو ، ددوی سره به څنگه غم شریکي او ورور گلوي و ساتو ، او حکومتونه خو یي د یو انسان او هم وطن په څیر هیڅ د ژوندانه مسألي ته ملتفت نه دي او نه ددوی په موجودیت قایل دي لکه څرنگه چي د موجوده حکومت په تگ لاري کي ددوی په هکله حتي ددوی دمحض خوشالواو تسلیت لیکنه نه سته ۰

کله چي مو د کوچیانو مسأله د یوه عصري دولت د په وجود راوړلو له کبله حل کړه بیا اقتصادي سمون دومره اشکالات نه لري ، دغه مشکل چي نن موږ په اقتصادي ساحه کي د ملي تولیداتو د نیستي او صنعتي محصولاتو د بربادي له کبله ور سره مخامخ یو ، تر موږ دمخه نورو وروسته پاته زموږ په شان آسیایي او افرقایي هیوادونو او قومونو هغو ته د ملي حکومتونو د په وجود راوړلو او اقتصادي پلان جوړولو ، استثمار او استعماري سیاست سره په مبارزي کولو سره حل کړي دي ۰

کله چي مو دغه ضرورتونه رفع کړه البته اداري مشکلات چي فلانکي رشوت خوري او بستانکي ظلم او ناروا کوي ، یوازي د یوه ملي حکومت د په وجود راوستلو سره چي په هغه کي قوانین حکومت ولري رفع کیدلای سي ۰ که قانون حاکمیت ولري بیا به هیڅوك د وزیر ، والي ، رئیس او داسي نورو کاردارانو څخه شکایت و نه کړي ۰ او هر څه به د قانون څخه غواړي ۰ که قانون احیانا په ځینو مواردو کي د ولس گټه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصلحت په نظر کي نه وي نيولې ، هغه به هم د قانوني لارې څخه اصلاح کيږي ۰

د ديموکراسۍ د راتگ سره زموږ په هيواد کي دديموکراسۍ د چلولو او بريالي توب له پاره ځني قوانين او مقررات راووتل ، خو هغه اصلي او اساسي قوانين چي دديموکراسۍ اساس او بنسټ پر ايښوول سوی دی تر اوسه نه دي راوتلي ، ځرنگه چي ديموکراسي بې له احزابو او د احزابو د قانون څخه کوم حقيقي مفهوم نه لري ، نو ښايي چي ديموکراسۍ سره د وفادارۍ او د موفقيت له پاره يي د احزابو ، ولايتي جرگو او داسي نور قوانين ژر راوايستل سي ، او دغه داسي يو مشکل دې چي نن حکومت او ملت دواړه ورسره مخامخ دي ۰

يو شې چي د زياتي يادوني وړ دې هغه دا سوال دې چي د موجوده ديموکراسۍ او اساسي قانون حاميان او طرفداران به څوك وي ؟ په موجوده شرايطو کي تر څو چي نور څه نه وي سوي ، د افغانستان روشنفکره او تعليم يافته او په آخر کي د عالي ښوونځيو او پوهنځيو محصلان دي ۰ چي دوی واقعا لکه تږي چي اوبه غواړي ، همداشاني د هيواد اعتلا او ارتقا ته په ډير تلوار او فداکارۍ منتظر دي ۰ خو نه پوهيږم چي غلط فهمي ورته ووايم او که بل څه ، نن د هيواد ځني روشنفکره او وطن پالونکي عناصر په يوه او بل نامه د سياسي فعاليتونو څخه مايوسه سوي دي او يا زندانونو ته ليږل سوي دي ۰ تر کومه ځايه چي معلومات سته دوی ډير وطن پالونکي او ددي خاوري رښتيني زامن دي ، او دوی د هيواد په خير او شر کي د يو حقيقي افغان او انسان په څير خانونه مسؤول او حتي شريك گڼي۰ نو نه ښايي چي ددوی پر آزاديوو باندي بې ځايه پابندۍ و لگول سي ۰

ښاغلي مؤظف صدر اعظم ! لکه چي د ولسي جرگي زياتو وکيلانو د تيرو حکومتونو څخه د بې ځايه وعدو ورکولو او ورځ تيرولو څخه شکايت وکړ ، او وي ويل چي ددوی ملي هليې او قومي ارمانونه يي په سلو کي هيڅ نه دي عملي کړي ، نو آيا ددي له پاره کوم دليل سته چي دا حکومت به هم پر خپلو وعدو وفاداره وي ؟ په داسي حال کي هغه څه چي يي دوسه پوره وو ، په خپل خط مشي کي د هغو د اجراکولو څخه خان تير کړې دې ، نودا به عجيبه وي چي زماڅخه د اعتماد درايي توقع ولري ! نوځکه په زغرده وايم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي خپل د اعتماد رايه نه درکوم ۰ (د ۱۹۷۱ کال د جولای میاشت)

د وینا پا ی

د محمد موسي شفيق يوه ټوکه

د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت د اعتماد د رايو په غونډې کي ، کله چي ما ته د خبرو کولو وار راورسيدې ، څو دقيقي د غرمي ۲ ۱ بجو ته پاته وي او د ولسي جرگي رئيس ډاکټر محمد عمر وردگ د خپل مقامه څخه ، زه په اشاره و پوهولم چي زما د خبرو کولو وار رارسيدلې دی ۰ په هغي لحظي کي ما د خپل لاس ساعت ته وکتل ، او ډاکټر محمد عمر وردگ فورا په مگروفون کي اعلان وکړ چي د فراهي د خبرو کولو وار دې ، اوس وخت لږ دی ، فراهي به د ماپښين پر دوو بجو خبري وکړي ۰ ده د ولسي جرگي سهارني غونډه پر هغه ځای پای ته ورسوله ۰

د ډاکټر محمد عمر وردگ دغه اعلان په ټول هيواد کي اوريدل سوې و او هر چا چي زه پيژندلم دوی شايد زما وينا اوريدلي وي ۰ زما ورور عبدالواحد فراهي په فراه کي ددغه اعلان په وجه زما د وينا په وخت خبر سوی و ۰

شهيد عزيزالرحمن الفت ما ته وويل ((زما او ستا استاد خارجه وزير محمد موسي شفيق ستا پر پارلماني وينا باندي داسي تبصره کړي ده)) :

شفيق ويلي و ((پـه هغه ورځ چـي فراهـي په ولسي جرگـي کـي خبري کولي ، ما د ماپښين له خوا د خارجه چارو په وزارت کي يو مجلس درلود ۰ ځرنگه چي د ولسي جرگي رئيس اعلان وکړ چي فراهي پر دوو بجو خبري کوي ، نو زه د فراهـي د خبرو د اوريدلو له پاره په ولسي جرگي کي پاتـه سوم او د خـارجـه وزارت مجلس مـي يـو بـل وخت ته وځنډوی))

زما وينا لکه چـي په دغه کتاب کـي يي لولې پـه سر کي ډيره ملايمه او په پای کي ډيره تنده ليکل سوي ده ، او پـه دغـي وينا کـي مـا حکومت تـه د اعتماد رايـه هـم نه ده ورکړي ۰

محمد موسي شفيق زما پـر وينا داسـي تبصره کړي وه : ((د فراهي وينا د تجارت د وزارت د يوه وزير هغي مشهوري قصي ته ورته وه چي ، دغه وزير د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت یو مامور د مکافاتو له پاره خپل دفتر ته ورغوښتې و ، ولي ده د مکافاتو پر خای دغه مامور ته جزا ورکړي وه او په وهلو یې د خپل دفتر څخه ایستلی و))

د استاد شفیق دغه تبصره په هغه وخت کي عزیزالرحمن الفت ما ته ویلي وه چي زه په دغي ټوکي نه یم خوابدي شوی ٠

تبصره : د سلطنت د وخت ددغه وزیر په ارتباط یو بل وزیر وایي چي زه یوه ورځ دده دفتر ته ورغلی وم چي هلته نور خلګ هم حاضر وو . دغه وزیر چي به هره ستایش آمیزه خبره زما په ارتباط حاضر مجلس ته کوله نو زه به یو ګام پر شا تلم ، ده زما څخه پوښتنه وکړه چي ته ولي پر شا خي ؟ ما ده ته په جواب کي وویل چي ما اوریدلي دي چي د هر هغه چا ستاینه چي ته کوي نو په آخر کي هغه سړی ته وهي ، نو په دغه لحاظ زه خان ستاسي څخه لیري کوم .

۱۶ ـ د معارف او عالي تحصیلاتو قانون

په ۱۹٦٥ کال کي د عقرب د دریمي تر حادثي وروسته ډاکټر محمد یوسف مستعفي سو او دده پر خای محمد هاشم میوندوال د افغانستان صدر اعظم سو ٠ ده د پوهنتون شاګردانو ته وعده ورکړه چي د قانون په چوکاټ کي به دوی ته د اتحادیي د جوړولو اجازه ورکړي ٠ محمد هاشم میوندوال د خپلي وعدي سره سم د معارف او عالي تحصیلاتو د قانون مسوده جوړه کړه ٠ ولي په ۱۹٦۷ کال کي د پاچا په اراده دده حکومت د منځه ولاړ ٠ او دده پر خای نور احمد اعتمادي صدر اعظم سو ٠ په دغه کال کي د شورا د تعطیل په ورخو کي د نور احمد اعتمادي د حکومت له خوا دغه قانون په تقنیني فرمان نافذ سو ، ولي د پوهنتون او عالي تحصیلاتو د پوهنځیو شاګردانو ددغه قانون سره مخالفت وکړ ٠ دوی په ۱۹٦۸ کال کي د معارف او عالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحصیلاتو د قانون پر ضد اوړدي مظاهري پيل کړي٠ حکومت د اساسي قانون د ٧٧ مادي د حکم پر اساس دغه تقنيني فرمان ، د تصويب له پاره شورا ته وړاندي کړ ٠ او په دغه کال کي د حکومت تقنيني فرمان د ولسي جرگي له خوا ملغي اعلام سو ٠ چي ددغي نيټي څخه وروسته د پوهنتون او عالي تحصيلاتو د پوهنځيو له پاره په هيواد کي کوم قانون موجود نه و ، او په ١٩٦٩ کال کي د شاگردانو او پوليسو تر منځ نښتي هم وشوي ٠

په ١٩٦٩ کال کي د نور احمد اعتمادي حکومت د وزيرانو په سويه يو هيأت ددي له پاره و ټاکې چي د پوهنتون له پاره لوايح جوړي کړي ، دغي لوايح جوړي سوي ددغو لوايحو پر اساس ددغه کال دمي په مياشت کي پوهاند فضل ربي پژواک د کابل پوهنتون دلومړي انتخابي رئيس په حيث وټاکل سو٠ چي دغو لوايحو او انتخابي رئيس ټاکل کيدل د پوهنتون د وضعي په آراموِلو کي مؤثر واقع نه سوه ٠

صدر اعظم نور احمد اعتمادي ١٩٦٩ کال د جون د مياشتي پر ٢٨ نيټي د کابل راديو له لاري څخه خبرداري ورکړ چي دده حکومت به په کابل پوهنتون کي د استادانو او شاگردانو د اعتصابونو مخه و نيسي ٠ ولي د نور احمد اعتمادي حکومت په دغه کار بريالى نه سو ٠

په ١٩٧١ کال کي د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت په وخت کي ، د ولسي جرگي د تقنين کمسيون ته د کابل پوهنتون د استادانو او شالگردانو له خوا عرايض وړاندي سول چي په دغه اساس دتقنين د کمسيون په غونډه کي د پوهنتون د استادانو په نمايندگي پوهاند فضل ربي پژواک ، سعيد افغاني او محمد هاشم صاعد او د شاگردانو په نمايندگي ډاکټر نجيب الله او خليل الله کوهستاني برخه اخستي وه ٠ چي د تقنين کمسيون ددوى سره په جلا غونډو کي اوږدي خبري وکړي ٠

په دغه ارتباط څو ورځي وروسته د حکومت يو لوى هيأت د تقنين د کمسيون په يوي غونډي کي برخه واخسته ، چي په دغه هيأت کي صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر ، د پوهني وزير حميدالله عنايت سراج ، د عدليي وزير محمد انور ارغنديوال او د پوهنتون رئيس سيد عبدالقادر بها برخه درلوده ٠ د ولسي جرگي ډير وکيلان د مباحثاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوريدلو له پاره د تقنين په کمسيون کي حاضر وو ۰

د مجلس آجندا دا وه چي ((حکومت ولي د پوهنتون او عالي تحصيلاتو د پوهنځيو له پاره قانون نه جوړوي ؟))

په دغه مجلس کي صدر اعظم او دده ملګرو د ويلو ځه مطالب نه درلودل ۰ ولي د تقنين د کمسيون غړو هر يوه پر حکومت باندي کلك انتقادونه کول ۰ ځينو وکيلانو به ويل چي نژدي پنځه کاله کيږي چي په پوهنتون او نورو عالي پوهنځيو کي نا آرامي موجودي دي ، شاګردان د زده کړي پر ځای د اعتصاب په حالت کي دي او حکومت ددغي معضلي د حل په لار کي کوم مؤثر اقدام نه کوي۰ بل وکيل به ويل چي په دغي اوږدي مودي کي چي کومه مادي او معنوي خساره هيواد ته رسيدلي ده د دغو ټولو خسارو مسؤوليت د حکومت پر غاړي دې ۰ نورو وکيلانو استدلال کاوه چي هغه لوايح چي د حکومت له خوا د پوهنتون له پاره جوړي سوي دي ، دغه لوايح د ولسي جرګي په نظر قانوني حيثيت نه لري ۰

د حکومت لــه خوا يوازي د پوهني وزيــر ځو واره وکيلانو ته وويل ((د قانون جوړول يو مسلکي کار دې او هر څوك د قانون د جوړولو اهليت نه لري او نه ښايي چي هر څوك ، دده مقصد وکيلان وه ، پر قانون باندي نيوکي وکړي)) ده ويل ((د قانون جوړول د متخصصينو کاردې او هغه لوايح چي د پوهنتون له پاره جوړي سوي دي ، د حقوقدانانو په مشوره جوړ سوي دي ، او په دغو لوايحو کي هغه نواقص چي وکيلان ورته اشاره کوي ، موجود نه دي))

ما د پوهني د وزير د خبرو په هکله ، يوه تاريخي قصه وکړه ۰ ما وويل : يو وخت د ترکيي او يونان تر منځ يوه خونړي جګړه وسوه ، چي په دغي جګړي کي د ترکيي عسکرو ته ډير د سر تاوان ورسيد ۰ د ترکيي جنګي مقاماتو فيصله وکړه چي د ډاکټرانو يوه ډله دي د جنګ د محاذ مړي او ټپيان وګوري چي تر معايني وروسته به ډاکټران پر مړو باندي سور بيرغ او پر ټپيانو باندي به سپين بيرغ ودروي ۰ چي تر دوی وروسته به نور خلګ دغو ځايو تــه ورځي ، دوی بــه مړي اوبو تــه اچوي او ټپيان به روغتونونو ته انتقالوي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټرانو د معاینې په وخت کې یو ټیپي سړې ولید چې ډیره وینه یې ضایع کړې وه چې د ډاکټرانو په تصور ، تر هغو چې دا بله ډله خلګ راتلل ، دغه سړې حتما باید مړ سوی وای ، نو دوی پر دغه سړي باندې سور بیرغ ودراوه ٠ کله چې ډاکټران ولاړل دغه سړې پر دابل اړخ سو او وینه یې ودریده او روغ رمټ کښیناست ٠ کله چې دا بله ډله خلګ ده ته راورسیدل او سره بیرغ ته یې وکتل ، نو دوی اراده وکړه چې دې اوبو ته واچوي ټیپي سړي دوی ته وویل چې زه مړ نه یم او تاسي ولي ما اوبو ته اچوې دوی په جواب کې ده ته وویل چې ته ښه پوهیږې که ډاکټر ؟ ډاکټر وایي چې ته مړ یې دوی دډاکټرانو دسره بیرغ په استناد دغه ژوندې سړې اوبو ته واچوې . ما دا هم وویل چې د پوهنتون دغه لوایح د ډاکټرانو هغه سره بیرغ ته ورته دې چې پر پوهنتون باندې ، درول سوی دې .

د غونډې په پای کې حکومت او وکیلانو موافقه وکړه چې حکومت به ډیر ژر د پوهنتون له پاره د قانون یوه مسوده جوړه او ولسي جرګې ته به یې وړاندې کړي ٠ غونډه پر همدغه ځای پای ته ورسیده ٠

کله چې صدر اعظم د صدارت ما ڼې ته ورسید ، حکومت پر خپلې وعدې باندې پښیمانه سو ، او یو ساعت وروسته ډاکټر عبدالظاهر په خپله د تقنین کمسیون ته په تیلفون کې وویل ((د تقنین په کمسیون کې د فیصلې په وخت کې یوه غلط فهمي پیښه سوې ده ، او حکومت نه غواړي چې د پوهنتون او عالي تحصیلاتو د پوهنځیو له پاره د قانون مسوده جوړه کړي ٠ او که شورا غواړي چې دغه قانون جوړ سي ، نو په خپله شورا دې ددغه قانون مسوده جوړه کړي))

لکه چې حکومت وروسته متوجه سوې دې چې حکومت نه سي کولای چې د استادانو او شاګردانو ټولي غوښتني په دغه قانون کې ځای کړي ، نو په اوسنیو شرایطو کې د قانون جوړول بې ګټې کار دې ٠

بله ورځ د تقنین کمسیون غونډه وکړه او په دغې غونډې کې یې په دې مفهوم یو خبر تصویب کړ ((حکومت د پوهنتون او عالي تحصیلاتو د پوهنځیو له پاره د یوه قانون په جوړولو کې تعلل کوي او د پوهنتون د نا کراریو مسؤلیت د حکومت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه دی)) دا خبر د کابل راديو په وسيله خپور سوی دی ٠

١٧ ـ حکومت د وکيلانو په بدنامولو کي لاس درلود

د ١٩٦٤ کال د اساسي قانون له مخي د افغانستان دولت پر اجراييه ، مقننه او قضاييه قوو ، وويشل سو او د ديموکراسۍ دوري حکومتونه د صلاحيتونو په دغه تفکيك نه وو خوشحاله ٠ د حکومت وزيرانو به هميشه دا شکايت کاوه چي وکيلان ټوله ورځ پر وزارتونو گرزي او دوی د وکالت د نفوذ څخه ناوړه استفادي کوي ٠ ولي حکومت هيڅ وخت دا اعتراف و نه کړ چي وکيلان مجبور دي چي د خپلو مؤکلينو د کارونو د اجرا له پاره د حکومت اداراتو ته مراجعه وکړي او حکومت ته په کار و چي ددغي معضلي د حل له پاره يوه آبرمنده لاره پيدا کړي وای٠

د ١٩٦٤ کال د اساسي قانو ن مطابق د افغانستان شورا ته لاندي صلاحيتونه ورکړه سوي وو :

- د شورا غړي د افغانستان د لوي جرگي غړي هم دي
- ولسي جرگه حکومت ته د اعتماد رايه ورکوي
- ولسي جرگه د حکومت څخه د اعتماد سلب کولای سي
- ولسي جرگه د حکومت څخه د استيضاح او استجواب حق لري
- د دولت بودجه د شورا له خوا تصويبيږي ٠
- د بين الملل معاهداتو تصديق د ولسي جرگي په واك کي دی ٠
- د دولت د پورونو منظوري د ولسي جرگي په صلاحيت کي دي ٠
- د پيسو نشر د ولسي جرگي په صلاحيت کي دی ٠
- د حکومت د اعمالو تحقيق د ولسي جرگي له خوا کيږي ٠
- خارج ته د افغاني اردو استول د شورا په واك کي دي ٠

پورته صلاحيتونه دا په اثبات رسوي چي شورا د دولت يو مهم رکن و او بايد د شورا غړو ته په درنه سترگه کتل شوي وای ٠

د ١٩٦٤ کال د اساسي قانون د حکم پر اسا س د افغانستان دولتي چاري په کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

كي متمركزي وي ۰ وكيلان او دكليو نور خلگ مجبور وو چي د خپلو كارونو د اجرا كولو له پاره وزارتونو او ستري محكمي ته مراجعه وكړي ۰

زه چي د فراه د ولايت اوسيدونكې وم او په كابل كي مي ماموريت درلود ، ما ته هم تر وكالت دمخه د فراه ډيرو خلگو د خپلو مشكلاتو د حل له پاره مراجعه كوله ، او زه به مجبور وم چي د حكومت يا ستري محكمي اداراتو تــه ورسم او د هر كاتب ميز ته ودريږم ۰

وكيلانو په كابل كي د اوسيدلو ځايونه نه درلودل ، دوی د وكالت په ټولي دوري كي د يوه كوره څخه بل كور ته په كډه كي وو ، چي كله كله به حكومت هم ددوی په پيدا كولو كي په مشكلاتو اخته و ۰

ولسي جرگي په هر كال كي دوي عادي غونډې درلودي چي لومړي غونډه صرف ددوو مياشتو له پاره او دوهمه غونډه د پنځو مياشتو له پاره وه ۰ چي د كابل په ښار كي هيچا وكيلانو ته د دوو مياشتو له پاره كور په كرايه نه وركاوه ۰ ځرنگه چي اكثرو وكيلانو په كابل كي مجرد ژوند كاوه ، نو د كابل په ډيرو سيمو كي به مجردو وكيلانو ته چا خپل كورونه په كرايه نه وركول ۰ چي ډير وكيلان به د شورا لومړي غونډې ته چي د دوو مياشتو له پاره وو نه حاضريدل ، او په دغه وجه به د ولسي جرگي غونډې نصاب نه پوره كيدی .

د وكيلانو د استوگني د ځای په هكله ما ته د يوه ايراني ځوان د ژوند ماجرا را په ياد سوه ، چي په ۱۹۷۵ كال كي د ايران په مطبوعاتو كي خپره سوي وه ((يو ايراني ځوان تر تحصيلاتو وروسته په يوي اداري كي مامور سو، دی د يوه كرايي كور په لټه كي سو ۰ ده چي به هر كرايي كور ته مراجعه كوله دده څخه به پوښتنه كيده چي متأهل يي كه مجرد ؟ ده به په جواب كي ويل چي مجرد يم . نو د كور خاوند به ده ته ويل چي موږ مجرد سړي ته كور په كرايه نه وركوو ۰ وروسته دغه مامور د يوه فاميل څخه ددوی د لور د وصلت غوښتنه وكړه۰ دغه فاميل دده څخه پوښتنه وكړه چي كور لري او كه يه ؟ ده په جواب كي وويل چي كور نه لرم ۰ دغه فاميل ده ته وويل چي موږ خپله لور بي كوره سړي ته نه وركو)) چي د ولسي جرگي وكيلان هم مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوي وو چي د کورونو د کرايه کولو له پاره په کابل کي ودونه وکړي ٠

زموږ په همسايه هيواد پاکستان کي د ملي اسامبلي د غړو له پاره په اسلام آباد کي خاېونه جوړ سوي وو ، چي هر وکيل ته به يوه وداني ورکول کيده او دهغي وداني کرايه به د هغه وکيل د معاش څخه وضع کيدل ٠ په ۱۹۹۸ کال کي د پاکستان د صدر اعظم له خوا ۳٦۲ لوکسي ويلاگاني په اسلام آباد کي پرانستلي سوي ، چي دغه خاېونه د پاکستان د پارلمان د غړو له پاره جوړ سوي وو چي پر دغو ويلاگانو بـانـدي نژدي ۱٤ مليونه دالره مصرف شوي وو (۲۹)

ما په يوه صحبت کي صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر ته وويل چي حکومت د وکيلانو د حيثيت په ساتلو کي خپله وظيفه سر ته نه ده رسولي ٠ او دغه د قوم مشران د خپل مؤکلينو د کارونو د اجرا کولو له پاره مجبور دي چي د هر کاتب ميز ته ودريږ ي او حکومت د وکيلانو دغه سپك عمل ته زمينه برابره کړي ده ٠ صدر اعظم زما څخه ددغي معضلي د حل دلاري پوښتنه وکړه ، ما ده ته وويل چي حکومت کولای سي چي خپل پارلماني رياست د شورا څنگ ته انتقال کړي او د وکيلانو څخه غوښتنه وکړي چي خپل عرايض ، پارلماني رياست ته و سپاري ٠ او صدر اعظم بايد خپلو وزيرانو ته امر وکړي چي د وکيلانو قانوني عرايض ډير ژر اجرا کړي ، او ټول وکيلان به د حکومت احکام به د پارلماني رياست له لاري څخه لاس ته وروړي ٠ په دغه صورت کي به د وکيلانو حيثيت وساتل سي ٠ ما په ټـوکـه صدر اعظم ته دا هم وويل چي حکومت ته به هم د هر وکيل د عرايضو شمير معلوم سي او هر وکيل چي حکومت ته ډيري عريضي وړاندي کوي ، هغه وکيل به مجبور وي چي په ولسي جرگي کي د حکومت کلك ملاتړ وکړي ٠

صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر په دغي مشوري ډير خوشحاله سو ، دده په هدايت د شورا په څنگ کي د پارلماني رياست له پاره د يوه تعمير نقشه جوړه سوه ، چي متأسفانه د ډاکټر عبدالظاهر حکومت د وچ کالي او د هيواد والو د لوږي سره د مقابلي په کار اخته سو او دده د صدارت په وخت کي پارلماني رياست ، شورا ته انتقال نه سو ٠ چي تر ده وروسته صدر اعظم محمد مو سي شفيق پارلماني رياست د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شورا ځنګ ته د تجارت د وزارت ماڼي ته انتقال کړ او ده شخصا د پارلماني رياست دنده پر غاړي واخسته ۰ که د محمد موسي شفيق د صدارت دوري ادامه پيدا کړي وای ، ددي امکان موجود و چي په څوارلسمي تقنيني دوري کي به د وکيلانو حيثيت خوندي سا تل سوی وای ۰ ولي د ديارلسمي تقنيني دوري په پای کي محمد داود خان کودتا وکړه او د محمد موسي شفيق حکومت له منځه ولار ۰

څه په کار به د چا هغسي شورا وي

چي د ږيري واك يي لاس کي د ملا وي (۳۰)

۱۸ ـ وکيلانو ته د حج سهميي

افغاني ليکوالانو صباح الدين کشککي او عبدالحميد مبارز په خپلو آثارو کي ليکلي دي ((وکيلانــو حتي د حاجيانــو سهميي هم په بازار کــي خرڅي کړي وي)) ددغه مطلب د روښانه کولو له پاره بايد وليکل سي چي په ۱۹۷۱ کال کي د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت په وخت کي ، کله چي زه د خارج د سفر څخه ولسي جرګي ته ورغلم ، د ولسي جرګي په دهليز کي د زابل د ولايت د کلات وکيل عبدالعزيز ما ته وويل چي د يوه حاجي د پاسپورت امر راکړه ۰ څرنګه چي زه دده په غوښتنه پوه نه سوم نو ما ده ته جواب هم ور نه کړ ۰ وروسته يوه وکيل د تقنين په کمسيون کي دغه موضوع ما ته داسي تشريح کړه : ده وويل چي صدر اعظم هر وکيل ته صلاحيت ورکړي دی چي پنځلس حاجيان د مځکي له لاري څخه حج ته وليږي ۰ چي بيله (جي سنګه) څخه نورو ټولو وکيلانو ته دا واك ورکړه سوی دی ۰ ما په هغي لحظي کي د پارلماني رئيس محمد ياسين نسيمي څخه په تيلفون کي پوښتنه وکړه چي ، زما په نامه خوبه چا کوم سړي حج ته نه وي استولي ، ده زما په جواب کي وويل چي تر اوسه دا کار نه دی سوی ۰ وروسته ما په تيلفون کي صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر ته وويل چي تاسي ولي هغو وکيلانو ته چي تاسي ته يي مراجعه نه وي کړي د حج سهميه ورکړي ده ؟ صدراعظم زما په جواب کي وويل چي ډيرو وکيلانو د حج د سفر د امر اخستلو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره حکومت ته مراجعه کوله او حکومت د عدالت د تامین له پاره ټولو وکیلانو ته مساوي حــق قایل سو ، چـــي په دغــه اقدام سره حکومت د وکیلانـو د نوري مراجعي څخه ځان خلاص کــړ ۰

ما د صدر اعظم څخه غوښتنه وکړه چي که دې شخصا د فراه والي محمد عالم نوابي ته هدایت ورکړي چــي زمــا د سهمیي پــه نــامه د بالابلوك د ولسوالۍ خلگ ور وغواړي او د پچي پر اساس پنځلس کسان د حج د سفر له پاره وټاکي ۰ صدر اعظم زما غوښتنه و منله او سمدلاسه یي د فراه والي ته هدایت ورکړ چي د بالابلوك د اوسیدونکو څخه پنځلس کسان د حج د سفر له پاره وټاکي او د فراه والي پنځلسو کسانو ته د پچي پر اساس د حج د سفر اجازه ورکړه ۰

د پورته جریان د لیکلو څخه زما هدف دادې چي د حاجیانو د سهمي په برخه کي تر وکیلانو د حکومت مسؤولیت ډیر دی ۰

حکومت ته به ښایي ډیرو هغو وکیلانو مراجعه کړي وي چي د خپلو فامیلونو او دوستانو سره د بیت الله شریف د سفر عزم یي کړی و ، او حکومت باید دغو وکیلانو ته د حج د سفر زمینه برابره کړي وای ۰ ولي حکومت دمځکي له لاري څخه د دوو زرو حاجیانو د مسافرت اجازه دوه سوه وکیلانو ته ورکړه ، چي که وکیلانو د حج دغه سهمیه په بازار کي خرڅه کړي هم نه وي ولي دوی به حج ته حتما خپل دوستان استولي وي ۰ چي زما په نظر دغه هم یوه بي عدالتي ده ۰ په دي چي د حج سهمیه د افغانستان د ټولو هغو کسانو حق دې ، چي د حج د تلو اراده یي کړي وي ، او حکومت باید د حاجیانو دتعیین حق وکیلانو ته نه وای ورکړې .

داو د حج د سهمي جریان چي په پورته تفصل و ړاندي سو ۰

۱۹ ـ د ژبو موضوع پر ولسي جرگي تحمیل سوه

په ۱۹۷۱کال کي د دولت د ملکي مامورینو قانون د تقنین په کمسیون کي تصویب سو ، او د ولسي جرگي عمومي مجلس ته وړاندي سو ۰ په عمومي مجلس کي ځینو وکیلانو د استخدام د مادي پر شرایطو باندي یو بل شرط په دي مفهوم پیشنهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ (ځوك چي ددولت د مامور په حيث استخداميږي بايد په پښتو او دري ژبو وپوهيږي) ځرنگه چي دغه پيشنهاد د پښتنو وکيلانو له خوا وړاندي سوې و نو په هيواد کي يي د پښتو ژبي د پيشنهاد په نامه شهرت پيدا کړی و ۰

ما اوريدلي دي چي دغه پيشنهاد د حکومت د يوه مهم غړي په لارښوونه د دولسمي او ديارلسمي تقنيني دورو د څلورو وکيلانو له خواجوړ سوی و او د غزني د ولايت د وازي خوا د وکيل بهأ الحق خان له خوا د ولسي جرگي دارالانشأ ته وړاندي سو ۰ دغه پيشنهاد دوو هدفونو له پاره وړاندي سوې و :

ـ دوی په دغه پيشنها د سره د ولسي جرگي پښتانه وکيلان د خانه ځخه خوشحاله کول ۰

ـ دوی په دي ښه پوهيدل چي دري ژبي وکيلان به ددغه پيشنهاد سره کلك مخالفت وکړي او د ډاکټر عبدالظاهر کم وا کي حکومت به د هغه علاج نه سوای کولای نو په نتيجه کي به د ډاکټر عبدالظاهر حکومت استعفا کولو ته مجبور سي ۰

دغه پيشنهاد په ډيرو ماهرانه او په انعطاف پذيرو کلماتو ليکل سوې و لکه (۰۰۰ بايد په پښتو او دري ژبو و پوهيږي) چي د پوهيدلو معيار معلوم نه و . او دي پيشنهاد تفسير ته ضرورت درلود ۰ دا راز يوه جمله د اساسي قانون په ٤٦ مي مادي کي د وکالت د کانديدانو د سواد په هکله هم درج سوی ده چي د انتخاباتو په وخت کي ، ستري محکمي د يوي استهدا په جواب کي دغه ماده تفسير کړه او د وکالت د کانديدانو خصوصي زده کړه يي د وکالت له پاره کافي بللي وه ۰

د ولسي جرگي دطرزالعمل مطابق که د يوه پيشنهاد فوريت د لسو وکيلانو له خوا غوښتل سوی وي ، هغه پيشنهاد د ولسي جرگي د دارالانشأ له خوا فورا په مجلس کي لوستل کيږي ۰ او که د مجلس اکثرو غړو د پيشنهاد طرحه تاييد کړي ، نو هغه پيشنهاد په مجلس کي سمدلاسه تر بحث لاندي راځي ۰

ددغه پيشنهاد طرحه د ولسي جرگي د اکثر غړو له خوا تاييد سوه او دا پيشنهاد تر فوري بحث لاندي ونيول سو۰ په دغه ورځ د پيشنهاد موافقو او مخالفو وکيلانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهاد پر موضوع باندي ډیر سالم بحث وکړ ۰ پښتنو وکیلانو به ویل چي دغه پیشنهاد عادلانه دی په دي چي دد غه پیشنهاد پر اساس پښتانه هم مکلف سوي دي چي دري ژبه زده کړي ۰ ولي دري ژبو وکیلانو به ویل چي دري ژبه د ډیري پخوا زماني څخه په افغانستان کي ددولت د اداراتو مروجه ژبه ده او ډیرو پښتنو هم دغه ژبه زده کړي ده ، ولي پښتو ژبه په هیواد کي نه ده تعمیم سوي او اوس د افغانستان ډیرو خلگو پښتو ژبه نه ده زده چي ددغه پیشنهاد په فوري تطبیق سره د افغانستان ډیر خلگ ددولت د ماموریت څخه محرومه کیږي ، چي دا یو تبعیضي عمل دی او باید ددغه پیشنهاد د فوري تطبیق مخه ونیوله سي ۰

د پیشنهاد په دوهمه ورځ دري ژبي وکیلان دولسي جرگي تالار ته را نه غله او د انتظار په خونه کي کښینستل ۰په دغه ورځ ولسي جرگه عملآ دوه خایه سوه ، چي نژدي سل وکیلان به د ولسي جرگي په تالار کي ناست وو ، او نژدي اویا وکیلان به د انتظار په خوني کي کښینستل ، چي دغه بلا تکلیفي دڅو میاشتو له پاره ادامه در لوده

د ولسي جرگي دروو غړو سید ظاهر شاه ، عبدالاحد کرزي او ببرک کارمل د مصلحینو په نامه د دواړو ډلو وکیلانو تر منځ تگ او راتگ پیل کړ ۰ ددوی څخه یو تن چي به هر وار د ولسي جرگي تالار ته راتي ، نو ده به ما او څو نورو وکیلانو ته ویل چي تاسي د ولسي جرگي په ټولو مسایلو کي مداخله کوی او په دغي موضوع کي چي ولسي جرگه یي دوه خایه کړي ده تاسي ولي بي غرضه ناست یاست ؟ ما ده ته په جواب کي وویل چي په افغانستان کي د ژبو مسأله ډیره حساسه ده ، چي په دغي مسألي کي باید هیڅوک بي خایه گوتي و نه وهي۰ موږ منتظر یو چي گوندي د افغانستان پاچا دغي حساسي مسألي ته ډیر ژر متوجه سي او په ولسي جرگي کي دغه بل شوي اور ژر مړ کړي ۰

څو ورخي وروسته د مصلحینو ډلي یوه نیمگړي فیصله وکړه چي ددوی فیصله سید ظاهر شاه د ولسي جرگي په تالار کي ولوسته۰ چي ددغي فیصلي پر اساس لس وکیلان د تالار څخه او لس وکیلان د انتظار خاني څخه ټاکل سوي وو ، چي دغه شل وکیلان باید سره کښیني او دغي معضلي ته د حل یوه لاره پیدا کړي ۰ چي زه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالار د وکیلانو څخه ټاکل سوی وم ۰ کله چي ددواړو خواوو نمایندګان سره یو ځای سول او په خبرو یي پیل وکړ ۰ د پیشنهاد مخالفو نمایندګانو چي به هر یوه خبري کولي دوی پر اصلي پرابلم نه ږغیدل او دوی به هر یوه د پښتو پر کورسونو انتقادونه کول دوی به د پښتو معلمان غندل ، او د هر یوه وروستۍ خبره به داوه چي ، پښتانه وکیلان باید خپل پیشنهاد بیرته واخلي ۰ دوی به دا هم ویل چي تر هغو پوري چي دغه پیشنهاد د ولسي جرګي په آجندا کي موجود وي ، دوی د ولسي جرګي عمومي مجلس ته نه حاضریږي ۰

د تالار د وکیلانو نمایندګانو به هر یوه په خپل وار سره دوی ته ویل چي ددغه پیشنهاد موضوع په احتیجاج یا په اعتصاب سره نه حل کیږي ، قانوني لاره داده چي ټول وکیلان د ولسي جرګي په تالار کي حاضر سي او پر دغي موضوع باندي جدي بحث وسي تر څو چي دغي معضلي ته د حل یوه لاره پیدا سي ۰ ددوی په جواب کي به مخالفو وکیلانو خپلي پخواني خبري ، د پښتو پر کورسونو باندي انتقاد ، د پښتو معلمان غندل او دا چي پښتانه دي خپل پیشنهاد بیرته واخلي تکرارول ۰

په پا ي کي ما دوی ته وویل چي وړونو ! دغه لس وکیلان چي د تالار څخه دلته راغلي دي ، دوې ټولو دغه پیشنهاد نه دې امضا کړې ۰ او موږ د پښتو ژبي د تعمیم له پاره دغه پیشنهاد یوه سمه لاره هم نه بولو۰ موږ ټوله د تقنین د کمسیون غړي یو ۰ که موږ د پښتو ژبي د تعمیم له پاره دغه لاره مفیده بللي وای ، موږ به د پیشنهاد موضوع د قانون په متن کي داخله کړي وای چي په هغه صورت کي به دغه پیشنهاد ته ضرورت هم نه وای پیدا سوې ۰ زموږ په نظر د پښتو ژبه باید د پوهنې د وزارت له خوا په هیواد کي تعمیم سي ، چي ددغي لاري څخه به ټول هیوادوال په پښتو اودري ژبو وپوهیږي ۰ ما دوی ته دا هم وویل چي ستاسي دا خبره چي پښتانه دي خپل پیشنهاد بیرته واخلي ، زه هیله من یم چي دا خبره بلوار تکرار نه کړې ۰ په دې چي دا دیوه اکثریت پیشنهاد دې او تاسي صرف د هغه د تعدیل غوښتنه کولای سې ، چي زما په عقیده ښه لاره یي دا ده چي تاسي ټول وکیلان د ولسي جرګي تالار ته راسې او هلته دغـه پیشنهاد و منـې او د پیشنهاد پـر دغي فقري بـاندي داسـي یوه تبصره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیکــې ((دغه فقره لس کاله وروسته د تطبیق وړ ده چي په دغي لس کلني مودي کي به د افغانستان دولت د اساسي قانون د ۳۵ مي مادي د حکم مطابق ، د پښتو ژبي د انکشاف او تقویي له پاره به مؤثر اقدامات کړي وي او پښتو ژبه به په هیواد کي تعمیم سوي وي او ددغي لاري څخه به هیوادوال نوري ستونزي و نه لري))

متأسفانه چي د پیشنهاد مخالفو وکیلانو زموږ خبري و نه منلي او موږ بیرته د ولسي جرگي تالار ته ورغلو. زموږ د مذاکراتو نتایج عزیزالله واصفي د تالار وکیلانو ته ووایه . د نتایجو په اوریدلو سره د تالار وکیلان ډیر هیجاني سول او ډیرو وکیلانو غوښتل چي د مخالفو وکیلانو سره تصادم وکړي . د تالار دغو لسو نمایندگانو د ولسي جرگي د تالار د وتلو لاري و تړلي او د وکیلانو د دغه احساساتي عمل مخه یي و نیوله . په پای کي د حصارك وکیل حاجي عبدالوهاب مگرفون ته نژدي سو او د وکیلانــو څخه یــي د آرامیدلو غوښتنه وکــړه . ده د تــالار لســو نمایندگانو تــه وویـل ((که تاسي دي ته حاضر یاست چي د تالار د وکیلانو د رهبرۍ د کمیټي په حیث ، ددغي معضلي د حل له پاره جدي اقدام کوی ، نو د تالار وکیلان به ستاسي خبره ومني او د معضلي حل به ناسي ته پریږدي ، او که تاسي تر دي وروسته خپله وظیفه ختمه بولې او دخیر پر غونډي کښیني ، نو لطفا زموږ په کارو کي مداخله مه کوې او زموږ د مخه څخه لیري سې او د تالار وکیلان پریږدې چي دغه موضوع په خپله طریقه حل کړي)) لسو نماینده گانو د تالار د وکیلانو دا خبره چي د معضلي حل ته به یوه لاره پیدا کړي ، و منله او غونډه پر دغه ځای پای ته ورسیده .

د تالار د وکیلانو نمایندگان عبدالرؤف بینوا ، عزیزالله واصفي ، محمد اسحق عثمان ، عبدالحمید زهري ، یارمحمد دلیلي ، عبدالکریم عمرخیل ، عبدالغفارفراهي او دري نور وکیلان وو چي نومونه یي اوس زما په یاد نه دي .

په لومړي مرحلي کي لسوو نمایندگانو تصمیم و نیوه چي باید پښتانه غیر حاضر وکیلان ولسي جرگي ته حاضر کړي . ددغه کار د اجرا کولو له پاره شپږ گروپه وکیلان و ټاکل سول چي د افغانستان ولایتونو ته سفر وکړي . دوی په ډیر لږ وخت کي نژدي ځلویښت وکیلان ولسي جرگي ته حاضر کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي جرگي د طرزالعمل مطابق د ولسي جرگي تصا میم د وکیلانو په دوه ثلثه آراوو نیول کیږي ، د ولسي جرگي د غړو شمیر (۲۱۶) وکیلان دي ، چي د دغه تعداد وکیلانو څخه د (۱٤٤) وکیلانو په حاضریدلو سره د ولسي جرگي د غونډو نصاب پوره کیږي او ولسي جرگه د تصمیم نیولو حق پیدا کوي ، څرنګه چي د دیارلسمي تقنیني دوري وکیلان ، د ژبي پر اساس وشمیرل سوه ، په دغي دوري کي ولسي جرگي ته تر ١٤٤ ډ یر پښتانه وکیلان انتخاب سوي وو ۰ د دغي دوري د ټولو وکیلانو نومونه ددغه کتاب په ضمیمه پاڼو کي لوستلای سئ ۰

څو واره د ولسي جرگي په عمومي مجلس کي د وکیلانو شمیر ۱۳۸ وکیلانو ته ورسید ، او تر دغه تعداد اضافه وکیلان د ولسي جرگي په تالار کي نه کښینستل ۰ دولت او حکومت په دغه وخت کي سکوت اختیار کړي وو ۰ دوی د تالار وکیلان هم دي ته نه پریښودل چي خپل نصاب تکمیل کړي او دغه موضوع یکجانبه په تصویب ورسوي ۰ په ولسي جرگي کي هغه وکیلان چي ددولت مشاورین وو ، دوی به همیشه په تالار کي د وکیلانو شمیر ته متوجه وو ، او دوی به د ولسي جرگي مجلس نصاب پوره کولو ته نه پریښودې ۰ د مثال په توگه : هر وخت چي به د ولسي جرگي په تالار کي د وکیلانو شمیر نصاب نیولو یعني ١٤٤ ته نژدي کیدې ، په دغه حساس وخت کي به چي هر وکیل د ولسي جرگي تالار ته داخلیدې ، نو په مقابل کي به یو یا دوه وکیلان بیرته د تالار څخه وتل ۰ ددولت مشاورینو به د مختلفو تکتیکونو څخه استفاده کوله ۰ دوی به ځیني وکیلان په دي بهانه چي تیلفون ته دي غواړي او یا د باندي د یوه سړي په کار یي ، او داسي نورو چلونو ځیني وکیلان د تالاره څخه ایستل او د مجلس نصاب به نه پوره کیدې ۰

د تالار وکیلانو به هره پنجشنبه د یوه ولایت د وکیلانو په میلمستیا کي برخه اخسته او هلته به لس کسیزه هیأت خپل د اجراآتو راپور دوی ته وړاندي کاوه ۰ دغه هیأت د مشوري اخستلو له پاره د ځینو مشرانو سره چي اروابناد محمد هاشم میوندوال هم په دغي ډلي کي و ، د پغمان د کشکك په بڼ کي چي د محمد اسحق عثمان ملکیت و ، یوه غونډه وکړه ۰ ددغي غونډي تفصیل د روزگار په جریدي کي خپور شوی دی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل په ملي جرايدو کي د پښتنو او دري ژبو له خوا نشرات کيدل ، چي وروسته تر دي د ژبو مسأله يوازي په ولسي جرگي پوري منحصره نه وه ، بلکه دا موضوع په ټول هيواد کي خپره سوه او د افغاني جامعي ټول قومونه يي و ښورول ولي د پيشنهاد مخالفينو به د افکار نو په جريدي کي چي د امتياز خاوند يي نورالله نورزاد او مسؤول مدير يي ضيأ حيدري و ، د پښتنو پر ضد ډير زهرجن مطالب نشر ته سپارل. دپښتنو له خوا په افغان ، روزگار او کاروان په جرايدو کي خيني مطالب نشريدل . پښتنو وکيلانو په خپلو نشراتو کي د افغانستان هيڅ قوم ته بد نسبت نه دي کړي ، بلکه دوی يوازي د افغانستان ددولت هغه فرمانونه او احکام چي د پښتو ژبي د تعميم او تقويي په هکله په مختلفو دوروو کي مخصوصا د سردار محمد نعيم خان د پوهني د وزارت په وخت کي صادر سوي وو ، نشر ته سپارل . چي دغه ټول مطالب داروانښاد عبدالرؤف بينوا له خوا تهيه کيدل.

لس کسيز هيأت د مارشال شاه ولي خان کور ته ددي له پاره ورغلي وو چي دده څخه ددغي معضلي د حل په لاري کي مرسته و غواړي . مارشال صاحب په دغي موضوع کي خپله بي طرفي و ښودله او هيأت ته يي توصيه وکړه چي دده د زوی سردار عبدالولي سره ووينيء هيأت د سردار عبدالولي کور ته هم ورغئ ، په دغو دواړو مجلسونو کي د پاچا سرياور جنرال محمد عمر خان هم حاضر و.وکيلانو سردار عبدالولي ته د ژبو معضله تشريح کړه ولي ده د وکيلانو په جواب کي هيڅ و نه ويل . ما سردار عبدالولي ته د اساسي قانون ۳۵ مه ماده ولوسته چي په دغي مادي کي د افغانستان دولت مکلف سوئ دئ چي د پښتو ژبي د انکشاف او تقويي له پاره لازم اقدامات وکړي . زما په گمان چي سردار عبدالولي په خپل کور يا دفتر کي اساسي قانون نه درلود ، ده په هغه ورځ د پاچا سرياور جنرال محمد عمر خان ته وويل چي ده ته يو اساسي قانون پيدا کړي ، چي ما خپل اساسي قانون ده ته ورکړ .

څه موده وروسته د پښتنو وکيلانو يوه ليکنه (د وکيلانو قانوني موقف) تر عنوان لاندي و په افغان جريدي کي چاپ سوه . ولي حکومت د اساسي قانون د ۳۱ مادي د حکم پر خلاف د جريدي دغه گڼه په دولتي مطبعي کي قيد کړه . د افغان د جريدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلونکي محمد حسن ولسمل د حکومت ددغه اقدام اطلاع ولسي جرگي ته ورکړه۰ د ولسي جرگي د تالار وکيلان د حکومت په دغه عمل ډير خوابدي سوه او ټول وکيلان صدارت ته ورغله۰ صدر اعظم خپله کابينه په لږ وخت کي حاضره کړه او يوازي د صدارت مرستيال ډاکټر عدالصمد حامد او دخارجه چارو وزير محمد موسي شفيق په نامعلوم علت په صدارت کي د وکيلانو ليدلو ته حاضر نه سول ۰

په سر کي صدر اعظم ډاکټر عبدالظاهر چي په تيري دوري کي د ولسي جرگي رئيس و او د حاضرو ډيرو وکيلانو سره يي پيژندل ، ده د وکيلانو د حساسيت د کمولو له پاره د خينو وکيلانو سره ټوکي کولي ۰ په هغي لحظي کي عبدالرؤف بينوا وکيلان مخاطب کړه او وي ويل ((هلته د پښتو جنازه اخسته کيږي او دلته تاسي خاندئ)) چي د عبدالؤف بينوا تر دغه اعتراض وروسته وکيلان بيرته ډير جدي سوه۰

په دغه ورځ د صدارت په ماڼي کي نژدي (۱۱۰)وکيلان حاضر سوي وو او د دوی په نماينده گۍ عزيزالله واصفي حکومت ته وويل چي حاضرو وکيلانو ستاسي حکومت ته د اعتماد رايه درکړي وه او په ولسي جرگي کي يي ستاسي د حکومت سره مرسته کوله ، ولي ستاسي حکومت ددوی يوه قانوني ليکنه په دولتي مطبعي کي قيد کړي ده په دغه اساس دوی فيصله کړي ده چي خپل د اعتماد رايه ستاسي د حکومت څخه بيرته واخلي ، په هغي لحظي کي ټولو وکيلانو د نه اعتماد لاسونه پورته کړه ۰

د وکيلانو تر دغه تصميم وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزير محمد ابراهم عباسي او خينو وکيلانو پر انجام شوي مسألي باندي خبري پيل کړي ۰ په دغه وخت کي ما وکيلانو ته وويل چي د وکيلانو فيصله د حکومت په اطلاع ورسيده ، پر دغي موضوع باندي نور بحث نه سي کيدلای او وکيلان بايد د صدارت د ماڼي څخه ووزي۰ غونډه پر هغه ځای پای ته ورسيده او وکيلان بيرته ولسي جرگي ته ولاړه ۰

د وکيلانو ددغه اقدام په نتيجه کي څو مياشتي وروسته د ډاکټر عبدالظاهر حکومت مستعفي سو او دده پر ځای محمد موسي شفيق صدر اعظم سو ۰ او د محمد موسي شفيق د حکومت په وخت کي د ژبو موضوع داسي حل سوه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمد موسي شفيق حکومت اراده کړي وه چي د ايران د حکومت سره د هلمند د اوبو معاهده لاس ليك کړي ٠ او دغه معاهده بايد په ولسي جرگي کي په تصويب ورسيږي ٠ د ولسي جرگي د طرزالعمل پر اساس ددي له پاره چي د هلمند د اوبو معاهده د ولسي جرگي د مجلس په آجندا کي داخله کړه سي ، بايد د ولسي جرگي په عمومي مجلس کي دوه واره رايه واخسته سي ٠ چي د اول وار له پاره بايد د ژبو مسأله چي د مجلس په آجندا کي پرته ده ، د وکيلانو د اکثريت رايو په وسيله د غونډي دآجندا څخه وه ايستله سي ٠ او په دوهمي رايو اخستلو کي د هلمند د اوبو معاهده د مجلس په آجندا کي ونيول سي٠ په دغه هکله د تالار د لس کسيز هيأت خينو غړو پاچا ته اطلاع ورکړه چي پښتانه وکيلان دي ته حاضر نه دي چي د پښتو ژبي پيشنهاد د هلمند د اوبو د معاهدي له پاره د مجلس د آجندا څخه و باسي ٠ او که پاچا پر دوی باندي فشار راوړي ، ډير پښتانه وکيلان به د ولسي جرگي د عضويت څخه استعفا وکړي ، چي په هغه صورت کي به د هلمند د اوبو معاهده هم په ولسي جرگي کي په تصويب و نه رسيږي ٠ پاچا او صدراعظم دواړو د ژبو د پيشنهاد مخالفو وکيلانو ته سپارښتنه وکړه چي د ولسي جرگي عمومي غونډي ته حاضر سي . دوی تر شيړو مياشتو اعتصاب وروسته عمومي غونډي ته حاضر سوه او د غونډي منشي سيد مبين شاه امير د ژبو پيشنهاد د دوهم وار له پاره ولوست او دغه پيشنهاد د رايو په اتفاق په تصويب ورسيدې . مهمه خبره داده ، که پورته لاربښودنه شپږ مياشتي پخوا د پيشنهاد مخالفو وکيلانو ته د پاچا او صدر اعظم له خوا سوي وای او دوی د عمومي غونډي څخه نه وای وتلي نو دغه ملي نفاق به په هيواد کي نه وای پيدا سوې . داسي ښکاري چي د ژبـو د پيشنهاد د مخالفـو وکيلانـو رهبري د افغانستان د دولت په لاس کـي وه چـي (دولت په خپله کرل او هم په خپله يي ريبل) اما په افغاني ټولني کي ولسي جرگه په دغه کار غندل کيدله . ډيرو هيواد والو ته به دا سوال پيدا سي چي ولي يوي ډلي وکيلانو د ژبي د پيشنهاد سره مخالفت کاوه او بيا ولي دغه پيشنهاد د ولسي جرگي د ټولو غړو له خوا و منل سو ؟ زما په گمان د پورته پوښتني ښه جواب به دا وي چي دغه پيشنهاد يوازي يوه قانوني حيله وه چي د ډاکټر عبدالظاهر د مستعفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيدلو له پاره طرحه شوی و ، او کله چي دوی خپل دغه هدف ته ورسيدل نو بيايي شايد د پيشنهاد مخالف وکيلان په دي خبره قانع کړي وي چي ستره محکمه به دغه پيشنهاد تفسير کړي او د پښتو او دري ژبو د پوهيدلو معيار به د ۱۲ صنف شهادتنامه کافي و بلل سي ، چي د ۱۲ صنف شهادتنامه د يوه مامور د استخدام د شرايطو څخه هم وه . که پورته گمان حقيقت ولري نو دا به د حکومت د نوي کانديد له پاره مناسب کار نه وي چي په داسي حيلو چي د ملي نفاق په قيمت تماميدی ، برحاله حکومت استعفا کولو ته مجبور کړي .

د ملکي مامورينو قانون په ولسي جرگي او مشرانو جرگي کي تصويب سو او د افغانستان پاچا هم توشيح کړی دی .

۲۰ ـ د وچ کالي په وخت کي ولسي جرگي نصاب نه درلود

په ۱۹۷۱ او ۱۹۷۲ کلونو کي چې د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت دوره وه په افغانستان کي يوه بي ساري تباه کونکي لوږه او وچ کالي راغلي وه چي په دغو کلونو کي واوره او باران لږ اوريدلي و . په نتيجه کي د غنمو او نورو خوراکي موادو د حاصلاتو مقدار په ډيره پيمانه لږ سوی و ، او د افغانستان د لويديز او مرکزي ولايتونو ډير خلگ د لوږي څخه مړه سول او د غور ، بادغيس او د هرات خينو خلگو د افغانستان نورو سيمو ته کډه وکړه او ددغو سيمو خينو خلگو خپل اولادونه خرڅ کړه ، او په دغو کلونو کي په ټول هيواد کي ډير څاروي تلف سوه . چي دډيرو هيوادوالو په عقيده ، دغه ملي فاجعه د حکومت د نارسايي څخه پيښه سوی وه.

په ولسي جرگي کي د هرات د ښار وکيل اروابناد محمد شاه رحمتيان ، د ولسي جرگي ډير وکيلان د زرنگار په پارک کي د حکومت پر ضد د يوي مظاهري له پاره وهڅول . چي د وکيلانو دغه مظاهره د ۲ ۷ ۹ ۱ کال د اپريل په مياشتي کي کيده . چي د وکيلانو ددغي مظاهري وخت د کابل په پوهنتون او د حکومت په ډيرو اداراتو کي د خلگو په اطلاع رسول سوي و . او پر ټاکلي وخت ډير خـلـگ د زرنگار پـه پارک کي را ټول سوي وو . په ورستيو لحظو کي وکيلانو خپل تصميم واړاوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظاهري پر ځای ، دوی د حکومت څخه د استیضاح په لټه کي سوه٠ چي په دغه هکله د هرات د ولایت د انجیل د حوزي وکیل عبدالقدوس مومند د فراه ، هرات ، غور او بادغیس وکیلان د باغ بالا په رستوران کي میلمانه کړه ٠ په دغي میلمستیا کي د حکومت څخه د استیضاح د غوښتي پیشنهاد و لیکل سو ، دغه پیشنهاد د ولسي جرگي دارالانشأ ته وسپارل سو ولي د استیضاح دغه مجلس جوړ نه سو ، په دي چي د حکومت په لاربښودنه د ولسي جرگي عمومي مجلس د نصاب څخه ولوید ٠د افغانستان د ستونزو او د هیواد د بي ساري لوړي سره د مقابلي په غرض د ولسي جرگي ډیر وکیلان مجبور سوه چي د ۱۹۷۲ کال د اپریل د میاشتي پر ۱۲ نیټه د یوي تقاضا نامي په ترڅ کي د ولسي جرگي د غیر حاضرو وکیلانو څخه غوښتنه وکړي چي په دغه تاریخي حساس وخت کي خپلو وظایفو ته ډیر ژر حاضر سي٠ ددغي تقاضا نامي متن څو وکیلانو جوړ کړی او د هرات د لومړی حوزي د وکیل سید رسول فکور په قلم لیکل سوی دی د وکیلانو دغه تقاضانامه د هیواد په جرایدو کي خپره شوه ٠ صباح الدین کشککي د وکیلانو ددغي تقاضانامي متن په خپل اثر کي لیکلی دی . (۱ ۳)

ددغــه تاریخـــي سند اصلي پاڼه چي پر هغي باندي تر (٦٠)ډیرو وکیلانو لاس لیکونه کړي دي ددغه کتاب په ضما یمو کي لوستلای سی ٠

د ولسي جرگي په باب څو نوري خبري

څرنگه چي ولسي جرگه د سیاسي احزابو پر بنا نه وه جوړه سوی ، نو ځکه ځیني وکیلان مجبور سوه چي د قومي یا اداري واحدونو پر بنا پر مختلفو ډلو وویشل سي ، لکه د مشرقي (ننگرهار ، لغمان ، کنړ) د وکیلانو ډله ، د پکتیا (پکتیا ، خوست ، پکتیکا) د وکیلانو ډله ، د هزاره قوم د وکیلانو ډله او داسي نوري ډلي . په دوولسمي تقنیني دوري کي د نورزو د قوم ډله هم جوړه سوی وه ولي په دیارلسمي تقنیني دوري کي دغه ډله مصلحتا جوړه نه سوه .

ـ ډاکټر محمد وردگ د پاچا له خوا شاید په دي دلیل د ولسي جرگي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رياست له پاره هڅول سوی وي چي دده پلار عبدالاحد خان مايار هم يو وخت د شورا ريس و . ډاکټر وردگ د خپل رياست په وخت کي د ډيرو مشکلاتو سره مخامخ سو ، د مثال په توگه : يوه ورځ په عمومي غونډي کي پر يوي موضوع باندي د بحث په وخت کي ځينو وکيلانو دی په دي متهم کړ چي د رياست دنده په بي طرفی پر مخ نه وړي ، نو د گڼ دريځ د وکيلانو په شمول ډير وکيلان د اعتراض په نامه د عمومي غونډي څخه ووتل او د ډيرو ورځو له پاره يي په انتظار خاني کي د ولسي جرگي پر نيمگړتياو خبري کولي ، او په دغي مودي کي ډاکټر وردگ هم د ناروغی په نامه ولسي جرگي ته نه راتی ، په هغو ورځو کي آوازي هم خپري سوي وي چي ډاکټر محمد يوسف به د غلام محمد فرهاد پر ځای وکيل سي چي بيا به د ولسي جرگي په رياست وټاکل سي . د گڼ دريځ وکيلانو فيصله وکړه چي ډاکټر وردگ چي يو سپيځلی افغان و بايد خپلي وظيفي ته ادامه ورکړي چي ددغي فيصلي پر اساس بله ورځ دی او ټول وکيلان د ولسي جرگي تالار ته ولاړه او دغه معضله پر همدغه ځای پای ته ورسيدله .

۲۱ ـ د محمد داود خان سره کتنه

په ۱۹۷۲ کال کي د ډاکټر عبدالظاهر د حکومت په ورستيو مياشتو کي ، ما يوه ورځ په خارجه وزارت کي د خپلو پخوانيو همکارانو سره چي سيد وحيد عبدالله هم هلته حاضر و د ولسي جرگي پر جرياناتو خبري کولي ۰ د هغي ورځي په ماښام سيد وحيد عبدالله ما ته په تيلفون کي وويل ((ما د ورځي د صحبت جريان محمد داود خان ته بيان کړ ، ده آرزومندي و ښووله چي که ته دده د ليدلو له پاره ورسي .))

زه پر ټاکلي وخت د محمد داود خان کور ته ورغلم او دده ناظر باز محمد خان زه د ناستي خوني ته رهنمايي کړم او محمد داود خان د خپل کور ددوهم پوړ څخه راکښته سو ، ده بالاپوش اغوستی و او خولي يي هم پر سر وه ، داسي ښکاريده چي په هغي لحظي کي دی د قدم وهلو څخه غبرگ سوی وي ۰

ما د محمد داود خان تر ليدلو دمخه د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه څو واره ليدلی و ، د ليدلو په پيل کي به پاچا په خپله د هيواد پر مسايلو خبري کولي او مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرف ته به يي د ډيرو خبرو موقع نه ورکوله ، ولي محمد داود خان لومړي زما څخه د ولسي جرگي جريانات او د هيواد پر حالاتو پوښتني وکړي ۰

ما د هيواد د حالاتو په برخه کي محمد داود خان ته وويل ((لکه چي تاسي خبر ياست دا ډيره موده کيږي چي د پوهنتون شاگردان د اعتصاب په حالت کي دي ، په ټول هيواد کي لوږه او وچ کالي ده او د هيواد په خينو برخو کي خلگ د لوږي څخه مري ، ولسي جرگه نصاب نه لري چي د حکومت څخه استيضاح وکړي .))

محمد داود خان زما په جواب کي وويل ((شورا خپله وظيفه نه ده اجرا کړي او د افغانستان منورين خپلو مسؤوليتونو ته متوجه نه دي ۰))

ما محمد داود خان ته وويل چي د افغانستان منورين پر ډلو ويشل سوي دي او دوی په خپلو منخونو کي په مبارزه اخته دي ، او د افغانستان ولسي جرگه چي د افرادو يوه جرگه ده ، تر هغو چي دغه جرگه نصاب و نه لري ، نو ددغي جرگي مؤثريت ډير لږ وي ۰ په هغي لحظي کي چي ما د محمد داود خان سره خبري کولي ، ما د خپل عادت مطابق په ورين تندي او غيري جدي لهجي د هيواد پر مسايلو بحث کاوه چي زما د صحبت دغه طرز د محمد داود خان خوښ نه سو ۰ ده ما ته وويل ((ته مه خانده زه جدي خبري کوم)) ده زياته کړه ((د هيواد د ټولو اوسني بدبختيو اصلي عامل په خپله پاچا دی ، تر هغه وخته چي د پاچا چاره و نه سي ، تر هغو به په افغانستان کي ښه ورځ را نه سي .))

ما محمد داود خان ته وويل چي زه اوس د يوه وکيل په حيث ستاسي سره خبري کوم ، او د افغانستان اساسي قانون يوه وکيل ته اجازه نه ورکوي چي د پاچا سره مخالفت وکړي ۰ ده تر پخوا لا په جدي لهجي ما ته وويل ((تاسي د خپل هيواد د خلگو په مقابل کي مسئووليت لري ، او په دغو بهانو چي اساسي قانون تاسي ته اجازه نه درکوي تاسي خانونه غولوي .))

ما تر دي پخوا محمد داود خان نه و ليدلی او د پاچا په هکله دده په عقيدي نه پوهيدم ۰ ما تصور نه کاوه چي دي به د پاچا سره تر دي حده مخالف وي ۰ زما په شمول د افغانستان ډيرو خلگو داسي فکر کاوه چي دوی دواړه د افغانستان د سلطنتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورني مشران دي او په ملي او بين المللي سويه د دواړو ښه احترام کيږي او خلگ په دي نه پوهيدل چي دوی پر څه شي اختلاف سره لري ۰ ځينو خلگو د پاچا او محمد داود خان مخالفت د سليقي اختلاف باله نه د عقيدي ، نو په دغه لحاظ ددوی پر اختلافاتو باندي هيچا د دښمنۍ او کودتا تر سرحده تبصره نه کوله ۰

په پای کي ما د محمد داود خان څخه پوښتنه وکړه چي ستاسي په نظر وکيلان بايد څه وکړي ؟ محمد داود خان زما پر دغي پوښتني هيڅ تبصره وه نه کړه او د بحث موضوع يي واړوله ۰ امکان لري چي دی په هغو ورځو کي د کودتا په فکر کي و ولي زه دده په کودتا خبر نه وم ۰

۲۲ ـ حکومت د وکيلانو په حاضريدلو خوشحاله نه و

ډير افغانان په دي عقيده دي چي دديموکراسۍ دوري وکيلان د وکالت د مقام مستحق نه وو او دوی خپلو ملي وظايفو ته پاملرنه نه درلوده ۰ زما په نظر د ولسي جرگي د نصاب په برخه کي تر وکيلانو د حکومت ملامتي ډيره وه ۰ په دي چي په اکثرو حالاتو کي حکومت نه غوښتل چي ولسي جرگه نصاب ولري ، د حکومت ډير وزيران په دي عقيده وو چي د نصاب په صورت کي ولسي جرگه د تصميم قدرت پيدا کوي او حکومت ته مشکلات جوړوي۰

په ديارلسمي تقنيني دوري کي څو واره حکومت په ولسي جرگي کي لاس وهنه کړي ده چي څو مثالونه يي په همدغه کتاب کي راوړل سوي دي .

زه داخبره نه سم منلای چي ځوک ووايي چي وکيلان پر خپل سر ياغيان شوي وو او د ولسي جرگي عمومي مجلس ته نه حاضريدل۰ ما نه دي اوريدلي چي پاچا ، صدراعظم يا کوم وزير په عادي حالاتو کي د کوم وکيل څخه غوښتنه کړي وي چي ولسي جرگي ته حاضر سي۰ که پاچا يا صدر اعظم د ولسي جرگي د نصاب د پوره کولو په برخي کي وکيلانو تـه توصيه کړي وای ، زه يقين لرم چي يوه ورځ به هم ولسي جرگه بـي نصابه نه وای ، که د هر ولايت والي د وکيلانو څخه غوښتنه کړي وای چي کابل ته ولاړ سي ۰ زه باور لرم چي د شورا د اجلاس په ورځو کي به هيڅ وکيل په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي کي نه پاته کيدئ زما په نظر اراده داسي وه چي دولسي جرگه نصاب پوره نه سي او په دغه حالت کي به حکومت ددوی له شره څخه خلاص وي ۰

پاچا او حکومت د وکيلانو سره د ارتباط له پاره ډير چينلونه درلودل چي د ضرورت په وخت به ددغو لارو څخه وکيلانو ته رهنمايي کيدله ۰ د مثال په توگه :

د ستري محکمي د دارالانشأ آمر ډاکټر وليد حقوقي به په فوق العاده حالاتو کي د ولسي جرگي سره د ارتباط وسيله وه ۰ د پارلماني رياست له لاري څخه هم د خينو وکيلانو سره تماس نيول کيدئ ۰ د پاچا د حضور مصاحب محمد رحيم خان پنجشيري او د دربار د تشريفاتو رئيس عثمان شير علومي هم ډيرو وکيلانو ته لاربنسودنه کوله ۰ د تجارتي بانك رئيس جنت خان غروال د پکتيا د ولايت او د هيواد دنورو سيمو د وکيلانو سره په ارتباط کي و ۰ زما په شمول په ولسي جرگي کي د افغانستان د جنوب غرب د حوزو د وکيلانو سره د سلطنت ارتباط د پاچا د سرياور جنرال محمد عمر خان نورزي په وسيله ساتل کيدئ ۰ ما اوريدلي دي چي پاچا اراده کړي وه چي جنرال محمد عمر خان په ترکيي کي د سفير په حيث مقرر کړي ، ځرنگه چي په ديارلسمي تقنيني دوري کي د نورزوو د قوم څوارلس فعال وکيلان ولسي جرگي ته ورغلي وو ، نو پاچا لازمه وبلله چي د نورزوو وکيلانو سره د ارتباط له پاره د خپل سرياور سفارت د څه مودي له پاره وځنډوی۰

په دي کي شك نه سته چي د نصاب په نه پوره کيدلو سره د ولسي جرگي اعتبار ته لويه صدمه ورسيده ، ولي په يوي غير حزبي شورا کي د نصاب د معضلي حل آسانه کار هم نه دئ ۰ ځرنگه چي لوستونکي پوهيږي د نړۍ په ديموکراسي نظامونو کي پارلمانونه د احزابو پر بنا جوړيږي او هر حزب دنده لري چي د خپل حزب غړي پارلمان ته حاضر کړي ، چي په مهمو حالاتو کي احزاب حتي خپل ناروغه غړي پارلمان ته حاضروي ، چي د ۱۹۹۸ کال د آگست په مياشت کي په ايتاليا کي دغسي يوه پيښه وسوه چـي د حکومت مخالفـي ډلـي خپل د حزب يـو غړئ په امبولانس کي پارلمان ته حاضر کړ۰

په ديارلسمي تقنيني دوري کي دوه پيشنهادونه ولسي جرگي ته وړاندي سول ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ پیشنهاد چي یو مؤثر پیشنهاد و چي په هند او خینو نورو هیوادونو کي عملي کیږي ۰ هغه داسي و (په افغانستان کي چي د یوه وکیل معاش اته زره افغاني و ، پر دوو برخو ویشل کیدې چي یو وکیل به په هر حالت کي دڅلور زرو افغانیو مستحق کیدې ۰ ولي نوري څلور زره افغاني د حق الحضور په نامه تثبیتیدلي چي یو وکیل به د حاضریدلو په صورت کي ددغو پیسو مستحق کیدي) دغه پیشنهاد عملي نه سو ۰ دوهم پیشنهاد چي یو بې ګټي پیشنهاد و ، چي د ولسي جرګي د عمومي مجلس په ورځو کي د وکیلانو حاضري اخستل کیدله او د غیر حاضرو وکیلانو نومونه به په کابل رادیو کي خپریدل۰ متأسفانه چي دغه کار ګټه و نـه کړه ۰ په دي چي ځني وکیلان په دي خوشحاله کیدل چي ددوی نومونه په رادیو کي یادیږي ۰ ما ته په فراه کي یوه سړي وویل چي په ولسي جرګي کي ستا ږغ نه سته ، لکه چي هلته ډیر فعالیت نه کوي ۰ ما دده څخه پوښتنه وکړه چي ته څه پوه سوي چي زه په ولسي جرګي کي فعاله نه یم ۰ ده زما په جواب کي وویل چي زه ددي څخه پوهیږم چي د وکیلانو په ډلي کي په رادیو کي ستا نوم نه یادیږي ۰ چي دده مقصد د غیر حاضرو وکیلانو ډله وه چي ښایي دي سړي په ټوکه دغه خبره ما ته کړي وي ۰

هر وخت چــي پاچا یا حکومت اراده کړي وي چي د ولسي جرګي مجلس باید نصاب و لري ، نو په هغه وخت کــي تـر نصاب ډیر وکیلان ولسي جرګي ته حاضر شوي دي ۰ د مثال په توګه :

ـ د ولسي جرګي په افتتاحیه غونډو کي اکثر وکیلان حاضر وو۰

ـ د ولسي جرګي د رئیس د ټاکلو په وخت کي د جرګي ډیر وکیلان حاضروو۰

ـ د نور احمد اعتمادي ، ډاکټر عبدالظاهر او محمد موسي شفیق د حکومتونو د اعتماد د رایو په غونډوکي د مجلس تر نصاب ډیر وکیلان حاضر وو ۰

ـ د صنعتي بانك د قانون د تصویب په وخت کي د ولسي جرګي نصاب پوره وو۰

ـ کله چي دولت اراده وکړه چي د ژبو مسأله دي په ولسي جرګي کي تصویب سي نو دري ژبي وکیلان چي د شپږو میاشتو له پاره د اعتصاب په حالت کي وو د ولسي جرګي تالار ته حاضر سول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ کله چي دولت غوښتل چي د هلمند د اوبو معاهده په ولسي جرگي کي تصويب سي ، نو د ولسي جرگي اکثر وکيلان حاضر وو ۰

پورته څو مثالونه دا ثابتوي چي هر وخت چي دولت يا حکومت اراده کړي وي چي د ولسي جرگي نصاب بايد پوره سي ، نو په هغه وخت کي ډير وکيلان ولسي جرگي ته حاضر سوي دي ۰

د نصاب په هکله يوه ټوکه

په ولسي جرگي کي يکشنبه ، دو شنبه او سه شنبه د عمومي مجلس ورځي وي چي په دغو ورځو کي به وکيلان د سهار پر نهو بجو د ولسي جرگي په تالار کي حاضريدل۰ کله چي به مجلس نصاب نه درلود ، حاضر وکيلان به مجبور وو چي د غرمي تر دولسو بجو پوري د ولسي جرگي په تالار کي کښيني ، چي دا دري ساعته انتظار اکثر وکيلان ستړي کړي وو او هر يوه به بي اختياره د بل څخه پوښتنه کوله چي آيا نن به د مجلس نصاب پوره سي او که يه ؟ ما به هميشه ادعا کوله چي زه په دي پوهيږم چي د مجلس نصاب پوره کيږي او که يه ؟ ما به د وکيلانو د پوښتنو په جواب کي دوی ته ويل چي تر هغه پوري چي د وکيلانو څخه پاچا ياحکومت د نصاب د پوره کيدلو غوښتنه و نه کړي وکيلان خانونه مکلف نه گڼي چي د مجلس نصاب پوره کړي۰ او د مجلس د نصاب پوره کيدل د لاندي حالاتو څخه معلوميدلای سي :

ـ د سهار له خوا چي د وکيلانو ميني بسونه ولسي جرگي ته راځي بايد وکتل سي چي دا واړه بسونه ډک دي او که خالي ۰ که بسونه خالي وو نــو معنا يي دا ده چي وکيلان په لاري کــي د بسونو څخه کښته شوي دي او پــه دغــه ورځ د مجلس نصاب نه پوره کيږي۰

ـ که د وکيلانو ميني بسونه ډک راسي ، بايد وکتل سي چي وکيلان د ولسي جرگي تالار ته ځي او که دوی په کمسيونونو ننوزي ۰ که وکيلان خپلو کمسيونونو ته ننوتل، نو دوی د خپلو مؤکلينو سره په ولسي جرگي کي يو ځای کيږي او بيرته د ولسي جرگي څخه وزي او د مجلس نصاب نه پوره کيږي ۰

ـ که ولسي جرگي ته ميني بسونه ډک راسي او وکيلان مخامخ د ولسي جرگي تالار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ولاړ سي ، بيا هم بايد وکتل سي چي تر حاضرۍ اخستلو وروسته دوی په تالار کي پاته کيږي او که يه ؟ که وکيلان تر حاضري ورکولو وروسته بيرته د تالار څخه ووتل په دغه ورځ هم د مجلس نصاب نه پوره کيږي ٠

ـ که د ولسي جرگي ميني بسونه ډک راسي او وکيلان په ډير تلوار سره مخامخ د ولسي جرگي تالار ته ورننوزي او هلته آرام کښيني په دغه صورت کـي د مجلس نصاب پوره کيږي ٠

وروسته ډير وکيلان په دي پوهيدل چي د مجلس نصاب پوره کيږي او که يه ؟

۲۳ ـ د سپن ږرو جلبيانو موضوع

په ۱۹۷۰ کال کي حکومت اراده وکړه چي د کار د قواو په چوکاټ کي د شني قوي په نامه د کار يو يونټ جوړ کړي . ددغه کار له پاره د دفاع ، داخله او کرني د وزارتونو لوړ رتبه مامورين د لوی درستيز جنرال غلام فاروق خان تر مشري لاندي د يوه هيأت په څير و ټاکل سول ٠ دغه هيأت فيصله وکړه چي د هيواد ۲۸ کلن احتياط عسکر د شني قوي له پاره بايد جلب کړه سي ٠ حکومت نژدي څلور زره احتياط عسکر چي ډير يي ۵۰ يا ۶۰ کلن سپين ږيري خلگ وو ، چي اکثر دغه خلگ د فراه د ولايت څخه جلب کړه شوي وو ٠

دهمدغه کال په ژمي کي به هره ورځ ددغو سپين ږرو جلبانو څخه څو کسانو ما او د فراه نورو وکيلانـو تـه مراجعه کوله او موږ به يي د حکومت په دغه غير عادلانه اقدام خبرولو ٠

د يـوه زاړه جلبي ژړا او تأثر بـه هيڅکله زمـا لـه ياده و نـه وزي ، دا سړي پنځوس کلن و او د بالابلوک د ولسوالۍ د (زير کوه) د کلي اوسيدونکی و ، ده ما ته وويل ((يوه ښځه او دوه کوچني اولادونه مي تر شا پري ايښي دي او هغه وخت چي زه ديخوا ته راتلم ، موږ په کور کي صرف دري منه غنم درلوده ، او موږ په خپل کور کي يو تلتك درلود چي هغه تلتك ما دخانه سره راوړی دی ، زه اوس نه يـم خبر چي زما اولادونه به ژوندي وي او که يه ؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په غوښتنه د ولسي جرگي ددفاع د وزارت کمسیون فیصله وکړه چي د حکومت څوارلس کسیز هیأت د کمسیون غونډي ته ور وغواړي چي د زړو جلبیانو پر موضوع باندي ددوی څخه پوښتني وکړي ۰ هیأت پر ټاکلي وخت د کمسیون غونډي ته حاضر سو ، زما په شمول د تقنین د کمسیون څلورو غړو هم د دفاع د کمسیون په دغي غونډي کي برخه اخستي وه ۰ هر وکیل په خپل وار سره د حکومتي هیأت ددغه غیر عادلانه اقدام غندنه کوله ۰ د وکیلانو څخه عبدالکریم عمرخیل او میرزا فخرالدین خان د عسکري مکلفیت په قانون ښه پوهیدل ، دوی دواړو د حکومت دغه اجراآت د قانون خلاف و بلل چي په آخر کي حکومتي هیأت ادعا وکړه چي د وکیلانو دا خبره چي حکومت سپین ږږي خلگ جلب کړي دي بي اساسه ده ۰ په هغي لحظي کي د فراه د ولایت د بکوا د ولسوالۍ وکیل محمد زمان خان هغه ۰ ۵ سپین ږږي جلبیان چي د فراه د ولایت وکیلانو د شورا په محوطه کي ځای پر ځای کړي وو ، کمسیون ته راوستل ۰ دغو جلبیانو خپلي عسکري دریشۍ اغوستي وي او په کمسیون کي پر مځکه کښینستل ددوغو جلبیانو په لیدلو سره وکیلان او د هیأت غړي متأسف او متعجب سول ۰ د هیأت غړو د وکیلانو په مخ کي یوه د بل سره مناقشه پیل کړه چي د کرني د وزارت معین ډاکټر محمد احسان رفیق په دغي غونډي کي خپل ډیر تأثر ښکاره کړ ۰

لوی درستیز جنرال غلام فاروق خان د خپل ځایه څخه ولاړ سو او دغو جلبانو ته یي وویل چي تاسي ټولو ته ترخیصونه درکوم ۰ ما دغه هیأت ته وویل چي دغه سپین ږږي حاضر خلگ د څلورو زرو نورو خلگو یوه نمونه ده چي ستاسي د قانوني تخلف د اثبات له پاره دغه کمسیون ته راوستل سوي دي ۰ دغه خلگ د ولسي جرگي عمومي مجلس ته هم حاضریږي ، او عمومي مجلس به ستاسي د قانوني تخلف په برخه کي تصمیم و نیسي ۰ سهارني غونډه پر دغه ځای پای ته ورسیده ۰ د ماپښین په غونډي کي حکومتي هیأت ، کمسیون ته خپل تأثر او معذرت وړاندي کړ ، دوی تعهد وکړ چي په لسو ورځو کي به ټولو سپین ږږو جلبانو ته ترخیصونه ورکړي ۰

حکومتي هیأت په هغه ورځ ددفاع په وزارت کي غونډه وکړه او د کار د قواو لوی قوماندان جنرال خوازك خان زلمي ته یي دنده ورکړه چي دې په خپله د شني قوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يونټونو ته ورسي او ټول سپين ږري جلبيان ددفاع وزارت ته د ترخيص اخستلو له پاره معرفي کړي چي جنرال خوازك خان زلمي دغه وظيفه په ډيري چټکې سره سر ته ورسوله ، او ولسي جرگي دغي موضوع ته رسما خاتمه ورکړه ۰

٢٤ ـ د محمد موسي شفيق سره کتنه

ما د محمد موسي شفيق د حکومت په وخت کي دوه واره دده سره ليدلي دي په لومړي کتني کي ده زما څخه د اعتماد د رايي غوښتنه وکړه او ما ده ته د اعتماد درايي وعده ورکړه دغه ليدنه ډيره لنډه وه ۰ د محمد موسي شفيق سره زما دوهمه ليدنه د هلمند د اوبو د معاهدي په هکله د ١٩٧٣ کال د مارچ په مياشتي کي وسوه ددغي ليدني له پاره د ماپښين دري بجي ټاکلي سوي وي۰

په هغه ورځو کي د محمد موسي شفيق په امر د صدارت په قصر کي ځني تزنيني کارونه کيدل ، ده تجويز نيولې و چي د افغانستان د ټولو صدر اعظمانو عکسونه د صدارت د قصر پر ديوالونو نصب کړي ، ده د صدارت د گلخاني د ماڼي په يوي کوچنې خوني کي کار کاوه چي له هغه ځايه څخه يي د صدارت ټول مراجعين ليدل ۰

محمد موسي شفيق د خارجه وزارت د ء ستور ء په تاريخي قصر کي هم يو دفتر دلود ، ده د خارجه چارو د وزارت د مرمر د عمارت ټول دوهم منزل د خپل ملاقاتونو له پاره ټاکلې و . ده ته به د مرمر د عمارت په يوي خوني کي دشورا غړي او خانان او په بلي خوني کي قاضيان او ملايان او په بلي خوني کي ليکوالان او هنرمندان ناست وو ، او دې به ددغو مراجعينو د ليدلو له پاره د يوي خوني څخه بلي خوني ته ورتې او ددوی سره به يي لنډې خبري کولي .

صدارت ته زما د ورتگ په وخت کي پارلماني رئيس محمد ياسين نسيمي د گلخاني د ماڼي پر تخت ولاړ و ، ده ما ته وويل چي اوس محمد عزيز نعيم د صدراعظم سره ناست دې او پر دري نيمو بجو د ولسي جرگي اداري هيأت د صدر اعظم سره ويني ۰ ما پارلماني رئيس ته وويل چي ما د صدر اعظم د ليدلو غوښتنه نه ده کړي او دغه ليدنه د صدر اغظم په غوښتنه کيږي ، اوس چي دی وخت نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسي په بل مناسب وخت کي ما ته خبر راکړي چي زه د صدر اعظم د ليدلو له پاره راسم ۰ څو گامه لا نه وم تللې چي پارلماني رئيس پر ما ږغ وکړ ۰کله چي ما تر شا وکتل ، محمد موسي شفيق د خپل دفتر په کړکې کي ولاړ و او زه يي هغې خوني ته وبللم چي دې او محمد عزيز نعيم ناست وو ۰ ده محمد عزيز نعيم ته وويل چي د ولسي جرگي وکيلان ټول نا آشنا چهري دي او کومه آشنا چهره چي سړې هلته ويني ، د هغه په ليدلو خوشحاله کيږي۰ صدر اعظم خپلي تشريفاتي خبري لا نه وي خلاصي کړي چي د ولسي جرگي اداري هيأت صدارت ته ورسيدې او محمد موسي شفيق ما ته وويل چي زه او ته به نن شپه پر ۱۱ بجو سره وگورو ۰

کله چي زه د شپې پر ۱۱ بجو صدارت ته ورغلم ، محمد موسي شفيق د گلخاني د ماڼې پر تخت ولاړ و ، زه او دی يو ځای دده په دفتر ننوتلو ۰ ده په سر کي ما ته وويل ((زه اوس ستا د يوه هم صنفي د عدليي د وزارت معين سميع الدين ژوند سره په جنجال اخته وم ، په دي چي د عدليي وزارت د سروبي ولسوال چي د يوه معتبره سړي زوم دې پر رشوت نيولې دی ۰ سميع الدين ژوند په دي نه قانع کيږي چي ددغه ولسوال تر جرم تير سي)) په دغه وخت کي صدر اعظم ته يو تيلفون راغې چي تيلفون کونکې د هغه ولسوال خسر و (۳۲)

محمد موسي شفيق زما څخه پوښتنه وکړه چي ته بلي دوري شورا ته راځي او که يه ؟ ما ده ته وويل چي زه بل وار داسي يوي بي نظمي شورا ته نه راځم ۰ ده زما د خبري په ارتباط وويل ((زه هم دداسي بي تحصيلو وکيلانو سره کار نه سم کولای)) ده زياته کړه ((زه به ډير تعليم يافته خلگ د شورا د غړيتوب له پاره تشويق کړم او ددوی سره به مرسته هم وکړم چي په نتيجه کي به يوه باسويه شورا منځ ته راسي)) ده داسي خبري کولي لکه چي دی د ډيرو کلونو له پاره د افغانستان صدر اعظم دی ۰

محمد موسي شفيق د هلمند د اوبو د معاهدي په هکله زما نظر وغوښت ۰ ما ده ته وويل چي د هلمند رود د افغانستان يو داخلي رود دې او ايران ته بايد په هري ثانيي کي ۲۶ متر مکعب اوبه ، ور نه کړه سي ، او په دغي معاهدي کي د ديراوت شاخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ايرانيانو تــه پــه مرکزي افغانستان کــي د تفتيش اجازه ورکوي ، دغــه شاخص د افغانستان پر ملي حاکميت باندي يو ښکاره تيری دی ٠

ما د خپلو خبرو په پای کي محمد موسي شفيق ته وويل چي په افغانستان کي ډير صدر اعظمان راغلي او تللي دي ، ولي ددوی څخه يوه هم داسي يوي لوي مسألي ته په دغه عجله لاس نه دی اچولي او تاسي ولي اوس غواړۍ چي دا پيچلي مسأله داسي ژر حل کړی ؟ د اروا ښاد محمد موسي شفيق په سترګو کي اوښکي راغلي او زما په جواب کي يي وويل ((همدغه علت دی چي افغانستان دومره شاته پاتــه شــوی دی ٠ اوس ما فيصله کړي ده چي د افغانستان ټوله پرابلمو نه به حل کوم او وروسته دي تاريخ پر ما باندي قضاوت وکړي))

ما د محمد موسي شفيق څخه پوښتنه وکړه چي ستاسي حکومت د ډيورنډ کرښه او د پښتونستان موضوع هم د پاکستان د دولت سره حل کوي ؟ ده زما په جواب کي وويل ((بلي إ زه د ډيورنډ کرښه او د پښتونستان موضوع او د افغانستان نور ټول پرابلمونه حل کوم))

ما صدر اعظم ته وويل چي زه په دي نه يم خبر چي ستاسي حکومت د افغانستان ددغو لويو پرابلمونو د حل له پاره څومره ملي او بين المللي امکانات په خپل واک کي لري ٠ ولي چي دغه پرابلمونه مختلف پيچلي ابعاد لري چي يوازي ستاسي حکومت د افغانستان دغه پرابلمونه نه سي حل کولای ، او زما هيله داده چي تاسي په دغه کار کي ډيره عجله و نه کړۍ ٠ څو دقيقي وروسته زه د صدر اعظم ددفتر څخه ووتلم د انتظار په خوني کي د تجارتي بانك رئيس جنت خان غروال او د افغان د جريدي چلونکې محمد حسن ولسمل ناست وو چي د صدر اعظم سره د خبرو له پاره صدارت ته ورغلي وو دا وخت د شپي يولس نيمي بجي وي . (۳۳)

۲ ۵ ـ د سيستان د سيمي او د هلمند د اوبو تاريخي سوابق

د تاريخ په اوږدو کي ايرانيانو لومړۍ پر افغاني سيستان ارضي ادعا وکړه او کله چي دوی د انګريزانو په مرسته په سيستان کي د مځکي خاوندان سول نو بيايي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلمند د رود په اوبو کي د حق آبي خبره راپورته کړه ۰ په تيرو کلونو کي ايران ځو واره د هلمند د اوبو په هکله د افغاني مقاماتو سره خبري کړي دي او ځو واره يي د افغانستان سره معاهدي لاس ليك کړي دي او هر وار پر عقد سوو معاهدو باندي پښيمانه سوي دي ، او نور امتيازات يي لاس ته وروړي دي ۰

د سيستان سيمه د خپل لرغوني روښانه تاريخي سوابقو په لحاظ د افغانستان يو مهم ولايت دی ، څرنگه چي دغه سيمه د افغانستان ، ايران او بلوچستان په تقاطع کي پرته ده ، نو په نولسمي پيړي کي دغه سيمه د روسي او انگريزي استعمارگرانو د توجه وړ و گرزيده ۰ په ۱۸٦٦ کال کي ايرانيانو د سيستان ولايت ته لاس اوږد کړ چي د افغانستان او ايران تر منتخ خونړي جنگونه پيښ سول ۰

انگريزانو د هغي معاهدي مطابق چي په ۱۸۵۷ کال کي يي د ايران د دولت سره عقد کړي وه ، دوی د افغانستان او ايران تر منځ د اختلافا تو د حل له پاره ځان د حکم په حيث تعين کړ ۰ انگريزانو په ۱۸۷۲ کال کي د گولد سميت په مشري يو حکم هيأت و ټاکي چي د افغانستان له خوا سيد نور محمد شاه خان او د ايران له خوا ميرزا معصوم خان د دواړو هيوادونو نماينده گي کوله ۰ گولد سميت د۱۸۷۲ کال د آگست د مياشتي پر ۱۷ نيټي خپله فيصله اعلان کړه چي يوه برخه يي داسي وه :

په دي کي شك نه سته چي په تيرو ۱۰۸ کلونو کي سيستان په ټوله معنا د افغانستان د خاوري يوه برخه وه، البته په ډيرو پخوانيو وختونو کي ، سيستان د ايران د خاوري يوه برخه هم وه ، په اوسني عصر کي بايد د دواړو هيوادونو ادعاگاني په نظر کي و نيولي سي ، او د دواړو خواو ملکيت بايد تثبيت کړل سي ، گولد سمت د سيستان هغه آباده سيمه چي درووخواو ته يي د هامون جهيل واقع دی او بلي خوا ته يي د هلمند رود بهيږي او د يوي شبه جزيري شکل لري ، او د سيستان د سيمي ډير نفوس هلته ژوند کوي ، ايران ته ورکړه ۰ او د چخاسور لږ نفوسه برخه او د هلمند د پورتي غاړي مځکي او د سيستان دښتونه ، د هلمند د رود دواړي خواوي د کوهك تر بند پوري افغانستان ته پاته سوي ۰ سيد نور محمد شاه د گولد سميت پر دغي فيصلي باندي اعتراض وکړ ولي گټه يي و نه کړه ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیستان لانجه پر دغه ځای پای ته و نه رسیده ، په دي چي د هلمند رود چي پخوا د نادعلي تر څنگ تیریدې ، په ۱۸۹۶ کال کي د سختو سیلابونو په وجه ، خپله مجرا بدله کړه او د(پریانو) په نامه په نوي مجرا کي و بهیدی ۰ چي تر دغه وروسته د اوبو ویش د افغانستان او ایران تر منځ د اختلاف ټکې سو ۰

د ایران د پاچا په غوښتنه او د افغانستان د پاچا په موافقه د انگریزانو یو بل حکم هیأت د (سر هنري مك مهن) په مشري ددغه اختلاف د حل له پاره و ټا کل سو۰ مك مهان د ۱۹۰۳ کال د جنوري په میاشت کي سیستان ته ورغي او په دوه کاله او دروو میاشتو کي یي د هغه ځاې ټولي مځکي مساحت کړي او نتیجه یي داسي اعلان کړه :

د سیستان اوسني مځکه (۷۰۰۰) مربع میله ده او (۲۵۰۰۰) کسان هلته ژوند کوي چي ددغي جملي څخه (۴۱۵۳) مربع میله مځکه د افغانستان په لاس کي ده او نوره پاته (۲۸۴۷) مربع میله مځکه د ایران په واك کي ده ۰ په حاضر وخت کي د هلمند رود پر دروو برخو ویشل شوی دی ۰

۱ ـ د سیستان رود چي د کوهك د بند څخه جلا کیږي او د ایران د سیستان مځکي خړوبه کوي ۰

۲ ـ د هلمند لوی رود ۰

۳ ـ د نادعلي واله چي پخوا د هلمند د رود اصلي مجرا وه ۰

په ۱۸۷۲ کال کي د گولد سمیت د حکمیت په وخت کي د هلمند د رود په یوي ښاخي کي چي د سیستان د رود په نامه یادیږي ، کافي اوبه موجودي وي او د کوهك بند ته ډیري اوبه رسیدلي چي دا اوبه تر نادعلي او سیخ سر تیریدلي او د هامون جهیل ته تویدلي ۰ ولي د ۱۸۹۶ کال سیلابونه ددي باعث سوه چي دغه رود خان ته یوه بله مجرا جوړه کړي چي د پریان په نامه یادیده چي تر دغي نیټي وروسته د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو پر ویش اختلاف پیدا سو چي دغه اختلاف همیشه د پسرلي په موسم کي چي د هلمند په رود کي د اوبو مقدار لږوي را پیدا کیږي ۰

په ۱۹۰۵ کال کي مك مهان د اوبو د ویش په برخه کي خپله فیصله صادره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي يوه برخه يي داسي وه :

د هلمند د رود هغه مقدار اوبه چي د كوهك بند ته رسيږي ، دريمه برخه يي بايد ايران ته وركړه سي ٠ يعني كه افغانستان د هلمند د رود په پورته برخي كي د اوبو د گرزولو بندونه جوړوي ، بايد دغه حساب په نظر كي و نيسي چي د هلمند د رود د اوبو دريمه برخه بايد د كوهك بند ته ورسيږي ٠ په دغه ترتيب د ۱۸۷۲ كال څخه بياتر ۱۹۰۵ كال پوري يعني د ۳۳ كلونو په موده كي د انگريزانو د حكميت له لاري څخه ، د هلمند د رود د اوبو څخه دريمه برخه او د سيستان د مځكو څخه تر دريمي ډيره برخه ايران ته وركړه سوې ده ٠

په ۸ ۱۹۳ كال د جنوري پر ۲۶ نيټي د ايران حكومت د افغانستان سره د هلمند د رود د اوبو پر ويش باندي نوي منازعي پيل كړي ٠ د دواړو هيوادونو تر منځ موافقه و سوه چي يوه نوي معاهده دي لاس ليك كـړه سـي ٠ د افغانستان لـه خـوا علي محمد خان او دايران له خوا په كابل كي د هغه هيواد سفير باقر كا ظمي و ټاكل سول ٠ دوی فيصله وكړه چي هر مقدار اوبه چي د كمال خان بند تـه رسيږي دغـه مقدار اوبه دي دواړه هيوادونه سم نمايي سـره وويشي٠ دغـه معاهـده دافـغـانسـتـان شورا رد كړه . (۳٤)

په ۱ ۱۹۵ كال كي امريكا د افغانستان او ايران تر منځ د يوه منځ گړي په وسيله فيصله وكړه چي تر هغو چي د هلمند د اوبو مكمل مقدار معلوميږي ، د موقت وخت له پاره دي د هلمند د اوبو څخه ايران ته په عادي كلونو كي په هري ثانيي كي په اوسط ډول ۲۲ متره مكعب اوبـه وركړه سـي ٠ ولـي د ايران دولت پـه دغـي فيصلي قناعت و نــه كړ ٠

۲۶ ـ د هلمند د اوبو معاهده په ولسي جرگي كي

محمد موسي شفيق د ۱۹۷۲ كال ددسمبر پـه مياشت كـي د افغانستان صدراعظم سو٠ ده څلور مياشتي وروسته د ۱۹۷۳ كال د اپريل په مياشت كي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران د صدر اعظم امیر عباس هویدا سره د هلمند د اوبو معاهده لاس لیك كړه ، او د تصویب له پاره یي ولسي جرگي ته وړاندي كړه ۰ دغه معاهده د بین المللي روابطو او د زراعت په كمسیونونو كي تر غور لاندي و نیوله سوه ۰

حكومت په شورا كي د هلمند د اوبو د معاهدي د تصویب له پاره ډیر ښه وخت انتخاب كړي و ، دا وخت د ۱۹۷۳ كال د مي (جوزا) میاشت وه او دري میاشتي وروسته دیارلسمه تقنیني دوره ختمیدله چي په دغه وخت كي وكیلان د خپل آینده وكالت له پاره د حكومت هره خبره مني او په دغه دلیل د هلمند د اوبو معاهده په ولسي جرگي كي په لوی اكثریت تصویب سوه ۰

د ولسي جرگي پنځلسو وكیلانو تصمیم ونیوي چي د بین المللي روابطو كمسیون ته ورسي او هلته دغه معاهده د څو میاشتو له پاره وځنډوي چي په دغه حالت كي به د معاهدي تصویب د شورا بلي دوري ته پاته سي ۰ ددغو وكیلانو نومونه دادي۰

عبدالرؤف بینوا ، عزیز الله واصفي ، محمد اسحق عثمان ، یار محمد دلیلي ، عبدالكریم عمرخیل ، محمد هاشم تره كي ، حاجي عبدالوهاب ، عبدالحمید زهري ، حاجي عبدالرشید نورزي ، سید رسول فكور ، میر علم مظلومیار، عبدالغفار فراهي او دري نور وكیلان چي نومونه یي زما په یاد نه دي ۰ د ولسي جرگي د طرزالعمل مطابق د یوه كمسیون غړي باید تر ۲۹ وكیلانو ډیر نه وي چي ۱۵ وكیلان په یوه كمسیون كي اكثریت دي۰ دغو وكیلانو غوښتل چي په لومړي غونډي كي حاجي عبدالرشید نورزي د كمسیون د رئیس په حیث و ټاكي چي دده تر ریاست لاندي به دا لاندي فیصلي وكړي :

ـ د كمسیون د غړو څخه یو هیأت د هلمند ، نیمروز او اروزگان ولایتونو ته لیږل كیدي چي دغه هیأت به د خپلو مشاهداتو راپور كمسیون ته وړاندي كاوه ۰

ـ د كمسیون د غړو څخه یو بل هیأت ټاكل كیدی چي دغه هیأت به د خارجه چارو په وزارت كي د هلمند د اوبو سوابق مطالعه كول ۰

ـ دغه كمسیون به د یوي ابلاغیي په وسیله د هیوادوالو څخه غوښتنه كړي وای چي د هلمند د اوبو په برخه كي خپل نظریات د بین المللي روابطو كمسیون ته ور ولیږي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د کمسيون ۹ ۲ غړو خپله رسمي لومړي غونډه جوړه کړه ، د تصميم نيولو په وخت کي زموږ يوه ملګري خپل موقف ته تغيير ورکړ او د مخالفينو ډلي ته ورغی ، چي په دغي يوي رايي سره موږ په اقليت کي سوو چي په کمسيون کي زموږ نور پاته کيدل ګټه نه درلوده ، نو څوارلسو وکيلانو ددغه کمسيون څخه استعفا وکړه او د مستعفي وکيلانو نومونه د ولسي جرګي په عمومي مجلس کي ولوستل سول ۰

بله ورځ د کاروان جريدي وليکل ((يو وکيل د کندهار بل د لغمان او بل هم د فراه د ولايت څخه ديوه کمسيون د اداري هيأت پر ټاکلو باندي د کمسيون څخه استعفا وکړه)) ما د وکيلانو د استعفا اصلي علت چي د هلمند د اوبو د معاهدي په ارتباط و او د څوارلسو وکيلانو نومونه وليکل او د کاروان د جريدي مسؤول مدير عبدالحق واله ته مي تسليم کړه او د اطلاعاتو او کلتور د وزير صباح الدين کشککي څخه مي غوښتنه وکړه چي د کاروان جريدي ته امر وکړي چي د وکيلانو ليکل شوې مطلب د سبا ورځي په ګڼي کي خپور کړي ۰ ده زما په جواب کي داسي وويل ((دا اوس د کاروان د جريدي مسؤول مدير ستاسي ليك د مطبعي څخه په تيلفون کي ما ته ولوست او دوی به هغه مطلب د جريدي د سبا په ګڼي کي خپور کړي)) سبا کابل راديو اعلان وکړ چي د کاروان جريده د يوي هفتي لـه پـاره معطله شـوه ، چـي زموږ ليك هـم د نشر څخه پاته سو۰

هغه وخت چي د هلمند د اوبو معاهده د زراعت په کمسيون کي تر بحث لاندي وه ، د کمسيون په يوي غونډي کي صدر اعظم محمد موسي شفيق هم برخه اخستي وه چي زما په شمول د ولسي جرګي ډير وکيلان ددغي غونډي د مباحثاتو د اوريدلو له پاره د کمسيون غـونـډي ته ورغلي وو ۰ تر غونډي وروسته محمد موسي شفيق د بين المللي روابطو د کمسيون څخه د څوارلسو مستعفي وکيلانو په برخه کي وويل چي دی حاضر دی چي ددغو وکيلانو سره خبري وکړي ، هلته فيصله وسوه چي سبا به په صدارت کي د ولسي جرګي د اداري هيأت په حضور کي ، څو وکيلان د صدر اعظم سره خبري وکړي ۰

د صدارت په غونډه کي صدر اعظم محمد موسي شفيق ، ډاکټر محمد عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وردگ ، عزیزالله واصفي ، عبدالکریم عمرخیل ، لعل گل فریاد او عبدالغفار فراهي برخه اخستي وه ۰ په دغي غونډي کي عزیزالله واصفي ، صدر اعظم ته وویل چي د هلمند د اوبو په معاهدي کي د ایران دولت ته اجازه ورکړه سوي ده چي په مرکزي افغانستان کي ددیراوت سیمه تفتیش کړي ۰ دغه اجازه د افغانستان پر ملي حاکمیت باندي تیری دی ۰ عبدالکریم عمرخیل صدر اعظم ته وویل چي د هلمند د اوبو په معاهدي کي د پسرلي په فصل کي ایران ته ډیري اوبه ورکول کیږي چي دا غیر عادلانه ده . صدر اعظم د دوی دواړو په جواب کي صرف دومره وویل ((د هلمند د اوبو معاهده په ښه وخت او په ښو شرایطو لاس لیك سوی ده)) وروسته د صدر اعظم د پورته خبري په ارتباط عمرخیل وویل چي د صدر اعظم دغه خبره د بکوا د دوکاندارانو هغي خبري ته ورته ده چي دوی به ټولو مسافرینو ته چي دډوډی خوړلو له پاره هلته تمیدل دا ویل چي ((هر څه لرو او ء کروت ء لرو))

د صدارت د غونډي ډیر وخت د صدر اعظم او زما تر منځ ، حقوقي بحث ونیوی . صدراعظم ادعا کوله چي د هلمند د اوبو معاهده یوه ملي مسأله ده چي باید وکیلان د دغي موضوع په اړه د ولسي جرګي څخه دباندي خبري ونه کړي او دغه مسأله د ولسي جرګي د غړو له خوا د ترلو دروازو تر شا فیصله کړه سي . ولي ما به ویل چي ولسي جرګه دا صلاحیت نه لري چي د خاوري یا اوبو موضوع فیصله کړي . بلکه دا ډول مسایل باید دهیواد وه لویي جرګي ته وړاندي سي . او که ولسي جرګه په دغي برخي کي کومه فیصله کوي نو د ولسي جرګي غړي باید تجدید صلاحیت کره سي .

هلته فیصله وسوه ، چي حاضر وکیلان به د فني اشخاصو لکه انجینر جمعه محمد محمدي او انجینر محمد اکبر رضا سره هم خبري وکړي ۰ که څه چي دغو وکیلانو د فني اشخاصو سره خبري وکړي ، ولي د صدراعظم سره بـله لیدنه و نه شوه خو دغه وکیلان تر پایه پر خپل پخواني موقف ثابت پاته سوه .

۲۷ ـ زما د وینا متن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۷۳ کال د مي د مياشتي ۱۵

وکلای محترم ! امروز ولسي جرگه بر يك موضوع مهم بحث مي نمايد که فيصله همچو موضوعات از صلاحيت لويه جرگه افغانستان مي باشد ۰ ولي من به حيث يك وکيل جهت توضيح موقف خود در مورد معاهده آب از رود هلمند که در مجلس عمومي مطرح است بايد نظر خود را ابراز دارم ۰

وکلای محترم ! رود هلمند درياي داخلي افغانستان است و از آغاز تا انجام در حدود حاکميت ملي ما جريان دارد و هيچ کشور خارجي حق ندارد که در ثروت ملي ما اشتراك داشته باشد ۰ ولي متأسفانه در طول يك قرن اخير حکومات افغانستان مطابق به ميل اجانب ، گاهي به نظر « گولد سميت » و « مك مهان » وزماني به راپور کمسيون بي طرف ، خود را مجبور دانسته است تا در حق طبعيي مردم افغانستان اراده يك کشور اجنبي را دخيل سازد۰ و حتي طبق همين معاهده از طريق شاخص ديراوت حق کنترول را بر حاکميت ملي افغانستان را نيز حاصل نمايد۰

وکلای محترم ! حالا از محتويات اين معاهده معلومات ذيل به اطلاع مجلس محترم رسانيده مي شود :

۱ ـ مطابق به ماده اول اين معاهده مجموع جريان آب در يك سال نورمال در ديراوت ، چهار مليون و پنج صد و نود هزار ايکرفت (۴۵۹۰۰۰۰) که معادل به يکصد وهشتاد متر مکعب في ثانيه است ، مي باشد ۰ و قرار جدول پروتوکول شماره يك اين معاهده ، در ماهاي حوت ، حمل ، ثور و جوزا به طور اوسط يك صد و چهل متر مکعب آب في ثانيه در درياي هلمند جريان دارد ۰ ودر هشت ماه باقيمانده سال ، طور اوسط صرف چهل متر مکعب آب في ثانيه جريان دارد ۰ که طبق اين معاهده در چهار ماه آبخيزي ، طور اوسط سي و سه متر مکعب آب في ثانيه ودر هشت ماه کم آبي طور اوسط بيست و دو متر مکعب آب في ثانيه به ايران تحويل مي گردد ۰ که به اين حساب در چهار ماه آبخيزي پنجم حصه و در هشت ماه کم آبي بيش از نصف مجموع آب يعني از چهل متر مکعب آب في ثانيه بيست و دو متر مکعب آب في ثانيه به ايران بايد تحويل گردد ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ طبق پروتوکول شماره يك اين معاهده ، در ماه فبروري يعني ماه دلو در يك سال نورمال در شاخص ديراوت دولك و هشت هزار ايكر فت (۲ ۰ ۸ ۰ ۰ ۰) يعني يكصد و دو متر مكعب آب في ثانيه معيار تعيين شده ا ست كه قرار شماره ۱٤٤ راپور كمسيون بي طرف ، صرف پنجاه و يك متر مكعب آب ان به كوهك رسيده مي تواند ۰ كه در برج دلو قرار اين معاهده هفتاد و هشت متر مكعب آب في ثانيه به ايران تحويل مي گردد، كه به اين حساب اگر سال واقعا نورمال هم باشد ، بايد بيست و هفت متر مكعب آب في ثانيه از ذخيره كجكي و يا ذخيره ديگريكه به مصرف افغانستان اعمار گرديده باشد ، به ايران تجويل گردد ۰

۳ ـ كمسيون بي طرف در شماره ٤ ۹ راپور خود نوشته است كي در درياى هلمند در سال ۱ ۸ ۷ ۱ بعد ازء چهار برجك ء براى چهل روز آب عبور نه كرده است۰ در سال ۲ ۰ ۹ ۱ در ياى هلمند پايانتر از (رود بار) كه از بند كمال خان پنجاه ميل بالاتر واقع است ، براي سه ماه خشك بود ۰ در سال ٥ ۰ ۹ ۱ يعني ساليكه سيلابهاى بهاري بسيار كم بود ، در وقت شدت گرما همان سال ، آب درياى هلمند از (نهر نادعلي) و (رود پريان) براى دو ماه نه گذشته است ۰ و همچنان قرار معلومات اهالي نيمروز در سال ۷ ٤ ۹ ۱ (۶ ۲ ۳ ۱) درياي هلمند ، طوري خشك گرديد كه در منطقه (ميان كنگي) مردم انجا براي آب نوشيدني در داخل ديايي هلمند چاها حفر كردند ۰ كه خشك سالي ۱ ۷ ۹ ۱ به همه يي ما وشما معلوم است كه با موجوديت ذخيره كجكي باز هم قلت شديد آب در منطقه سفلي هلمند محسوس بود۰

وكلاى محترم ! در سالهاى آينده اگر يكسال تحت نورمال باشد و شاخص ديراوت در برج دلو مقدار آب را پنجاه فيصد پايانتر از نورمال يعني بجاي يكصد و دو متر مكعب ، پنجاه و يك متر مكعب آب في ثانيه نشان دهد ، كه اين مقدار طبق مطالعات كمسيون بي طرف ، اگر افغانستان از ان هيچ استفاده هم نه نمايد ، اين مقدار آب به كوهك نه مي رسد و ضايع مي گردد ۰ ولي مطابق اين معاهده حق آبه ايران هم پنجاه فيصد تقليل مي يابد ۰ يعني از هفتاد و هشت متر مكعب به چهل متر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکعب في ثانيه تقليل مي يابد ۰ يعني باوجود انکه در دريای هلمند آب نباشد بايد چهل متر مکعب آب به ايران تحويل گردد۰ که اين مقدار آب را افغانستان از کجا و چطور تهيه خواهد کرد ؟

٤ ـ مطابق به شرايط اقليمي وادي هلمند ، مخصوصا در جوار منطقه دلتا که کمسيون بي طرف در شماره ١٤٤ راپور خود ، در امتداد دريا از بندر کمال خان تا کوهك ، مقدار ضايعات آنرا پنجاه فيصد محاسبه کرده است ۰ يعني اگراز ضايعات طول دريای هلمند و ضايعات داخل انهار ، بعد از منطقه کوهك صرف نظر هم شود ، و سيلابهاي ماهاي حوت ، حمل ، ثور وجوزا با مصارف کمر شکن قروض با مفاد دول خارجي ذخيره و کنترول هم گردد ، مقدار هفتاد متر مکعب آب باقيمانده که در شماره های ١٣٨ ، ١٤٢ ، ١٤٣ راپور درج گرديده است ، حتي برای پنجصد و پنجاه هزار ايکر زمين پروژه وادي هلمند کفايت نه خواهد کرد ۰ و افغانستان برای آبياري صدها هزار ايکر زمين موسي قلعه ، نوزاد ، کشك نخود ، دشت ريگستان مارگو ، گودزري ، تراخو ، اراضي خاش ساحه نيمروز و دشت بکوا که قبلا جهت آبياري آن از رود هلمند سروي هم شده است ، از کجا آب تهيه خواهد کرد ؟

٥ ـ حال از مواد ٤ ، ٢٨ ، ٣١ ، ٦١ ، ١٣٨ ، ١٤٢ ، ١٤٣ و ١٤٤ راپور کمسيون بي طرف به مجلس محترم معلومات تقديم مي نمايم ۰ در مواد فوق راپور نوشته شده است که سيستان از لحاظ جغرافيايي جز خاك افغانستان است ، در منطقه دلتا در يك سال صرف چهار انچ باران مي بارد که آن هم فورا جذب و تبخير مي گردد ۰ زراعت در آن منطقه منحصر به آبياري مي باشد ۰ منطقه سيستان جمعا شامل پنج لك ايکر زمين است که يکصد و چهل و نه هزار ايکر آن سالانه کشت مي شود ، و طبق عرف آن منطقه يك قطعه زمين بعد از سه سال يك بار کشت مي گردد و به عوض يك ايکر فت (١،٧٨) ايکر آب براي يك ايکر زمين سيستان تجويز شده است ، که اين مقدار آب جمعا دوصد و شصت و پنج هزارايکرفت آب (٢٦٥٠٠٠) که معادل (١٠،٨) متر مکعب آب في ثانيه است ، کافي دانسته شده است ۰ شش هزار ايکر فت آب ديگر براي مصرف اهالي و مواشي بر آن افزود گرديده است ۰ که

(c) ketabton.com: The Digital Library

این مقدار جمعا به یازده متر مکعب آب في ثانیه رسیده است ۰

وکلای محترم ! بر علاوه بخشش چهار متر مکعب آب به نام (حسن نیت) از طرف پادشاه افغانستان ، یازده متر مکعب آب في ثانیه ازین جهت دو برابر شده است که از بند کمال خان تا کوهك پنجاه فیصد ضایعات ، و در داخل نهرهای منطقه سیستان نیز پنجاه فیصد ضایعات قبول و محاسبه شده است ۰ که مقدار (۸ ، ۱۰) متر مکعب آب به بیست و شش متر آب في ثانیه رسیده است ۰ یعني از بند کمال خان باید پنجاه و دو متر مکعب آب في ثانیه رها گردد تا (۸ ، ۱۰) متر مکعب آب به اراضي سیستان برسد ۰ و ایران به عوض یك و نیم لك ایکر زمین خود ، حالا تمام اراضي منطقه سیستان را که بالغ بر پنج لك ایکر زمین میگردد ، قرار عرف آن منطقه مي تواند به این مقدار آب ، آبیاري نماید ۰

من این معاهده را به ضرر مردم افغانستان مي دانم و آنرا رد مي نمایم ۰ بااحترام

تبصره : په هند کي د افغاني محصلینو اتحادیي ، د هلمند د اوبو د معاهدي د نیمگړتیاو په اړه یوه تحقیقي لیکنه ما ته رالیږلي وه . په دغي لیکني کي د برتانوي هند د سکرترجنرال ء سر بنتوم ء د قوله لیکل سوي وو چي ((باران او واوره یو خدایي رحمت دی چي د افغانستان پر خاوري باندي اوري ، او د دغه رحمت څخه باید په خپله افغانان استفاده وکړي)) ما د خپلي پارلماني وینا یو نقل د اتحادیي د مشر زین العابدین ممتاز په ادرس په هند کي د علیگر پوهنتون د حقوقو پوهنځي ته ولیږی .

د هلمند د اوبو د معاهدي په باب څو نوري خبري

ـ د هلمند په رود کي د حوت ، حمل ، ثور او جوزا په میاشتو کي ډیري اوبه سته ولي د کال په نورو میاشتو کي په دغه رود کي د اوبو مقدار بیخي لږ وي ۰ دو لسي جرگي د خینو وکیلانو نظر داو چي ایران ته دي د ډیرو اوبو څخه ډیري او د لږو اوبو څخه لږ اوبه ورکړل سي ۰ او ایران دي په خپله خاوره کي د اوبو د ذخیره کولو بندونه جوړ کړي ۰ ولي ایرانیان د هلمند د رود د آبخیزي د میاشتوډیري اوبه خپلي خاوري ته نه پریږدي ، په تأسف چي ددغو اوبو په وسیله د نیمروز دوي ولسوالۍ او یوه علاقه داري ، هر کال تر اوبو لاندي وي ۰ او بر عکس ایرانیان د مني په میاشتو کي چي هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار اوبه د کمال خان بند ته رسيدي ، هغه ټولي اوبه به يي د ايران له پاره غوښتي، او د نيمروز خلگو د ايرانيانو.د شکايت په وجه اجازه نه درلوده چي د هلمند په رود کي آبگردان بندونه جوړ کړي ٠

ـ د هلمند د اوبو د معاهدي مطابق د افغانستان په مصرف يو بند د دواړو هيوادونو پر سرحد په لس مليونو ډالرو جوړيږي ٠ د زراعت په کمسيون کي د حکومت د نماينده څخه يوه وکيل داسي پوښتنه وکړه ((څرنگه چي دغه بند د ايران له پاره جوړيږي ، نو بايد ددغه بند مصرف د ايران د حکومت څخه غوښتل سوي وای)) د حکومت نماينده په جواب کي وويل ((موږ ته افغاني غيرت اجازه رانه کړه چي د ايران د حکومت څخه ددغه مصرف غوښتنه وکړو)) د حکومت نماينده دغه خبره هغه وخت وکړه چي په افغانستان کي لوږه او وچ کالي وه او د افغانستان ډير خلگ د لوږي څخه مړه سوي وو ، او د افغانستان حکومت د سوال کچکول غاړي ته اچولی و او د ټولي نړۍ څخه يي د مرستي غوښتنه کوله . (٣ ٥)

ـ د هلمند د اوبو معاهده د ١ ٩ ٧ ٣ کال د مي د مياشتي پر ٢٢ نيټي په لوی اکثريت د ولسي جرگي په عمومي مجلس کي په تصويب ورسيده ، چي د ولسي جرگي د ٢١٦ غړو څخه، د حاضرو ١٥٣ وکيلانو څخه ١٢٧ وکيلانو د معاهدي په تاييد رايه ورکړه او زما په شمول ٢٥ وکيلانو مخالفي رايي او يوه ممتنيع رايه ورکړه سوي وه ٠ دغه معاهده په مشرانو جرگي کــي هــم تصويب شــوه او د افغانستان پاچا توشيح کري ده ـ د هلمند د معاهدي مصدقه اسناد د محمد داود خان د جمهوريت په وخت کي د ١٩٧٧ کال د جون په مياشت کي د افغاني سفير زلمي محمود غازي له خوا په تهران کــي تبادلــه سوه ٠ دغــه معاهده د ايــران په غوښتنه په ملگرو ملتونو کــي ثبت سوي هــم ده ٠

ددغي معاهدي په هکله د محمد هاشم ميوندوال د وينا يوه برخه ، د ١٩٧٣ کال د مارچ د مياشتي ١٣ ، د زرنگار پارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

۰۰۰ معاهده منحوس و مردود ۲۲ حوت هم از نظر سياسي و هم از نظر حقوقي در موقعي امضا ميشود و به شكلي امضا ميشود كه به هيچ صورت پا به اعتبار ساسي و قانوني و ملي ندارد . از نظر سياسي به خاطري كه يك حكومت رو به زوال كه به حكم قانون اساسي يك چند ماهي از عمر ان باقي مانده است و يك شوراي رو به اختتام كه چند ماهي از ان باقي مانده است و همچنان يك كابينه اي كه حتي خودش نصاب ندارد نميتواند در يك موضوع ملي متعلق به مردم افغانستان كه حد اقل بايد به سويه يك لويه جرگه در باره ان فيصله بعمل مي آمد تصميم بگيرند و تصميم نهايي اتخاذ كنند . ما همچنان مي بينيم كه اين معامله گري در فضاي انجام مي يابد كه مكتوم ، مدفون و از اذهان پوشيده است و حتي حكومت اعتراف مي كند كه درين باره اسراري موجود است كه آنرا نميتواند باطلاع مردم افغانستان برساند . ما حتي نميتوانستيم از متن اين معاهده آگاه شويم اگر اين معاهده را اولاً خود منابع ايراني به جرايد و مطبوعات به نشر نمي سپردند . و اين معامله در عقب مردم افغانستان و بدون اطلاع مردم افغانستان و بدون صلاحيت و پشتيباني از مردم افغانستان انجام شده است و خواهد شد ولي ملت افغانستان نخواهد گذاشت كه اين معامله قاطعيت پيدا كند ۰۰۰۰ بما ميگويند كه ما يك معضله صد ساله را خاتمه داده ايم . آنها ميگويند كه دولت ايران پيشنهاد ما را قبول كرد . پس بياييد ببيينيم كه با اين معاهده آيا انها يك مسأله را كه موجود نه بود خاتمه داده اند و يا هزاران مسايلي را تازه بوجود آورده اند ؟ آيا آنها يك دعواي دروغين را خاتمه داده اند و يا با ايران يك دعواي دايمي را پي ريزي كرده اند ؟ آيا آنها اختلافات را از بين برده اند و يا تازه براى اختلافات ميانجي شده اند؟ آيا آنها بررسي اختلاف صد ساله را كه موجود نه بود براى آنكه هيرمند درياى افغانستان است وكسي با ما در باره آن حق اعتراض ندارد از بين برده اند ويا اينكه راه را براى اين اختلافات باز كرده اند ؟ ۰۰۰ شما دريايي را كه از افغانستان است وحقي را كه از افغانستان است و برمال مردم افغانستان چي حق داريد كه آنرا به ديگران بخشش كنيد و آنرا حسن نيت نام بگذاريد. آخر اين شامپوى فرانسوي يا روغن بناسپني نيست و يا برنج ديره دوني نيست كه آنرا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

همسایه خود بخشش بدهیم ۰۰۰۰

د څلورم فصل یادداشتونه

۱ ـ د نامه لیکل یې لازم نه بولم ۲ ـ د لغمان د یوه اوسیدونکي په قول

۳ ـ د کابل د یوه اوسیدونکي په قول ٤ ـ د یوه وکیل په قول

٥ ـ د یوه وکیل په قول ٦ ـ د هغه حزب د یوه غړي په قول

۷ ـ د یوه وکیل په قول ۸ ـ رشتیا ، ذکر سوی اثر ، مخ ۳۲۱

۹ ـ د یوه وکیل په قول ۱۰ ـ د مساوات جریده ، کال ۱۹٦۹

۱۱ ـ د محمد شاه رحمتیان په قول ۱۲ ـ عبدالرسول بره کي

۱۳ ـ شمس الحق پیرزاده ۱٤ ـ زما مشاهدات

۱٥ ـ زما مشاهدات ۱٦ ـ زما مشاهدات

۱۷ ـ کبیر سراج ، محمد نذیر ، رویداد هاي نیمه اخیر سده بیست در افغانستان صفحه ۷۱

۱۸ ـ زما مشاهدات

۱۹ ـ عظیمي ، محمد نبي ، اردو وسیاست در سه دهه اخیر افغانستان ، صفحه٤ ۲ ۲

۲۰ ـ زما مشاهدات ۲۱ ـ د نامه د لیکلو اجازه یې نه لرم

۲۲ ـ زما مشاهدات ۲۳ ـ زما مشاهدات

۲٤ ـ زما مشاهدات ۲٥ ـ رشتیا ذکر سوی اثر ، مخ ۲۹۰

۲۶ ـ مجله خراسان ، شماره ماه اکتوبر ۱۹۸۸ ، صفحه ٤ ۲

۲۷ ـ رشتیا ، ذکر شوې اثر مخونه ۱۸۸ ، ۱۸۹

۲۸ ـ مبارز ، ذکر شوې اثر مخ ۲۹۶

۲۹ ـ د اکونو میست مجله د ۱۹۹۸ کال د جنوري ګڼه، مخ ۳۳

۳۰ ـ د ګل پاچا الفت شعر

۳۱ ـ کشککي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱۰۸

۳۲ ـ د نامه د لیکلو اجازه یې نه لرم ۳۳ ـ زما مشاهدات

۳٤ ـ غبار ، ذکر شوې اثر ، لومړی ټوك مخ ۷۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ۳ ـ د نامه د ليکلو اجازه يي نه لرم

ځلورمه برخه

پنځم فصل

ه : د جمهوريت دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ د محمد داود خان کودتا

د ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي ۱۷

په دغه کال کي چې محمد داود خان کودتا وکړه په افغانستان کي د يوه تغيير او تحول نښي ليدل کيدي ۰ د ۱۹۷۳ کال د جون د مياشتي پر ۲۵ نيټي د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه د سترګو د علاج په نامه په يوه اوږده سفر اروپا ته تللې و ، صدراعظم محمد موسي شفيق چي تر يوه ساعت په لږ وخت کي د ولسي جرګي څخه د اعتماد رايه واخسته ، داسي ښکاره کيده چي د آګست د مياشتي تر ۱۳ نيټي وروسته چي د ديارلسمي دوري شورا د کارکولو آخري ورځ وه ، ده په افغانستان کي د يوه قوي او باثباته حکومت د راوړلو هڅي پيل کولي ۰ د بلي خوا څخه په هيواد کي د لاندي دروو کودتاګانو آوازي هم خپري شوي وي :

د محمد داود خان کودتا ، د سردار عبدالولي کودتا او د محمد هاشم ميوندوال کودتا . اما محمد داود خان وار دمخه کړ او د ۱۹۷۳ کال د جولای د مياشتي پر ۱۷ نيټي يي کودتا وکړه ، چي د کودتا ديوه غړي په قول د کودتا کونکوشمير تر سلو کسانو لږ وو ۰ محمد داود خان د کودتا په لومړي سهار د کابل راديو له لاري څخه د شاهي نظام د ړنګيدلو او د جمهوريت د تاسيسيدلو مهم ټکي داسي څرګند کړه :

((۰۰۰ خپل وطن ته په خدمت کي ، د بيلو مسؤوليتونو د يوي اوږدي مودي په اوږدو کي ، هميشه د يوه هدف په لټه کي وم چي د افغانستان د خلګو په تيره بيا د محرومو طبقو او زموږ د هيواد د ځوان نسل له پاره يو مثبت او واقعي محيط ، مادي او معنوي وده منځ ته راسي او په هغه کي زموږ د وطن ټول وګړي بي له توپير او امتيازه د خپل وطن د آبادي او سر لوړي په لاري کي برخه واخلي او د مسؤوليت احساس وکړي۰۰۰ ما د خپل وطن د راتلونکي نيکمرغۍ له پاره د يوي واقعي او معقولي ديموکراسۍ ټينګيدلو څخه پرته چي اساس يي د افغانستان د ولس اکثريت ته په خدمت ټينګ وي ، بله لاره نه درلوده او نه يي لرم ۰۰۰ په هر صورت نتيجه دا سوه چي نور هغه پخواني اميدونه او ښي هيلي په يوي داسي ديموکراسي بدله سوه چي د لومړي سر څخه د هغه بنسټ په شخصي او طبقاتي عقدو او ګټو ، په تقلب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسیسو په دروغو او ریا او د خلګو په غولولو باندي ولاړ و ۰ خو د دروغو دغو ټولو تبلیغاتو په همدي لسو کلونو کي و نه سوای کړای ، هغه ترخه حقایق چــي د اقتصادي حالت د مطلقــي ورشکسګي او د مملکت د اداري ، اجتماعي او سیاسي حالت د انحطاطونو څخه عبارت دي ، د افغانستان د ملت او خارجي نړي له سترګو څخه پټ کړي ۰ لنډه دا چي دیموکراسي یعني د خلګو حکومت په یو انارشیزم او د مشروطه سلطنت رژیم په یوه مطلق العنان رژیم بدل سو ، او دغو قدرتونو هر یوه د بل په غاړه او د خلګو غاړي ته ورولویدل او تفرقه واچوي او حکمراني وکړي په فورمولونویي په ټول هیواد کي اور بل کړ ، تر څو چي وکړای سي ددغي ملوثي او ناوړي او له بدبختي ، فقر او فلاکت څخه ډکي فضا په سیوري کي خپل شوم مقصدونه حاصل کړي۰۰۰ د دولت رژیم او دستګاه دومره فاسده سوه چي نور نو د هغي د اصلاح له پاره امید او انتظار پاته نه سو۰ همدا وجه وه چي ټول وطن پالونکي په تیره بیا د افغانستان وطن پرسته اردو تصمیم و نیوي چي نور دغه فاسد نظام پای ته ورسیږي او وطن له دغي بدبختي څخه خلاص کړي۰۰۰ نوي نظام طبعا له خانه سره بنیادي ریفورمونه لري چي تفصیل یي باید په راتلونکي وخت کي په تفصیلي ډول بیان سي۰۰۰ د افغانستان خارجي سیاست به د بي طرفي ، په نظامي ډلو تپلو کي د برخه نه اخستلو ، د افغانستان د خلګو پر آزاد قضاوت ولاړ وي د افغانستان بین المللي سیاست زموږ د خلګو د مادي او معنوي ژوندانه ، د هیواد د ملي هیلو پر اساس طرحه سوی دی ۰ زموږ د ملي کوشش او هیلو څخه په ډاګه څرګندیږي چي زموږ د هیلو تر سره کیدل تر ټولو زیات د نړي سولي ته اړتیا لري ۰ هیڅ یو هیواد د نړي د سولي له رڼا پرته ، نه سي کولای چي په خپلو ملي هیلو بریالي سي۰۰۰ نو همدا وجه وه چي د افغانستان د سیاست لومړي بنسټ د صلحي غوښتنه او د نړي د ټولو خلګو او ملتونو سره دوستي کول دي ۰ په دي هیلي کي زموږ سره د هیڅ یو هیواد یا ولس که کوچني وي او که لوی ، لیري وي او که نژدي هیڅ ډول توپیر نه سته۰۰۰ دغه نظام د ملګرو ملتونو د منشور اساسات چي مقصد یي د بشري نړي نیکمرغي او آرامي ده محترم ګڼي، د پاکستان سره زموږ په روابطو کي چي یوازني هیواد دی چي د پښتونستان د قضیي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باب د هغه سره سياسي اختلاف لرو او تر اوسه د هغه په حل نه يو بريالي سوي ۰ د پښتونستان د قضيي د حل د لاري د پيداكولو له پاره به زموږ كوششونه دوام ولري۰۰۰)) (۱)

د جولاى د ۱۷ په كودتا كي د كودتا د يوه غړي په قول لږ خلگ يعني اووه كسان وژل سوي دي چي دا تر ډيره حده د محمد داود خان د ښه شهرت او د كودتا كونكو د همه جانبه سنجش نتيجه وه ۰ د كودتا په هكله خيي افغانان په دي عقيده وو چي په هيواد كي د حالاتو كنترول د افغانستان ددولت د واكه وتلي و او ددغي وضعي د بدلولو له پاره محمد داود خان د پاچا په خوښه كودتا كړي ده . خينو افغانانو داسي فكر كاوه چي محمد داود خان د هلمند د اوبو د معاهدي پر ضد كودتا كړي ده ۰

د جولاى د ۱۷ د كودتا په آسانه بريالي كيدلو كي دا موضوع هم د توجه وړ ده چي په شاهي اردو كي دداسي غير مترقبه حوادثو د مخنيوي له پاره قبلي آماده گي نه وه نيوله سوي ، چي حتي د اردو افراد د كودتا د نامه سره آشنا نه وو ۰ يوه جلبي عسكر چي په پل چرخي كي يي وظيفه درلوده ما ته وويل چي د كودتا په شپه كودتا كونكو زموږ د ټولگي سلاح كوټ مات كړ او ډير مهمات يي د هغه خايه خخه وايستل او ډير عسكر د عرادجاتو په نقل او انتقال راوبش سول ، په دغه وخت كي يوه عسكر نورو ته وويل چي بيده سئ ، دا خپل خلگ دي ! او موږ بيرته بيده سو۰ ما ددغه عسكر خخه پوښتنه وكړه چي تاسي ولي دغه خلگ خپل و بلل ؟ ده زما په جواب كي وويل چي دوى روسي ، پاكستاني يا ايراني نه وو چي موږ ددوى سره مقابله كړي واى . (۲)

لاندي كسان د كودتا په لومړي شپه بنديان سوه او د عبدالقدير نورستاني په كور كي تر نظارت لاندي و نيول سول : (۳)

د سلطنت د مقام كفيل شاهزاده احمد شاه ـ مارشال شاه ولي خان ـ دمركزي قواوو قوماندان سردار عبدالولي ـ صدراعظم محمد موسي شفيق ـ ددفاع وزير ستر جنرال خان محمد خان ـ دهوايي او مدافع هوايي قوماندان جنرال گلبهار خان ـ دسلطنتي گارد قوماندان جنرال غلام محمد ـ د توپچي د لوا قوماندان جنرال قمرالدين ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوماندو دقوي قوماندان ډګروال رحمت الله خان سابې ـ درشخورو دفرقي قوماندان جنرال عبدالحکیم خان کټوازې ـ دقرغي داتمي فرقي قوماندان جنرال علي نواز خان ـ دڅلورمي زرهي قوي قوماندان جنرال شیر محمد خان ـ دپنځلسمي زرهي قوي قوماندان جنرال حسین خان ـ دژاندارم او پولیسو عمومي قوماندان جنرال سید عبدالغني . د پاچا سریاور جنرال محمد عمر خان چې د کودتا په سهار د شاهزاده احمد شاه کور ته ورغلې و د هغه خایه څخه د عبدالقدیر نورستاني کور ته یووړل سو داخله وزیر ډاکټر نعمت الله پژواك په خپل کور کي تر نظارت لاندي ونیول سول چي وروسته دمحمدداود خان په کابیني کي دپوهني وزیرسو(٤)

د کابل د امنیي قوماندان دګرمن عبدالحنان او د کابل سرمامور ګل نبي خان هم په دغه شپه بندیان سوي دي ۰ یو شمیر بندیان ډیر ژر خوشي سول او یو څه نور یي د دهمزنګ محبس ته انتقال کړه ۰ مارشال شاه ولي خان په خپل کور کي او سردار عبدالولي په ارګ کي تر نظارت لاندي و نیول سوو ۰ د کودتا په سهار ، ځیني وزیران چي خپلو وزارتونو ته تله ، د بریکوټ په سیمه کي توقیف سول او د لږ وخت له پاره په ژوبڼ کي تر نظارت لاندي وو ۰

د کودتا په لومړي سهار محمد داود خان په خپله کابل رادیو ته ورغلې و ۰ د کابل رادیو نطاق وایي ((دې د نبي عظیمي او عبدالستار په وسیله د خپل کور څخه کابل رادیو ته وړل سوی دی)) دی داسي هم وایي ((د اناونس په وخت کي محمد داود خان ماته وویل چي دده د نامه سره د سردار کلمه باید یاده نه کړم ، ولي ډاکټر محمد حسن شرق ، محمد داود خان ته وویل چي ددي له پاره چي د افغانستان خلګ تاسي وپیژني ، د سردار د کلمي یادول ضروري دي)) (٥)

د جولای د ١٧ کودتا دومره بي ږغه وه چي د کابل په ښار کي ډیر خلګ په کودتا نه دي خبر شوي۰ د سهار پر اوو بجو ، کله چي د کابل رادیو نطاق وویل چي دادې اوس سردار محمد داود خپله وینا اوروي ، زما په شمول ډیرو افغانانو داسي فکر کاوه لکه چي بیا محمد داود خان د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور سوی دی ۰ ولـي د محمد داود خان له وینـا څخه پوره څرګنده سوه چـي ده کـودتـا کـړي ده ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دکتاب په لومړي چاپ کي دمحمد داود خان دکودتا په باب ځیني مطالب چي دمختلفو آثارو څخه مي اخستي وو ، خپاره کړي دي . ولي ددغي کودتا یو مهم غړي پاچا گل خان وفادار دهغو مطالبو سره موافقه نه لري ، ما دده د اظهاراتو پر اساس دهغو مطالبو ځیني ټکي تصحیح کړي دي . پاچا گل خان وفادار دکودتا کونکو دبارزو اشخاصو په ارتباط وایي چي په کودتا کي هوایي ، کوماندو او دټانك قواوو قاطع نقش درلود چي ما ، فیض محمد او حبیب الله زرمتي ددغو قواوو رهبري پر غاړه درلودله دی وایي چي ما دمخابري آله دمحمد داود خان په کور کي فعاله کړه او ده دهغي آلي په وسیله دشپي پر یوي نیمي بجي د کودتا هدایت صادر کړ ، ولي موږ تر هغه دمخه دشپي پر ۱۲ بجو دکودتا عملیات پیل کړي وو او ډیر حساس ځایونه مو تر خپل کنترول لاندي راوړي وو . دی دمحمد هاشم میوندوال په ارتباط وایي چي زه محبس ته دخپل یوه ملگري دلیدلو له پاره چي هغه هم دمیوندوال دکودتا په اتهام بندي شوی و ورغلی وم ، زما دغه ملگرې دتحقیق دغړو له خوا ډیر وهل شوی و ، ما هلته میوندوال هم ولید چي ډیر ډنگر شوی و او یوه تش کالبد ته ورته و .

۲ ـ شورا منحله سوه

ددیموکراسۍ دوري د شورا ختمیدلو ته یوازي ۲٦ ورځي پاته وي ٠چي محمد داود خان کودتا وکړه ٠ د ولسي جرگي وکیلانو د یـوه لیك په وسیله محمد داود خان ته د نوي نظام مبارکي وویله او ځینو وکیلانو دده سره ولیدل٠

زما په شمول د ولسي جرگي ټول وکیلان د محمد داود خان په کودتا خبر نه وو ، ولي د کودتا په لومړیو ورځو کي ، څلور وکیلان د حکومت په لاندي مقامونو کي مقرر سول : عزیز الله واصفي د ننگرهار والي ، عبدالکریم عمرخیل د پروان والي ، حاجي محمد آصف پاس یوسفي د بغلان والي او عبدالغفار فراهي د خارجه وزارت سیاسي مدیر ٠ ددغو وکیلانو په مقرریدلو سره ځینو خلگو داسي فکر کاوه چي وکیلانو هم د محمد داود خان په کودتا کي برخه درلوده ٠

د شورا غړو د سرطان د میاشتي معاش ددغي میاشتي پر ۲۵ نیټي اخستې و ، جمهوري نظام ټولو ولایتونو ته امر وکړ چي د سرطان د میاشتي د پنځو ورځو معاش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيرته د شورا د غړو څخه تحصيل کړي ، او امنيتي مقاماتو په ډير شدت سره دغه زر افغاني د شورا د غړو څخه واخستي چي دشورا غړو د جمهوريت دغه اقدام يو انتقام جويانه عمل و باله او ډير وکيلان د جمهوري نظام څخه خوابدي سول ٠

٣ ـ پاچا ژر استعفا وکړه

په هغه ورځ چي محمد داود خان کودتا وکړه ، د افغانستان پاچا په ايتاليا کي و ، دې ډير ژر په روم کي افغاني سفارت ته ورغی چي د افغاني سفيرنور احمد اعتمادي او د سلطنتي کورنۍ د نورو غړو سره مشوره وکړي ٠

نور احمد اعتمادي تر دي دمخه هم د پاچا او محمد داود خان تر منځ د اختلافاتو د رفع کولو هڅي کړي وي ٠ د ه د اساسي قانون په مشورتي کمسيون او لوي جرگي کي د اساسي قانون د ٢٤ مي مادي سره مخالفت کړی و ٠ دی په دي پوهيدي چي ددغي مادي په تصويبيدلو سره محمد داود خان د پاچا سره ډير خوابدی کيږي ٠ ولي هلته هيچا د نور احمد اعتمادي خبرو ته توجه و نه کړه ، او د اساسي قانون ٢٤ مه ماده يي په لوي جرگي کي لا پراخه کړه چي ددغه اقدام په نتيجه کي د محمد داود خان او پاچا خوابدې د دښمنۍ سرحد ته ورسيده

په روم کي پاچا د خپلو مشاورينو سره څو ورځي خبري وکړي چي په نتيجه کي پاچا په دي قانع سو چي د محمد داود خان سره د نور مخالفت څخه لاس واخلي او جمهوري نظام و مني او د سلطنت څخه استعفا وکړي ٠

د محمد ظاهر شاه استعفا نامه

بسم الله الرحمن الرحيم

ورور جلالتمآب جمهور رئيس !

د هغه وخت څخه چي ما د وروستيو جرياناتو خبر واوريدې ، تر اوسه زما فکر هيواد ته متوجه و ، او د هيواد راتلونکي ته نگران وم ٠ ولي کله چي پوه سوم چي د افغانستان خلگو د خپلو ملي کارونو د راتلونکي اداري له پاره په لوی اکثريت د جمهوريت استقبال کړې دی ، نو د خپلو خلگو د رايي په احترام خان د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت څخه مستعفي شميرم او په دي وسيله خپل تصميم تاسي ته ابلاغوم ۰ په داسي حال کي چي زما هيله د هيواد سعادت او لوړوالي دی ، خان د يوه افغاني فرد په حيث د افغانستان د بيرغ تر سيوري لاندي راولم ۰ زما دعا داده چي لوی او غښتلي خدای دي د وطن د حامي او وطنوالو مل وي ۰

محمد ظاهر شاه د افغانستان پخواني پاچا

د ۲ ۵ ۳ ۱ کال د اسد د مياشتي ۱ ۲ نيټه (۶)

رشتيا ليکي چي((په ۱۹۷۵ کال کي محمد ظاهر شاه په خپل لومړي او يوازني مصاحبي کي چي د يوه امرکايي ليکوال Ralph Magnus سره يي کړي وه ، ده ويلي و چي محمد داود خان تر فشار لاندي د مجبوريت څخه کودتا کړي وه .)) (۷)

٤ ـ آيا سلطنتي کورني د کودتاکونکو په هوويت خبر وو ؟

کبير سراج په خپل اثر کي ليکي چي سردار عبدالولي ده ته ويلي و ((ما د جمهوري ارگ د قوماندان صاحب جان خان او دوو نورو صاحب منصبانو په وسيله چي ما د محمد داود خان په ډلي کي د اشتراك له پاره گمارلي وو ، موثق اطلاعات او تاتيپ شوي خبري برابري کړي وي ، او پاچا هغه اوريدلي دي ۰ ولـي پاچا ما ته امر وکړ چي په محمد داود خان کار و نه لرم)) (۸)

محمد عزيز نعيم ليکي ((کله چي ما په ۹ ۶ ۹ ۱ کال کي د پوهنتون د معضلي په هکله د پاچا سره وليدل، ده ماته وويل ، چي څو کمونيستو صاحب منصبانو په اردو کي آشوب جوړ کړی دی او دوی د محمد داود خـان د نـا مـه څخه نـاوړه استفاده کوي)) (۹) دی په دغه ارتباط بل خای ليکي ((کله چي په ۵ ۷ ۹ ۱ کال کي ما په روم کي پاچا وليد ، ده ما ته وويل چي زه د محمد داود خان په کودتا يو کال دمخه خبر وم خو د کودتا د تطبيق وخت د۳ ۷ ۹ ۱ کال دمني په ورخو کي پيشبيني کيدی چي تر هغه دمخه ما غوښتل چي په هيواد کي داضطراري حالت اعلام وکړم)) (۱ ۰) دې بل خای ليکي چي ((په ۶ ۷ ۹ ۱ کال کي محمد داود خان زما د يوي پوښتني په جواب کي وويل چي د ۱۹۷۳ د پاځون په برخه کي د شوروي اتحاد يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو کمونستانو سره کوم تفاهم نه دی سوی)) دی لیکي ((د ۱۹۷۳ کال د کودتا د کمونستي افسرانو ماهیت د محمد داود خان څخه پټ ساتل سوی و)) (۱۱)

ډاکټر محمد حسن شرق په دغه ارتباط لیکي ((موږ په ۱۹۶۹ کال کي د کودتا په فکر کي نه و)) دی لیکي ((د سردار عبدالولي د کور ضابط او خورد ضابط هم زموږ د کودتا ملګري وو)) (۱۲) دی بل ځای لیکي ((که محمد داود خان د خپلي کودتا د ملګرو په هویت خبر نه و ، نو زموږ د دښمنانو دا خبره رشتیا ده چي محمد داود خان په کودتا کي سهم نه درلود ، بلکه دی یو روپوش و)) (۱۳)

اوس افشا سوي ده چي د محمد داود خان تر کودتا څو میاشتي وروسته ، داخله وزیر فیض محمد په پکتیا کي د ذوالفقار علي بوتو د یوه نماینده سره لیدلي و او هغه ته یي ویلي وه چي ((موږ د محمد داود خان پر ضد کودتا کوو چي که د پاکستان حکومت موږ په رسمیت وه پیژني)) ولي ذوالفقار علي بوتو د خپل نماینده په جواب کي ویلي وو چي ((موږ دغه خلګ نه پیژنو او پر دوی باندي اعتماد نه سو کولای ، او محمد داود خان موږ پیژنو او دده سره معامله کولای سو)) (۱۵)

دلته دا مطلب د یادولو وړ بولم چي د ۱۹۷۳ کال تر کودتا یو کال وروسته ، د کودتا ځیني غړي د محمد داود خان له نظره ولویدل او په جمهوري دولت کي یي خپلي حساسي چوکۍ له لاسه ورکړي ، او دغه اشخاصو د جمهوري دولت څخه د انتقام اخستلو په وجه ، په اردو کي د بلي کودتا په لټه کي سول ، لکه ډګروال عبدالقادر ، محمد اسلم وطنجار او اسدالله سروري چي دغو اشخاصو په لاندي ډول د ۱۹۷۸ کال د اپریل د ۲۷نیټي په کودتا کي فعاله برخه اخستي وه :

ـ د ټانك لومړي مرمي د محمد اسلم وطنجار له خوا ددفاع پر وزارت فیر سوي وه او ده د ثور د نظامي کودتا خبر په کابل رادیو کي په پښتو ژبي لوستی دی.

ـ پر شاهي ارګ باندي هوایي حملي د عبدالقادر او دده د ملګرو له خوا شوي دي او ده د نظامي کودتا خبر په کابل رادیو کي په دري ژبي لوستی دی.

ـ د ثور د کودتا په ورځ اسدالله سروري د ارګ د خولي څخه محمد داود خان ته په لوړ سپیکر کي ویلي و چي زه اسدالله یم خان تسلیم کړه . (١٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـ مرکزي کميټه

د ۱ ۹ ۷ ۳ کال د کودتا په لومړيو ورځو کي د هيواد په ورځپاڼو کي يو عکس خپور سو چي څوارلس کسان د يوه ميز پر څلورو خواوو ناست وو ، فيض محمد چي د کوماندو دريشي اغوستي وه د خبرو په حالت کي ليدل کيدی ، د محمد داود خان پر دواړو اړخونو ډاکټر محمد حسن شرق او سيد عبدالاله ناست وو ۰ د مرکزي کميټي رئيس محمد داود خان او منشي يي ډاکټر محمد حسن شرق و ۰ او د کميټي غړي دا لاندي کسان وو :

فيض محمد ، سيد عبدالاله ، پاچا گل وفادار ، عبدالحميد محتاط ، غلام حيدر رسولي ، عبدالقدير نورستاني ، غوث الدين فايق ، احمد ضيأ مجيد ، محمد سرور نورستاني ، مولاداد او محمد يوسف ۰ په دغه عکس کي خليل الله بابکرخيل هم ليدل کيدی ولي دی د مرکزي کميټي غړی نه و ۰

ما په ۱ ۹ ۷ ٤ کال کي په خارجه وزارت کي د سيد وحيد عبدالله پر ميز باندي د جمهوريت ددوري د عکسونو يو ټوک کتاب وليدئ چي په دغه کتاب کي د مرکزي کميټي عکس نه و چاپ سوی ، ما دده څخه ددغه کار د علت پوښتنه وکړه ، ده زما په جواب کي وويل چي تر دي وروسته به مرکزي کميته موجوده نه وي .

کله چي په ۱ ۹ ۷ ۷ کال کي د لوي جرگي له خوا د جمهوريت اساسي قانون تصويب سو ، نو د جمهوري رياست له خوا د مرکزي کميټي انحلال اعلان سو ۰ ډاکټر محمد حسن شرق په خپل اثر کي ليکي چي د مرکزي کميټي غړو ته ددغه انحلال اطلاع نه وه ورکړه شوي (۱۶)

د جمهوريت لومړني کابينه

صدر اعظم	محمد داود خان	۱ ۹ ۷ ۳ ـ ۱ ۹ ۷ ۸
مرستيال	ډاکټر محمد حسن شرق	۱ ۹ ۷ ۳ ـ ۱ ۹ ۷ ۵
	سيد عبدالاله	۱ ۹ ۷ ۵ ـ ۱ ۹ ۷ ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددفاع وزیر	محمد داود خان	۱۹۷۳ـ۱۹۷۷
	غلام حیدر رسولي	۱۹۷۷ـ۱۹۷۸
خارجه وزیر	محمد داودخان	۱۹۷۳ـ۱۹۷۸
داخله وزیر	فیض محمد	۱۹۷۳ـ۱۹۷۵
	عبدالقدیر نورستاني	۱۹۷۵ـ۱۹۷۸
د عدلیي وزیر	عبدالمجید خان	۱۹۷۳ـ۱۹۷۷
	وفي الله سمیعي	۱۹۷۷ـ۱۹۷۸
د مالیي وزیر	سید عبدالاله	۱۹۷۳ـ۱۹۷۸
د پوهني وزیر	ډاکټر نعمت الله پژواك	۱۹۷۳ـ۱۹۷٤
	پوهاند عبدالقیوم وردگ	۱۹۷٤ـ۱۹۷۷
	ډاکټر محمد ابراهم مجید سراج	۱۹۷۷ـ۱۹۷۸
د لوړو تحصیلاتو وزیر	پوهاند غلام صدیق محبي	۱۹۷۵ـ۱۹۷۸
د تجارت وزیر	محمد خان جلالر	۱.۹۷٤ـ۱۹۷۸
د مخابراتو وزیر	عبدالحمید محتاط	۱۹۷۳ـ۱۹۷۸
	عبدالکریم عطایي	۱۹۷۵ـ۱۹۷۸
د کانو وزیر	پوهاند عبدالقیوم وردگ	۱۹۷۳ـ۱۹۷۵
	انجینر عبدالتواب آصفي	۱۹۷۵ـ۱۹۷۸
د زراعت وزیر	غلام جیلاني باختري	۱۹۷۳ـ۱۹۷۵
	عزیز الله واصفي	۱۹۷۵ـ۱۹۷۸
د اطلاعاتو او کلتور وزیر	ډاکټر عبدالرحیم نوین	۱۹۷۳ـ۱۹۷۸
د فواید عامې وزیر	غوث الدین فایق	۱۹۷۳ـ۱۹۷۸
د روغتیا وزیر	ډاکټر نظر محمد سکندر	۱۹۷۳ـ۱۹۷۶
	ډاکټر عبدالله عمر	۱۹۷۶ـ۱۹۷۸
د پلان وزیر	علي احمد خرم	۱۹۷٤ـ۱۹۷۷
د قبایلو وزیر	پاچا گل وفادار	۱۹۷۳ـ۱۹۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

	فیض محمد	۱۹۷۷ـ۱۹۷۵
	پوهاند عبدالقیوم وردگ	۱۹۷۸ـ۱۹۷۷
د اوبو او برق وزیر	جمعه محمد محمدي	۱۹۷۸ـ۱۹۷۶
د دولت وزیر	ډاکټر عبدالمجید خان	۱۹۷۸ـ۱۹۷۷

(۱۷)

۶ ـ د جمهوري نظام مؤثر اشخاص

د جمهوریت په لومړي کال کي د محمد داود خان تر څنګ ډاکټر محمد حسن شرق او فیض محمد هم په دولتي چارو کي د ډیرصلاحیت خاوندان وو ، خو ډیر ژر د دوی ځای سردار محمد نعیم خان او سید وحید عبدالله ونیوی ۰ چي دلته ددوی په برخه کي دا لاندي مطالب لیکل کیږي :

۱ ـ ډاکټر محمد حسن شرق چي د محمد داود خان ۲۵ کلن دوست او نژدي همکار و ، ده د جولای د ۱۷ نیټي په کودتا کي عمده رول درلود ۰ ده د خان د معرفي په هکله په (کرباس پوشهای برهنه پا) کي مفصله لیکنه کړي ده ۰ د ډاکټر شرق سره په دولت کي د سید وحید عبدالله په وسیله مخالفت او کارشکني ډیر ژر پیل سو ۰ د مثال په توګه :

ـ د جمهوریت په لومړیو میاشتو کي د هند د جمهور رئیس مرستیال سوارن سنګهه کابل ته سفر کړی و ، ده د صدارت په ماڼي کي د محمد حسن شرق سره رسمي لیدنه کوله ، خو سید وحید عبدالله ددغي لیدني له پاره هیڅوك د ترجمان په حیث نه و استولي چي په پای کي د عدلیي وزیر ډاکټر عبدالمجید خان مجبور سو چي ددوی تر منځ ترجماني وکړي ۰ په هغه شپه د ډاکټر محمد حسن شرق له خوا هندي میلمانه ته په خارجه وزارت کي یوه میلمستیا شوی وه ، څرنګه چي میلمه استالف تــه تللي و او پر خپل وخت کابل ته نه سو راتلای ، نو د میلمستیا وخت د یوه ساعت له پاره شاته ولویدي چي ددغه خنډ اطلاع ټولو میلمنو ته ورکړه سوه ، ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر محمد حسن شرق ته ددغه ځنډ اطلاع سید وحید عبدالله نه وه ورکړې ۰

ـ یوه ورځ سید وحید عبدالله د محمد هاشم میوندوال د کودتا د اتهام د ملګرو د خبرو ټیپونه په خپل دفتر کې د هغه وزارت مامورینو ته اورول ، ده هلته وویل چې ددغو ټیپونو مطالب نن شپه د کابل رادیو له لارې ځخه د خلګو په اطلاع رسول کیږي کله چې ډاکټر محمد حسن شرق په دغې موضوع خبر سو، نو ده د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته امر وکړ چې ددغو ټیپونو خپریدل دې د څه مودې له پاره وځنډول سي۰

ـ ډاکټر محمد حسن شرق لیکي چې جمهوري دولت اراده کړې وه چې ((زما پر ځای نور احمد اعتمادي د افغانستان ددولت د رئیس د مرستیال په حیث مقرر کړي او ددغه کار دعملي کولو له پاره د سید وحید عبدالله تر رهبرۍ لاندې زموږ د مرکزي کمیټې ملګري زما پر ضد لمسول کیدل)) (۱۸)

ـ د نړۍ او مخصوصا زموږ د منطقې په هیوادونو کې چې نظامي کودتاګانې شوې دي ، د کودتا لومړي او دوهم مقام همیشه یوه د بل سره مقابله کړې ده ، په دې چې د کودتا دغه دوه کسان که یو د بل سره د عقیدې اختلاف و نه لري ، دوی حتما د سلیقې اختلاف سره لري ، چې ددې متل مطابق چې (دوه سره په یوه دیګ کې نه ځایږي) چې حتما یو سر به دمنځه وړل کیږي ۰ په مصر کې جنرال نجیب او جمال عبدالناصر په عراق کې عبدالسلام عارف او عبدالکریم قاسم او په پاکستان کې جنرال اعظم خان او جنرال ایوب خان ددې مطلب غټې مثالونه دي ۰

۲ ـ فیض محمد په قوم مسعود دی ، او دی د کوماندو د قطعې صاحب منصب و، ده د جولای د ۱۷ نیټې په کودتا کې ډیره فعاله برخه اخستې وه ، دی د محمد داود خان په لومړي کابینې کې داخله وزیر و ۰ د جمهوریت په لومړیو میاشتو کې د محمد داود خان سره دولایاتو دخلګو د لیدلو اجازه د فیض محمد له خوا ورکول کیده۰ ده د خپل حزبي تمایلاتو په وجه ډیر ژر خپل موقف د لاسه ورکړ چې لومړي د سرحداتو وزیر سو او وروسته په اندونیزیا کې د افغاني سفیر په حیث وټاکل سو ۰

ـ د جمهوریت په لومړیو میاشتو کې په جمهوري ارګ کې څه ترمیمات کیدل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوي هفتي له پاره د محمد داود خان دفتر ، خارجه وزارت ته انتقال سو ، يوه ورځ د جمهوريت ددفتر رئيس محمد اكبر ما ته وويــل ((محمد نعيم خان ته اطلاع رسيدلي ده چي فيض محمد د پوهني د وزارت څخه دري سوه پرچميان غوښتي دي چي داخله وزارت ته يي ورکړي ۰ چې دغه پرچميان د داخله وزارت له خوا په ولسواليو كي ددي له پاره مقرريږي چې لوي جرگي ته د پرچم غړي راولي)) ده دا هم وويــل ((د خارجه چارو د وزارت ددوهمي سياسي څانگي مدير محمد حكيم اريوبي ما ته وعده راكړي ده چي ددغو اشخاصو نومونه پيدا كوي)) ما د هغه وخت د پوهني د وزير ډاكټر نعمت الله پژواك څخه ددغي موضوع پوښتنه وكړه، ده ما ته وويل چي داخله وزارت د هغه وزارت ددفتر د رئيس په وسيله دري واره جمعا نژدي اتيا عادي ددولت مامورين د پوهني د وزارت څخه غوښتي وو (۱۹)

ـ په هغو ورځو كي چي پاچا گل وفادار په بلغاريا كي د افغاني سفير په حيث وټاكل سو ، دی د خپلو كارونو د اجرا كولو له پاره به په خارجه وزارت كي زما په دفتر كي كښينستې ۰ يوه ورځ د خارجه وزارت اداري مدير عبدالغني كريمي ما ته په تيلفون كي وويل چي د وفادار سره ددولت يوه تفنگچه سته چي هغه تفنگچه بايد داخله وزارت ته تسليم كړي۰ ما دغه مطلب وفادار ته ووايه ، ده زما په جواب كي وويل چي دغه تفنگچه د كودتا په شپه ما د سردار عبدالولي د لاسه څخه اخستي ده او زه دا تفنگچه هيچا ته نه وركوم ، وروسته پاچا گل وفادار د سردار عبدالولي د نيولو جريان داسي تشريح كړ ، ده وويــل ((زه او فيض محمد دواړه د سردار عبدالولي د نيولو له پاره دده كور ته ورغلو)) ده دا هم وويــل ((فيض محمد د پرچم غړی دی او زه دده د عقيدي سره مخالف يم ولي دی ډير زړه ور سړی دی ، هغه وخت چي دی د سردار عبدالولي كور ته ننوتی ، ده كلشنكوف چپه غاړي ته اچولي و او ده پر سردار عبدالولي باندي ږغ وكړ چي ټك و نه كړي چي وژل كيږي او سردار عبدالولي هم ټك و نه كړ او ما دده د لاسه څخه تفنگچه واخسته ، ولي اوس عبدالقدير نورستانی او غلام حيدر رسولي غواړي چي زه دغه تفنگچه دوی ته وركړم)) ما په هغه ورځ د وفادار څخه پوښتنه و نه كړه چـي دی كوم سياسي جريان ته منسوب دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد عزیز نعیم لیکـي ((په ۱۹۷۵ کال کي محمد داود خان ماته وویل چي په دولت کي د فیض محمد په حمایه ، یو تعداد کمونستان تخریبي کارونه کوي او ډیر ژر به په دولت کي تصفیه پیل سي)) (۲۰)

۳ ـ سردار محمد نعیم خان د محمد داود خان ورور دی په ۱۹۱۱ کال کي زیږیدلی دی ۰ ده د حبیبي او استقلال په لیسو کي زده کړه کړي ده ۰ د خارجه وزارت په مختلفو څانگو کي یي کار کړی دی ۰

په ۱۹۳۷ کال کي د پوهني وزیر سو،

په ۱۹۳۹ کال کي د صدارت مرستیال او د پوهني وزیر و۰

په ۱۹۴۶ کال کي په لندن کي شارژدافیر سو۰

په ۱۹۵۰ کال کي په واشنگتن کي سفیر سو۰

د ۱۹۵۳ کال څخه تر ۱۹۶۳ کال پوري د صدر اعظم مرستیال او خارجه وزیر و۰ دې د عدم انسلاک د نهضت طرفدارا و ، ده په ۱۹۵۵ کال کي د باندونگ په کنفرانس کي د افغاني هیأت مشري پر غاړه درلوده ۰ دی د شوروي اتحاد سره د افغانستان د ښو اړیکو غوښتونکی و (۲۱)

رشتیا لیکي ، ده ته محمد نعیم خان ویلي دي چي دې د کودتا په شپه نه دمخه د محمد داود خان په کودتا خبر سوی دی (۲۲)

سردار محمد نعیم خان د جمهوریت په وخت کي تر محمد داود خان وروسته تر ټولو لوړ مقام درلود۰

د مثال په توگه :

د جمهوریت په لومړیو میاشتو کي د هند دیوه نظامي هیأت په ویاړ په خارجه وزارت کي یوه میلمستیا شوي وه چي زه هم هلته حاضروم، په دغي میلمستیا کي محمد داود خان هم برخه اخستي وه ۰ کله چي سردار محمد نعیم خان دغي میلمستیا ته راغي ، نو د محمد داود خان او د ټولو دولتي اشخاصو لـه خوا د میلمستون پـه مدخل کي دده ډیره توده پذیرایي و سوه (۲۳)

سردار محمد نعیم خان به هره چهار شنبه ددولت څخه شاکي اشخاص په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کي ليدل او ده به ددغو اشخاصو دوسيي د جمهوري رياست ددفتر د رئيس محمد اکبر په وسيله غوښتلې او لازم هدايتونه به يي ورکول. ده په خارجه وزارت کي د خارجي سفيرانو سره هم ملاقاتونه کول . سردار محمد نعيم خان د جمهور رئيس د خاص نماينده په حيث ايران ، هند ، شوروي اتحاد ، امريکا او ځينو عربي هيوادونو ته سفرونه کړي وو . (٢٤)

٤ ـ سيد وحيد عبدالله د خارجه وزارت مامور و، دې د محمد داود خان د کودتا په وخت کي په لندن کي د افغاني سفارت سرکاتب و . سيد وحيد عبدالله د کودتا په لومړي هفتي کي راوغوښتل سو، څرنگه چي د کابل بين المللي هوايي ميدان تړلې و ، نو دی د اسلام کلا له لاري کابل ته راغی . په سر کي دی د خارجه وزارت معين سو او وروسته د هغه وزارت د مرستيال په توگه و ټاکل سو . دی د وزيرانو د مجلس منشي هم و . سيد وحيد عبدالله د محمد داود خان او سردار محمد نعيم خان دواړو د اعتماد وړ سړی و ، دی په جمهوري دولت کي د ډير قدرت خاوند و ، ده په دولت کي د وزارت تر مقام پوري ډير اشخاص عزل او نصب کړي دي . (٢٥)

سيد وحيد عبدالله په خارجي سياست کي ډيري اشتباه گاني هم کړي دي . د مثال په توگه. د ١٩٧٥ کال د اپريل په مياشت کي جمهور رئيس محمد داود خان تهران ته رسمي سفر وکړ . زه ددغه سفر په وخت کي په تهران کي وم . سيد وحيد عبدالله د پښتونستان د موضوع په هکله د اطلاعاتو د اخبار د مدير سره د يوي مرکي په ترځ کي وويل (دافغانستان دولت د پښتونستان د موضوع د حل له پاره د پاکستان ددولت څخه يوازي د هغه هيواد د اساسي قانون د تطبيق غوښتونکې دی) کله چي دغه مطلب د اطلاعاتو په اخبار کي خپور سو ، محمد داود خان او دده د سفر ملگري په اصفهان کي وو . د افغاني سفارت يوه غړي د اطلاعاتو د اخبار نشر سوی مطلب د تيلفون په وسيله د سيد وحيد عبدالله په اطلاع ورساوه. ولي سيد وحيد عبدالله پر خپلي خبري منکر سو او د اطلاعاتو د اخبار د بلي ورځي په گڼي کي د سيد وحيد عبدالله له خوا د پورته مطلب رد وليکل سو . سيد وحيد عبدالله د خپل شخصي تمايلاتو پر بنا په جمهوري دولت کي تصفيه کوله . ده د خارجه وزارت يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمير مامورين په دي وجه د هغه وزارت څخه وايستل ، چي ښخوا يي ده ته اعتنا نه وه کړي. کله چي محمد داود خان د ملي انقلاب د حزب په مرکزي کميټي کي د سيد وحيد عبدالله ړلي ته ځاى ور نه کړ ، نو ده د اعتراض په توګه څېل او پنځو نورو وزيرانو استعفي ليك محمد داود خان ته وړاندي کړ چي د سردار محمد نعيم خان د ميانځګړيتوب په وجه ، دغه استعفي عملي نه سوه (۲۶)

په وران کارو چي کارونه جوړوي

حقيقت کي جوړ کارونه ورانوي (۲۷)

۷ ـ د محمد هاشم ميوندوال د کودتا اتهام

دوې مياشتي او اووه ورځي وروسته تر هغه چي محمد داود خان کودتا وکړه ، يعني د ۱۹۷۳ کال د سبتمبر د مياشتي پر ۲۲ نيټي کابل راديو اعلان وکړ چي ښخواني صدراعظم محمد هاشم ميوندوال او دده ملګرو د يوه خارجي هيواد په مرسته کودتا کوله او ونيول سول . لاندي اشخاص د کودتا کوونکو په نامه بنديان سول .

محمد هاشم ميوندوال ، د ننګرهار ښخوانې والي خان محمد خان ، د هوايي قواوو ښخوانې قوماندان جنرال عبدالرزاق خان ، د هوايي قواوو قوماندان سيد امير ، جنرال عبدالجبار ملکيار ، جنرال عبدالسلام ملکيار ، ډګروال زرغون شاه ، ډګروال کوهاټ خان ، ډګروال شير افضل افريدي ، ډګروال شير افضل مومند ، محمد عارف شينوارې ، د ولسي جرګي ځيني غړي او څو نور کسان چي شمير يي پنځه څلويښتو تنو ته رسيدې .

محمد هاشم ميوندوال چي د محمد داود خان د کودتا په وخت کي په فرانسي کي و ده د پاريس څخه د يوه تلګرام په وسيله محمد داود خان ته د جمهوري نظام مبارکي ويلي وه او کله چي محمد هاشم ميوندوال د بغداد د لاري څخه کابل ته ورسيد نو يي د محمد داود خان او سردار محمد نعيم خان سره وليدل ، او په هغو ورځو کي په کابل کي ويل کيدل چي محمد هاشم ميوندوال د کانتيننتل په هوټل کي دفتر لري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوري نظام له پاره اساسي قانون جوړوي . (۲۸)

عبدالصمد غوث په خپل اثر کي د سردار محمد نعيم خان د قوله ليکي چي جمهوري دولت اراده درلودله چي محمد هاشم ميوندوال په واشنگتن کي د افغاني سفير په حيث مقرر کړي . (۲۹)

محمد هاشم ميوندوال د خپل تحقيق په وخت کي ليکلي و چي زه منتظر وم چي جمهوري دولت به زما له پاره کومه وظيفه وټاکي (۳۰)

د جنرال عبدالرزاق خان په هکله ما اوريدلي و چي د جمهوريت په لومړيو ورځو کي ډير هوايي صاحب منصبان په دي تصور چي ښايي دی به بيرته د هوايي قواو قوماندان سي نو څکه دده کور ته ور تلل .

د محمد هاشم ميوندوال د کودتا په اتهام د ولسي جرگي څيني غړي لکه د ننگرهار د کوچيانو وکيل حاجي الله نظر ، د جلال آباد د ښار وکيل حاجي فقير محمد ، د مومند دري وکيل سعدالله کمالي ، د نازيانو وکيل مولوي سيف الرحمن او داسي نور وکيلان بنديان سوي وو . دغه وکيلان د خان محمد خان د دفاع د وزارت د مبارکې له پاره دده کور ته ورغلي وو . څرنگه چي په هغه لحظي کي خان محمد خان په خپل کور کي نه و ، نو وکيلانو دده په کور کي خپل کاردونه پري ايښي وو ، چي د خان محمد خان د کور د تلاشي په وخت کي د وکيلانو کاردونه پيدا سوه او دغه کاردونه ددغو وکيلانو د کودتا د اثبات دليل و بلل سوه . (۳۱)

کبير سراج په خپل اثر کي ليکي ((خان محمد خان ماته وويل چي زه د محمد داود خان په امر ددفاع وزارت ته ورغلې وم)) (۳۲)

غوث الدين فايق چې د محمد داود خان په کودتا کي يي فعاله برخه اخستي وه او تر کودتا و روسته د مرکزي کميټي غړې او د فوايد عامي وزير سو ، په خپل اثر رازي را که نمي خواستم افشا گردد ، چي مفهوم يي داسي دې ليکي (د کودتا په دوهمه ورځ جنرال مستغني ، جنرال سيد حسن خان او مرستيال خان محمد خان ، محمد داود خان ته ورغلي وو ، محمد داود خان ددوی څخه غوښتنه وکړه چي ستاسي څخه يو کس بايد ددفاع وزارت د کارونو دسمبالولو له پاره ، هغه وزارت ته ولاړ سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

، خان محمد خان تلوار وکړ او سمدلاسه ددفاع وزارت ته ولاړ ، زه ء فايق ء محمد داود خان د خان محمد خان د مراقبت له پاره دده سره وليږلم . خان محمد خان ددفاع د وزارت چوکي اشغال کړه . دوه ساعته وروسته چا ما ته خبر راکړ چي جنرال مستغني د لوی درستيز په حيث ټاکل شوی او خپله چوکي يي اشغال کړي ده . وروسته محمد داود خان ، خان محمد خان وروغوښت او دده خڅه يي غوښتنه وکړه چي خپل کور ته ولاړشي)(۵ ۰ ۱ مخ)

د اطلاعاتو او کلتور وزير ډاکټر عبدالرحيم نوين ما (فراهي)ته وويل ((د علي آباد روغتون ته د خان محمد خان په لاس ليك هدايت ورسيدی چي د وينو د ذخيري خڅه ددفاع د وزارت له اجازي پرته بايد استفاده و نه سي))

دلته دا مطلب د ليکلو وړ بولم چي د ۱۹۷۳ کال د اکتوبر په مياشت کي په پيښور کي د ملي عوامي حزب پر مشر خان عبدالولي خان باندي فيرونه و سوه چي په دغي پيښي کي دده موټروان ووژل سو او خان عبدالولي خان ته کومه صدمه و نه رسيده ۰ ما ددغي پيښي له کبله عبدالولي خان ته ددولت د رئيس محمد داود خان د همدردي پيغام چار سدي ته يووړ ، د عبدالولي خان تر ليدلو وروسته زه د اسلام آباد په افغاني سفارت کي وم ، چي د ۱۹۷۳ کال د اکتوبر د مياشتي پر ۲۰ نيټي کابل راديو اعلام وکړ چي پخواني صدر اعظم محمد هاشم ميوندوال په محبس کي خان وژلی دی ۰ يوه ورځ وروسته چي زه بيرته کابل ته راغلم ، ما د خارجه وزارت د معين سيد وحيد عبدالله پر ميز باندي د محمد هاشم ميوندوال د مړي هغه عکس وليدی چي نيکټايي يي په غاړي کي اچول شوی وه ، دا عکس د خارجي سفيرانو د ليدلو له پاره د سيد وحيد عبدالله پر ميز ايښوول سوی و .

په افغانستان کي هيچا دا نه منله چي محمد هاشم ميوندوال په خپله خان وژلی وي غوث الدين فايق په خپل اثر،کي ليکي ((زه د محمد هاشم ميوندوال تر وژل کيدلو يوه ورځ دمخه د محمد داود خان په هدايت د محمد هاشم ميوندوال د ليدلو له پاره دده د تحقيق ځای ، داخله وزارت ته ورغلم . محمد هاشم ميوندوال په دغه ورځ کميس او پرتوگ اغوستی و ، يوه ورځ وروسته اعلان و سو چي ميوندوال په خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکټايي خان وژلی دی . ولي وروسته معلومه سوه چي محمد هاشم ميوندوال په وهلو او ټکولو وژل سوی دی)) غوث الدين فايق په خپل اثر کي عبدالصمد ازهر د محمد هاشم ميوندوال قاتل بللی دی (۹۵ تر ۱۰۰ مخونه) ((ازهر وايي ، ددي امکان سته چي ميوندوال په محبس کي د امنيتي مقاماتو له خوا وژل سوی وي ، هلته يو مقتدر دولت موجود و او ما دومره صلاحيت نه درلود چي پر خپل سر يو پخواني صدر اعظم ووژنم)) د محمد هاشم ميوندوال د حکومت يوه وزير ما ته وويل چي ((د تحقيق يوه غړي محمد هاشم ميوندوال پر خوله او په نس کي په لغتو وهلي و او دده څخه يي پوښتنه کړي وه چي د شوروي اتحاد طبابت ښه دی او که د امريکا ؟)) محمد هاشم ميوندوال غا ښونه په مسکو کي ايښي وو او د کولمو عمليات يي په امريکا کي کړی وو (۳۳)

محمد ابراهم خواخوږي د محمد هاشم ميوندوال د ميرمني د قوله ما تـه وويـل ((هغه وخت چي د محمد هاشم ميوندوال مړی يي د کابل په ولايت کي په موټر کي دننه ما ته ښکاره کړ ، ما د محمد هاشم ميوندوال د بدن پر کيڼ اړخ يو لوی ټپ وليد او زه ددولت د مؤظفو کسانو له خوا د محمد هاشم ميوندوال د نور بدن د ليدلو څخه منع کړه سوم))

د محمد هاشم ميوندوال مړی دده فاميل ته نه دی سپارل سوی ۰ ما اوريدلي دي چي په سر کي د محمد هاشم ميوندوال مړی يي په بريکوټ کي د ژاندارم او پوليسو د قوماندانۍ د سکرو د ذخيري په ځای کي تر خاورو لاندي کړی و چي وروسته د شهدايي صالحينو په نامعلوم ځای کي د دوو زړو قبرونو تر منځ ښخ کړ سوی و۰

د محمد داود خان د کابيني يوه غړي ما ته وويل چي د محمد هاشم ميوندوال د مړيني په سبا د وزيرانو په مجلس کي محمد داود خان په خپله د محمد هاشم ميوندوال د مړيني خبـر پـه هغه کلماتو چـي پـه مطبوعاتو کي خپور شوې و د وزيرانو مجلس ته ووايـه ۰

عبدالستار شاليزي چي د محمد هاشم ميوندوال په حکومت کي د صدر اعظم مرستيال او داخله وزير و ، دی د داخله وزير فيض محمد په امر د شير افضل

(c) ketabton.com: The Digital Library

افريدي سره يو ځای د محمد هاشم ميوندوال د کودتا په اتهام د غزني څخه بنديان راوړل سول په داخله وزارت کي عبدالستار شاليزي ته د کور د تګ اجازه ورکړه سوه ، عبدالستار شاليزي ډير ژر د هيواد څخه ووت او د جمهوريت په ټولي دوري کي يي بيرته کابل ته سفر نه دی کړی ۰

د محمد هاشم ميوندوال په باب څو نوري خبري

۱ ـ د خارجه چارو په وزارت کي د محمد هاشم ميوندوال يوه همکار سيد تاج الدين خان ما ته وويل ((کله چي صلاح الدين خان سلجوقي د اول وار له پاره محمد هاشم ميوندوال ، صدر اعظم محمد هاشم خان ته معرفي کاوه ده د محمد هاشم ميوندوال په هکله داسي ويلي و چي : دا هغه سيد جمال الدين افغاني دی چي ږيره نه لري)) په هغه وخت کي محمد هاشم ميوندوال پرديس تخلص کاوه ۰

۲ ـ په ۱۹٦۳ کال کي چي محمد هاشم ميوندوال په کراچي کي افغاني سفير و ، ده د پښتني سيمو د ليدلو له پاره پيښور ته سفر وکړ او د قونسلګري په اقامتګاه کي اوسيدی او زه دده سره د پاره چنار، ابت آباد ، سوات ، مردان ، چارسدي او د ورځك د بند د سفر ملګرې وم ۰ ما پخوا د ميوندوال سياسي نظريات نه وه اوريدلي او ما فکر کاوه چي محمد هاشم ميوندوال په خاصو ملحوظاتو په دولت کي جګو مقامونو ته رسيدلی دی ۰ ولي په دغه سفر کي ما د افغانستان د ډيرو مغلقو پرابلمونو د حل له پاره د محمد هاشم ميوندوال نظريات واوريدل او هلته زه پوه سوم چي دی د افغانستان يو عادي مامور نه دی ، بلکه دی د يوه خارق العاده استعداد خاوند دی۰ په دغه سفر کي محمد هاشم ميوندوال دديموکراسۍ دوري پر اساسي قانون باندي د تبصري په ترځ کي وويل چي د نوي اساسي قانون په تدوين کي ډير شخصي ملحوظات په نظر کي نيول سوي دي ۰ ده د پاچا د فصل د څينو ټکو سره موافقه نه درلوده ، ده د شورا او حکومت په فصلونو کي بيل نظريات درلودل ۰ دی د سياسي احزابو د ژر جوړولو جدي طرفدار و ۰ محمد هاشم ميوندوال وويل چي ده د اساسي قانون په هکله خپل نظريات پاچا ته وړاندي کړي دي۰

۳ ـ محمد هاشم ميوندوال د صدارت تر دوري وروسته په سياسي او حزبي چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصروف سو ۰ ده د مساوات په جريدي کي ډيري تحليلي مقالي ليکلي ، ده د زرنگار د پارك په مظاهراتو کي فعاله برخه اخسته ۰ د زرنگار په پارك کي محمد هاشم ميوندوال يوه مهمه وينا وکړه چي محمد هاشم ميوندوال دغه وينا په پښتو او کله په دري ژبو کوله ، په دغه وخت کي د ټولو سياسي ډلو مظاهره کونکي ، عامه کتابخاي ته نژدي د پارك په هغي برخي کي چي محمد هاشم ميوندوال وينا کوله راټول سوي وو ۰ گل پاچا الفت ، حشمت خليل غبار او زه د محمد هاشم ميوندوال ددغي وينا د اوريدلو له پاره د پارك په يوي برخي کي يو ځاى ولاړ و ۰ محمد هاشم ميوندوال په خپلي وينا کي څو واره په لاس ارگ ته اشاره وکړه او دا شعر يي ووايه :

به کار مملکت قفلي نهادند　　　کليدش را به دست ما نه دادند

په ۱۹٦٤ کال کي چي په پاکستان کي د جنرال محمد ايوب خان په مقابل کي د پاکستان د ټولو مخالفو احزابو له خوا د محمد علي جناح خور ، فاطمه جناح کانديده سوي وه ، په دغه کال کي ما په پيښور کي د پاکستان د مشهورو سياست پوهانو لکه د شرقي پاکستان مولينا بها شاني ، مولينا ابوالاعلا مودودي ، خان عبدالولي خان ، جنرال محمد ايوب خان ، جنرال اعظم خان ، ذوالفقار علي بوتو ، عثماني ، قصوري او داسي نورو خبري اوريدلي دي ۰ خو دوی يوه هم د محمد هاشم ميوندوال په شان جامع وينا نه ده کړي ۰ زما په عقيده د محمد هاشم ميوندوال دغه وينا د افغانستان ټولو سياسي احزابو ته د خطر يو زنگ و چي د ډيرو سياسي احزابو حسادت يي راوپاراوه ، او زه فکر کوم چي د محمد هاشم ميوندوال دغه وينا دده د وژلو سبب سوي ده (۳٤)

د مترقي ديموکرات د حزب له خوا د محمد هاشم ميوندوال دغه وينا په فيتي کي ثبت سوي ده او يوه برخه يي د مساوات د جريدي په څو گڼو کي چاپ سوه ولي د مساوات د جريدي د مصادره کيدلو په وجه ددغي وينا ډيره برخه نه ده چاپ سوي .

٤ ـ محمد هاشم ميوندوال په ۱۹٦٥ کال کي د خپل حکومت د کړنلاري د وړاندي کولو په وخت کي د ولسي جرگي په عمومي مجلس کي د رحمن بابا دا شعر ولوست :　　　لکه ونه مستقيم پر خپل مقام يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خزان راباندي راسي که بهار

محمد هاشم میوندوال د خپل ژوند په وروستیو ورځو کي پورته خبره په اثبات ورسوله او د خپل ملي موقف څخه يي هیڅ راز عدول و نه کړ او د شهادت تر مرحلي پوري پر خپل ځای ثابت پاته سو ۰ روح دي ښاد وي ۰

دلته دا مطلب د لیکلو وړ بولم چي ډیر هغه اشخاص چي د محمد هاشم میوندوال د کودتا په اتهام بندیان سوي وو ، دوی د محمد داود خان پخواني اخلاصمندان هم وو او د محمد هاشم میوندوال سره يي ښه روابط نه درلوده ۰ او د محمد هاشم میوندوال د سیاسي مبارزو او ویناگانو څخه ښکاره کیده چي دی په آخر کي د پاچا سره مخالف سوی و او ددي امکان موجود و چي ده به د سلطنت پر ضد کودتا کړي وای خو دی د جمهوري نظام سره مخالف نه و۰

۸ ـ د جمهوري دولت اصلاحي پروگرام

د ۱۹۷۳ کال تر کودتا څو ورځي وروسته ، مرکزي کمیټي محمد داود خان ددولت د رئیس ، صدراعظم ، خارجه وزیر او ددفاع د وزیر په حیث وټاکي او د کودتاچیانو امتیازات او کابینه يي په تصویب ورسولي . د محمد داود خان په فرمان د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون لغوه سو . ددولت رئیس محمد داود خان د ۱۹۷۳ کال د آگست د میاشتي پر ۲۳ نیټي خلگو ته د خطاب په وینا کي په اقتصادي او اجتماعي چارو کي د یو لړ بدلونونو وعده ورکړه ۰ په دغه اساس د مځکو اصلاحاتو ته توجه و سوه . په دغه ساحه کي جمهوري دولت دوه قانونه تصویب کړل . ددغو قوانینو پر اساس د شخصي مالکیت اندازه په اوبه لرونکو مځکوکي سل جریبه او په للمي مځکو کي دوه سوه جریبه وټاکل سوه او دا هم پیشبیني سوي وه چي د خلگو اضافي مځکي به د ۲۵ کلونو په قسط پر بي مځکو خلگو باندي خرڅیږي ۰ د جمهوري دولت له خوا د مدني او جزايي قوانین تدوین سول . ددغو قوانینو په وسیله د افغاني جامعي دوي مهمي ساحي په قانوني شکل تنظیمي کړه سوي ، چي ددغو قوانینو تدوین د جمهوري دولت د ښو کارونو څخه شمیرل کیږي (۳٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د جمهوري دولت يو مهم اقدام ددولت اوه كلن اقتصادي پلان جوړول و . دغه پلان په ۱۹۷۶ كال كي پيل سو او په ۱۹۸۳ كال كي پای ته رسيدې. په دغه پلان كي (۴۶۰۰) مليونه دالره سرمايه گذاري په نظر كي نيول سوي وه چي د پلان په پای كي يي (۲۵۰۰) مليونه دالره عايد هيواد ته عرضه كولای سو . لاندي هيوادونو په دغه پلان كي د افغانستان سره مرسته كوله ۰

- ايران (۱۱٤۱) مليونه دالره ۰
- شوروي اتحاد (۵۷۰) مليونه دالره ۰
- سعودي عربستان (۶۳) مليونه دالره۰

خينو نورو هيوادونو هم د افغانستان سره د مرستو ژمنه كړي وه (۳۵)

د جمهوريت په وخت كي د كار د قواو يونټونه بيرته فعال سول او د سړكونو ترميم او مراقبت په ټول هيواد كي پيل سو ۰ د هيواد په مختلفو سيمو كي د سړكونو اسفالت ته اقدام و سو ، د مزار شريف ، شبرغان ، ميمني او هرات د سړكونو د جوړولو كار پيل سو۰ يو بل سړك چي د لښكرگاه څخه دوشي ، چاربرجكي او د ايران سرحد ته رسيدې كار يي پيل سو ۰ د وسپني د پټلي سروي چي د هرات څخه تر كندهار او كابل پوري او د لښكرگاه څخه د ايران تر سرحد پوري او د كندهار څخه تر سپين بولدك پوري او د كابل څخه د لوگر د عينك د ميسو تر كانه پوري او د كابل څخه د حاجي گك د وسپني تر كان پوري غزول كيدی او دا ټول (۱۸۱۰)كيلو متر كيدی ، تكميله سوي وه او هغه سړك چي كابل يي د هزاره جات له لاري څخه د هرات سره وصل كاوه ، كار يي پيل سوی و۰ او د اوه كلن اقتصادي پلان په پای كي ۸۳ زره هكتاره نوي مځكه د زراعت له پاره آماده كيده ۰ د هيواد د هوايي ترانسپورت په برخه كي د لوگر پر بين المللي هوايي ميدان علاوه لس نور واړه هوايي ميدانونه جوړيدل ۰ د تعليم او تربيي ، عامه روغتيا او د ژوند په نورو برخو كي د توجه وړ بدلونونه راتلل . (۳۶)

په ۱۹۷٤ كال كي سردار محمد نعيم خان شوروي اتحاد ته سفر وكړ چي ددغه سفر په نتيجه كي ، شوروي اتحاد د افغانستان سره د نورو مرستو وعده وكړه۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۷٤ کال د نومبر په میاشت کي د امریکا خارجه وزیر هنري کسنجر کابل ته سفر وکړ او امریکا هم د محمد داود خان د جمهوري دولت سره ددیموکراسي تر دوري ډیره مرسته وکړه . (۳۷)

د ۱۹۷۶ کال د جون په میاشت کي د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوتو کابل ته سفر وکړ او دري میاشتي وروسته محمد داود خان د پاکستان د جمهور رئیس په بلنه هغه هیواد ته رسمي سفر وکړ چي ددواړو سفرونو نتایج د توجه وړ وو او داسي تصور کیدی چي په نژدي راتلونکي کي به ددواړو هیوادونو مناسبات ډیر ښه سي ، خو د ۱۹۷۷ کال د جون د میاشتي پر پنځمه نیټه د جنرال ضیأ الحق له خوا په پاکستان کي نظامي کودتا وسوه او ددواړو هیوادونو تماسونه یو څه وځنډیدل۰

د ۱۹۷۷ کال د اپریل په میاشت کي محمد داود خان شوروي اتحاد ته سفر وکړ ددغه سفر تفصیل د کتاب په بلي برخي کي لیکل سوی دی۰

د ۱۹۷۸ کال په سر کي جمهور رئیس محمد داود خان د لیبیا ، یوگوسلاویا ، هند ، پاکستان ، کویت ، سعودي عربستان او مصر هیوادونو ته سفرونه وکړل چي په هر هیواد کي یي د مرستو غوښتنه منله کیده۰

۹ ـ اساسي قانون

په ۱۹۷۶ کال کي د اساسي قانون د تسوید له پاره دا لاندي یو څلویښت کسان وټاکل سول ۰

ډاکټر محمد حسن شرق ، سید عبدالاله ، عبدالقدیر نورستاني ، ډاکټر عبدالمجید خان ، انجینر عبدالتواب آصفي ، غوث الدین فایق ، محمد خان جلالر ، ډاکټر عبدالله عمر ، عبدالکریم عطایي ، پوهاند عبدالقیوم وردگ ، ډاکټر عبدالرحیم نوین ، عزیز الله واصفي ، فیض محمد ، انجینر جمعه محمد محمدي ، علي احمد خرم ، سید وحید عبدالله ، غلام حیدر رسولي ، محمد سرور ، مولاداد ، محمد یوسف ، مولانا عنایت الله ابلاغ ، ډاکټر سعید افغاني ، عبدالهادي هدایت ، ډاکټر محمد آصف سهیل ، پوهاند وفي الله سمیعي ، خلیل الله خلیلي ، مولوي عبدالبصیر ، غلام علي

(c) ketabton.com: The Digital Library

كريمي ، ډاکټر غلام صديق محبي ، جنرال شاه پور خان ، جنرال محمد يحيي نوروز ، محمد اکبر عبقري ، محمد اسمعيل قاسميار ، ډاکټر ضامن علي ، يار محمد دليلي ، سيد مخدوم رهين ، ډاکټر محمد بشير وهابزاده ، عاليه حفيظ ، فاطمه کيفي ، محمد اعظم وهابزاده او محمد ناصر ۰

د ۱۹۷۷ کال د جنوري د مياشتي پر ۲٦ نيټي د اساسي قانون مسوده د عامو خلگو د خبرتيا له پاره د هيواد په جرايدو کي نشر سوه۰ د جمهوري دولت اساسي قانون ۱۳٦ مادي درلودي ۰ ددغه قانون ډير مواد مخصوصا د شخصي مصونيت احکام دديموکراسۍ دوري د اساسي قانون موادو ته ورته دي ، چي ځيني ليکوالان دغه ورته والې داسي تعبيروي چي د جمهوريت د وخت د اساسي قانون دغه احکام دديموکراسي دوري د اساسي قانون څخه اخستل سوي دي۰ اما واقعيت دادې چي محمد داود خان دديموکراسۍ دوري د اساسي قانون د څو مادو سره مخالف و او ده د ديموکراسۍ دوري د اساسي قانون نور متن لا پخوا منلی و ۰

د افغانستان دجمهوري دولت اساسي قانون ، د سياسي احزابو په برخه کي د افغاني جامعي عيني شرايط په نظر کي نه وو نيولي ۰ ددغه اساسي قانون څلويښتمه ماده داسي حکم کوي چي ((د افغانستان د خلگو د سياسي روزني او اجتماعي غوښتنو د څرگندولو په منظور ، تر هغه وخته چي دا آرزو تر سره کيږي او طبيعي ودي ته رسيږي ، په هيواد کي د ملي انقلاب د گوند په لارښوونه کوم چي د افغانستان د خلگو د ۱۳٥۲ کال د چنگاښ د ۲٦ نيټي د مترقي او ولسي انقلاب بنسټ ايښودونکی او مخکښی گوند دی ، يوازي يو گونديز سيستم ټينگ دی)) (۳ ۸)

څرنگه چي په دغه کتاب کي به يي وروسته ولولې د اساسي قانون دغي مادي په هيواد کي ډيري ستونزي را پيدا کړي ۰

۱۰ ـ لويه جرگه

د اساسي قانون د تصويب له پاره د ۱ ۹ ۷ ۷ کال د فبروري د مياشتي پر ۱۹ نيټي په کابل کي يوه لويه جرگه جوړه سوه ۰ ددغي جرگي ټول غړي (۳ ٤ ۹) تنه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دديموكراسۍ ددورې پر خلاف ددغې جرګې (۲۱۹) غړي د افغانستان د لويو جرګو په عنعنوي طريقې د خلګوله خوا په جرګو کې وټاکل سول او (۰ ۱۳) تنه ددولت د رئيس محمد داود خان له خوا لوې جرګې ته معرفي سول ۰ دغه لويه جرګه د پنځلسو ورځو له پاره په کابل کې دايره وه ۰ دغې جرګې د ۱۹۷۷ کال د مارچ د مياشتې پر څلورمې نېټې اساسي قانون تصويب کړ او محمد داود خان يې د شپږو کلونو له پاره د جمهور رئيس په حيث وټاکې ۰ نوې اساسي قانون د ۱۹۷۷ کال د مارچ د مياشتې پر ۱٤ نېټې د محمد داود خان له خوا توشيح او نافذ سو۰ ددغې لوې جرګې رئيس عزيزالله واصفي و ۰

۱۱ ـ د ملي انقلاب ګوند

جمهوري دولت اراده وکړه چې د څه مودې له پاره به يوازې دولتي حزب په افغانستان کې د سياسي فعاليت اجازه ولري او دغه موضوع يې د ۱۹۷۷ کال په اساسي قانون کې تسجيل کړه ۰ د جمهوري دولت دغه اقدام د هيواد د ځوان نسل د شديد عکس العمل سره مخا مخ سو ۰

په ۱۹٦۳ کال کې محمد داود خان پاچا ته د دوه حزبي سيستم ديموکراسي پيشنهاد کړې و چې دغه پيشنهاد د افغانستان د هغه وخت د شرايطو سره برابر يو پيشنهاد و او د افغانستان ډيرو منورينو به په دغو احزابو کې برخه اخستې وای۰ ولې دديموکراسۍ په لسو کلونو کې چې په افغانستان کې مختلفو ايدولوژيګانو لاره پيدا کړه او په هيواد کې ښې او کيڼ اړخ لوې سياسي ډلې جوړې سوې او د افغانستان اکثر منورين په دغو ډلو کې جذب سول ، نو د جمهوريت په وخت کې ددې امکان موجود نه و چې ددغو ډلو غړي په آسانه د خپلې عقيدې څخه انحراف وکړي او يا د سياسي فعاليت څخه لاس واخلي ۰

د ملي انقلاب حزب په افغانستان کې ډير تعميم نه سو ، يوازې په داخله ، خارجه او سرحداتو په وزارتونو کې ددغه ګوند له پاره ځو غونډې و شوې او ډيرو محدودو اشخاصو ددغه حزب له پاره فعاليت کاوه ۰ په جمهوري دولت کې دملي انقلاب حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملاً دري اړخونه درلودل چي حکومت هم پر دغو دروو اړخونو ویشل سوې و ۰

- د سید عبدالاله ، عبدالقدیر نورستاني او غلام حیدر رسولي ډله۰
- د پوهاند عبدالقیوم وردگ او ډاکټر عبدالمجید خان ډله ۰
- د سید وحید عبدالله او عزیزالله واصفي ډله ۰

د یوي ډلي مشر عزیزالله واصفي د حزبي جلب او جذب له پاره د افغانستان شمالي او غربي ولایتونو ته یو سفر وکړ ۰ کله چي واصفي د ارزگان په ولایت کي و کابل رادیو د ملي انقلاب د حزب د مرکزي کمیټي د پنځه غړو لکه ډاکټر عبدالمجید خان ، پوهاند عبدالقیوم وردگ ، سید عبدالاله ، غلام حیدر رسولي او عبدالقدیر نورستاني نومونه اعلام کړل ، چي د واصفي او سید وحید عبدالله ډلي ته یي په مرکزي کمیټي کي ځای ور نه کړ ۰ سید وحید عبدالله او پنځو وزیرانو ، عزیزالله واصفي ، وفي الله سمیعي ، عبدالکریم عطایي ، تواب آصفي او عبدالله عمرد محمد داود خان ددغه اقدام په مقابل کي استعفا وکړه ، بله ورځ سردار محمد نعیم خان د جمهور رئیس او مستعفي وزیرانو تر منځ وساطت وکړ او وزیران بیرته خپلو وظایفو ته ولاړل (۳۹)

څرنگه چي د ملي انقلاب حزب د ایران د رستاخیز د حزب لاره تعقیبوله ، نو ښه داده چي دلته د ایران د رستاخیز حزب په یو څه تفصیل سره ولیکل سي ۰

د ۱۹۷۵ کال د مارچ په میاشت کي د ایران پاچا د خپل هیواد د ملکي او نظامي لویو اشخاصو په یوي غونډي کي د (ایران نوین) او (مردم) په شمول د ایران ټول سیاسي احزاب منحل کړه او ددغو احزابو پر ځایي دامیر عباس هویدا په مشري د رستاخیز په نامه د یوه نوي حزب جوړول اعلان کړه ۰ ده په دغي غونډیکي وویل چي د ایران پیشرفت ډیر سریع دی چي پر دغو انکشافاتو باندي د انتقاد گنجایش نه سته نو د مخالف حزب جوړول بي لزومه دې ۰ ده ټولو ایرانیانو ته امر وکړ چي په دغه نوي حزب کي شامل سي۰ ده وویل چي ، که کوم ایرانې ادعا وکړي چي د سیاست سره علاقه نه لري ، دغه ایرانې باید خپله دغه ادعا په اثبات ورسوي او د ایران ددولت څخه دي هم څه شې و نه غواړي ۰ د ایران پاچا د تودي د حزب په ارتباط وویل چي دغه خلگ بي وطنه دي چي تر دي وروسته په ایران کي ددوی ځای زندان دی او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسپورتونه به اخلي او د ایران څخه به وزي (٤٠)

د رستاخیز دحزب د (جناح سازنده) د اړخ مشر امیر عباس هویدا او د (جناح پیشرو) د اړخ مشر آموزګار و ۰

ایراني لیکوال ابراهمیان په خپل اثر کي لیکــي (د رستاخیز حزب د دوو متفاوتو ډلو په مشوره طرحه او جوړ سوی و ۰ یوه ډله هغه ایرانیان وو چي د امریکا په یونورستیو کي یي تحصیل کړی وو ۰ دغه ډله د امریکا د هاروړ د پوهنتون د سیاسي علومو د استاد Huntington د فلسفي پیروان وو ۰ دغه امریکایي استاد عقیده لري چي ، په مخ پر انکشافو هیوادونو کي د ثبات او استحکام یوازني لاره داده چي په دغو هیوادونو کي یو قوي او باانضباطه حکومتي حزب جوړ سي او دغه قوي حزب کولای سي چي په هغه هیواد کي د دولت او جامعي تر منځ عملي رابطه ټینګه کړي۰ او ددغه حزب په وسیله دولت کولای سي چي عام ولس متحد او بسیج کړي ۰ او هم ددغه حزب په وسیله دولت کولای سي چي د مخالفینو د تخریب مخه و نیسي۰ ولي دغو ایرانیاتو د هنتنګتون د افکارو دغه برخه د نظره غورځولي وه چي ، په نني عصر کي سلطنتي نظام بي لزومه دی ، او په یوه هیواد کي یو حزب باید د حکومت د لاس آله نه وي چي د هغه په وسیله خلګ تر خپل کنترول لاندي راولي ، بلکه دولت او جامعه باید یو پر بل باندي متقابل تاثیرات ولري .

د مشاورینو دوهمه ډله د شیراز د ولایت پخواني کمونستان وو چي د ۱۹۵۰ کال په لسیزي کي د تودي د حزب څخه جلا سوي وو او اوس د اسدالله علم له لاري څخه دغي وظیفي ته ګمارل سوي وو ۰ دغي ډلي ادعا کوله چي په ایران کي یوازي دلیننستي ډلي په شکل یو حزب کولای سي چي د ایران ولس متحد او بسیج کړي ۰ او د ایران دولت باید خپله عنعنوي لاره پریږدي او د یوي عصري جامعي د جوړولو له پاره نوي لاره غوره کړي) دغه لیکوال دا هم لیکــي (د رستاخیز د حزب هدف داو چي د زړي طریقي نظامي دکتاتوري په یوي حزبي دکتاتوري بدله کړي۰ دوی به ویل چي موږ د سوسیالیزم او سرمایه داري نظامونو څخه ټول ښه شیان اخلو ، او موږ یوه منطقي رابطه ددولت او خلګو تر منځ جوړوو ، او دغه کار به د لوی لیدر یعني د ایران د پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مرسته وکړي چي خپل سپين انقلاب سر ته ورسوي او ايران لوی تمدن ته ورسوي . د رستاخيز حزب مرکزي کميته او سياسي بيورو درلوده ۰ دغه حزب د مې د مياشتي لومړي ورځ د کارگرانو د ورځي په نامه نمانځله ۰په دغه حزب کي د ايران ١٦ مليونه خلگ شامل سول ، او د ايران هغه ناراضي خلگ چي ډير کلونه ددي له پاره منتظر وو چي يو وخت به د ايران د مسلط نظام سره خپله مبارزه پيل کړي ، دغه خلگ مجبور سول چي د رستاخيز په حزب کي شامل سي او حتي د ايران په بازارونو او کوخوکي د (۲ ۵ ۰ ۰) کالونو د شهنشاهيت سندري ووايي۰

د رستاخيز حزب د مذهب په شمول د ايراني جامعي په ټولو امورو کي مداخله وکړه چي حتي اسلامي تقويم يي واړاوه او د هغه پر ځای يي د شهنشاهيت جنتري جوړه کړه ، چي ددوی‌په عقيده ايران په يوه ورځ د ۱۳۵۵کال څخه ۲۵۳۵ کلونو ته ورسيدې ۰ چي په نتيجه کي د رستاخيز حزب د ايران ټول رژيم کمزوره کړ او د ايران پاچا يي د ايراني جامعي څخه تجريد کړ۰

ښخوا به د ايران دولت داسي ويل چي، هغه کسان چي زموږ پر ضد نه دي هغه کسان زموږ ملگري دي۰ ولي د رستاخيز حزب داسي خطرناکه شعارونه ورکول چي ، هغه کسان چي زموږ له پاره فعاليت نه کوي ، دوی زموږ پر ضد دي ۰)

وروسته آيت الله خميني د خپل تبعيدگاه يعني عراق څخه داسي فتوا صادره کړه چي ، د رستاخيز حزب غير ملي او غير اسلامي دی ۰ ده د خپلو پيروانو څخه وغوښتل چي په دغه حزب کي شامل نه سي ۰ چي په آخر کي په ۱۹۷۷ کال کي په ايران کي اسلامي انقلاب پيل سو او تر ۱۶ مياشتو مبارزو وروسته د ۱۹۷۹ کال د فبروري په مياشت کي دغه انقلاب ثمر ته ورسيدې . (٤١)

څرگه چي دمخه اشاره ورته وسوه د افغانستان په ديموکراسي دوري کي گڼ شمير حزبونه په افغانستان کي جوړ سوي وو ، چي جمهوري دولت ته گرانه وه چي پر دغو ټولو احزابو باندي د بطلان ليکه کش کړي او يوازي يو دولتي حزب چي د پاسه څخه راغلې وي پر افغاني جامعي باندي مسلط کړي ۰ جمهوري دولت مجبور و چي د نورو احزابو په مقابل کي د ايران د پاچا روش انتخاب کړي او بيرته په افغاني جامعي کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سياسي اختناق راولي چي په دغه صورت كي نورو احزابو ته پرته تر مځكي لاندي فعاليت او نظامي كودتا څخه بله لاره نه پاته كيده ٠ د بلي خوا څخه جمهوري دولت فيصله وكړه چي د ملي انقلاب حزب د رستاخيز د حزب په شان دوه اړخونه او مركزي كميته ولري ، او ددو اړو اړخونو مشران يي د مركزي كميټي د غړو په حيث و ټاكل ٠ د محمد داود خان د اعتماد وړ سړي سيد وحيد عبدالله د جمهور رئيس پر دغي فيصلي باندي اعتراض وكړ ٠ دغه حادثه دا ثابتوي چي محمد داود خان په دغه وخت كي د خپل حكومت پر غړو باندي هم كنترول د لاسه وركړي و ٠ تر څو چي په افغانستان كي د ثور كودتا و سوه ٠

١٢ ـ په ايران كي افغاني كارگران

د٠ ١٩٧ په لسيزه كي چي په بين المللي بازارونو كي د تيلو بيه لوړه سوه او دتيلو د هر بيرل بيه د ١٢ دالرو څخه ٣٦ دالرو ته ورسيده ، نو د خليج ټول هيوادونه د باد راوړو بي حسابه دالرو نو خاوندان سوه ٠ په ايران ، سعودي عربستان ، كويت او متحده اماراتو كي ډيري صنعتي او عمراني پروژي تر كار لاندي ونيولي سوي ، چي د پاكستان ، بنگله ديش او هند ډيرو ماهرو او غير ماهرو كارگرانو دغو هيوادونو ته د كار له پاره ورتلل٠

ما په مشهد كي د يوه پاكستاني متقاعد جگړن څخه چي په كويت كي يي كار كاوه پوښتنه وكړه چي څه تعداد نظامي پاكستانيان د كويت ددفاع په وزارت كي كار كوي ؟ ده زما په جواب كي وويل ((هلته زموږ تعداد دومره ډير دی چي كه موږ وغواړو په هغه هيواد كي كودتا كولای سو)) د ٠ ١٩٧ په لسيزي كي د پاكستاني كارگرانو دلاس مزد په هر كال كي ديرش مليونو دالرو ته رسيدې ، او په دغو دالرو به په پاكستان كي كارخاني جوړيدلي ٠

افغاني كارگرانو هم د خليج هيوادونو ته د كار پيداكولو هڅي پيل كړي څرنگه چي ډيرو افغانانو ته د پاسپورت اخستل مشكل كار و ، نو څكه دوی غير مجاز د افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرحد څخه تیریدل او د ایران په کارخانو او زراعتي پروژو کي یي په لږ اجرت کار کاوه . ایرانیانو چي د خپلو عمراني پروژو له پاره د کوریا او فلپین څخه عادي کارگران استخدامول ، دوی ته افغاني ارزانه بشري قوه چي نه یي د خوب ځای غوښت او نه یي ددوی سره د کار د ساعتونو حساب کاوه او په صحي بیمي هم نه پوهیدل ، یو لوی نعمت و. څرنگه چي افغاني کارگران د غیر قانوني لارو څخه د ایران خاوري ته ننوتل او د ایران په کلیو کي به یي په پټه کار کاوه ، دوی د خپل اجرت د خوندي ساتلو له پاره مطمنین ځای هم نه درلود . دوی مجبور وو چي د کارخانو د مالکانو څخه غوښتنه وکړي چي ددوی اجرت په کارخانو کي وساتي او کله چي دوی افغانستان ته ځي خپلي پیسي به د کارخانو څخه واخلي . د ایران د ډیرو کارخانو مالکان به د افغاني کارگرانو پر اجرت باندي منکر کیدل او افغاني ډیر کارگران به یي تر څو میاشتو کارکولو وروسته تش لاسونه د خپلي کارخاني څخه شړل. هره ورځ به ډیرو افغاني کارگرانو افغاني جنرال قونسلگري ته مراجعه کوله ، چي په لکونو ایراني ریال د جنرال قونسلگري په مرسته د ایران د کارخانو د مالکانو څخه تحصیل شوي دي .

ډیرو افغاني کارگرانو به صرف څو میاشتي په ایران کي کار کاوه او بیا به بیرته افغانستان ته تلل . په دغو کلونو کي نژدي اته لکه افغانان په ایران کي په کار بوخت وو چي ددوی ډیر وخت به د افغانستان او ایران تر منځ په تگ او راتگ کي تیریدې ، ډیر خطرونه به هم دغو کارگرانو ته متوجه وو . په سرحدي سیمو کي به غلو د افغاني کارگرانو مخه نیوله او ددوی پیسي به یي ددوی څخه اخستي او کله کله به د سر تاوانونه هم دوی ته رسیده .په دغو کلونو کي ډیر خارجي اسعار افغانستان ته راوړل سول چي د یوه امریکایي دالر بیه ۳٦ افغانیو ته را ټیټه سوه. دغه ډیر شمیر کارگران چي په ایران کي په کار بوخت وو ، په افغانستان کي یي صنعت او زراعت ته ډیر تاوان ورسوی . د افغانستان په غربي سیمو کي د بزگرانو د کمبود په وجه د زراعتي محصولاتو مقدار ډیر لږ سو .

په ۱۹۷۵ کال کي د ایران دولت د افغانستان څخه د ۳۰ زرو عادي کارگرانو د استخدام غوښتنه وکړه ، د ایراني مقاماتو پیشنهاد دا و چي د افغانستان دولت دي دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارگرانو ته د هویت یوه مخصوصه پاڼه ورکړي او دغه کارگران به د اسلام قلعه او تایباد د لاري څخه به ایران ته ورځي او د ایران لویو ښارونو ته انتقالیږي او ،هلته به ددغو کارگرانو له پاره د اوسیدلو ځایونه او بانکي حسابونه آماده کیږي ۰ ولي افغاني مقاماتو په دغي برخي کي کوم اقدام و نه کړ ۰ چي په پای کي ایراني سرحدي مقاماتو په خصوصي توگه یو زر افغاني کارگرانو ته اجازه ورکړه چي د اسلام قلعه او تایباد له لاري څخه د ایران خاوري ته داخل سي د تهران د کارخانو له خوا ددغو کارگرانو د انتقال له پاره تایباد ته سرویسونه راستول سوي وو ، دوی یو تعداد افغاني کارگران په سرویسونو کي سپاره کړل ، ولي ددغو کارگرانو څخه حتي یو سړی هم دتهران ښار ته و نه رسید ، په دي چي افغاني کارگران په لاري کي د سرویسونو څخه پلي سول او د ایران په کلیوکي په کارونو بوخت سول (٤ ٢)

۱ ۳ ـ پر جمهوري نظام ولي کودتا وسوه ؟

محمد داودخان تر خپل صدارت لس کاله وروسته کودتا وکړه چي په دغو کلونو کي زموږ په سیمي او نوري نړي کي لوی بدلونونه راغلي وو ۰ په افغانستان کي د لسو کلونو له پاره دیموکراسي وه ، نوی اساسي قانون نافذسوی و ، په هیواد کي د دو تقنیني دورو د شورا د غړو د ټاکلو له پاره آزاد انتخابات سوي وو ۰ قضائیه قوه د حکومت څخه جلا سوي وه ، د کابل په ښار کي آزادي جریدي خپریدي ، او په هیواد کي ډیر احزاب جوړ سوي وو ، او د نړي متضادو ایدلوژیگانو په هیواد کي نفوذ کړی و او د نړي ډیر هیوادونه په افغانستان کي دخپلو مفکوروي تسلط په لټه کي وو ۰

د محمد موسي شفیق حکومت د ایران او ځینو عربي هیوادونو سره اقتصادي او کلتوري اړیکي ټنگي کړي ، د ایران سره یي د هلمند د اوبو معاهده لاس لیک کړه ، د تهران د رادیو څخه د پښتوژبي خپروني پیل سوي ۰ او د پاکستان د هیواد سره هم د افغانستان عادي مناسباتو ادامه درلوده ۰

د ۱۹۷۰ په لسیزي کي چي د تیلو بیه ډیره لوړه سوه ، د خلیج بډایو هیوادونو مخصوصا ایران زموږ په سیمي کي د امریکا په گټه او د شوروي اتحاد پر ضد څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقدامات پيل كړه ٠

پاكستان چي د خپلي شرقي برخي (اوسني بنگله ديش) دروند پيټي د خپلو اوږو څخه غورځولې و ، نو په ډير اطمينان سره يي د اوسني پاكستان په آبادولو پيل وكړ ځرنگه چي مركزي او د آسيا د جنوب ختيز نظامي اتحاديي چي پاكستان په هغوي كي غړيتوب درلود ، د منځه تللي وي ، نو پاكستان د هغه سياسي او اقتصادي فشاره څخه خلاص سو چي د شوروي اتحاد له خوا دغه هيواد ته متوجه و ٠

امريكا او نورو غربي هيوادونو د ١٩٥٠ او ١٩٦٠ په لسيزه كي د شوروي اتحاد د نفوذ د مخنيوي په غرض په منځني ختيز او د آسيا په جنوب كي نظامي اتحاديي جوړي كړي ٠ دغي اتحاديي په عمل كي ناكامي سوي ، او د ١٩٧٠ په لسيزي كي ددغو اتحاديو پر ځاى د امريكا په لاربښونه د ايران او د خليج د بډايو هيوادونو په وسيله په منځني ختيز او د آسيا په جنوب كي جاسوسي فعاليتونه پيل سول چي د ايران جاسوسي دستگاه ساواك او سي آى اى او د سعودي عربستان د جاسوسي دستگاه په افغانستان او د منطقي په نورو هيوادونو كي د شوروي اتحاد د نفوذ د كمولو له پاره اقدامات پيل كړه ، چي په افغانستان كي ددغو تخريبي عملياتو مقدماتي مراحل د افغانستان دديموكراسې په دوري كي شروع شوي وو (٤٣)

د عدم انسلاك په نهضت كي هم څه بدلونونه راغلي وو ٠ دغه نهضت چي د باندونگ په كنفرانس كي يي ٢٧ غړي درلودل ، د ١٩٧٠ په لسيزي كي يي د غړو شمير دري برابره سو ، او ځينو انقلابي هيوادونو لكه كيوبا ، زمبابوې ، د فلسطين د آزادۍ نهضت او داسي نور هيوادونه ددغه جنبش په غړيتوب و منل سول ، چي ددغو انقلابي غړو په ورتگ سره دغه جنبش خپله عنعنوي د منځ ليكه پريښووله او د شوروي اتحاد سياست ته يي ميلان پيدا كړ ٠د مثال په توگه ٠ په ١٩٧٩ كال كي ددغه نهضت د كنفرانس په پريكړه ليك كي چي په هاوانا كي يي صادر كړى و ، تر شل واره ډير يي د امريكا امپرياليزم غندلې و ، ولي په دغه پريكړه ليك كي حتي يوواري هم د شوروي اتحاد سياست نه و غندل سوى . (٤٤)

محمد داود خان په دغو كلونو كي كودتا وكړه او په دغي پيچلي او ماين گذاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي سياسي مرحلي كي يي د افغانستان ددولت واگي په لاس كي واخستي ۰

١٤ ـ كورني ستونزي

ډاكټر محمد حسن شرق ليكي چي ((موږ په ١٩٧٠ كال كي تصميم ونيو چي په افغانستان كي به د كودتا د لاري څخه سلطنتي نظام ته خاتمه وركوو ، او دري كاله وروسته موږ كاميابه كودتا وكړه ۰ ولي ډير ژر د كودتا ملگري او مخصوصا د مركزي كميټي اوه غړي د محمد داود خان د نظره ولويدل او د حساسو مقامونو څخه ليري كړل سول ، او محمد داود خان پر هغو اشخاصو تكيه پاته سو چي موږ د هغو پر ضد كودتا كړي وه)) (٤٥)

Selig Harison ليكــي ((تر كودتا يو كال وروسته محمد داود خان په دولت كي تصفيه پيل كړه ، ده د ١٩٧٤ كال د جولاى په مياشت كي دوه سوه د اردو هغه نظامي افسران ليري كړل چي په شوروي اتحاد كي يي تحصيل كړى و ۰ ده د ١٩٧٥ كال د اكتوبر په مياشت كي څلويښت نور همدغه ډول صاحب منصبان د اردو څخه وايستل ۰ ده شوروي اتحاد ته د نظامي افسرانو ليږل محدود كړل او ځيني عسكري صاحب منصبان يي هند ، مصر ، تركيي او امريكا ته و ليږل)) دى ليكي ((د محمد داود خان بل مهم اقدام د ملي انقلاب د حزب جوړول وو چي په اساسي قانون كي يي د نورو سياسي ډلو فعاليت منع كړ، نورو سياسي گوندونو د محمد داود خان ددغه تصميم سره مخالفت وكړ او دجمهوري نظام پرضديي وسيع تبليغات كول)) دى ليكي ((ډيره مهمه حادثه د ١٩٧٥ كال د نومبر په مياشت كي پيښه سوه چي په دغي مياشت كي جمهوري نظام پر دو مهمو او حساسو مسايلو باندي لكه د هلمند د اوبو معاهده او د پښتونستان پر موضوع باندي عقب نشيني وكړه ۰ يعني محمد داود خان تر كودتا دوه كاله وروسته حاضر سو چي د هلمند د اوبو معاهده د ايران سره ومني كله چي محمد داود خان د ١٩٧٨ كال د مارچ د مياشتي پر پنځمي نيټي د پاكستان د سفر څخه بيرته كابل ته راغي ، هغه وخت د كابل په سياسي حلقو كي ويل كيدل چي محمد داود خان د ډيورنډ كرښه په رسميت پيژندلي ده ۰ دغي آوازي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت لا ډيري تودي سوي چي جمهور رئيس محمد داود خان د پښتنو او بلوڅو مشرانو او اته زره مهاجرو بلوڅو ته وويل چي د ۱۹۷۸ کال د اپريل د مياشتي تر ۳۰ نيټي پوري بايد د افغانستان د خاوري څخه ووزي)) (۴۶)

ـ دی د اجمل خټک د قوله ليکي چي ((محمد داود خان موږ ته وويل چي جنرال ضيأالحق هغه پښتانه او بلوڅ چي د ذوالفقار علي بوتو په وخت کي بنديان شوي وو آزاد کړي دي او تاسي د ضيأ الحق تر رهبري لاندي خپل حقوق تر لاسه کولای سئ ، او ما د محمد داود خان ددغه تصميم سره مخالفت وکړ)) (۴۷)

ـ نبي عظمي په خپل اثر کي ليکي چي ((کله چي محمد داود خان ، جمهوري اردو د اسلامي تندروانو ، ماويستانو او د محمد هاشم ميوندوال د پلويانو څخه پاك کړ ، نو بيا وار د پرچميانو تصفيي ته ورسيد چي دوی د اردو څخه و باسي ۰ محمد داود خان زما ء عظيمي ء په شمول ډير پرچميان د دولت د حساسو خايونو څخه ليري کړل ۰ او ده په واضح ډول پر ټولو چپو جرياناتو باندي د بطلان ليکه کش کړه ۰ د خارجه وزارت د معين سيد وحيد عبدالله په تحريك ، په مرکزي کميټي کي انشعاب راغی او مرکزي کميټه پر دوو برخو ويشله سوه چي يوي خوا ته محمد داود خان ، عبدالاله ، عبدالقدير نورستاني، غلام حيدر رسولي ، سرور نورستاني او غوث الدين فايق وو او بلي خوا ته ډاکټر محمد حسن شرق ، فيض محمد ، جګړن ضيأ مجيد ، ډګرمن محمد يوسف او جګړن مولاداد واقع سوي وو ۰ کله چي ډاکټر محمد حسن شرق په جاپان کي او فيض محمد په اندونيزيا کي دسفيرانو په حيث و ټاکل سول او جګړن ضيأ مجيد هند ته د نظامي آتشه په حيث وليږل سو ، نو د جمهوريت مرکزي کميته د منځه ولاړه او محمد داود خان او دده ډلي ددولت ټول واك په لاس کي واخست)) (۴۸)

ـ د جولای د مياشتي د ۱۷ نيټي تر کودتا وروسته د جمهوري دولت په مرکزي کميټي او کابيني کي ډير ژر کشمکش او اختلافات پيل سوه چي ډيرو دغو اختلافاتو ته سيد وحيد عبدالله لمنه وهله . په سر کي پاچا ګل وفادار او عبدالحميد محتاط خپل مقامونه د لاسه ورکړه او بيا ډاکټر محمد حسن شرق ، فيض محمد او احمد ضيا مجيد په ترتيب جاپان ، اندونيزيا او هند ته وليږل سوه . تر دغو تغييراتو وروسته د سيد وحيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله او عزيزالله واصفي د ډلي او سيد عبدلاله ، عبدالقدير نورستاني او غلام حيدر رسولي د ډلي تر منځ اختلافاتو بروز وکړ چې د ثور تر کوټا پورې يې ادامه درلوده .

ـ د جمهوريت په وروستي کال کې سردار محمد نعيم خان او محمد عمر داود د محمد داود خان د اداري روش سره موافق نه وو ، څرنګه چې پاچا ګل وفادار وايي چې محمد نعيم خان د نظام د تغيير په برخه کې دده سره اوږدې خبرې کړي وې او غوث الدين فايق هم په خپل اثر (رازي را که نمي خواستم افشا گردد ـ ۱٤۲ مخ) کې د سردار محمد نعيم خان د قوله دغې موضوع ته په تفصيل اشاره کړې ده .

ـ ډيرو افغانانو د جمهوري دولت سره مخالفت پيل کړ . په پای کې خبره دې ځای ته ورسيده چې د جمهوري نظام د پلان وزير علي احمد خرم په سپينه ورځ د جاپاني يوه هيأت سره د ليدلو په وخت کې د خپل دفتر څخه و ايستل سو او د پلان د وزارت په مخ کې ووژل سو او قاتل هم وتښتيدې .

۱۵ ـ د ايران سره د افغانستان مناسبات

د ۱۹۷۰ په لسيزې کې ايران د خپلو سرشارو دالرو په وسيله د منځنۍ آسيا او ليرې ختيز په هيوادونو کې بيل بيل فعاليتونه پيل کړل ۰ د ايران دولت د افغانستان سره خپل پخواني ساړه مناسبات تاوده کړه ، او د محمد موسي شفيق د حکومت په وخت کې ددواړو هيوادونو تر منځ د هلمند د اوبو معاهده لاس ليك سوه ، ددغې معاهدې مصدقه اسناد لا نه وه تبادله سوي چې محمد داود خان کودتا وکړه ۰ دوه کاله وروسته جمهوري دولت هم حاضر سو چې د هلمند د اوبو معاهده ومني او د محمد داود خان خاص نماينده سردار نحمد نعيم خان په تهران کې وويـل ((د هلمند د اوبو معاهده د افغانستان او ايران ددوستۍ په بحر کې يو څاڅکې دی)) چې وروسته ددغې معاهدې مصدقه اسناد د زلمي محمود غازي له خوا په تهران کې تبادله سوه۰ او هم د ۱۹۷۰ په لسيزې کې د ايران پاچا د امريکا او پاکستان په مرسته غوښتل چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد نفوذ ته خاتمه ورکړي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مروت په خپل اثر کي ليکي چي ((په ۱۹۷۶ کال کي د امريکا د ملي امنيت رئيس Brezezinski دامريکا په خارجي سياست کي د ، منطقوي نفوذ ، مفهوم طرح او اختراع کړ ۰ ده ددغي مفکوري د عملي کولو له پاره د ايران پاچا دي ته و هڅاوه چي په آسيايي هيوادونو کي خپل رول و لوبوي ، او په دغه وخت کي د ايران پاچا په خپله هم علاقه درلوده چي د خليج او جنوبي آسيا په هيوادونو کي لاس وهنه وکړي ۰ امريکايانو د ايران پاچا دي ته هم تشويق کړ چي د خپلو همسايه هيوادونو سره مالي مرستي وکړي د امريکا ددغي توصيي پر اساس د ايران دولت د پاکستان سره ۷۵۰مليونه دالره مرسته وکړه ۰ او د ۱۹۷۳ کال څخه بيا تر ۱۹۷۵ کال پوري د ايران دولت د افغانستان سره ۵۰ مليونه دالره مرسته کړي ده۰ واشنګتن د سعودي عربستان ، کويت او جاپان هيوادونه هم تشويق کړل چي د افغانستان سره مالي مرستي وکړي۰ په کابل کي د امريکا سفير Theodore Elliot محمد داود خان دي ته تشويق کړ چي د واقعي بي طرفي پيروي وکړي ۰ او ده د افغانستان جمهوري دولت دي ته و هڅاوه چي د پښتونستان موضوع چي ډير يي افغانستان پــر شوروي اتحاد بانــدي تکيه کړی دی ، پريږدي)) (۴۹)

سلك هريسن ليکــي ((په ۱۹۷۴ کال کي د ايران دولت په آسانه شرايطو څلويښت مليونه دالره پور د افغانستان دولت ته ورکړ چي دا د هغه دوه مليارده دالرو پيش پرداخت و چي د لسو کلونو په موده کي د ايران ددولت له خوا افغانستان ته ورکول کيدل ۰ ايرانيانو غوښتل چي د مرستو په برخي کي په افغانستان کي د شوروي اتحاد ځای و نيسي ، او په افغانستان کي د اورګاډي او لويو لارو پروژي په کار واچوي ، چي په دغه طريقه به افغانستان د شوروي اتحاد څخه بي نيازه کړي۰ افغاني کارګران په آزاد ډول د دواړو هيوادونو تر منځ تګ او راتګ کاوه ، چي دغه افغاني کارګران د ايران په اقتصادي او عمراني پروژو کي په کار بوخت وو ۰

په افغانستان کي د ايران د جاسوسي دستګاه ساواك د پخوا څخه ځای پر ځای سوي .K.G.B پر ضد اقدامات پيل کړل ۰ د سعودي عربستان ، پاکستان ، هند او چين جاسوس فعاليتونه هم په افغانستان کي پيل سوي وو ۰ ساواك او سي .آی .ای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کي په ګډه فعاليت کاوه ، دواړو شبکو په افغانستان کي د بنيادګرا ګروپونو سره هم يوه اندازه همکاري درلوده ۰ دغو ټولو جاسوسي دستګاوو په افغانستان کي داسي با معلوماته خلګ استخدام کړل چي دوی ته يي د افغانستان په اردو او دولت کي هغه کسان معرفي کول چي د کمونستانو سره همدردي لرل ۰

د ايران دولت امريکايي اسلحه ، د مخابري آلات او ځني نوري مرستي د محمد داود خان هغو مخالفينو ته ورکړي چي د افغانستان په غربي سيمو کي يي ژوند کاوه ۰ د ايران ځيني مرستي د پاکستان حکومت ته ورکړه سوي چي افغاني بنيادګرا ګروپونو ته يي ورکړي ، چي د ايران دغي مرستي دصوبه سرحد د ګورنر نصيرالله بابر په وسيله افغاني بنيادګرا ګروپونو ته ورکړه سوي چي ددغو مرستو په نتيجه کي د پنجشير پر امنيتي پوستي باندي يو ځه عمليات و سول)) (۵ ۰)

په ۱ ۹ ۷ ٤ کال کي چي د افغانستان او ايران تر منځ د تيلو د قر ار داد نيټه پای ته رسيدلې وه ، د ايران دولت افغانستان ته پيشنهاد وکړ چي که افغانستان د شوروي اتحاد سره د تيلو تر خپل قرار داد تير سي ، نو د ايران دولت به د پخواني قرار داد مطابق افغانستان ته هر يو تن تيل په شل دالره ورکړي ۰ او که افغانستان د شوروي اتحاد ځخه د تيلو رانيولو ته ادامه ورکوي ، نو بيا د افغانستان سره د تيلو نوې قرار داد د خليج د بيي مطابق هر يو تن به په ۱ ۲ ۰ دالره لاس ليك سي۰ ولي د افغانستان دولت د ايران دغه پيشنهاد و نه مانه او نوې قرار داد د خليج د بيي مطابق د دواړو هيوادونو تر منځ لاس ليك سو . (۵ ۱)

د ۱ ۹ ۷ ۵ کال د اپريل په مياشت کي جمهور رئيس محمد داود خان تهران ته رسمي سفر وکړ . زه ددغه سفر په وخت کي په تهران کي وم ۰ په بين المللي روابطو کي ددي اصل ټينګ رعايت کيږي ، چي کله چي د يوه هيواد مشر بل هيواد ته په رسمي سفر بلل سوې وي ، نو د کوربه هيواد مشر د خپل ميلمه د اقامت په ورځو کي د خپل هيواد ځخه د باندي سفر نه کوي ۰ ولي د ايران پاچا د افغانستان د جمهور رئيس محمد داود خان د مسافرت په وخت کي ددغه اصل مراعات و نه کړ ، او کله چي محمد داود خان په اصفهان کي و ، د ايران پاچا د خپل هيواد ځخه ووت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان قابوس د ليدلو له پاره يي عمان ته سفر وکړ . (۵۲)

محمد داود خان د خپل حيثيت او ملي ګټو د ساتلو په خاطر د خپل صدارت په وخت کي د غربي نړۍ او په سر کي د امريکا غوښتنو ته سر ټيټ نه کړ ، او ،محمد داود خان د جمهوريت په وخت کي د شوروي اتحاد مشر برژينف ته مخامخ کلك جواب ورکړ ۰ ولي ده د ايران د پاچا پر دغه نامناسب عمل باندي اعتراض و نه کړ، که دغه نه اعتراض د ايران د ځو دالرو مرستي له پاره وي ، نو د شاعر په قول :

احـتـيـاج د زمـانـي هسـي بـلا ده

و دلاك ته پاچا کښينوي سر تور (۵۳)

د ايران دولت افغانستان ته اقتصادي مرستي ددي له پاره ور کړي دي چي جمهور رئيس محمد داود خان به په خپل دولت کي کمونستي عناصر تصفيه کړي. سلك هريسن ليکي ((په تهران کي ء جعفر نديم ء چي د ايران په خارجه وزارت کي دريم سړی دی ما ته په ډير اطمينان سره وويل چي د ايران جاسوسي دستګاه ساواك د محمد داود خان په جمهوري رژيم کي کار کوي او افغانستان ته د ايران اقتصادي مرستي مشروطي دي او شرطونه يي دادي چي د محمد داود خان جمهوري دولت بايد د خلق او پرچم حزبونه د منځه يوسي ، افغانستان بايد د پاکستان سره ددوستي تړون لاس ليك کړي ، افغانستان خپلو ټولو تخريبي عملياتو ته چي د پښتنو او بلوڅو په قبايلو کي يي لري خاتمه ورکړي)) دی زياتـوي ((د پورتني مسايلو په هکله په کابل کي د انګريزانو سفير Roy Crook چي د افغانستان د مسايلو متخصص دی ده ما ته وويل چي که د ايران دغه ديپلوماسي په افغانستان کي په بيړه لا نوره پر مخ ولاړه سي ، نو د شوروي اتحاد د عکس العمل سره بـه مخا مخ سي)) دی ليکـي ((په راتلونکو کلونو کي د محمد داود خان جمهوري دولت خپله داخلي او خارجي پالسي ښې خوا ته واړوله او د ۱۹۷۷ کال د فبروري په مياشت کي يي نوې اساسي قانون نافذ کړ او په دغه اساسي قانون کي يي يوازي خپل ملي انقلاب حزب ته د فعاليت اجازه ورکړي وه او په اساسي قانون کي يي داخله وزارت ته واك ورکړې و چي د جمهوري دولت ټول مخالفين وزيي)) دی زياتـوي ((د شوروي اتحاد پخواني سفير Pozanov اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

افشا کړي ده چي په افغانستان کي د محمد داود خان اقداماتو حفيظ الله امين خوابدې کړې و او ده غوښتل چي د ۱۹۷۷ کال په سر کي د محمد داود خان دولت ته خاتمه ورکړي ، ولي د شوروي اتحاد دولت په هغه وخت کي حفيظ الله امين ددغه اقدام څخه منع کړی و)) دی ليکـي ((د افغانستان سره د شوروي اتحاد مناسبات په ظاهره عادي وو ولي د دواړو هيوادونو مناسبات هغه وخت خراب سول چي محمد داود خان د بريژينف سره مستقيم برخورد وکړ)) (٥٤)

سلك هريسن د واشنگتن پست د۱۹۷۹ کال د مي د مياشتي د ۱۳ نيټي په گڼي کي داسي ليکلي دي ((دا د ايران پاچا و نه بريژينف ، چي په افغانستان کي يي د حوادثو خنځير تر پايه کش کړ او د محمد داود خان نظام ته يي سقوط ورکړ)) (٥٥)

۱۶ ـ د محمد داود خان او برژنيف لفظي ټکر

عبدالصمد غوث چي د محمد داود خان او برژنيف د لفظي تصادم د پيښي شاهد و په خپل اثر کي ليکي چي ((د ۱۹۷۷ کال په سر کي شوروي اتحاد په پټه د خلق او پرچم ډلي بيرته سره متحدي کړي ۰ د شوروي اتحاد رسمي مقاماتو د افغانستان په خارجي او داخلي سياست کي د نويو تحولاتو په برخه کي خاموشي اختيار کړي وه ، او په معمولي طور به يي د افغانستان او شوروي اتحاد ددوستانه علايقو يادونه کوله. هرڅومره ورځي چي به تيريدلي محمد داود خان د شوروي اتحاد د پټو لاس وهنو څخه چي مخ پر زياتيدو وي ، ناراحته کيدې ۰ يوه ورځ وروسته تر هغه چي محمد داود خان د لوي جرگي له خوا د جمهور رئيس په حيث وټاکل سو ء د ۱۹۷۷ کال د فبروري د مياشتي ۱۶ نيټه ء نو يي وويل چي اوس ددي وخت رارسيدلې دې چي دې شخصا د لينويد برژنيف څخه د هغو تخريبي عملياتو پـه برخـه کـي چـي پـه افغانستان کي کيږي پوښتنه وکړي ۰

محمد داود خان د شوروي اتحاد په بلنه د اپريل د مياشتي د ۱۲ څخه تر ۱۵ نيټي پوري هغه هيواد ته رسمي سفر وکړ ۰ او د جمهور رئيس محمد داود خان او برژنيف ترمنځ د يـوه خصوصي ملاقات غوښتنه هـم د شوروي اتحاد د مقاماتـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه سوي وه ۰ د لومړي ورځي مذاکرات د کرملين په ماڼي کي د اپريل د مياشتي پر ۱۲ نيټي د ماپښين له خوا وسوه ۰ په دغه ورځ محمد داود خان د افغانستان د ګازو د بيي د لوړيدلو غوښتنه وکړه ، ده د غير منسلکو هيوادونو د نهضت په برخي کي وويل چي افغانستان ددي غوښتونکې دی چي ددغه نهضت غړي هيوادونه بايد ددغه نهضت د اصولو کلك مراعات وکړي ، دوی بايد په جهاني مشاجراتو کي برخه وانه خلي)) دی ليکي ((شورويان په دي پوه سول چي ددغو خبرو څخه د محمد داود خان هدف د کيوبا هيواد دی ۰ ددوهمي ورځي په مذاکراتو کي د شوروي اتحاد د هيأت مشر برژنيف د خپلو خبرو په ترځ کي ، مخامخ محمد داود خان ته وکتل او وي ويل چي د ناتو د پکت د هيوادونو ډير متخصصين د افغانستان د شمالي سيمو په پروژو کي کار کوي او دوی هلته په جاسوسي اخته دي ، چي بايد دوی د افغانستان ددغو سيمو څخه و ايستل سي ۰ جمهور رئيس محمد داود خان ده ته په جواب کي وويل چي د شوروي اتحاد د رهبر دغي خبري د افغانستان په کورنيو چارو کي صريح مداخله ده او موږ تاسي ته هيڅکله اجازه نه درکوو چي موږ ته لارښوونه وکړې چې موږ خپل هيواد څنګه اداره کړو ۰ تر دغو خبرو وروسته محمد داود خان د مجلس څخه ولاړ سو چي فورا برژينف ده ته ويل چي تاسي د يوه خصوصي ملاقات غوښتنه کړي وه ، محمد داود خان ده ته په جواب کي وويل چي اوس هغه خصوصي ملاقات ته هم ضرورت نه ستـه)) (۵۶)

د محمد داود خان د سفر يوه بل ملګري وويل چي (د پروګرام مطابق د جمهور رئيس محمد داود خان ددغه سفر وروستې شپه په تاشکند کي وه ، چي د محمد داود خان الوتکه په تاشکند کي کښته نه سوه او مخامخ کابل ته راغله)) (۵۷)

سلك هريسن ليکـي ((د محمد داود خان تر دغه سفرڅو مياشتي وروسته د خارجه وزارت مرستيال سيد وحيد عبدالله ما ته د عبدالصمد غوث د ليکني مشابه معلومات راکړه او سيد وحيد عبدالله دا هم وويل چي برژنيف په خپلو خبرو کي په افغانستان کي د امريکا د ستلايت او زلزله سنج ددستګاو د متخصصينو پر موجوديت بـانـدي اعتراض وکړ او دوی يـي د امريکا جاسوسان وبلل ۰ او برژنيف پـه خـپـلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو کي دا هم وويـل چـي د افغانستان د جمهوريت د کابيني څني غړي د امريکا ايجنټان دي)) (۸ ۵)

هندي ليکوال Nayar Kuldip ليکـي ((په ۷ ۷ ۹ ۱ کال کي افغانستان د اقتصادي او نظامي مرستو له پلوه پر شوروي اتحاد باندي ډير متکي و ، او افغانستان داسي ښکاره کيدې چي د شوروي اتحاد د نفوذ په ساحه کي واقع وې ۰ محمد داود خان يوازي غوښتل چي د افغانستان مناسبات د شوروي اتحاد سره تر يوه حده محدود کړي په دي چي محمد داود خان يو وطن پالونکې و او ده غوښتل چي افغانستان خپله عنعنوي بي طرفي وساتي۰ کوم شي چي شوروي اتحاد يي نا آرامه کړې و ، هغه د محمد داود خان هغه تلاشونه وو چي د خينو سرمايه دارو هيوادونو څخه يي د مرستو غوښتنه کوله۰ د محمد داود خان خاص نماينده سردار محمد نعيم خان ايران او امريکا ته سفرونه وکړل ، او کله چي ده د واشنگټن څخه د متخصصينو او مشاورينو غوښتنه وکړه ، پـه دغـه وخت کـي د شـوروي اتحاد بـدگمـانـي پر افغانستان باندي لا ډيره سوه۰

کله چي په ۷ ۷ ۹ ۱ کال کي محمد داود خان مسکو ته سفر وکړ ، په يوي غونډي کي برژنيف د محمد داود خان څخه پوښتنه وکړه چي آيا دا حقيقت لري چي تاسي د امريکا څخه مشاورين غوښتي دي ؟)) دی د محمد داود خان د ورسره هيأت د يوه غړي د قوله ليکـي ((محمد داود خان د غونډي څخه ولاړ سو او په متأثر او لوړ آواز يي برژنيف ته وويل چي زه د يوه آزاد هيواد جمهور رئيس يم او هيڅوك دا حق نه لري چي زما څخه داسي يوه پوښتنه وکړي ۰ محمد داود خان خپل سفر لنډ کړ او برژنيف د محمد داود خان د مخه ښه له پاره هوايي ميدان ته ورغلې و او ده غوښتل چي خپله خبره بيرته ترميم کړي ، ولي دغه ليدنه يوازي د پنځو دقيقو له پاره وه او هلته مهمي خبري ونه سوي۰

تر دغي حادثي وروسته ددواړو هيوادونو په مناسباتو کي سوړوالي راغی ، کله چي محمد داود خان کابل ته ورسيد ، ده هدايت ورکړ چي تر دي وروسته دي افغاني نظامي افسران په هند يا مصر کي تحصيل وکړي ۰ دی د اقتصادي مرستو له پاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو منابعو په لټه کي سو. مسکو خلق او پرچم ته هدايت ورکړ چي بيرته سره متحد سي ، چي دغه اتحاد ددي له پاره و چي که محمد داود خان د مسکو سره مخالفت پيل کړ ، نو دغه حزب به د يوه مخالف قوت په حيث د محمد داود خان د رژيم په مقابل کي مقاومت وکړي .

محمد داود خان مسايل سړيدلو ته پري نه ښوول ، ده سعودي عربستان او مصر ته سفرونه وکړل . سعودي عربستان افغانستان ته د ډيرو مرستو وعده ورکړه ، او شوروي اتحاد په دغه موضوع ډير ژر خبر سو ، په دي چي رحيم رفعت چي د محمد داود خان ترجمان و ، ده د محمد داود خان د مذاکراتو متن چي ۱۶ پاڼي کيدلي د ببرك کارمل په وسيله شورويانو ته ورسوې .

په ۱۹۷۶ کال کي محمد داود خان د ايران سره د اقتصادي همکاريو څو معاهدي لاس ليك کړي ، چي يوه يي د اورګاډي د پټلۍ وه چي کابل يي د بندر عباس سره وصل کاوه . چي دا ، په وچه کي د محصور افغانستان له پاره دوهمه لاره کيدله)) دی زياتـوي ((ما په ۱۹۷٤ کال د جون په مياشت کي په تهران کي د ايران د پاچا سره وليدل ، ده ما ته وويل چي بايد افغانستان بحر ته لاره ولري او زه په دغي برخي کي د افغانستان سره مرسته کوم. د ايران پاچا افغانستان ته د دوو مليارډو دالرو مرستو وعده ورکړه ، چي په دغو مرستو سره د افغانستان اتکأ پر شوروي اتحاد باندي کميدله. کويت هم محمد داود خان ته پيغام وليږي چي د کويت دولت حاضر دی چي د افغانستان دولت ته يو سپين چك ورکړي ، په هغه صورت کي چي محمد داود خان په ښکاره ډول د شوروي اتحاد سره مخالفت وکړي . ولي محمد داود خان نه غوښتل چي د شوروي اتحاد پر ضد په کوم بلاك کي شامل سي ، ده يوازي غوښتل چي افغانستان پر شوروي اتحاد باندي د ډيري اتکا څخه خلاص کړي . ولي مسکو تر دي وروسته پر ده باندي اعتماد نه کاوه او شورويانو داسي تصور کاوه چي محمد داود خان ددوی مخالف سوی دی)) (۵۹)

سعودي عربستان ۵۰۰ مليونه دالره د اوبو لګولو په ساحه کي د افغانستان سره مرسته وکړه ، افغانستان د چين او کويت سره هم اقتصادي قراردادونه لاس ليك کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

OPEC او اسلامي بانك هم د افغانستان سره د اقتصادي مرستو وعده وکړه ۰ محمد داود خان په واضح ډول د عدم انسلاك په نهضت کي د افراطي اړخ څخه چي کيوبا يي رهبري کوله ، ځان ليري کړ۰ محمد داود خان ځو واره کيوبا وغندله او ده وويل چي افغانستان د هغي معتدلي واقعي بي طرفي پلوي کوي چي رهبري يي د هند او يوګوسلاويا په لاس کي ده ، وروسته تر هغه چي محمد داود خان بلګراد او نوي ډهلي ته سفرونه وکړل ، نو بيا فيصله وسوه چي د ۱۹۷۸ کال د مې په مياشت کي به د عدم انسلاك د خارجه وزيرانو غونډه په کابل کي کيږي . (۶۰)

د محمد داود خان او برژنيف د لفظي تصادم په هکله ، مروت د سردار محمد نعيم خان د قوله په خپل اثر کي داسي ليکلي دي ((د برژنيف دغه غير مترقبه پيشنهاد چي محمد داود خان بايد ټول امپرياليستي مشاورين د خپل هيواد څخه و باسي ، صرف يو تيپيك د شوروي د شطرنج د لوبي Gambit ته ورته دی چي برژنيف غوښتل چي محمد داود خان په دغه طريقه په دفاعي حالت کي واقع کړي)) (۶۱)

۱۷ ـ د عدم انسلاك د نهضت څخه د کيوبا د ايستلو پيشنهاد

د جمهور رئيس محمد داود خان مناسبات د شوروي اتحاد سره هغه وخت لا ډير خراب سول چي د افغانستان جمهوري دولت اراده وکړه چي د عدم انسلاك د خارجه وزيرانو غونډي ته ددغه نهضت څخه د کيوبا د ايستلو پيشنهاد وړاندي کړي۰ د خارجه وزارت يوه مامور ما ته وويل چي جمهور رئيس محمد داود خان په هغه ملاقات کي چي په بلګراد کي يي د مارشال تيتو سره کړي و ، ده ته يي ويلي وه چي د کيوبا هيواد د شوروي اتحاد د اقمارو څخه دی او د شوروي اتحاد په غوښتنه يي انګولا ته نظامي قطعات استولي دي ، اوس بايد د کيوبا هيواد د عدم انسلاك د نهضت څخه و ايستل سي ۰ مارشال تيتو د محمد داود خان څخه پوښتنه کړي وه چي دغه کار به څرنګه عملي سي ؟ سيد وحيد عبدالله چي په دغه ملاقات کي حاضر و د مارشال تيتو په جواب کي وويل چي د عدم انسلاك د خارجه وزيرانو غونډه چي په کابل کي جوړيږي او زه ددغي غونډي رئيس يم ، زه به ددغه نهضت څخه د کيوبا د ايستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهاد دغي غونډي ته وړاندي کړم . (۶۲)

سید وحید عبدالله په دغه ارتباط مصر اندونیزیا او هند ته هم سفرونه وکړه ۰ د خارجه وزارت یوه بل مامور ما ته وویل چي په دهلي کي سید وحید عبدالله د عدم انسلاك د نهضت څخه د کیوبا د ایستلو موضوع د هند صدر اعظم موراجي دیساي ته یاده کړه ، هغه په جواب کي سید وحید عبدالله ته وویل چي افغانستان دا حق نه لري چي ددغه نهضت د خارجه وزیرانو غونډي ته د کیوبا د ایستلو پیشنهاد وړاندي کړي ۰ په دي چي د عدم انسلاك نهضت یوه نظامي اتحادیه نه ده چي یو غړي هیواد په داسي بهانو ددغه نهضت څخه و ایستل سي ۰ بلکه دا د آزادو هیوادونو یو جنبش دي چي د ګډ ژوند پنځه اصلونه لري چي د کیوبا هیواد د دغه اصلونو رعایت کړی دی ۰

سید وحید عبدالله د هند د صدر اعظم توصیي ته توجه و نه کړه او په یوي لیدني کي یي د کیوبا سفیر ته چي په عین حال کي په کابل کي هم د هغه هیواد سفیر و په تنده لهجه وویل چي د عدم انسلاك د خارجه وزیرانو غونډي ته چي په کابل کي جوړیږي ، دی باید رانه سي ۰ او کــه دی پــه دغه وخت کــي کابل تــه راسي نــو دده استقبال به و نــه ســي . (۶۳)

د مخه تر هغه چي د عدم انسلاك غونډه په کابل کي جوړه سي ، د ثور کودتا وسوه ۰ او د دغه غونډه د کابل پر ځای په بلګراد کي وسوه چي د بلګراد په غونډي کي پاکستان ددغه نهضت په غړیتوب و منل سو۰ او دغه نهضت د مشرانو غونډه په هوانا کي جوړه سوه ۰

سلك هریسن لیکي چي ((د محمد داود خان هغه سفر شورویان لا وار خطا کړل چي محمد داود خان مصر ته د سفر په لاري کي په ترکیي کي هم توقف وکړ او په دغه سفر کي محمد داود خان د سعودي عربستان او کویت څخه هم لیدنه وکړه)) ۶٤

دی لیکــي ((مصر ته د محمد داود خان دغه سفر هغه وخت وشو چي د مصر جمهور رئیس انورالسادات تازه د اسرایلو د سفر څخه راغلی و ۰ انورالسادات په هغي میلمستیا کي چي د محمد داود خان په ویاړ جوړه کړي وه ، د شوروي اتحاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفير په مخ کي محمد داود خان ته وويل چي ستاسي معقوله او ملي پالسي چي پر آزاد قضاوت او ملي گټو ولاړه ده او د پرلو ټپلو او د دنباله روي د سياست څخه کرکه کوی زموږ د تاييد وړ ده)) (۶۵)

مصر ته د محمد داود خان د سفر په هکله ما اوريدلي دي چي په هغه ورځ چي جمهور رئيس محمد داود خان مصر ته سفر کاوه په هغه ورځ انورالسادات ته بل مصرفيت پيدا سوې و ، محمد داود خان دوي ورځي په استامبول کي توقف وکړ . د انورالسادات سره د محمد داود د ليدلو يو هدف داو چي دی د مصر څخه د شوروي اتحاد د متخصصينو د ايستلو داستان د انورالسادات د خولي څخه واوري .

عبدالصمد غوث ليکي چي محمد داود خان د انورالسادات څخه د شوروي اتحاد د ماهرانو د ايستلو موضوع چي په ۱۹۷۲ کال کي پيښه سوه ، و پوښتله . (۶۶)

د ۱۹۷۸ کال د جون په مياشت کي د ايران پاچا محمد رضا شاه پهلوي کابل ته سفر درلود . د ۱۹۷۸ کال د آگست په مياشت کي د پاکستان جمهور رئيس جنرال ضيأ الحق کابل ته مسافرت کاوه . د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر د مياشتي پر شل نيټي د صوبه سرحد پخواني گورنر نصيرالله بابر د پيام افغان د راديو سره په يوي مرکي کي وويل ، په ۱۹۷۶ کال کي محمد داود خان او ذوالفقار علي بوټو دډيورنډ د کرښي په باب يوي موافقي ته رسيدلي وو ، په دغه ارتباط ددواړو رهبرانو تر منځ د يوي موافقتنامي متن هم په نښه سوی و ، ولي د جنرال ضيأالحق د کودتا په وجه دغه موافقتنامه و ځنډيدله . د ۱۹۷۸ کال دسبتمبر په مياشت کي جمهور رئيس محمد داود خان د امريکا د جمهور رئيس (جمي کارتر) په بلنه امريکا ته مسافرت درلود . ولي د ۱۹۷۸ کال د اپريل په مياشت کي په افغانستان کي کودتا وسوه او د محمد داود خان جمهوري نظام د منځه ولاړ .

۱۸ ـ د پاکستان سره د افغانستان مناسبات

په ۱۹۷٤ کال کي د پاکستان صدر اعظم ذوالفقار علي بوټو د بلوڅو مشران بنديان کړل او په بلوچستان کي يي نظامي عمليات پيل کړل . په دغه وخت کي د ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت پاکستان ته پر ۳۰۰ مليونو دالرو علاوه ديرش امريکايي کبرا هليکوپترونه ددي له پاره ورکړي وو چي د بلوڅو پر ضد يي استعمال کړي. ايرنيان په دي عقيده وو چي د بلوڅو سره کمونستان مرسته کوي او دمخه تر دي چي دا جنګونه د ايران خاوري ته وغزيږي بايد د هغو مخه ونيوله سي.

د ايران پاچا د افغانانو څخه هميشه غوښتنه کوله چي د پاکستان سره خپلو اختلافاتو ته ژر دحل يوه لاره پيدا کړي ، په دي چي شوروي اتحاد ددغو اختلافاتو څخه ګټه اخلي. د ۱۹۷٤ کال د آګست په مياشت کي د ايران خارجه وزير عباس علي خلعتبري کابل ته سفر وکړ ، ده د افغاني مقاماتو څخه غوښتنه وکړه چي د پاکستان سره په کښته سويه خبري پيل کړي . افغانستان د ايران دغه پيشنهاد و مانه (۶۷)

په ۱۹۷۵ کال د مارچ په مياشت کي د افغانستان د خارجه وزارت د معين سيد وحيد عبدالله او د پاکستان د خارجه وزارت د معين عزيز احمد تر منځ په کابل کي لومړي مذاکرات پيل سول .په دغه کال کي دامريکاد سناتور Charles Percy په وساطت په کتمندو کي د سردار محمد نعيم خان او عزيز احمد تر منځ چي دواړه د نيپال د پاچا د جنازي په مراسمو کي د ګډون له پاره هغه هيواد ته تللي وو ، دوستانه خبري وسوي ، دوی فيصله وکړه چي دواړه هيوادونه بايد يو د بل پرضد راديويي تبليغات بند کړي . ولي د ۱۹۷۵ کال د فبروري پر ۸ نيټي حيات محمد شيرپاو د اتلسو نورو کسانو سره د يوه بم په چاودلو کي د پيښور په يونورستي کي ووژل سوه او د ذوالفقار علي بوتو په امر خان عبدالغفار خان ، خان عبدالولي خان او د ملي عوامي حزب ډير نور غړي بنديان سول . ددغو حوادثو په نتيجه کي د افغانستان او پاکستان مناسبات تر پخوا لا ډير خراب سوه .

د ۱۹۷۶ کال د اپريل په مياشت کي ذوالقفار علي بوتو د افغانستان د زلزله ځپلو خلګو سره د مرستو يو پيشنهاد وړاندي کړ چي دغه مرستي د افغانستان له خوا ومنلي سوي . او د محمد داود خان له خوا بوتو ته د کابل د سفر بلنه ورکړه سوه ، چي ده د ۱۹۷۶ کال د جون د مياشتي د ۷ څخه تر ۱۰ نيټي پوري کابل ته سفر وکړ او بوتو تر خپل سفر دمخه خان عبدالغفار خان د حبس څخه آزاد کړ . (۶۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالصمد غوث چي د محمد داود خان او ذوالفقار علي بوتو په مذاكراتو كي حاضر و ليكي ((محمد داود خان بوتو ته وويل چي ځيني هيوادونه د افغانستان او پاكستان په دوستي خوشحاله نه دي)) كه څه چي محمد داود خان د كوم هيواد نوم وانه خيست ولي دده هدف شوروي اتحاد و ۰ محمد داود خان دا هم وويل چي ((ځيني پاكستانيان په دي عقيده دي چي موږ د پاكستان ورانول غواړو ، چي دا حقيقت نه لري ولي چي موږ په خپل څنګ كي يو قوي پاكستان غواړو)) محمد داود خان وويل ((د خان عبدالولي خان په شمول د صوبه سرحد ټول پښتانه نه غواړي چي ددوی سيمي دي د پاكستان څخه بيلي سي ۰ دوی د پاكستان اساسي قانون ومانه او د پاكستان په انتخاباتو كي يي برخه واخسته او موږ ددوی دغه عمل تاييدوو))

د پاكستان صدر اعظم ذوالفقار علي بوتو محمد داود خان ته وويل چي ((زه په دي خوشحاله يم چي د افغانستان مشر په خپلو خبرو كي پر پاكستان باندي د ارضي ادعا خبره ياده نه كړه))

د ذوالفقار علي بوتو د سفر په پای كي د دواړو هيوادونو تر منځ يوه ګډه اعلاميه لاس ليك سوه ۰ په دغي اعلاميي كي د دواړو هيوادونو د اختلافونو حل د باندونګ د كنفرانس د ګډ ژوند د پنځه اصلونو پر بنا غوښت سوي و ۰

محمد داود خان د ۱۹۷۶ كال د آګست د مياشتي د ۲۰ تر ۲٤ نيټي پوري پاكستان ته سفر وكړ ۰ په هغو مذاكراتو كي چي د سيد وحيد عبدالله او عزيز احمد تر منځ وسوي ، عزيز احمد داسي پيشنهاد كړی و چي كه پاكستان د پښتنو او بلوڅو مشران د حبس څخه آزاد كړي آيا د هغه په مقابل كي افغانستان دډيورنډ كرښه په رسميت پيژني او د پښتونستان تر موضوع تير يږي ؟ په پای كي داسي فيصله وسوه چي په اوسني ګډي اعلامي كي دي د كابل د اعلامي تاييد و سي . (۶۹)

د ۱۹۷۷ كال د جولای د مياشتي پر پنځمي نيټي جنرال ضيأ الحق په پاكستان كي كودتا وكړه او ده د افغانستان په بلنه ددغه كال د اكتوبر په مياشت كي كابل ته سفر وكړ ۰ ده محمد داود خان ته د پاكستان د سفر بلنه وركړه ۰ په دغه وخت كي د بلوچستان جنګونه پای ته رسيدلي وو او ضيأ الحق پښتانه او بلوڅ ټول بنديان آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي وو جمهور رئیس محمد داود خان د ۱۹۷۸ کال د مارچ د میاشتي پر پنځمي نيټي پاکستان ته سفر وکړ ۰ محمد داود خان د پښتنو او بلوڅو د مشرانو لکه خان عبدالولي خان ، غوث بخش بیزنجو ، عطا الله منګل او خیر بجش مري سره د ضیأالحق په مخ کي لیدنه وکړه ۰ د محمد داود خان د سفر په وروستۍ ورځ د پاکستان خارجه وزیر آغا شاهي ، افغاني هیأت ته یو لیکلې متن د امضا له پاره وړاندي کړ چي په هغه کي لیکل سوي و چي افغانستان دډیورنډ کرښه په رسمیت پیژني ، افغانستان د پښتونستان تر ادعا تیریږي ، دواړه هیوادونه یو د بل پر ضد پروپاګند نه کوي ، دواړه هیوادونه یو د بل سره اقتصادي مرستي کوي ۰ سید وحید عبدالله د دغو مطالبو په هکله آغا شاهي ته وويل چي ((افغانستان ددغه لیك نور مطالب مني ولي ددغه لیك لومړي دوه ټکي باید د افغانستان د لوي جرګي له خوا تصویب سي)) په پای کي د محمد داود خان او جنرال ضیأ الحق تر منځ داسي موافقه وسوه چي د اعلامیو پر ځای باید دواړه هیوادونه یو پر بل باندي اعتماد وکړي ۰

د مارچ د میاشتي پر اتمي نيټي محمد داود خان په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي برخه واخسته ، ده د یوه خبریال ددي پوښتني په جواب کي چي آیا دده او جنرال ضیأالحق تر منځ دډیورنډ د کرښي په هکله خبري سوي دي او که یه ؟ ده داسي وويل چي ((ما او جنرال ضیأ الجق پر ذیعلاقه ټولو موضوعاتو باندي خبري کړي دي چي هره موضوع به په خپل وخت کي ددواړو هیوادونو تر منځ حل سي)) (۷۰)

ښه سړې چي د بدانو سره مل سي
دده فکر د هغو فکر کي حل سي (۷۱)

د پای خبري

د ۱۹۶۰ په لسیزي کي خیني افغاني سیاست پوهان په دي عقیده وو چي د وروسته پاته هیوادونو پر مختګ ، یوازي د خارجي هیوادونو د مرستو په وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تامینیدلای سي . څرنګه چي په دغه وخت کي امريکا د پاکستان سره ددوستي په وجه ، د افغانستان سره مرستي نه کولي ۰ نو دغه سياست پوهان دي نتيجي ته سيدلي وو چي افغانستان بايد شوروي اتحاد ته ددي له پاره ډير نژدي سي او ددغه هيواد څخه مرستي واخلي چي د امريکا خوف او حسادت راوپاروي ، او بيا هر کله چي امريکا دي ته حاضر سو چي د افغانستان سره لازمي مرستي وکړي ، په هغه وخت کي به افغانستان بيرته پر خپل خارجي سياست تجديد نظر وکړي اوخپل سياست به د منخ ليکي ته راوړي او ددواړو جهاني لويو قدرتونو څخه به د بي قيد او شرطونو مرستو غوښتنه وکړي (۲ ۷)

د پورته سياسي ستراتيژي پر اساس د محمد داود خان د صدارت په لسو کلونو کي د افغانستان حکومت ، شوروي اتحاد ته ډير ور نژدي سو او د هغه هيواد څخه يي ډيري اقتصادي او تخنيکي مرستي واخستي ولي امريکايانو د افغانستان سره خپلي مرستي پيل نه کړي ۰ د محمد داود خان تر استعفا وروسته دديموکراسۍ په لسو کلونو کي د افغانستان سره د شوروي اتحاد اقتصادي او نظامي مرستي تر پخوا لا ډيري پراخي سوي ، ولي د امريکا خوف او حسادت يي راونه پاراوه ۰

داسي ښکاري چي د ۱۹۷۰ په لسيزي کي امريکا او د هغه هيواد متحدينو د افغانستان سره د مرستو له پاره دري عمده شرطونه وړاندي کړي وو :

- د ايران سره د هلمند د اوبو د معاهدي لاس ليك
- د پښتونستان د قضيي خاتمه او دډيورنډ د کرښي په رسميت پيژندل
- د شوروي اتحاد سره د اقتصادي او نظامي اړيکو ډير کمول

څرنګه چي د کتاب په نورو برخو کي به مو لوستي وي د محمد موسي شفيق حکومت د افغانستان ددغو معضلو دحل په لاري کي مؤثر اقدامات پيل کړل ۰ دده حکومت د ايران د حکومت سره د هلمند د اوبو معاهده لاس ليك کړه ، په دغه وخت کي محمد داود خان کودتا وکړه ۰ حمهوريت دولت تر يوه کال وقفي وروسته بيرته د سلطنت د وخت خارجي سياست چي د محمد موسي شفيق له خوا عملي کيدی ، تعقيب کړ۰ د جمهوريت په وخت کي د افغانستان خارجي سياست د سردار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعیم خان له خوا رهبري کیدی جمهوري دولت د پښتونستان د موضوع او دډیورنډ د کرښي په برخي کي د ذوالفقار علي بوتو او جنرال ضیأ الحق سره پراخي خبري پیل کړي ولي د شوروي اتحاد سره د افغانستان د اړیکو ډیر سریع تغییر چي د جمهوریت په وخت کي عملي کیدی ، ددواړو هیوادونو په مناسباتو کي يي ډیر مشکلات ایجاد کړه هغه خارق العاده اقدام چي په مصر کي جمهور رئیس انورالسادات کړي و ، دده د موفقیت یو مهم دلیل داو چي د مصر هیواد د شوروي اتحاد سره ګډ سرحد نه درلود په داسي حال کي چي افغانستان د هغه هیواد سره ۱٤۸۱میله اوږد سرحد لري او افغانستان تــه آسانــه نــه وه چي د شوروي اتحاد سره خپلي اړیکي داسي ژر پريکړي . د جمهوریت په وروستیو کلونو کي د افغانستان په خارجي سیاست کي ډیر سریع بدلونونه را منځ ته سول . د مثال په توګه ، په ۱۹۷۷ کال کي افغانستان د جنوبي افریقا د نژاد پرست رژیم سره د ښو اړیکو اساس کښیښود ، په دغه کال کي په تهران کي د جنوبي افریقا جنرال قونسل د مځکي له لاري ، افغانستان ته سفر وکړ . په تهران کي افغاني سفیر زلمي محمود غازي ، په مشهد کي افغاني جنرال قونسلګري ته چي زه هلته جنرال قونسل وم ، لار ښوونه وکړه چي د جنوبي افریقا د جنرال قونسل سره چي افغانستان ته د سفر په لاري يي په مشهد کي توقف درلود لیدنه وکړي . افغاني جنرال قونسلګري د افغاني سفارت دغه لار ښوونه پر ځای کړه . د جنوبي افریقا جنرال قو.نسل د اسلام کلا له لاري افغانستان ته سفر وکړ چي د کابل په شمول د افغانستان په نورو ښارونو کي به ده ته هرکلې ویل سوی وي . دغه خبر په مطبوعاتو کي نه دې خپور سوی .

په پای کي د موضوع د روښانه کولو له پاره د لاندي مطالبو لیکل ضروري دي :

ـ اوس چي څوك د جولای د میاشتي د ۱۷ نیټي د کودتا د برخه والو لکه (ډاکټر محمد حسن شرق ، غوث الدین فایق ، پاچا ګل وفادار او نبي عظیمي او نورو) آثار لولي ، ددوی تفصیلات یو د بل سره ډیر توپیر لري ، داسي ښکاري چي د کودتا هر غړي د خپل ګروپ فعالیت لیکلی دی او د بل ګروپ په اجراآتو خبر نه دی .

ـ د محمد داود خان د کودتا په لومړي کال کي په جمهوري دولت کي ډیر واك د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کودتا کونکو په لاس کي و چي د شوروي اتحاد پلوي يي کوله ، ولي کله چي د کودتا په دوهم کال کي دوی د جمهوري دولت د حساسو ځايونوڅخه ليري کړل سول نو ددوی ځايونه د دوی مخالفينو يعني د امريکا او د هغه هيواد د متحدينو د پلويانو له خوا اشغال کړ سول. چي ددغه تحول په نتيجه کي افغانستان د نړي د متضادو قوتونو د مبارزي ميدان وگرځيدي .

ـ جمهور رئيس محمد داود خان د جمهوريت په ورستي کال کي د خپلو همکارانو له خوا د افغاني جامعي او حتي ددولت د مامورينو څخه ليري ساتل کيدی . د مثال په توگه :

۱ ـ په ۱۹۷۷ کال کي په کراچي کي افغاني جنرال قونسل محمد حکيم اريوبي کابل ته سفر کړې و ، ده ته سيد وحيد عبدالله ويلي و ، هر وخت چي دی د جمهور رئيس محمد داود خان سره ويني بايد دغه ليدنه دده په حضور کي وسي .

۲ ـ په ۱۹۷۷ کال کي چي جمهور رئيس محمد داود خان تهران ته سفر کړې و ما ته هم سيد وحيد عبدالله وويل (کله چي د جمهور رئيس محمد داود خان سره خصوصي ليدنه کوي په دغي ليدني کي بايد زه هم حاضر وسم) چي زه د محمد داود خان سره د خصوصي ليدني څخه منصرف سوم .

ـ د خارجه وزارت يوه مامور ما ته وويل چي د ثور د کودتا په ورځ چي جمهوري ارگ د کودتا کونکو له خوا محاصره سوې و ، سيد وحيد عبدالله د ارگ د شا د لاري څخه په دي قصد وتلې و چي خارجه وزارت ته ځان ورسوي او د هغه وزارت د مخابري پـه وسيله د ايران د پاچا څخه د مرستي غوښتنه وکړي ، کله چي دی خارجه وزارت ته ورسيدې ، هغه وزارت هم د کودتا کونکو له خوا محاصره و . دی د خپل عزم څخه منصرف سو ، او خپله لور يي په کلوله پشته کي د سيد قاسم رشتيا کور ته ورسوله او ده په خپله د نوي ښار د انصاري په څلور لاري کي د خپل يوه همکار په کور کي شپه تيره کړه . (۷۳)

ـ دديموکراسې دوري په لسو کلونو کـي پـه هيواد کـي د ښـې او کيڼ اړخ ايدولوژيگانو ډيره وده کړي وه ، چي د هغو په څنگ کي د ملي مفکوري ، وده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

برياليتوب ډير مشکل کار و ۰ ددغه حالت په نتيجه کي به حتما په افغانستان کي د امريکا يا شوروي اتحاد په گټه يو نظام راتی ، چي د شوروي اتحاد پلويانو وار د مخه کړ او په افغانستان کي يي د ثور کودتا وکړه۰

د ثور کودتا داسي پيل سوه ـ د ۱۹۷۸ کال د اپريل د مياشتي پر ۱۷ نيټي د پرچم د ډلي يو مشر مير اکبر خيبر په کابل کي ووژل سو . د خلق او پرچم ډلـي چي د۱۹۷۷ کال د جولای په مياشت کي بيرتــه سره يو ځای سوي وي ، دوی د خيبر جنازه د يوه مارش په شکل تجليل کړه او د خيبر پر قبر باندي يــي تندي خبري وکړي او جمهوري دولت يي ددغي پيښي مسؤول وباله . نو جمهوري دولت د خلق او پرچم دغه مارش او د قدرت نمايش د اساسي قانون مخالف وباله او لس ورځي وروسته يي د نور محمد تره کي او ببرك کارمل په شمول د خلق او پرچم اوه مشران بنديان کره . حفيظ الله امين چي په نامعلوم علت په دغه ورځ نه و بندي سوی ، يوه ورځ وروسته دده په قومانده په اردو کي د خلق او پرچم غړو کودتا وکړه او جمهوري نظام د منځه ولاړ . د محمد داود خان د جمهوريت دوره چي څلور کاله او نــه مياشتي او نولس ورځي وو پای ته ورسيده ، اروا ښاد محمد داود خان او دده ورور سردار محمد نعيم خان د خپل فاميل د شپاړسو غړو سره په شهادت ورسيد او د ۱۹۷۸ کال د اپريل د مياشتي پر ۲۷ نيټي د خلق ديموکراتيك گوند قدرت ته ورسيد .

حقيقت په دنيا هومره سو نايابه چي سند نه سي پيژندلی له سرابه
سياست او ريا دواړه سوه ملگري حقيقت ته يي پيدا کړه څو حجابه

دکتاب پای (۷٤)

د پنځم فصل يادداشتونه

۱ ـ خلمې ، ذکر شوې اثر، مخ ۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ د نور محمد په قول

۳ ـ عظیمي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۹ ۸

٤ ـ د نعمت الله پژواك په قول

۵ ـ د ډاکټر محمد حسن شیرزي په قول

۶ ـ عظیمي ، ذکر شوې اثر ، مخ ۶ ۹

۷ ـ رشتیا ، ذکر شوې اثر، مخ

۸ ـ کبیر سراج ، ذکر شوې اثر ، مخ ۵ ۷

۹ ـ د محمد عزیز نعیم په قول

۱۰ ـ همدغه مرجع

۱۱ ـ نعیم ، مجاهد ولس ، د۸ ۹ ۹ ۱ کال د سبتمبر د میاشتي گڼه

۱۲ ـ شرق ، مجاهد ولس ، د ۸ ۹ ۹ ۱ کال د آگست د میاشتي گڼه

۱۳ ـ همدا اثر

۱٤ ـ د جمعه بارگزې په قول

۱۵ ـ محمد حکیم اریوبي ، د پاکستان د آی . اس . آی د یوه مقام د قوله

۱۶ ـ شرق ، داکتر محمد حسن، کرباس پوشهای برهنه پا ، صفحه ۳ ٤ ۱

۱۷ ـ فرهنگ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۷

۱۸ ـ شرق ، مجاهد ولس ، د ۸ ۹ ۹ ۱ کال د آگست د میاشتي گڼه

۱۹ ـ زما مشاهدات

۲۰ ـ د محمد عزیز نعیم په قول

۲۱ ـ ادمك ، لیدویگ ، په افغانستان کي څوك څوك دي ، مخ ۲ ۵

۲۲ ـ رشتیا ، ذکر شوې اثر ، مخ ۰ ۸ ۳

۲۳ ـ زما مشاهدات

۲٤ ـ زما مشاهدات

۲۵ ـ زما مشاهدات

۲۶ ـ زما مشاهدات

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۷ ـ د گل پاچا الفت شعر

۲۸ ـ زما مشاهدات

۲۹ ـ غوث ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲۰۸

۳۰ ـ همدا اثر ، مخ ۱۸۸

۳۱ ـ د سعدالله کمالي په قول

۳۲ ـ کبیر سراج ، ذکر سوې اثر ، مخ ۷۵

۳۳ ـ د نامه د لیکلو اجازه یي نه لرم

۳٤ ـ فرهنګ ، ذکر شوی اثر، مخ ۱۲

۳۵ ـ فرهنګ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۱۳

۳۶ ـ شرق ، ذکر شوې اثر ، مخونه ۱۲۱ تر ۱۲۷

۳۷ ـ فرهنګ ، ذکر شوې اثر ، مخ ۳۸

۳۸ ـ د جمهوریت د وخت اساسي قانون

۳۹ ـ د عزیز الله واصفي په قول

٤۰ ـ زما مشاهدات

٤۱ ـ ابراهمیان ، ذکر سوې اثر، مخ ۱٤٤

٤۲ ـ زما مشاهدات

٤۳ ـ هریسن ، سلك ، د افغانستان څخه د باندي ، مخ ۱۵

٤٤ ـ زما مشاهدات

٤۵ ـ شرق ، مجاهد ولس ، د ۱۹۹۸ کال د آګست د میاشتي ګڼه

٤۶ ـ هریسن ، ذکر شوې اثر ، مخ ۲۲

٤۷ ـ همدا اثر ، مخ ۲۲

٤۸ ـ عظیمي ، ذکر شوې اثر، مخونه ۱۱۷، ۱۱۸

٤۹ ـ مروت ، ذکر شوې اثر، مخونه ۳٤۸، ۳٤۹

۵۰ ـ هریسن، ذکر شوې اثر ، مخ ۱۶

۵۱ ـ زما مشاهدات

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۲ ـ زما مشاهدات

۵۳ ـ د میرزا حنان شعر

۵٤ ـ هریسن ، ذکر شوي اثر ، مخ ۲۰

۵۵ ـ مروت ، ذکر شوي اثر ، مخ ٤۶۳

۵۶ ـ غوث ، ذکر شوي اثر، مخونه ۱۷٤ تر ۱۸۱

۵۷ ـ د محمد خان جلالر په قول

۵۸ ـ هریسن ، ذکر شوي اثر ، مخ ۲۱

۵۹ ـ کلدیپ ، نیار ، پر افغانستان باندي یو راپور ، مخونه ۱۳ تر ۱۵

۶۰ ـ هریسن ، ذکر شوي اثر ، مخ ۲۱

۶۱ ـ مروت ، ذکر شوي اثر ، مخ ۵۶۳

۶۲ ـ د نامه د لیکلو اجازه یي نه لرم

۶۳ ـ د نامه د لیکلو اجازه یي نه لرم

۶٤ ـ هریسن ، ذکر شوي اثر ، مخ ۲۱

۶۵ ـ همدا اثر ، مخ ۲۱

۶۶ ـ غوث ، ذکر شوي اثر ، مخونه ۱۵۱ ، ۱۵۲

۶۷ ـ همدا اثر ، مخ ۱۲۱

۶۸ ـ همدا اثر ، مخ ۲۷!

۶۹ ـ همدا اثر، مخ ۱٤۶

۷۰ ـ همدا اثر ، مخ ۱٤۶

۷۱ ـ د گل پاچا الفت شعر

۷۲ ـ فرهنگ ، ذکر شوي اثر، مخ ۲۲

۷۳ ـ د نامه د لیکلو اجازه یي نه لرم۰

۷٤ ـ د گل پاچا الفت شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضميمي

مهمي نيټي

ـ د ميرويس نيکه پا څون په ۱۷۰۹ کال

ـ د احمد شاه بابا پا چهي ۱۷۴۷ ـ ۱۷۷۳

ـ د زمان شاه پاچهي ۱۷۹۳ ـ ۱۸۰۱

ـ پـه ۱۷۹۹ کـال کـي رنجت سنگه د زمان شاه له خـوا د پنجاب د والـــي پــه حيث و ټاکل سو

ـ په ۱۸۱۲ کال کي د اټك کلا د پنجاب سيکانو ونيوی

ـ په ۱۸۱۸ کال کي د ملتان ولايت د پنجاب سيکانو ونيوی

ـ په ۱۸۱۸ کال کي د کشمير ولايت د پنجاب سيکانو ونيوی

ـ په ۱۸۲۱ کال کي ديره اسماعيل خان او ديره غازي خان سيکانو ونيوی

ـ په ۱۸۳۳ کال کي پيښور د پنجاب سيکانو ونيوی

ـ د شاه شجاع او رنجت سنگ تر منځ د شکارپور معاهده په ۱۸۳۲ کال کي

ـ د افغان او انگليس لومړي جنگ د ۱۸۳۸ کال څخه تر ۱۸۴۲ کال پوري

ـ د ۱۸۳۸ کال د جون د مياشتي پر ۲۶ نيټي د لاهور معاهده د شاه شجاع ، رنجت سنگ او انگريزانو تر منځ لاس ليك سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په ۱۸٤۳ کال کې د سند ولایت انګریزانو اشغال کړ
- دبلوچستان ولایت د ۱۸٥٤ کال څخه تر ۱۸۷۶ کال پورې په تدریجي ډول د افغانستان څخه بیل کړ سو
- په ۱۸۷۲ کال کې انګریزي حکم د سیستان یوه برخه ایران ته ورکړه
- د ګندمک د هعاهدي لاس لیك ، د ۱۸۷۸ کال د مې د ماشتي په ۲۶
- د افغان او انګلیس دوهم جنګ د ۱۸۷۸ کال د نومبر د میاشتي په ۲۰
- د امیر عبدالرحمن خان سلطنت د۱۸۸۰ کال د جولای د میاشتي د ۲۲ نیټي څخه تر۱۹۰۱ کال د اکتوبر د میاشتي تر لمړي ورځي پورې
- د میوند جنګ د۱۸۸۰ کال د جولای د میاشتي پر ۲۷
- په ۱۸۸٤ کال کې د (مرو) ولایت تزاري روس ونیوی
- په ۱۸۸٥ کال کې د پنجده علاقه تزاري روسیي ونیوی
- دډیورنډ د معاهدي لاس لیك د ۱۸۹۳ کال دنومبر د میاشتي پر۱۲
- د امیر حبیب الله خان پاچهي د ۱۹۰۱ کال د اکتوبر د میاشتي د دریمي نیټي څخه
- د ۱۹۱۹ کال د جنوري د میاشتي تر ۲۰ نیټي پورې
- د افغان او انګلیس دریم جنګ ، د ۱۹۱۹ کال د مې د میاشتي پر ٤
- د امان الله خان پاچهي د ۱۹۱۹ کال د فبروري د میاشتي د ۲۱ څخه د۱۹۲۹ کال د جنوري د میاشتي تر ۱٤ نیټي پورې
- د افغانستان استقلال ، د ۱۹۱۹ کال د اپریل د میاشتي پر ۱۳
- د افغانستان او انګریزانو تر منځ په راولپنډي کې د سولي معاهده د ۱۹۱۹ کال د آګست د میاشتي پر ۱۸
- د افغانستان او انګریزانو تر منځ د میسوري کنفراني د۱۹۲۰ کال د اپریل د میاشتي د۱۷ نیټي څخه دجولای د میاشتي تر۲٤ نیټي پورې
- د افغانستان د لومړي اساسي قانون تسوید د ۱۹۲۳ کال د اپریل د میاشتي لسمه
- د امان الله خان د وخت د کابل لویه جرګه په ۱۹۲٤ کال کې
- د پغمان لویه جرګه د ۱۹۲۸ کال د آګست د میاشتي پر ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د اساسي قانون تصويب ، د ۱۹۲۸ کال د سبتمبر د مياشتي پر دوهمه

ـ د امان الله خان استعفا ، د ۱۹۲۹ کال د جنوري د مياشتي پر ۱٤

ـ داميرحبيب الله کلکاني پاچهي د ۱۹۲۹ کال د جنوري د مياشتي د۰ ۲ څخه د اکتوبرد مياشتي تر۵ ۱ نيټي پوري

ـ افغانستان ته د محمد نادر خان راتگ ، د ۱۹۲۹ کال د مارچ د مياشتي پر ۸

ـ محمد نادر خان پاچهي د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر د مياشتي د ۱۵ څخه د ۱۹۳۳ کال د نومبر د مياشتي تر ۸ نيټي پوري

ـ دسردار محمد هاشم خان حکومت د ۱۹۳۱ کال د اکتوبر څخه د ۱۹٤۶ کال د مې د مياشتي تر ۹ نيټي پوري

ـ د محمد نادر خان د وخت داساسي قانون تصويب د ۱۹۳۱ کال د اکتوبر مياشت

ـ د ملي شورا پرانستل د ۱۹۳۲ کال د جولای د مياشتي پر ۱۶

ـ د محمد نادر خان مړينه د ۱۹۳۳ کال د نومبر د مياشتي پر ۸

ـ د محمد ظاهر شاه پاچهي د ۱۹۳۳ کال د نومبرد مياشتي د۸ څخه د ۱۹۷۳ کال د جولای د مياشتي تر ۱۷ نيټي پوري

ـ د مللو په جامعي کي د افغانستان غړيتوب د ۱۹۳٤ کال د سبتمبر پر ۲۶

ـ د امريکا سره ددوستي معاهده ، د ۱۹۳۶ کال د مارچ د مياشتي پر۲۶

ـ د پښتو ژبي د تعميم له پاره شاهي فرمان ، د ۱۹۳۷ کال د مارچ دريمه

ـ د هلمند د اوبو له پاره کابل ته د ايران د خارجه وزير باقر معين سفر د ۱۹۳۸ کال د جنوري د مياشتي پر ۲۶

ـ په دوهم جهاني جنگ کي د افغانستان دبي طرفي اعلان د ۱۹۳۹ کال د سبتمبر د مياشتي پر شپږمه نيټه

ـ کابل ته د امريکا د لومړي مختار وزير راتگ د ۱۹٤۲ کال د اپريل پر ۲۷

ـ د ېيورنۍ د کرښي پوري خوا پښتنو په باب انگريزانو تـه د افغانستان رسمي يادونه د ۱۹٤٤ کال د نومبر په مياشت کي سوي ده

ـ د شاه محمود خان حکومت د ۱۹٤۶ کال د مې د مياشتي د۹ څخه د۱۹۵۳ کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبتمبر د میاشتي تر ۶ نیټي پوري

ـ په ملګرو ملتو کي د افغانستان غړیتوب د۶ ۱۹۴ کال د نومبر د میاشتي پر۹

ـ د اومي دوري د شورا انتخابات د ۹ ۱۹۴ کال د مارچ او اپریل په میاشتو کي

ـ د انګار ، ولس ، نداي خلق او وطن د جرایدو خپریدل په ۱ ۱۹۵ کال کي وو

ـ د محمد داود خان د صدارت د وخت حکومت د ۳ ۱۹۵ کال د سبتمبر د میاشتي د ۶ نیټي څخه د ۳ ۱۹۶ کال د مارچ د میاشتي تر ۱۰ نیټي پوري

ـ د باندونګ کنفرانس د ۵ ۱۹۵ کال د اپریل د میاشتي د ۱۸ څخه تر ۲۴

ـ د بغداد نظامي اتحادیه په ۵ ۱۹۵ کال کي جوړه سوه

ـ د بغداد د اتحادیي نوم په ۹ ۱۹۵ کال کي په سینتو واړول شو

ـ د سینتو نوم په ۱۹۶۱ کال کي په آر۰ سي۰ ډي۰ واړول شو

ـ د سیتو نظامي اتحادیه په ٤ ۱۹۵ کال کي جوړه شوه

ـ د محمد داود خان د صدارت د وخت لویه جرګه د ۵ ۱۹۵ کال د نومبر د میاشتي د شلمي نیټي څخه تر ۲۵ نیټي پوري

ـ د ښځو د مخ لوڅي نهضت د ۹ ۱۹۵ کال د آګست د میاشتي پر ۳۱

ـ کابل ته د ایزن هاور سفر د ۹ ۱۹۵ کال د نومبر په میاشت کي

ـ د کندهار دخلګو پاڅون د ۹ ۱۹۵ کال د سبتمبر د میاشتي پر ۲۱

ـ د عدم انسلاك د قاهري کنفرانس د٤ ۱۹۶ کال دنومبر په میاشت کي

ـ د عدم انسلاك د بلګراد کنفرانس د ۱ ۱۹۶ کال دسبتمبر پر دوهمه

ـ د ۱ ۱۹۶ کال د سبتمبر د میاشتي پر ۶ د پاکستان سره د افغانستان سیاسي اړیکي پري کړي سوي

ـ دیموکراسۍ دوره د ۳ ۱۹۶ کال د مارچ د میاشتي د ۱۳ نیټي څخه د۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي تر ۱۷

ـ د ډاکټر محمد یوسف خان حکومت د ۳ ۱۹۶ کال د مارچ د میاشتي د ۱۳ نیټي څخه د ۵ ۱۹۶ کال د اکتوبر د میاشتي تر ۲۹

ـ د ۳ ۱۹۶ کال د مې د میاشتي پر ۲۹ نیټي د افغانستان سیاسي مناسبات د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان سره بیرته اعاده سول

- دیموکراسي دوري لويه جرگه د٤ ۶ ۹ ۱ کال د سبتمبر د مياشتي د۹ نيټي څخه د لسو ورخو له پاره جوړه سوي وه

- د اساسي قانون توشيح د ٤ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د مياشتي پر اوله

- دولسمي تقنيني دوري د انتخاباتو پيل د ۵ ۶ ۹ ۱ کال د آگست د مياشتي پر ۶ ۲

- د شـورا دولسمه تقنيني دوره د ۵ ۶ ۹ ۱ کـال د اکتوبـر د مياشتـي د ١٤ نيټـي څخه د ١٩٦٩ کال

- د شورا دولسمه تقنيني دوره د ۵ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د مياشتي پر ٤ ۱ نيټي چي د پاچا د تولد ورخ ده پرابيسته سوه

- د عقرب ددريمي حادثه د ۵ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د مياشتي پر ۵ ۲

- د محمد هاشم ميوندوال حکومت د ۵ ۶ ۹ ۱ کال د نومبر د مياشتي د ٢٠ نيټي څخه د ١٩٦٧ کال د اکتوبر د مياشتي تر ١١

- د نوراحمد اعتمادي حکومت د ۷ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د ۵ ۱ نيټي څخه د ١٩٧١ کال د مې د مياشتي تر ۶ ۱

- ديارلسمي دوري د انتخاباتو پيل د ۹ ۶ ۹ ۱ کال د آگست د مياشتي پر ٢٦

- د شورا ديارلسمه تقنيني دوره د ۹ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د مياشتي د ٤ ۱ نيټي څخه د ۳ ۷ ۹ ۱ کال د جولای د مياشتي تر ۷ ۱

- ديارلسمي تقنيني دوري پرانستل د ۹ ۶ ۹ ۱ کال د اکتوبر د مياشتي پر ٤ ۱

- د پل خشتي په مسجد کي ددينی علماو غونډي د۰ ۷ ۹ ۱ کال داپريل او مې په مياشتو کي کيدي

- په شورا کي د احزابو د قانون تصويبيدل په ۰ ۷ ۹ ۱ کال کي و سو

- ډاکټر عبدالظاهر حکومت د ۱ ۷ ۹ ۱ کال دجولای د مياشتي د ۶ څخه د ١٩٧٢ کال د سمبر د مياشتي تر٤ ۲

- وچ کالي ۱ ۷ ۹ ۱ او ۲ ۷ ۹ ۱ کلونه

- د محمد موسي شفيق حکومت د ۲ ۷ ۹ ۱ کال دد سمبر د مياشتي د٤ ۲ نيټي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي تر ۱۷

ـ د هلمند د اوبو د معاهدي لاس لیك د ۱۹۷۳ کال د مارچ د میاشتي پر ۱۳

ـ پـه ولسي جرگي کـي د هلمند د اوبو د معاهدي تصویب د ۱۹۷۳ کال د مې د میاشتي پر ۲۲

ـ د محمد داود خان کودتا د ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي پر ۱۷

ـ د محمد داود خان د جمهوریت دوره د ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي د ۱۷ نیټي څخه د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتي تر ۲۷

ـ د ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتي پر ۱۸ نیټي محمد داود خان د مرکزي کمیټي له خوا د افغانستان ددولت د رئیس په حیث و ټاکل سو

ـ د سلطنت څخه د پاچا استعفا د ۱۹۷۳ کال دآگست د میاشتي پر ۱۱

ـ (خلگو ته خطاب) د محمد داود خان وینا د ۱۹۷۳ کال د آگست پر ۲۳

ـ د میوندوال د کودتا اتهام د ۱۹۷۳ کال دسبتمبر د میاستي پر۲۲

ـ د محمد هاشم میوندوال شهادت د ۱۷۹۳ کال د اکتوبر د میاشتي پر۲۰

ـ په لاهور کي اسلامي کنفرانس د۱۹۷٤ کال دفبروري د میاشتي پر ۲۱

ـ مسکو ته د محمد داود خان لومړي سفر د ۱۹۷٤ کال د جون میاشت

ـ کابل ته د هنري کسنجر سفر د ۱۹۷٤ کال د نومبر میاشت

ـ تهران ته د محمد داود خان سفر د ۱۹۷٥ کال د اپریل په میاشت کي

ـ کابل ته د پودگورني سفر د ۱۹۷٥ کال د سبتمبر د میاشتي پر ۹

ـ د اوه کلن اقتصادي پلان پیل د ۱۹۷٦ کال د مارچ د میاشتي پر ۲۱

ـ کابل ته د ذوالفقار علي بوتو سفر د ۱۹۷٦ کال د جون د میاشتي پر۲۹

ـ پاکستان ته د محمد داود خان سفر د ۱۹۷٦ کال د آگست د میاشتي پر ۲۰

ـ د جمهوریت د اساسي قانون جوړیدل د۱۹۷۷ کال دجنوري د میاشتي پر ۲٦

ـ دجمهوریت د وخت لویه جرگه د ۱۹۷۷ کال د فبروري د میاشتي د ۱۹ نیټي څخه د مارچ د میاشتي تر ٤

ـ د ۱۹۷۷ کال د مارچ د میاشتي پر ٤ نیټي محمد داود خان د لوي جرگي له خوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهور رئیس په حیث وټاکل سو

ـ مسکو ته د محمد داود خان دوهم سفر د ۱۹۷۷ کال د اپریل د میاشتي د۱۲ نیټي

څخه تر ۱۵

ـ د محمد داود خان او برژنیف پرخاش د ۱۹۷۷ کال د اپریل د میاشتي پر ۱۳

ـ کابل ته د ذوالفقار علي بوتو بل سفر د ۱۹۷۷ کال د جون د میاشتي پردوهمه

ـ په پاکستان کي د ضیأ الحق کودتا د ۱۹۷۷ کال د جون د میاشتي پر پنځمه

ـ د خلق او پرچم یوځا ی کیدل د ۱۹۷۷ کال د جولای د میاشتي پر ۱۶

ـ کابل ته د ضیأ الحق سفر د ۱۹۷۷ کال د اکتوبر د میاشتي پر ۱۰

ـ د علي احمد خرم وژل کیدل د ۱۹۷۷ کال د نومبر د میاشتي پر ۱۶

ـ پاکستان ته د محمد داود خان سفر د ۱۹۷۸ کال د مارچ د میاشتي پر ۵

ـ د میر اکبر خیبر وژل کیدل د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتي پر ۱۷

ـ د خلق او پرچم د مشرانو بندي کیدل د ۱۹۷۸ کال داپریل دمیاشتي پر ۲٦

ـ د ثور کودتا د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتي پر ۲۷

ـ د محمد داود خان شهادت د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتي پر ۲۸

د محمد داود خان سره دده دکورنی لاندي غړي په شهادت رسیدلي دي :

۱ ـ د محمد داود خان ورور ، سردار محمد نعیم خان

۲ ـ د محمد داود خان میرمن ، زینب داود

۳ ـ د محمد داود خان زوی ، محمد عمر

٤ ـ د محمد داود خان زوی ، ویس

۵ ـ د محمد داود خان زوی ، خالد

٦ ـ د محمد داود خان لور ، شنکي

۷ ـ د محمد داود خا ن لور ، زرلښته

۸ ـ د ویس میرمن ، شیما

۹ ـ د محمد عمر لور ، هیلي

۱۰ ـ د محمد عمر لور ، غزال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ ـ د ویس زوی ، حارث

۱۲ ـ د ویس زوی ، وایگل

۱۳ ـ د سردار محمد نعیم خان لور ، زرمینه

۱٤ ـ د سردار محمد نعیم خان لمسي ، صفورا

۱۵ ـ د محمد ظاهر شاه خور ، بلقیس

۱٦ ـ د محمد داود خان خور ، عایشه

۱۷ ـ د سپه سالار شاه محمود خان زوی ، نظام الدین غازي

د دیارلسمي تقنیني دوري منتخب وکیلان

د کابل د ولایت څخه

۱ ـ د لومړي او دوهمي ناحیي وکیل محمد اسحق عثمان

۲ ـ ددریمي او او څلورمي ناحیي وکیل ببرک کارمل

۳ ـ د پنځمي او شپږمي ناحیي وکیل محمد یوسف بینش

٤ ـ د اوومي او اتمي ناحیي وکیل غلام محمد فرهاد

۵ ـ د نهمي او لسمي ناحیي وکیل جي سنگ

۶ ـ د چهار ده د حوزي وکیل محمد آصف

۷ ـ د کوهدامن د حوزي وکیل میر علي احمد

۸ ـ د پغمان د حوزي وکیل حفیظ الله امین

۹ ـ د ده سبز د حوزي وکیل میر احسان

۱۰ ـ د بگرامیو د حوزي وکیل عبدالرسول بره کي

۱۱ ـ د سروبي د حوزي وکیل مولوي حفیظ الله

۱۲ ـ د قره باغ د حوزي وکیل غلام سرور

۱۳ ـ د شکردري د حوزي وکیل سید ظاهر شاه

د لوگر د ولایت څخه

۱ ـ د لوگر د مرکز وکیل مولوي محمد نبي محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ د پل علم د حوزي وکيل مولوي سيد اکبر

۳ ـ د محمد آغي د حوزي وکيل عبدالله

٤ ـ د ازرو د حوزي وکيل لعل گل فرياد

د وردگو د ولايت څخه

۱ ـ د وردگو د مرکز وکيل نور علم مظلوميار

۲ ـ د سيد آباد د حوزي وکيل عبدالله

۳ ـ د چك د حوزي وکيل داکتر محمد عمر وردگ

٤ ـ ـ د بهسودو د حوزي وکيل محمد اسلم

٥ ـ د بهسودو د لومړي برخي وکيل محمد سليمان

د پروان د ولايت څخه

۱ ـ د پروان د مرکز وکيل مير عثمان

۲ ـ د پروان د حوزي وکيل عبدالمهيمن

۳ ـ د جبل السراج د حوزي وکيل عبدالحميد

٤ ـ د بگرام د حوزي وکيل عنايت الله ابلاغ

٥ ـ د غوربند د حوزي وکيل محمد کبير غوربندي

٦ ـ د سرخپارسا د حوزي وکيل نادر علي الله داد

۷ ـ د کوهستان د حوزي وکيل عبدالله

۸ ـ د نجراب د حوزي وکيل خواجه آقا

۹ ـ د تگاب د حوزي وکيل اسدالله

۱۰ ـ د پنجشير د حوزي وکيل عبدالقيوم

د باميان د ولايت څخه

۱ ـ د باميان د مرکز وکيل مير غلام حسين

۲ ـ د پنجاب د حوزي وکيل محمد اکبر

۳ ـ د يکاولنگ د حوزي وکيل سيد محمد حسن

٤ ـ د سيغان او کامرد د حوزي وکيل احمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـ د ورس د حوزي وکيل محمد سرور

د غزني د ولايت څخه

۱ ـ د غزني د مرکز وکيل محمد عوض

۲ ـ د جغتو د حوزي وکيل محمد اسلم

۳ ـ د اندړو د حوزي وکيل يار محمد دليلي

٤ ـ د قره باغ د حوزي وکيل نقشبند خان

۵ ـ د ناهور د حوزي وکيل عبدالحسين مقصودي

۶ ـ د مقر د حوزي وکيل محمد اکرم

۷ ـ د جاغوري د حوزي وکيل محمد ايوب

۸ ـ د ښرني د حوزي وکيل وزير محمد

۹ ـ د مالستان د حوزي وکيل شاه موسي

۱۰ ـ د ناوي د حوزي وکيل محمد هاشم تره کې

۱۱ ـ د کټواز د مرکز وکيل عبدالحبيب کټوازې

۱۲ ـ د وازي خوا د حوزي وکيل بهأالحق

۱۳ ـ د کټواز د کوچيانو وکيل عبدالرزاق

۱٤ ـ د غزني د کوچيانو وکيل شهنواز

د لغمان د ولايت څخه

۱ ـ د لغمان د مرکز وکيل عبدالکريم عمرخيل

۲ ـ د قرغيي د حوزي وکيل شمس الحق پيرزاده

۳ ـ د عليشنگ د حوزي وکيل عبدالرزاق

٤ ـ د علينگار د حوزي وکيل عبدالله

۵ ـ د نورستان د حوزي وکيل محمد اسمعيل

د ننگرهار د ولايت څخه

۱ ـ د جلال آباد وکيل حاجي فقير محمد

۲ ـ د سرخرود د حوزي وکيل امير محمد بهسودوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ـ د خوگیانیو د حوزي وکیل خیرالله منور

٤ ـ د روداتو د حوزي وکیل روح الله حبیب

٥ ـ د مومندري د حوزي وکیل سعدالله کمالي

۶ ـ د کامي د حوزي وکیل فضل الله فیاض

۷ ـ د ښیوي د حوزي وکیل محمد آصف پوپل

۸ ـ د حصارك د حوزي وکیل حاجي عبدالوهاب

۹ ـ د شینوارو د مرکز وکیل محمد اعظم

۱۰ ـ د نازیانو د حوزي وکیل سیف الرحمن

۱۱ ـ د اچین د حوزي وکیل علي محمد

۱۲ ـ د ننگرهار د کوچیانو وکیل حاجي الله نظر

۱۳ ـ د هسکي میني د حوزي وکیل عبدالوهاب

د کنړ د ولایت څخه

۱ ـ د کنړ د مرکز وکیل محمد اکرم

۲ ـ د څوکي د حوزي وکیل غلام محمد

۳ ـ د اسمارو د حوزي وکیل محمد هاشم مشواڼي

٤ ـ د سرکاڼو د حوزي وکیل عبدالغني

٥ ـ د خاص کنړ د حوزي وکیل عبدالجلیل

۶ ـ د پیچ د حوزي وکیل سمیع الله ساپي

۷ ـ د کامدیش د حوزي وکیل شمس الدین

د بغلان د ولایت څخه

۱ ـ د بغلان د مرکز وکیل غلام دستگیر

۲ ـ د پلخمري د حوزي وکیل سردار عبدالرشید

۳ ـ د نهرین د حوزي وکیل عبدالحفیظ

٤ ـ د اندراب د حوزي وکیل عبدالقیوم

٥ ـ د دوشي د حوزي وکیل سید ناصرشاه نادري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندز د ولایت څخه

۱ ـ د کندز د مرکز وکیل سید امیر

۲ ـ د چار دري د حوزي وکیل محمد هیکل

۳ ـ د قلعه زال د حوزي وکیل خواجه مراد

٤ ـ د ارچي د حوزي وکیل ننگ یوسفزې

۵ ـ د خان آباد د حوزي وکیل سید امیر

۶ ـ د حضرت امام د حوزي وکیل عبدالرحمن

د سمنگان د ولایت څخه

۱ ـ د سمنگان د مرکز وکیل عبدالهاشم دولتزې

۲ ـ د خلم د حوزي وکیل شجاع الدین شریفي

۳ ـ د دره صوف د حوزي وکیل نظام الدین

٤ ـ د لویي او دوآب د حوزي وکیل نور محمد

د جوزجان د ولایت څخه

۱ ـ د جوزجان د مرکز وکیل عبدالکریم

۲ ـ د آقچي د حوزي وکیل عبدالرشید ساپې

۳ ـ د سرپل د حوزي وکیل کمال الدین اسحقزې

٤ ـ د سنگ چارك د حوزي وکیل سید اسحق

۵ ـ د قرقین د حوزي وکیل محمد احمد

۶ ـ د منگجك د حوزي وکیل محمد امین

د تخار د ولایت څخه

۱ ـ د تخار د مرکز وکیل محمد نظر

۲ ـ د رستاق د حوزي وکیل محمد انور

۳ ـ د ینگي قلعه د حوزي وکیل محمد حکیم

٤ ـ د اشکمش د حوزي وکیل عبدالقیوم

۵ ـ د خوست و فرنگ د حوزي وکیل میر محمد حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ د چاه آب د حوزي وکيل محمد علم فيض زاد

۷ ـ د فرخار د حوزي وکيل محمد توره قل

۸ ـ د خواجه غار د حوزي وکيل محمد طاهر

د بدخشان د ولايت څخه

۱ ـ د بدخشان د مرکز وکيل عبدالعزيز

۲ ـ د درواز د حوزي وکيل عبدالرحمن

۳ ـ د جرم د حوزي وکيل محمد هاشم واسوخت

٤ ـ د اشکاشم د حوزي وکيل عبدالجبار

٥ ـ د کشم د حوزي وکيل سيد محي الدين

۶ ـ د واخان د حوزي وکيل محمد اسمععيل

د بلخ د ولايت څخه

۱ ـ د مزار شريف وکيل محمد سرور اکبري

۲ ـ د بلخ د حوزي وکيل عبدالقدوس ساپي

۳ ـ د چاربولك د حوزي وکيل ولي محمد رحيمي

٤ ـ د نهري شاهي د حوزي وکيل شاه محمد

٥ ـ د چمتال د حوزي وکيل عبدالوهاب

۶ ـ د دولت آباد د حوزي وکيل سيد يحيي

۷ ـ د شورتيپي د حوزي وکيل عبدالله

۸ ـ د شولگري د حوزي وکيل محمود

د فارياب د ولايت څخه

۱ ـ د ميمني د ښار وکيل محمد رحيم شيدا

۲ ـ د اندخوی د حوزي وکيل محمد عمر اندخويي

۳ ـ د بلچراغ د حوزي وکيل عبدالغفور

٤ ـ د شيرين تگاب د حوزي وکيل محمد عثمان

٥ ـ د قيصار د حوزي وکيل محمد يوسف

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ د پښتون کوټ د حوزي وکيل بخار خان

۷ ـ د درز آب د حوزي وکيل عبدالله ۰

۸ ـ د دولت آباد د حوزي وکيل ملا حبيب الله اسحق زې

د بادغيس د ولايت څخه

۱ ـ د بادغيس د مرکز وکيل عبدالمجيد

۲ ـ د بالا مرغاب د حوزي وکيل غلام رباني شملزې

۳ ـ د قادس د حوزي وکيل سيد محمد غوث

٤ ـ د جوند د حوزي وکيل امير محمد

٥ ـ د غورماچ د حوزي وکيل محمدالدين

د غور د ولايت څخه

۱ ـ د غور د مرکز وکيل عبدالجبار

۲ ـ د شهرك د حوزي وکيل تاج الملوك

۳ ـ د تولك د حوزي وکيل محمد رفيق

٤ ـ د لعل و سرجنگل د حوزي وکيل خادم بيگ

٥ ـ د پسابند د حوزي وکيل احمد خان

۶ ـ د تيوري د حوزي وکيل فخرالدين خان

د هرات د ولايت څخه

۱ ـ د هرات دلومړي حوزي وکيل سيد رسول فکور

۲ ـ د هرات ددوهمي حوزي وکيل محمد شاه رحمتيان

۳ ـ د غوريان د حوزي وکيل شاهپور عليزې

٤ ـ د انجيل د حوزي وکيل عبدالقدوس مومند

٥ ـ د کرخ د حوزي وکيل شاه علم طاهري

۶ ـ د پښتون زرغون د حوزي وکيل محمد علي قاضي زاده

۷ ـ د گذري د حوزي وکيل غلام حيدر

۸ ـ د اوبې د حوزي وکيل عبدالعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ ـ د کشك د حوزي وکيل عبدالرحمن جمشيدي

۱۰ ـ د گلران د حوزي وکيل محمد هاشم نورزايي

۱۱ ـ د زنده جان د حوزي وکيل فدا محمد

۱۲ ـ د کهسان د حوزي وکيل محمد جونيد عليزي

۱۳ ـ د ادرسکن د حوزي وکيل عبدالبصير نورزايي

د نيمروز د ولايت څخه

۱ ـ د نيمروز د مرکز وکيل حاجي دوست محمد گرگيج

۲ ـ د اصل چخانسور د حوزي وکيل امان الله شيرزاد

۳ ـ د چاربرجك د حوزي وکيل عبدالرحمن سنجراني

٤ ـ د لاش او جوين د حوزي وکيل محمد غوث اسحاق زی

د فراه د ولايت څخه

۱ ـ د فراه د مرکز وکيل حاجي عبدالوهاب نورزی

۲ ـ د بالابلوك د حوزي وکيل عبدالغفار فراهي

۳ ـ د گلستان د حوزي وکيل ميرزا محمد دقيق

٤ ـ د شين ډنډ د حوزي وکيل امان الله شينډنډي

٥ ـ د انار دري د حوزي وکيل محمد جمعه عينك

۶ ـ د قلعه کاه د حوزي وکيل سيد انبيأ آغا

۷ ـ د بکوا د حوزي وکيل محمد زمان خان

۸ ـ د پرچمن د حوزي وکيل عبدالوهاب

د هلمند د ولايت څخه

۱ ـ د لښکرگاه وکيل سيد مبين شاه امير

۲ ـ د نوزاد د حوزي وکيل آقا محمد

۳ ـ د موسي کلا د حوزي وکيل عبدالرؤف بينوا

٤ ـ د گرم سير د حوزي وکيل حاجي محمد

٥ ـ د نادعلي د حوزي وکيل صفر محمد ځروټي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ د نهري سراج د حوزي وکيل امان الله

۷ ـ د باغران د حوزي وکيل جمال خان

۸ ـ د بارگزو د ناوي د حوزي وکيل محمد منير خان

۹ ـ د ديشو د حوزي وکيل نذرالله خان

۱۰ ـ د گرمسير د بلوخو د حوزي وکيل عبدالحميد زهري

۱۱ ـ د پشت رود د کوچيانو د حوزي وکيل حاجي عبدالرشيد نورزۍ

د کندهار د ولايت څخه

۱ ـ د کندهار د اولي حوزي وکيل نور محمد اکبري

۲ ـ د کندهار د دوهمي حوزي وکيل حاجي محمد آصف پاس يوسفي

۳ ـ د ارغنداب د حوزي وکيل عزيزالله واصفي

٤ ـ د ډنډ د حوزي وکيل عبدالاحد کرزۍ

۵ ـ د ښوراوك د حوزي وکيل حاجي دوست محمد

۶ ـ د خاکريز د حوزي وکيل خدای داد خان تاج

۷ ـ د ميوند د حوزي وکيل مير احمد خان

۸ ـ د پنجوايي د حوزي وکيل شيرين خان نورزۍ

۹ ـ د شاه ولي کوټ د حوزي وکيل لعل محمد خان

۱۰ ـ د ارغسان د حوزي وکيل محمد اسحق علومي

۱۱ ـ د معروف د حوزي وکيل محمد علي

د زابل د ولايت څخه

۱ ـ د زابل د مرکز د حوزي وکيل عبدالعزيز

۲ ـ د شنکۍ د حوزي وکيل بسم الله خان

۳ ـ د دای چوپان د حوزي وکيل منگل خان

٤ ـ د جلدك د حوزي وکيل عبدالله خان

۵ ـ د ارغنداو د حوزي وکيل غلام نقشبند خان

۶ ـ د شاه جوی د حوزي وکيل غلام دستگير

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ ـ د کلات د کوچیانو د حوزي وکیل محمد انور

د اروزګان د ولایت څخه

۱ ـ د اروزګان د مرکز وکیل غلام جیلاني

۲ ـ د دیراود د حوزي وکیل عبدالکریم صحرایي

۳ ـ د دای کندي د حوزي وکیل لعل محمد

٤ ـ د ګزاب د حوزي وکیل محمد اکبر

٥ ـ د شهرستان د حوزي وکیل غلام حسین

۶ ـ د اجرستان د حوزي وکیل عبدالستار ملاخیل

۷ ـ د اصل اروزګان د حوزي وکیل عبدالقیوم

۸ ـ د چوري د حوزي وکیل عبدالخالق

۹ ـ د کجران د حوزي وکیل غلام رسول

د پکتیا د ولایت څخه

۱ ـ د پکتیا د مرکز وکیل حاجي امان الله

۲ ـ د زرملي د حوزي وکیل با ز محمد

۳ ـ د ځا خیو د حوزي وکیل محمد اقبال

٤ ـ د جاني خیلو د حوزي وکیل جنت ګل

٥ ـ د سید کرم د حوزي وکیل شهباز احمد زې

۶ ـ د اورګون د حوزي وکیل وزیر محمد

۷ ـ د ګوملي د حوزي وکیل رمضان خان

۸ ـ د خوست د حوزي وکیل شیر احمد خوستې

۹ ـ د تڼیو د حوزي وکیل شیر محمد

۱۰ ـ د ځا خي میدان د حوزي وکیل میرا جان

۱۱ ـ د څمکنیو د حوزي وکیل سراج الدین منګل

۱۲ ـ د موسي خیلو د حوزي وکیل بختیارګل

۱۳ ـ د وزي ځدران د حوزي وکیل یار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محلي ستونزو له کبله د کندهار د سپين بولدك دحوزی انتخابات و ځنډيدل

د ګډ دريځ وکيلان

لاندي وکيلانو په ځينو مواردو کي يو د بل سره تفاهم درلود ۰

د فراه د ولايت څخه : حاجي عبدالوهاب نورزي ، امان الله شينډنډي ، ميرزا محمد دقيق ، محمد جمعه عينك ، سيد انبيأ آغا ، محمد زمان خان ، حاجي عبدالوهاب او عبدالغفار فراهي

د هرات د ولايت څخه : محمد شاه رحمتيان ، سيد رسول فکور ، محمد جونيد عبدالقدوس مومند ، محمد هاشم نورزايي او شاهپور عليزی

د غزني د ولايت څخه : يار محمد دليلي ، محمد هاشم تره کي ، بهأالحق خان ، عبدالرزاق او عبدالحسين مقصودي

د هلمند د ولايت څخه : عبدالرؤف بينوا ، سيد مبين شاه امير ، عبدالحميد زهري ، حاجي عبدالرشيد نورزي

د کابل د ولايت څخه : محمد اسحق عثمان ، محمد يوسف بينش ، جي سنګ

د کندهار د ولايت څخه : عزيزالله واصفي ، شيرين خان نورزي

د ننګرهار د ولايت څخه : حاجي عبدالوهاب ، روح الله حبيب

د لغمان د ولايت څخه : عبدالکريم عمرخيل ، شمس الحق پيرزاده

د لوګر د ولايت څخه : لعل ګل فرياد ، مولوي سيد اکبر

د کنړ د ولايت څخه : محمد آصف پوپل

د اروزګان د ولايت څخه : عبدالکريم صحرايي

د بلخ د ولايت څخه : عبدالوهاب

د بدخشان د ولايت څخه : محمد هاشم واسوخت

د فارياب د ولايت څخه : ملا حبيب الله اسحقزي

د وردوګو د ولايت څخه : نورعلم مظلوميار

د بادغيس د ولايت څخه : عبدالمجيد

د پکتيا د ولايت څخه : شير احمد خوستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیمروز د لایت ځخه : محمد غوث خان (۲)

د دیارلسمي تقنیني دوري د مشرانو جرگي غړي

اول ـ انتخابي سناتوران :

د کابل د ولایت سناتور عبدالهادي داوی

د لوگر د ولایت سناتور غلام سخي خان

د وردگو د ولایت سناتور محمد اسمعیل مایار

د پروان د ولایت سناتور علي احمد بایاني

د کاپیسا د ولایت سناتور عبدالاحد

د بامیانو د ولایت سناتور محمد علي

د غزني د ولایت سناتور گل احمد ملکیار

د لغمان د ولایت سناتور عبدالواحد خان

د ننگرهار د ولایت سناتور سلطان محمد مجددي

د کنړ د ولایت سناتور عبدالخالق

د بغلان د ولایت سناتور عبدالحفیظ

د سمنگانو د ولایت سناتور باز محمد

د کندز د ولایت سناتور غلام نبي ناشر

د جوزجان د ولایت سناتور محمد شریف

د تخار د ولایت سناتور حبیب الرحمن ناصري

د بدخشان د ولایت سناتور سید عبدالغیاث

د بلخ د ولایت سناتور محمد ابراهم

د فاریاب د ولایت سناتور محمد کریم

د باد غیس د ولایت سناتور غلام حضرت

د غور د ولایت سناتور محمد حسین

د هرات د ولایت سناتور عبدالباقي مجددي

د نیمروز د ولایت سناتور شیر محمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فراه د ولایت سناتور آقا محمد خان نورزې

د هلمند د ولایت سناتور حبیب الله هلمندې

د کندهار د ولایت سناتور عبدالرزاق بالاکرزې

د زابل د ولایت سناتور باز محمد خان

د اروزگان د ولایت سناتور محمد رفیق خان

د پکتیا د ولایت سناتور بهرام خان

دوهم ـ انتصابي سناتوران :

سناتوره میرمن حمیرا سلجوقي

سناتور عبدالحمید عزیز

سناتور عبدالخالق واسعي

سناتور مولوي عبدالوهاب

سناتور ډاکټر عبدالشکور ولي

سناتور عبدالصمد خان

سناتور ډاکټر عبدالوکیل خان

سناتوره میرمن عزیزه گردیزي

سناتور مولوي غلام نبي کاموي

سناتور ډاکټر فقیر محمد شفا

سناتور قیام الدین خان خادم

سناتور محمد امین خوږیاني

سناتور محمد جعفر عسکري

سناتور سید محمد داود الحسیني

سناتور محمد امین یونسي

سناتور محمد زمان تره کي

سناتور میر محمد شاه صدیقیان

سناتور محمد علي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سناتور محمد هاشم مجددي

سناتور میر احمد مولایي

سناتور نا ظر علي جا غوري

سناتور حاجي محمد څمکني

سناتور ډاکټر محمد انس خان

سناتور سید شمس الدین مجروح

(۳)

The Durand Agreement or the

Kabul Convention of 1893

Whereas certain questions have arisen regarding the frontier of Afghanistan on the side of India and whereas both His Highness the Ameer and the Government of India are desirous of settling these questions by friendly understanding, and of fixing the limit of their respective sphere of influence, so that for the future there may by no difference of opinion on the subject between the allied Governments, it is hereby agreed ass follows:

1 - The eastern and southern frontier of His Highness's domains, from Wakhan to the Persian border, shall follow the line shown on the map attached to this agreement .

2 - The Government of India will at no time exercise interference in the territories lying beyond this line on the side of Afghanistan, and His Highness the Ameer will at no time exeercise interference in the territories lying beyond this line on the side of India .

The British Government thus agrees to His Highness the Ameer retaining Asmar and the valley above it, as far as Chanak. His Highness agrees, on the other hand, that he will at no time exercise interference in Swat, Bajaur, or Chitral, including the Areaway or Bashgal valley. The British Government also agrees to leave to His Highness the Birmal tract as shown in the detailed map already given to His Highness, who relinquishes his claim to the rest of the Wazir country and Dawar. His Highness also relinquishes his claim

(c) ketabton.com: The Digital Library

to Chageh .

4 - The frontier line will hereafter be laid down in detail and demarcated, whenever this may be practicable and desirable, by joint British and Afghan commissioners, whose objet will be to arrive by mutual understanding at a boundary whiich shall adhere with the greatest possible exactness to the line shown in the map attached to this agreement, having due respect to the existing local rights of villages adjoining the frontier.

5 - With reference to the question of Chaman, the Ameer withdraws his objection to the new British cantonment and concedes to the British Government the rights purchased by him in the Sirkai Tileraj water. At this part of the frontier the line will by drawn as follows:

From the crest of the Khwaja Amran range the Psha Kotal, which remains in British territory, the line will run in such a direction as to leave Murgha Chaman and the Shrobo spring to Afghanistan, and to pass half-way between the New Chaman Fort and the Afghan outpost known locally as Lashkar Dand. The line will then pass halfway between the railway station and the hill known as the Mian Buldak, and, turning southwards, will rejoin the Khwaja Amran range, leaving the Gwasha post in British territory and the road to Shorawak to the west and south of Gwasha in Afghanistan. The British Government will not exercise any interference within half a mile of the road.

6 - The above articles of agreement are regarded by the Government of India and His Highness the Ameer of Afghanistan as a full and satisfactory settlement of all the principal differences of opinon which have risen between them in regard to the frontier, and the Government of India and His Highness the Ameer undertake that any difference of detail, such as those which will have to be considered hereafter by the officers appointed to demarcate the boundary line, shall be settled in a friendly spirit, so as to remove for the future as for as possible all causes of doubt and misunderstanding between the two Governments.

7 - Being fully satisfied of His Highness's goodwill to the British Government, and wishing to see Afghanistan strong, the Government of India will raise no objection to the purchase and import by His Highness of munitions of war, and they will themselves grant him some help in this respect. Further, in order to mark their sense of the friendly spirit in which His Highness the Ameer has entered into these negotiations, the Government of India undertake to increase by the sum of six lakhs of rupees a year the subsidy of

(c) ketabton.com: The Digital Library

twelve lakhs now granted to His Highness.
Kabul, November 12, 1893
H. M. Durand
Ameer Abdur Rahman Khan

دډیورنډ د توافق لیك پښتومتن

په داسي حال كي چي د هندوستان په خوا كي د افغانستان د سرحدي سيمي په هكله خيني مسألي رامنخ ته شوي ، او په داسي حال كي چي دواړه والاحضرت امير او د هندوستان حكومت هيله من دي چي دغه مسألي ددوستي په فهم او ددواړو دنفوذ دساحو دحد په ټاكلو سره حل كړي ، ترخو په آينده كي ددغــو متحدو حكومتونو تر منخ ددغي موضوع په سر دنظر اختلاف نــه وي پــه دي وسيله پــه لاندي ډول سره موافقه وشوه .

١ ـ دوالاحضرت دتوابعو ختيخه او سهيلي سيمه دي له واخان نه دپارس تر پولي پوري دي هغه ليكه تعقيب كړي چي په هغي نقشي باندي ښودل شوي چي له دغه توافق ليك سره مله ده .

٢ ـ دهندوستان حكومت به هيڅ وخت په هغو سيمو كي چي له دغي ليكي نه آخوا د افغانستان په لور پرتې دي ، مداخله ونه كړي ، او والاحضرت امير به هيخ وخت پــه هغو سيمو كي چي له ليكي نه آخوا دهندوستان په لور پرتي دي ، مداخله ونه كړي .

٣ ـ دبرتانيي حكومت په دي ډول موافقه كوي چي والاحضرت امير دي اسمار او تر چاناك پوري پورته دره وساتي . له بلي خوا والاحضرت موافقه كوي چي دې به هيڅ وخت په سوات ، باجوړ يا په چترال كي دباشگل يا ارنوايي دري په شمول مداخله نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي . دبرتانيي حکومت داسي هم موافقه کوي چي والاحضرت دي دبرمل سيمه ولري کومه چي په هغي مفصلي نقشي کي ښودل شوي چي والاحضرت ته لا دمخه سپارل شوي ده ، او والاحضرت د پاتي وزيرستان او دداور په هکله له خپلي ادعا نه تيريږي په همدي ډول والاحضرت دچاغي په باب له خپلي ادعا نه اوړي .

٤ ـ دسرحدي سيمي ليکه به دافغان او برتانوي ګډو کمشنرانو له خوا له دي وروسته په تفصيل سره وکاږله شي او حد بندي به شي په کوم ځای کي چي د تطبيق وړ او مطلوب وي . ددغو کمشنرانو مقصد به داوي چي د سرحد په ټاکلو کي متقابل فهم ته سره ورسيږي داسي چي دغه ليکه دي تر نهايي امکان پوري د هغي نقشي له مخه وي چي له دغه توافق ليك سره مله ده ، په داسي حال کي چي ددغي سرحدي سيمي د ګاونډيو کليو دموجودو محلي حقوقو رعايت پوره وشي .

٥ ـ دچمن دموضوع په ارتباط والاحضرت دبرتانوي نوې قشلي په هکله له خپل اعتراض نه تيريږي او برتانوي حکومت ته هغه حقوق پريږدي چي د سرکې تايلري په اوبوکي يي په خپله په بيه اخستې و . دسرحد سيمي له دغه ټکي نه به ليکه په لاندي ډول وکاږله شي .

دغه ليکه به پشاکوتل ته نژدي دخوجه امران غرو له لوړي نه چي دبرتانيي په سيمي کي به پاته کيږي ، په هغه لور کښله کيږي چي مرغه چمن او دشربو چينه به افغانستان ته پاتي کيږي او د نوي چمن چاوڼي او دافغان پوستي چي خلګ يي لښکر ډنډ بولي تر منځ نمايي پوري رسيږي . دغه ليکه به بيا دريل وي ستيشن او دهغي ښتي تر منځ چي د ميان بلاك په نامه ياديږي ، تر نيمايي پوري رسيږي او په داسي حال کي چي د جنوب په لور به روانه وي له خوجه امران غرو سره به بيا يو ځاې کيږي . په دي ډول غوښه پوسته به د برتانيي په علاقه کي او دغوښي په جنوب او لويديځ کي دشوراوك سرك به افغانستان ته پريږدي . دبرتانيي حکومت بـه ددغـه سرك تـر نيم ميلي پوري مداخله نه کوي .

٦ ـ ددغـه تـوافق ليك دغـه پورته فقري د هندوستان د حکومت او دافغانستان د والاحضرت له خوا دنظر ټول عمده اختلافات چي دسرحدي سيمي په باب ددوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ پيدا شوي وو ، ديوره او قناعت ښوونکي فيصلي په ډول ګڼل کيږي او دواړه د هندوستان حکومت او والاحضرت په ذمه اخلي چي د جزئياتو په باب ټول اختلافات لکه هغه چي له دي وروسته به دهغو منصبدارانو له خوا پري غور کيږي چي دسرحدي خط دحد بندۍ دپاره ټاکل کيږي ، ددوستۍ په روحيي سره به فيصله کيږي . ددي دپاره چي تر هغو چي ممکنه وي ددواړو حکومتونو تر منځ دشکونو او غلط فهميو سببونه له منځه ولاړ شي .

۷ ـ دهندوستان حکومت چي دبرتانيي حکومت په نسبت دوالاحضرت له روغ نيتي نه په پوره ډول ډاډ من شوي او غواړي افغانستان پياوړي او خپلواک ويني دوالاحضرت له خوا دجنګي لوازمو په رانيولو او واردولو باندي به اعتراض ونه کړي ، او دوي به په خپله په دغه هکله خــه مرسته ورسره وکړي . برسيره پــردي ددي دپاره چــي دوالاحضرت دهغي دوستانه روحيي ښه وساتله شي چي په دغو مذاکراتو کي يي ښودلي د هندوستان حکومت ژمنه کوي چي په هغو دولسو لکو کي شپږ لکه روپۍ زياتي راوستل شي چي والاحضرت ته هر کال دمالي مرستي په ډول ورکول کيږي .

هنري ماتمر ډيورنډ دهندوستان دحکومت دباندنيو چارو وزير

امير عبدالرحمن خان دافغانستان او دهغه دتوابعو امير

کابل دنومبر ۱۲ ، ۱۸۹۳

پښتو کوونکې ـ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د ضميمو يادداشتونه

۱ ـ افغانستان کالني ، ګڼه ۳۶ ، مخونه ۲۴۸ تر ۲۵۲

۲ ـ زما مشاهدات

۳ ـ افغانستان کالني ، ګڼه ۳۶ ، مخونه ۲۹۶ تر ۲۷۷

٤ ـ کاکړ ، ذکر شوی اثر ، مخونه ۱۶۰ تر ۱۶۱

٥ ـ سايکس ، ذکر شوي اثر (شماره نه لري)

۶ ـ زما مشاهدات

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ ـ رامپارتس مجله ، مخ ۱ ۵

مأخذونه په پښتو او دري

۱ ـ غبار ، میر غلام محمد ، افغانستان در مسیر تاریخ ، جلد اول ، چاپ ایـــران در ســـال ۱۹۸۰

۲ ـ غبار ، پورته اثر ، دوهم ټوك ، د امریکا چاپ ، کال ۱۹۹۹

۳ ـ مبارز ، عبدالحمید ، تحلیل واقعات سیاسـي افغانستان ، از سال ۱۹۱۹ تا سال ۱۹۹٤ چاپ پشاور در سال ۱۹۹٤

٤ ـ خلمې ، محمد ولي ، د افغانستان او روسیي د سیاسي روابطو لنډه تاریخچه ، د کراچي چاپ ۱۹۹۵

۵ ـ فرهنگ ، میر محمد صدیق ، افغانستان در پنج قرن اخیر ، چاپ امریکا ۱۹۸۸

۶ ـ شرق ، ډاکټر محمد حسن ، کرباس پوشهاي برهنه پا ، چاپ هند ۱۳۷۱ ه ش

۷ ـ کشککي ، صباح الدین ، دهه قانون اساسي ، چاپ اسلام آباد ۱۹۸۶

۸ ـ حبیبي ، عبدالحې ، جنبش مشرطیت در افغانستان ، کابل ۱۳۶۷ ه ش

۹ ـ الفت ، گل پاچا ، د الفت مرغلري ، د پېښور چاپ ۱۳۷۵ ه ش

۱۰ ـ حق شناس ، ډاکټر شیر احمد نصري ، دسایس و جنایات روس در افغانستان چاپ پشاور ۱۹۸٤

۱۱ ـ رشتیا ، سید قاسم ، خاطرات سیاسي سید قاسم رشتیا ، از سال ۱۹۳۲ تا سال ۱۹۹۲ ، چاپ امریکا ۱۹۹۸

۱۲ ـ فیض زاد ، محمد علم ، جرگه هاي بزرگ افغانستان ، پشاور ۱۹۸۹

۱۳ ـ کبیر سراج ، محمد نذیر ، رویداد هاي نیمه اخیر سده بیست در افغانستان ، جلد اول ، چاپ المان ۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱٤ ـ عظیمي ، محمد نبي ، اردو و سیاست در سه ده اخیر افغانستان ، چاپ پشاور در سال ۱۳۷۶ ه ش
۱۵ ـ نورزایي ، ډاکټر عطا ، افغانستان در بازي ابر قدرت ها ، چاپ المان ۱۹۸۵
۱۶ ـ زوړ مدنیت او نوي ژوند ، د پلان د وزارت له خوا چاپ شوي کتاب
۱۷ ـ د افغانستان کالني ، د کابل چاپ ، کال ۱۳٤۸ ه ش ګڼه ۳۶
۱۸ ـ د افغانستان کالني ، د کابل چاپ ، کال ۱۳٤۹ ه ش ګڼه ۳۷
۱۹ ـ د افغانستان کالني ، د کابل چاپ ، کال ۱۳٤۱ ه ش ګڼه ۳۰
۲۰ ـ د افغانستان کالني ، د کابل چاپ ، کال ۱۳٤٤ ه ش ، ګڼه ۳۲
۲۱ ـ د افغانستان کالني ، د کابل چاپ ، کال ۱۳٤۶ ه ش ګڼه ۳٤
۲۲ ـ د مساوات جریده ، د ۱۹۶۹ کال خیني ګڼې
۲۳ ـ زما یادداشتونه
۲٤ ـ مجله خراسان ، چاپ کلفورنیا امریکا ، شماره ماه اکتوبر ۱۹۸۸
۲۵ ـ محمد عزیز نعیم ، د مجاهد ولس د ۱۹۹۶ کال د جولاې د میاشتي ګڼه
۲۶ ـ محمد عزیز نعیم ، د مجا هد ولس د ۱۹۹۶ کال د جون د میاشتي ګڼه
۲۷ ـ د ډاکټر محمد حسن شرق مقاله ، د مجاهد ولس د ۱۹۹۸ کال د آګست د میاشتي ګڼه
۲۸ ـ محمد عزیز نعیم ، د مجا هد ولس د ۱۹۹۷ کال د سبتمبر د میاشتي ګڼه
۲۹ ـ هیکل ، محمد حسنین ، ابوالهول او کمیسا ر د محمد آصف اکرام ژباړه چي په ۱۹۶۷ کال کي په پیښور کي چاپ سوې دې
۳۰ ـ خالص ، مولوي محمد یونس ، د افغانستان د مسلمان ملت په سرنوشت لوبي نه دي په کار ، پیښور ، د ۱۳۷۱ ه ش کال د میزان میاشت
۳۱ ـ فایق ، غوث الدین ، رازي را که نمي خواستم افشا ګردد ، پشاور ۱۳۷۹
۳۲ ـ اکرم ، ډاکټر عاصم ، سردار محمد داود ، انتشارات میزان ، امریکا ۱۳۸۰
۳۳ ـ رسولي ، ډاکټر مصطفی ، شهادت محمد هاشم میوندوال سر آغاز فاجعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ، چاپ پشاور ، ماه حوت سال ۱۳۷۹

۳٤ ـ اخبار پیك پارسیان ، ۱۷ مي سال ۲۰۰۲ چاپ سدني استرلیا

۳۵ ـ شنسب ، امیرالدین ، خاطرات هشتاد سال ۰۰۰ پشاور سال ۱۳۸۰ ه ش

۳٦ ـ بخرکی ، محمد علم ، ویښ ځلمیان ، کال ۲۰۰۰ ـ هالینډ

د عکسونو او نورو اسنادو پیژندنه

۱ ـ محمد ظاهر شاه او محمد داود خان د (زوړ مدنیت او نوې ژوند) د کتاب څخه چې د پلان د وزارت له خوا خپور شوې و .

۲ ـ د ۱۹۵۵ کال د لویي جرگي غړي په پغمان کي

۳ ـ د ۱۹۵۵ کال په لویي جرگي کي د فراه وکیلان

٤ ـ کابل ته د امریکا د جمهور رئیس ایزن هاور سفر (زوړ مدنیت او نوې ژوند) پورته ذکر شوې اثر .

۵ ـ محمد داود خان داکتر محمد یوسف ته مبارکي وایي ، د افغانستان د کالني څخه کال ۱۳٤۱ ه ش گڼه ۳۰

۶ ـ محمد هاشم میوندوال د عقرب ددریمي تر پیښي وروسته په کابل پوهنتون کي ، افغانستان کالني ، گڼه ۳۲

۷ ـ ددیارلسمي تقنیني دوري د ولسي جرگي لومړي غونډه ، د افغانستان کالني څخه ، گڼه ۳۷

۸ ـ محمد داود خان د جمهوري دولت اساسي قانون لاسلیك كوي . (رازي را که نمي خواستم افشا گردد) . د غوث الدین فایق د اثر څخه .

۹ ـ د رامپارت د مجلي مقاله

۱۰ ـ د پنجده د پیښي (کورکي)

۱۱ ـ د وکیلانو د یوه پیشنهاد متن

لومړي تبصره : د افغانستان کالني ټولي گڼې چې په کتاب کي یي یادوني شوي دي ، د امریکا د کانگرس په کتابخاني کي سته او د هغو څخه استفاده شوي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه تبصره : دوهمه او دریمه گڼه عکسونه د لوی جرگي له خوا د هغي جرگي غړي
او د لیکوال پلار ارواښاد دین محمد خان ته ورکړه شوي و

REFERENCES

1 - Abrahamian, Ervand, (Iran between two Revolution) Princeton University Press, USA 1982

2 - Adamac, Ludwing W. , Who is Who of Afghanistan, Graz Austria 1975

3 - Dupree, Louis, Afghanistan- USA, Princeton University Press, New Jersy, 1980

4 - Ghaws, A. Samad, The fall of Afghanistan, USA 1988

5 - Kakar, M. Hassan (A political history and the external relation of Afghanistan the reign of Ameer Abdo-al Rahman)

6 - Kakar, Afghanistan, The Soviet Invasion and the Afghan respon (1979 - 1982) Clifornia University press, USA. 1995

7 - Cordovez, Diego, and Harison, Selig, S. Out of Afghanistan, University press, New York, 1995

8 - Marwat, Fazel-ur-Rahim, The Evolution and growth of communism in Afghanistan, (1917-1979)Pakistan,1995

9 - Nayar, Kuldip, Report on Afghanistan, India, 1981

10 - Bredsher, Henry, S. Afghanistan and Soviet Union, Duke press, Durham, N. C. 1983

11 - Sykes, Sir Percy, A Biography of Sir Mortimer Dorand, London, 1926

12 - Poulada, Leo, B. and D. J. Poulada, Afghanistan and USA. Omaha, Nebraska, 1995

13 - Yousaf, Mohammad, Brigadier and Major Mark Adkin, The Bear Trap, Afghanistan untold story, Pakistan, 1992

14 - Encyclopedia, America, volums 6

15 - Encyclopedia, America, volums 25

16 - Edited by Marlin, Lourence, W. Neutralism and Nonalinment, Johns Hopkins University, 1962

17 - Lectur by Nana Sufresna, 14 october 1996 Indonesia, The Movement of Nonalignment countries

18 - Churchil, Iron curtain speach, Westminster college, Missour, USA.March 5th 1946

19 - Shansab, Nasir, Soviet Expanstion in the third Worid, Batleby

(c) ketabton.com: The Digital Library

press, Silverspring, MD, 1986
20 - Ramparts, volums 5, Number, 1976, USA
21 - The Economist, Janauary, 1998, London

THE ERA OF DEMOCRACY AND REPUBLIC IN AFGHANISTAN 1963 - 1978

BY

ABDUL GHAFAR FARAHI

2003 - - 1382

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر لومړی چاپ وروسته ځيني ځرگندوني

د اروابناد كانديد اكادميسن محمد ابراهم عطايي

د ليك يوه برخه ، د ۱۳۸۰ كال دحمل ۲ ــ كابل ـ افغانستان

ځولنډي خبري

(دغه مطالب ليكوال ته هغه وخت رسيدلي وو چي كتاب چاپ سوی و)

زما محترم دوست عبدالغفار فراهي په يوه ليك كي را ځخه غوښتي چي ددوی پر ليكل شوي كتاب چي د چاپ په معرض كي دی يو څو كرښي ورو ليكم . دا كار سخت مشكل و ځكه متن راسره نه و حتي فهرست قدر هم ما نه دی ليدلی . زه د كتاب د محتوا ځخه د هغو دوو پاڼو له مخي خبريږم چي د كتاب د لنډيز په نامه ددغه ليك سره راليږل سوي دي او په هغو كي دا ځرگنده شوېده چي كتاب ځه دپاسه په درو سوو مخونو كي ليكل شوی او د افغانستان د تاريخ دوي دوري (نه پوهيږم چي ددورو پر ځای بله كومه كلمه استعمال كړم) دديموكراسي لس كلنه دوره چي پنځه صدراعظمان پكښي تير سوي او د سردار محمد داود دجمهوريت دوره شامله ده . غالبا چي دا به په پوره صلاحيت ليكل سوی وي ځكه هم پخپله فراهي صاحب يو دقيق ديپلومات دې چي عمر يي دسفارتونو په ماموريت كي تير سوی او پارلماني مطالعه يي هم له نظره نه غورځوله كيږي ځكه په پارلمان كي هم دسالمي لاري پيرو شخصيت و . ښه دا خو ددوی په باب زما دشناخت مسأله ده راغلو كتاب ته :

په دي باب لاره را ته تياره ده ، ځكه اصل متن او حتي فهرست يي هم په لاس كي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لرم نو صرف يو څو لنډي خبري به وكړم چي د كتاب له دغو دورو سره اړه لري دا چي څومره به دكتاب له محتوا سره وفق ولري نه پوهيږم ؟

لومړی ددغو دورو په باب ټول نظريات پر دا يوه محور راڅرخي چي پاچا او صدراعظم په آزادو موقفونو كي ويني ، خو زما په عقيده دا صرف د سردارانو رقابتونه وه چي هر يوه خان ته آزادي زميني برابرولي . داود خان يو خان طلبه سړي و خو پاچا راحت طلبه .

د پښتونستان مسأله يو درووند بار و چي د ټولو ملا يي ورماته كړه ، پاكستان په سادگۍ منخ ته نه و راغلی بلكه دا يوه د غرب پايگاه وه خو داود خان غوښتل چي په دي وسيله غرب قانع كړي چي دده مخالفت به دهغو گټي وروليږزوي ولي ناكامه سو ، دلته يي زموږ دتاريخ هغه ناكامه ملنډي ته (شوروي ته نژديوالۍ) لاس ور واچاوه چي د امير شير علي خان غبرگ غاښونه پكښي وتلي وه ... په مسكو كي دبرژنيف سره د داودخان پرخاش هم ددي له پاره و چي غرب په دي قانع كړي چي دشوروي څخه رابيل سوی دي ، خو روسانو دا موقع ور نه كړه او د ثور د ۷ په كودتا يي دكورني سره بيړي ورغرقه كړه .

د دا لنډو خبرو نتيجه داده چي شوروي په پلان شوي طريقه افغانستان ته لاس ور اچولۍ و خو معروف روسي غباوت نه يوازي زموږ هڅونه ميده كړه بلكي خپله بيړۍ يي هم غرقه كړه . زه د خپلو مطالعاتو په نتيجه كي و دي عقيدي ته رسيدلۍ يم چي شوروي پر افغانستان دا بده ورځ راوستله او ورپسي هر چا په خپل وار د امريكا څخه تر پاكستانه ، ايران ، سعودي عربستان او حتي چين پوري هر يوه دخپل خنجر يو گذار پر وكړ .

... ما د ليونتوب تر سرحده څو كرښي و ليكلي او خپله عقيده مي بيان كړه ، دا هم د ناروغۍ د وخت ليكنه ده ملامتوۍ به مي نه . ما صرف دا كار ددي په خاطر وكړ چي ستاسي غوښتنه بي جوابه پاته نه سي كه نه زه اوس هره لحظه د مرگ په فكر كي يم

ددي لنډي ليكني په پای كي چي گمان كوم ددغسي يوه درانه كتاب سره به لياقت و

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لري خپل دانشمند دوست فراهي صاحب ته صحت او عزت غواړم .

په درناوي

د محترم ذبيح الله زيارمل د ليك يوه برخه

د ۲۰۰۱ كال د آگست اوله ـ برن ـ سويس

وروره فراهي !

... كتاب مي تر لاسه كړ بيا ورته كښينا ستم او د ورزشكارانو په اصطلاح مي په يوه ساه ولوست ... دا چي ماغوندي ستومانه څوك يي په يوه ورځ تماموي ددي په معني ده چي كتاب د خپلي بكري محتوا ، متين او ښكلي او قريب به ذهن نثر او مهمو مطالبو له امله د لوستونكي شا او خوا د نورو ټولو مسألو اهميت له منځه وړي او پر لوستونكي دا تحميلوي چي څو وروستۍ پاڼه هم نه وي لوستل شوي تر هغو يي له لاسه نه پريږدي ... زه ويلای سم چي تاسو د خپل ولس د هغه باور په وړاندي چي په وكالت يي انتخاب كړی وی په دي مهم اقدام سره خپل بشپړ صداقت ښوولی دی او دغه د دربدرۍ او سرگردانۍ كلونه مو خانته په ثمربخش زمان بدل كړي دي او محصول يي دادۍ د يوه نفيس او با ارزشته كتاب په شان د هيوادوالو په مخ كي پروت دی . زه ددغه برياليتوب په خاطر تاسو ته مباركي وايم او هيله لرم چي په هماغه ښه نيت چي د حقيقت انعكاس دۍ ، دښي ارادي او ښه نيت خاوندان هم د هغه د محتوا په هكله غبرگون وښيي نقد يي كړي او دحقايقو لابرجسته كيدو ته لاره اواره سي . په درناوي

(د ليك په وروستۍ برخي كي يي ليكوال ته ډيري مفيدي مشوري وركړي دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محترم داود موسي د ليك وروستي برخه

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر ۳ ــ کلفورنيا ـ امريکا

گرانه غفار جانه !

(دليك په لومړي برخي کي يي ليکوال ته ځني ښي مشوري ورکړي دي)

... لويان وايي چه ء عيب شمع جمله چو بگفتي ، هنرش نيز بگو ء نو ددي کتاب د هنرونو په لړ کي داشيان عرض کوم :

۱ ـ د کتاب په سر کي د افغانستان د لنډ تاريخ معرفي دراتلونکو واقعاتو د پوهي دپاره ډير پر ځاى ده .

۲ ـ کتاب د پښتو په ډيره شيوا سبك ليکل سوې دې او زما په نظر لوستل يي ډير آسانه دي .

۳ ـ دا کتاب کيداى سي چه دديموکراسي او ء جمهوريت ء د دوري د پاره يو ډير ښه درسي کتاب سي .

٤ ـ زما د پاره چه په دغه دوري کي مي په افغانستان کي ژوند کړې دى ، د هغو واقعاتو د جزئياتو ويل کم چه تا ته معلوم وو ، ډير دلچسپ او په زړه پوري وو . برسيره پردي د واقعاتو د پوهي د پاره يو چټك رفرنس هم دې . الله ياور

د محترم محمد حسن سهاك د ليك يوه برخه

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر ۱۰ ــ ټورنټو ـ کاناډا

وروره فراهي !

کتاب مي تر لاسه کړ . دکتاب په هکله بايد ووايم چه تر هغه ځه چه ما فکر کاوه کتاب د متن او محتوا په لحاظ ډير لوړ و ، په دي مفهوم چه ما فکر کاوه چه د ... د کتاب په شان به داهم په هماغه متعارفه توگه چه موږ لوستونکو اوس عادت ورسره کړې دې ليکل شوى وي ، ولـي ماوليدي چـه کتاب پـه ځانگړي او ابتکاري توگـه ليکل شوې دې او دا ډول ليکني زموږ په افغانانو کښي سابقه نه لري او زيادتره ددي کتاب د ليکلو طرز د جواهر لعل نهرو ليکنو ته ورته دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

... د معمول په توگه زموږ ځيني افغانان چه په هر موقف کي وه ، کله چه خپل خاطرات يي ليکلي دي ، ځانونه يي د حوادثو او پيښو په متن کي درولي دي او کوشش يي کړې دې چه د قضاياو هغه اړخونه رابرسيره کړي چه ددوی دفکر او عقيدي سره اړخ لگوي . د نيکه مرغه ستاسي په کتاب کي موضوع په دي ډول نه ده ، دلته داسي پيښي رابرسيره شوي چه په قوي احتمال به هيري شوي واي ، او دتاريخي شخصيتونو د رول په هکله لوستونکو ته ډير شواهد او پيښي په گوته شويدي تر څو هغوي وشي کولای خپل قضاوت وکړي. ... ديوه مطلب يادول ضروري گڼم ، هغه دا چه موږ اکثر افغانـي ء منورين ء په بيروکراسي کښي روزل شـوي يـو موږ اکثرو دولتي کارونـه درلودل ، چه هلته معموله او مسلطه ژبه پارسي وه ، او موږ ته دافرصت نه وو تر لاسه شوی چه په خپله مورني ژبه څه وليکو ، په دي لحاظ ډير پښتانه چه په دي موقف کښي دي د دوی په ليکونو کښي نيمگړتياوي ليدل کيږي . ولي ستاسي دا ليکنه دومره سليسه او روانه ده چه کله کله سړي ته داسي فکر پيدا کيږي چه فراهي صاحب حتما په پښتو ټولني کښي د کار سابقه لري ... په درناوي

د محترم محمد حسن ولس مل د ليك يوه برخه

د ۲۰۰۱ کال د نومبر ۱٦ ــ اسلو ـ ناروی

(افغانستان دديموکراسي او جمهوريت په کلونو کي) دکتاب کتنه

د ښاغلي فراهي دغه کتاب دحقايقو او محتوا په لحاظ دانارو دداني غوندي ډك دی چي دده څخه د همدغسي يوه کتاب د ليکلو توقع کيدله . زه له نوموړي سره له هغه وخته آشنايي لرم چي دې دحقوقو دپوهنځي محصل و او زه په ۱۲ ټولگي کي وم . فراهي صاحب په هغه وخت کي ډيري خبري نه کولي خو ځيني اشخاص دخپلو ټولنو ژوندي تاريخونه وي اما له بده مرغه چي يو زيات شمير يي د خپل مضر احتياط په وجه خپل دسترگو ليدلي حالات دخپلو سينو په صندوقونو کي داسي بند وساتي چي هغي بلي دنيا ته يي له ځانه سره يوسي ... ښاغلي فراهي ديو عيني شاهد په صفت دژوندانه ديوي برخي سترگو ليدلي حالات په دغي مجموعي کي راټول کړي او په روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوره پښتو ژبه يي خپلو هيوادوالو ته وړاندي کړي دي . ددغه کتاب په لوستلو سره دديموکراسي دوري ټول هغه لاس وهني په ځرګند ډول سړي ته معلوميږي چي دنوي اساسي قانون ، ولسي جرګي ، آزادو مطبوعاتو او ديموکراسي پرخلاف شوي دي .

زه دفراهي صاحب دځرګندونو په تاييد هغه وخت چي زه د ء افغان ء ملي جريدي چلوونکې وم نو دډاکټر عبدالظاهر او محمد موسي شفيق د حکومتونو له خوا پر نورو موضوعاتو سربيره د پښتو ملي ژبي ، هلمند داوبو او په اخبار کي دشهيد محمد داود خان دصدارت ددوري دښو کارونو ديادوني په وجه دسخت فشار لاندي وم او اعليحضرت محمد ظاهرشاه هم په دغه ارتباط خپل حضور ته ځلور کرته غوښتي وم ... زه دافغانانو ديوه خدمتګار په صفت دفراهي صاحب دغه اثر ته دقدر په سترګه ګورم او لوستل يي دهر وطن خوا په تيره بيا ځوان نسل لپاره لازم ګڼم . په درناوي

د محترم محمد معصوم هوتك د ليك يوه برخه

د ۲۰۰۱ کال د نومبر ۱۸ ـ ټورنټو ـ کاناډا

(افغانستان دديموکراسي او جمهوريت په کلونو کي) دکتاب په هکله زما نظر

... په افغانستان کي ددوهمي ديموکراسي او جمهوريت حوادث زموږ په مخ کي تيري سوي پيښي او دسترګو ليدلې حال دئ . له همدې امله ما ددغه کتاب تر لوستلو وړاندي داسي فکر کاوه چي مطالب به يي راته دومره نوي نه وي . خو کله چي مي کتاب ولووست ، راته ځرګنده سوه چي موږ ددغو پيښو ظواهر ليدلي وه او په عمق يې خبر نه وو . په دې کتاب کي مي دډيرو مسايلو په باب هغه راز بيانونه ولوستل چي په نورو مشابه ليکنو کي مي لوستي نه وو . ښاغلی فراهي دهيواد دهمدغي دورې دپيښو په ليکلو کي دبشپړ صلاحيت خښتن دئ ، ځکه په هيواد کي دننه او بهر يي په ډيپلوماټيکو پوسټونو کي کار کړی او په ولسي جرګه کي يې دوکالت دنده ديوه مسول شخص په توګه پرمخ بيولي ده . دې کار ورته دهيواد دبهرني سياست او دمقننه قوې ، حکومت او پاچا په اړيکو کي ډير داسي حقايق روښانه کړي دي چي نورو ته يي دليدلو امکانات لږ ميسر وو . دکتاب ليکوال په ولسي جرګه کي يوازي دحوادثو ناظر نه دئ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکي په ډېرو مهمو فيصلو او دهغو په باب په مباحثو کي يې فعاله برخه اخستې ده . دهيواد دبنسټي مسايلو په وړاندي يې دملي ګټو له نظره برخورد کړی او دسترګو ليدلی حال يې په پوره امانتدارۍ او رښتينولی سره بيان کړی دئ . دليکني ژبه يې سپيڅلي او مهذبه ده . نه يې دچا اهانت کړی او نه يې بيخايه قدرداني . همدي مشخصاتو يې کتاب داوسني عصر له نورو ورته کتابو څخه رابيل کړی او ممتاز کړی دئ . څکه نو زه دغه مهم اثر دهيواد دملي تاريخ دليکلو له پاره يوه موثقه منبع ګڼم او ښاغلي ليکوال ته يې دزړه له کومي مبارکي وايم . په درناوي

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library